# د الف څخه تر یا

## د افغانستان لپاره مرستندوی لارښود

**۱۳۹۱**

**لسمه ګڼه**



AREU
Afghanistan
Research and
Evaluation Unit

# ۱۳۹۱ د الف څخه تر یا

## د افغانستان لپاره مرستندوی لارښود

**لسمه ګڼه**

د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداره
د یو ښه افغانستان لپاره څیړنه
AREU

# مهمه یادونه:

هغه معلومات چې په دغه لارښود کې وړاندې شوي دي د افغان حکومت د وزارتونو او ادارو، سفارتونو، پراختیایي سازمانونو او د بسپنه ورکوونکو هیوادونو د استازو سازمانونو، غیر دولتي ملي اونړیوالو سازمانونو او نورو موسسو په خپله خوښه مرستو ولاړدي. په داسې حال کې چې معلومات په پرله پسې توګه بدلون او وده مومي خو د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداره د نوموړې لارښود په هره ګڼه کې دغه مسوولیت پرغاړه اخیستی څو د امکان تر حده کره او اوسنې معلومات برابر کړي. د نوموړي لارښود له کاروونکو څخه هیله کیږي څو نوي ، اضافي، کره او رغنده وړاندیزونه په لاندې پتې را واستوي :

publications@areu.org.af

© د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداره ۱۳۹۰-۱۳۹۱لمریز کال (۲۰۱۲ زیږدیز کال). ټول حقونه خوندي دي. ددغې خپرونې د هیڅ یوې برخې بیا خپرول، د بیا موندلو وړ سیستم کې زیرمه کول یا ثبتول یا له هرې بریښنایي وسیلې یا لارې څخه د هغه لیږدول د خپروونکي( د افغانستان د څیړنې او ارزونې د ادارې) له لیکل شوې اجازې پرته شوني نه دي. د اجازې د تر لاسه کولو لپاره کولای شئ چې دareu@areu.org.af په پتې بریښنا لیک واستوئ او یا هم د ۹۳۰۷۹۹۶۰۸۵۴۸+ ټیلیفون سره اړیکه ټینګه کړئ.

د هیوګوجکسن لیکنه او څیړنه
د حکومت برخه: اولیور لو، هیګوجکسن، انا لارسن او جي لمې
نقشې: محمد کریم او د افغانستان د جیودیزۍ او کارټوګرافۍ د مرکزي دفتر د نقشو جوړولو ډله (AGCHO).
دولایتونو لنډ معلومات: نړیوال بانک
د اړیکو را غونډوونکي: شیلا رباني او نجیب الله یزداني، د افغانستان د څیړنې او ارزونې د ادارې د خپرونو ډله .
د رسنیولارښوونکی: مجیب خلوتګر او د نی د رسنیو ډله
ځانګړې مننه له: میراحمد جوینده، مصطفی صافی،حامد سروری، کی شوټینګر، رایس ویلز اوشیلا رباني څخه.
ژباړونکې: ماری لقماني
د پوښ انځور: یو انجنیردجرقدوق ګازد فلترکونی په مرکز کې د ګازو دپایپ د کټلو په حال کې،د شبرغان سیمه (جواد جلالی/د افغان سترګو د عکاسی سازمان)

انځورونه: ( د الف څخه تر یا) دکلید راډیو دخپرونو د آنتن د لګونه کارته سه - د کابل ښار(نجیب الله مسافر دکلید ګروپ)؛ (حکومت) د۱۳۹۰ کال د پارلماني ټاکنو د کمپاین پوسټر جواد جلالی/د افغان سترګو

د عکاسۍ سازمان) ؛ ( اسناد) د پوهنې د ورځې په مراسمو کې دولسمشراو د کابینې د غړو په وړاندې د ښوونځیو د زده کوونکو مارش. د کابل ښار.(نجیب الله مسافر دکلید ګروپ )؛ ( نقشې) دمزارشریف لویه لاره - سمنګان جواد جلالی/د افغان سترګو د عکاسۍ سازمان) ؛(دولایتونو لنډ معلومات) کلیوال د شینواري د ولسوالۍ له سیمه ییز بازار څخه د سولر د پیرودنې په حال کې دپروان ولایت (نجیب الله مسافر دکلید ګروپ)؛ (اړیکی) د طلوع ټلویزیون یو خبریال له یو نارینه سره د مرکې په حال کې د کابل ښار (جواد جلالی/د افغان سترګو د عکاسۍ سازمان)

د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداره د الف څخه تر یا د افغانستان لپاره د مرستندوی لاربښود د لسمی ګڼې په خپرولو کې د ډنمارک، فنلډ، ناروې،سویډن، سویزرلند او انګلستان دحکومتونو له مالي مرستې څخه د زړه له کومې مننه کوي.

د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداره
د حاجی یعقوب له څلور لاري څخه د شهید د څلور لاري پر لور ښي لاس ته دریمه کوڅه ښي اړخ ته ۶۴۹ کور
نوی ښار
کابل،افغانستان
تیلیفون:۹۳۰۷۹۹۶۰۸۵۴۸+
بریښنا پته: publications@areu.org.af
ویب پاڼه: www.areu.org.af

# منځپانګه

د افغانستان د څېړنې او ارزونې د ادارې په اړه........ ب
د افغانستان لپاره له الف څخه تر یا مرستندوی لارښود په اړه........ ب
د افغانستان د څېړنې او ارزونې د ادارې کتابتون........ پ
پته او اړیکه........ ت
د افغانستان د څېړنې او ارزونې د ادارې د ۱۳۹۰ کال خپرونې........ ج
له الف څخه تر یا: منځپانګه........ ۱
د افغانستان حکومت: منځپانګه........ ۹۹
شالید........ ۱۰۰
په افغانستان کې حکومت........ ۱۰۰
په افغانستان کې ټولټاکنې........ ۱۱۴
اسناد: منځپانګه........ ۱۲۹
د افغانستان اساسي قانون........ ۱۳۰
په افغانستان کې د بشري مرستو، بیا رغونې او پراختیا په برخه کې د بوختو نادولتي مؤسسو کړنلاره........ ۱۶۴
نقشې........ ضمیمه
د ولایتونو لنډیز: منځپانګه........ ۱۷۶
د دې برخې په هکله........ ۱۷۷
پتې او اړیکې: منځپانګه........ ۲۱۶
د ولایتونو پتې او اړیکې: منځپانګه........ ۲۱۷
ددې برخې په اړه........ ۲۱۸
کابل........ ۲۱۹
نور ولایتونه........ ۲۸۹
پاکستان........ ۳۷۸
د ولایتونو د رسنیو د لارښود: منځپانګه........ ۳۸۰
د دې برخې په هکله........ ۳۸۱
کابل........ ۳۸۳
نور ولایتونه........ ۳۹۴

# د افغانستان د څېړنې او ارزونې د ادارې په اړه

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره په کابل کې میشته یوه خپلواکه څېړنیزه موسسه ده. ددې ادارې دنده د لوړ څرنګوالي درلودونکو او پالیسۍ پورې اړوندو څېړنو له لارې پرپالیسۍ او چاروشبتې اغیزې دي، او همدا راز نوموړې اداره په افغانستان کې د څېړنې او زده کړې د کلتور د ودې په موخه ، د څېړنې پایلې په چټکه توګه خپروي. دې موخې ته د رسیدو لپاره له خپلو څېړنو او کتابتون څخه د ګټې اخیستنې دترویج په موخه له پالیسي جوړوونکو، مدني ټولنې، څېړونکو او زده کوونکو سره ددوی د څېړنیزې وړتیا د پیاوړي کولو په موخه ښکیل ده څو په دې توګه وکړای شي شننو، غبرګونونو او خبرو اترو ته لاره هواره کړي.

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره د پراخو موضوعګانو په اړه څېړنې کوي او هر کال یو لړ څېړنیزې خپرونې لکه پر پالیسۍ له متمرکزو توضیحي پاڼو نه نیولې تر بشپړو موضوعي او ترکیبي رپوټونو پورې خپروي. چې ګڼ شمیر یې په پښتو او دري ژبو ژباړل کیږي. نوموړې اداره د الف څخه تر یا د افغانستان کلنی مرستندوی لارښود او د څېړنو درې میاشتنۍ خبر پاڼه خپروي او دیوې ویب پاڼې درلودونکې هم ده (www.areu.org.af). همدا راز دغه اداره له څېړنې څخه د ګټه اخیستنې د آسانتیا او د پالیسي جوړوونکو او نورو ښکیلو کسانو تر مینځ د خبرو اترو د هڅولو په موخه په منظمه توګه ورکشاپونه او کنفرانسونه جوړوي.

دغې ادارې په ۱۳۸۱لمریز کال په افغانستان کې د بوختو مرستندویه ټولنو په مرسته په کار پیل وکړ اود یو مدیره پلاوي درلودونکې ده چې د مرستندویه ټولنو له خوا لکه ملګري ملتونه او نورو څو اړخیزو ادارو، او نا دولتي سازمانونوله خوا یې استازیتوب کیږي. نوموړې اداره اوس مهال خپله اصلي بودیجه د ډنمارک، فنلنډ، ناروې، سویډن، سویزرلنډ او د انګلستان له حکومتونو څخه تر لاسه کوي. ددې ادارې له ځانګړو پروژو سره د افغانستان د پرانیستې ټولنې د انستیتیوت (FOSIA )، ایشیا فونډیشن(TAF)، اروپایې کمیسیون(EC)، او د نړیوالې پراختیا د څېړنیز مرکز (IDRC) له خوا مالي مرستې کیږي.

# د افغانستان لپاره د الف څخه تر یا مرستندوی لارښود په اړه

د افغانستان لپاره د الف څخه تر یا مرستندوی لارښود هر کال نوی کیږي، د نوموړي لارښود موخه په هیواد کې په بیا رغونې او مرستو پورې اړوندو فعالینو، جوړښتونو او حکومتي بهیر په اړه د پوهاوي لوړول دي. دغه لارښود د مرستندویه اصطلاحاتو یوه پراخه لړۍ، د افغانستان د حکومتي سیستم یوه ځغلنده کتنه، لومړني مهم اسناد، او د پتو او اړیکو یو پراخ لارښود چې په کې دولتي سازمانونه، غیردولتي موسسي او نړیوال فعالین شامل دي وړاندې کوي. نوموړی لارښود سر بیره په پښتو په دري او انګریزي ژبو هم خپریږي.

کله چې د الف څخه تر یا لارښود لومړۍ ګڼه په ۱۳۸۱ لمریز کال کې خپره شوه، موخه یې لکه څرنګه چې اوس ده " د افغانستان سره د مرستې او بیا رغونې هڅو کې ښکیلو مهمو همغږې کوونکو ته د مرستې

لپاره د اصطلاحاتو، جوړښتونو او میکانیزمونو په اړه د معلوماتو وړاندې کول وو څو په دې توګه وکړای شي له یوې ګډې لغتنامې او ګډ پوهاوي څخه ډاډ تر لاسه کړي.“ د کلونو په تیریدو سره نوموړي لارښود نوره هم پراختیا وموندله ، خو دتل په څیر یوه بریالۍ بیلګه پاتې شوه.

هغه معلومات چې په نوموړي لارښود کې وړاندې شوي دي د سازمانونو او موسسو د په خپلې خوښې همکارۍ پر بنسټ ولاړ دي نوموړي معلومات د افغانستان د چټک بدلون په حال کې حالاتو ته په پام سره کیدای شي بدلون ومومي. ددې لارښود له کاروونکو څخه هیله کیږي څو په دغه لارښود کې د نوو، رغنده او غوره وړاندیزونو لپاره لاندې پتې ته بریښنا لیک واستوي: publications@areu.org.af

## د افغانستان د څیړنې او ارزونې د ادارې کتابتون

د افغانستان د څیړنې او ارزونې د ادارې کتابتون په ۱۳۸۲ کال کې جوړ شو. دغه کتابتون د افغانستان د څیړنې او ارزونې د ادارې له څیړنیزو فعالیتونو سره مرسته کوي او د افغانستان په اړه دڅه له پاسه ۱۴۵۰۰ ټوکو کتابونو په درلودلو سره عامه لاس رسۍ ته لاره هواروي. دغه کتابتون د ټولو مینه والو پر مخ پرانیستی دی. نوموړی کتابتون دهغو معاصرو موادو په راغونډولو چې دننه په افغانستان کې برابرشوي او په افغاني ژبو دي او همدا راز د اوږد مهاله څیړنو پرارزښت خورا زیات تمرکز کوي.

دغه کتابتون په پام کې لري ، هغه څیړنې چې د هیواد او سیمې په اړه په بهر کې کیږي په دې کتابتون کې د لاس رسۍ وړ وي. بیلابیل مواد لکه ( کتابونه ، ورځپاڼې ، مجلې، نقشې، پوسترونه، سی ډي ګانې، ډی ویډي ګانې ، د معلوماتو زیرمه یاډیټابیس او دا سې نور) په کتابتون کې دننه د کارولو لپاره موجود دي ( نوموړي مواد امانت نه ورکول کیږي). د فوټو کاپۍ اسانتیا موجوده ده او د ټولګې بشپړ لیست د افغانستان د څیړنې او ارزونې د ادارې د ویب پاڼې د کتابتون په پاڼه کې د لاس رسۍ وړ دی (www.areu.org.af). د غه کتابتون د افغانستان په اړه له ۵۰ GB څخه زیات د راغونډو شوو څېړونو کمپیوټري نسخې لري چې ټولې د کتابتون د معلوماتو په زیرمه یا ډیټابیس کې فهرست شوي دي او د څیړنیزو موخو لپاره د لاس رسۍ وړ دي( په هغه صورت کې چې دچاپ حق یې مجاز وګڼي).

له کتابتون څخه د څیرونکو د لیدنې هرکلی کوواو یا هم کولای شي د اړتیا په صورت کې دغې بریښنا پتې ته بریښنا لیک واستوي: library@areu.org.af . د کتابتون کارکوونکي د کابل له ګڼ شمیر نورو کتابتونونو سره په ګډه همکارۍ کې کار کوي او کولای شي ، د هغو موادو د سرچینو په اړه چې په دغه اداره کې موجودې نه وي نظر ورکړي.

**د کتابتون ځای او کاري ساعتونه:**

د افغانستان د څېړنې او ارزونې د اداري دفتر (AREU)

دحاجی یعقوب له څلور لاري څخه دشهید څلور لارې پر لور، ښي اړخ ته دریمه کوڅه، د کورشمیره۶۴۹

دغه کتابتون له یکشنبې څخه تر پنجشنبې پورې د سهار له ۹ بجو څخه د غرمې تر ۱۲:۳۰ بجو او د ماسپښین له یوې بجې نه د مازیګر تر۴ بجو ( او د روژې په مبارکه میاشت کې د سهار له ۸ بجو څخه د ماسپښین تر۲ بجو) د مینه والو پر مخ پرانیستی دی (د جمعې، شنبې او عمومي رخصتیو په ورځو تړلی وي)

**پته**

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره

دحاجی یعقوب له څلور لاري څخه دشهید د څلور لاري په لور، ښي اړخ ته دریمه کوڅه، د کور شمیره ۶۴۹

نوی ښار

کابل،افغانستان

ټیلفون: ۹۳۰۷۹۹۶۰۸۵۴۸+

بریښنا پته: publications@areu.org.af

ویب پاڼه: www.areu.org.af

# د افغانستان د څیړنې او ارزونې د ادارې د ۱۳۹۰ کال خپرونې

د نوموړې ادارې دغه او نورې ټولې خپرونې ددې ادارې په ویب پاڼه کې www.areu.org.af د راښکته کولو(داون لوډ) لپاره موجودې دي او چاپ شوې نسخې یې په کابل کې ددې ادارې له دفتر څخه تر لاسه کولای شئ (#هغه خپرونې چې دغه نښه لري په پښتو، * او که دغه نښه ولري نو په دري ژبه هم د لاس رسۍ وړ دي).

- د افغانستان د کلیو د شرایطو په اړه پوهه او د هغې په نښه کول: ولی او څرنګه کلي سره توپیر لري، د آدم پین او پاولاکانتور لیکنه
- د افغانستان په کلیو کې د ژوند او معیشت تامین: د ټولنیزو اړیکو ونډه، د پاولا کانتور او آدم پین لیکنه
- پودکست: په افغانستان کې د ټولنیزو لانجو حل، د دیبرا ج. سمیټ لیکنه
- پود کست: په افغانستان کې د ډموکراتیزه کولو راتلونکی، د انا لارسن لیکنه
- بیوزلي په افغان پالیسۍ کې : د ستونزې د ښه تعریف له لارې له حل سره مرسته، د پاولا کانتور لیکنه
- د نیمروز په ولایت کې د ادارې جوړښت، د انا لارسن لیکنه
- تر کومه ځایه هڅې؟ په افغانستان کې پالیسي جوړونه او دولت جوړونه، د سارا پارکینسن لیکنه*#
- د افغانستان د څیړنې خبر پاڼه ۲۷ ګڼه *#
- د بلخ په ولایت کې د ټولنیزو لانجو د حل بهیر، د ربکا ګنګ لیکنه
- په هره بیه سوله ؟ په افغانستان کې پخلاینه او بیا پیوستون، د تزرینه سجاد لیکنه*#
- آیا د ملي پیوستون په پروګرام کې د ښځو ګډون د هغوی په ژوندانه کې بدلون راولي؟ د پروان په ولایت کې یوه قضیوي ارزونه، د چونا آر. ایکاویز لیکنه
- د پالیسي جوړونې له لارې د وړتیا لوړول: د افغانستان د ملي تعلیمي ستراتیژیک پلان جوړول، د دانا هالند لیکنه*
- په افغانستان کې د معیشت تګ کربښې: د فاریاب څخه شواهد، د بتول نظامي او پاولا کانتور ګډه لیکنه
- په افغانستان کې ځایي سیاستونه: ټاکنې او بې ثباتي دوهم لنډیز، د نوح کاوبرن لیکنه
- ولسي جرګه په پرله پسي بدلون کې،۱۳۸۹: ټاکنې او بی ثباتي، د انا لارسن لیکنه#
- افغان ټولټاکنې،۱۳۸۹ : بدیل روایتونه، د نوح کاوبرن لیکنه*
- د ښځو پر ژوندانه د مایکرو فینانس د پروګرامونو اغیزې: د پروان په ولایت کې یوه قضیوي ارزونه ، د سوګل زند لیکنه
- آیا وړتیا لوړه شوي ده؟ د لومړنیو او ثانوي زده کړو په فرعي سکتور کې د پالیسي جوړونې د بهیر یوه ارزونه، د سید محمد شاه لیکنه
- د افغانستان د څیړنې خبر پاڼه ۲۶ ګڼه*#

- په ۱۳۸۹ کال کې ولسي جرګه: له ټاکنو مخکې سیاستونه او د مخالفینو څرګندیدل، د محمد حسن وفایي او اناالارسن ګډه لیکنه*#
- د دولت فاسدول یا فساد پیشه دولت؟ د سیمه ییزې حکومتدارۍ او فساد تر مینځ د اړیکو راسپړل، د منیژه ګردیزي، کرن هوسمن او یما ترابي لیکنه*#
- د افغانستان د معیشت تګ کربښې: د سرپل له ولایت څخه شواهد، د تام شاو لیکنه
- د کابل په اړوند: په افغانستان کې د ولسي جرګې د ټاکنو او د ځایي سیاسي شبکو اهمیت، د نوح کاوبرن لیکنه*#
- دا ټول ګلان څه شول؟ په افغانستان کې د اپینو په تولید کې د اوسني کمښت د پاېښت ارزونه،د ډیوید منسفیلډ لیکنه*#
- د افغانستان د څیړنې خبرپاڼه۲۵ ګڼه*#
- د شواهدو له مخې: حکومتداري، عدالت او پراختیا( د کابل کنفرانس لپاره جوړې شوي پالیسي پاڼې) *#
- د کوکنارو د کرکیلې راکمول: اغیزې او لاملونه، د جې لمې لیکنه*#
- په افغانستان کې د پاریس د اعلامیې او د مرستو د اغیزمنتوب په اړه غبرګون (د پالیسي پاڼو لړۍ) ،د ربکا رابرټس لیکنه*#
- په افغانستان کې د انتقالي عدالت وضعیت( د پالیسي پاڼو لړۍ)، د ایمیلي وینټر بوتم لیکنه*#
- اندولې ودې ته د رسیدو او د بیوزلی د کچې د راټیټولو لپاره د هڅو بنه کول، د پاولاکانټور لیکنه*#
- د افغانستان د معیشت تګ کربښې: د کندهار له ولایت څخه شواهد، د آدم پین لیکنه
- په افغانستان کې د انتقالي عدالت وضعیت: فعالین، کړنلارې او ننګونې، د ایمیلي وینټر بوتم لیکنه*#
- ټاکنې او ډموکراتیک کول، د انا لارسن لیکنه*#
- د افغانستان د معیشت تګ کربښې: د بدخشان له ولایت څخه شواهد، د آدم پین لیکنه
- د الف څخه تر یا د افغانستان د مرستندوی لاربښود اتمه ګڼه،۱۳۸۹کال*#
- د ملاتړ او بغاوت تر مینځ: په افغانستان کې د زده کوونکو سیاسي فعالیتونه، د انتونیو ګیستوزي لیکنه*#
- دوامداره سوله حساب ورکوونکو سیاسي ادارو ته اړتیا لري: د افغانستان په اړه د لندن له کنفرانس څخه وروسته د ټولټاکنو د اهمیت په اړه د افغانستان د څیړنې او ارزونې د ادارې څرګندونې*#
- د افغانستان د څیړنې خبرپاڼه ۲۴ ګڼه*#
- د افغانستان په واقعیتونو کې د نړیوالې ټولنې ښکیلتیا ته د لارې هوارول: د افغانستان په اړه د لندن او کابل کنفرانس په اړه د افغانستان د څیړنې او ارزونې د ادارې څرګندونې*#
- په افغانستان کې د مایکرو فینانس د یو بریالي سکټور رامینځ ته کول، د پاولا کانټور او ایرنا اندرسن لیکنه*#

# د الف څخه تر یا: منځپانګه


افغان سیمه ییز پولیس (ALP)........ ۳
افغان ملي پوځ (ANA)........ ۴
افغان ملي پولیس (ANP)........ ۶
افغان ملي امنیتي ځواکونه (ANSF)........ ۸
اوبه........ ۸
ائتلافي ځواکونه (CF)........ ۱۰
بیړنۍ لویه جرګه (ELJ)........ ۱۲
په افغانستان کې د اروپایي پولیسو پلاوی (EUPOL)........ ۱۳
په افغانستان کې کاریدونکې کلیزې........ ۱۴
په افغانستان کې قوانین........ ۱۴
په افغانستان کې منرالي سرچینې........ ۱۵
په کابل پوهنتون کې د افغانستان دمعلوماتو د سرچینې مرکز (ACKU)........ ۱۷
د اداري سمون او ملکي خدمتونو خپلواک کمیسیون (IARCSC)........ ۱۸
د اداري چارو او دوزیرانو د شورا د دارالانشأ ریاست (OAA/CMS)........ ۲۰
د اساسي قانون پر تطبیق د څارنې خپلواک کمیسیون(ICSIC)........ ۲۰
د اساسي قانون لویه جرګه (CLJ)........ ۲۱
د استانبول سیمه ییز کنفرانس........ ۲۲
د افغان ښځو شبکه (AWN)........ ۲۳
د افغانستان انتقالي اداره (ATA)........ ۲۴
د افغانستان پراختیایي ټولنه (ADA)........ ۲۴
د افغانستان په اړه د هاګ کنفرانس........ ۲۵
د افغانستان تړون........ ۲۵
د افغانستان د ټولنیزانسجام پروګرام (ASOP)........ ۲۶
د افغانستان د مدني ټولنې دمجتمعې اداره (ACSFO)........ ۲۷
د افغانستان د جیوډیزۍ او کارټوګرافۍ مرکزي اداره (AGCHO)........ ۲۸
د افغان نا دولتي سازمانونو د همغږۍ اداره (ANCB)........ ۲۹
د افغانستان د بشر د حقونو خپلواک کمیسیون (AIHRC)........ ۳۰
د افغانستان د بیا رغونې وجهي صندوق (ARTF)........ ۳۱
د افغانستان د پانګونې د ملاتړ اداره (AISA)........ ۳۲
د افغانستان د سولې او بیا پیوستون پروګرام (APRP)........ ۳۳
د افغانستان د کلیوالي صنایعود پراختیا پروګرام (AREDP)........ ۳۶
د افغانستان د نا دولتي مؤسسو د ساتنې دفتر (ANSO)........ ۳۶
د افغانستان د نوي پیل پروګرام (ANBP)........ ۳۷
د افغانستان ملي پراختیایي ستراتیژي (ANDS)........ ۳۹
د افغانانو لپاره د مرستو د همغږۍ اداره (ACBAR)........ ۴۳
د افغانستان لپاره د کوچنیو پورونو د پانګې اچونې د ملاتړ اداره (MISFA)........ ۴۴
د افغانستان لپاره د ماین پاکولو پروګرام (MAPA)........ ۴۴
د افغانستان لپاره د نظم او قانون وجهي صندوق (LOTFA)........ ۴۶
د امنیتي سکټور سمون (SSR)........ ۴۷

د برلین غونډه او اعلامیه ........ ۴۸
د بشري پراختیا ملي رپوټ (NHDR) ........ ۴۹
د بشري مرستو د همغږۍ اداره (CHA) ........ ۵۰
د بُن تړون ........ ۵۱
د بن کنفرانس ۱۳۹۰ لمریز کال(۲۰۱۱ زیږدیزکال ........ ۵۱
د بېوزلۍ د راټیټولودستراتیژۍ سند (PRSP) ........ ۵۳
د پاریس کنفرانس ........ ۵۲
د پالیسۍ د شنني او پراختیا مدیریت (PADD) ........ ۵۳
د پراختیایي مرستو د معلوماتو زیرمه یا ډیټابیس (DAD) ........ ۵۴
د توکیو غونډې ........ ۵۵
د حکومت د معلوماتو او رسنیو مرکز (GMIC) ........ ۵۵
د څارنې او همغږۍ ګډ پلاوی (JCMB) ........ ۵۶
د روغتیایي خدمتونو بنسټیزه ټولګه (BPHS) ........ ۵۷
د زریزې پراختیایي موخې (MDG) ........ ۵۸
د سولې ملي مشورتي جرګه (NCPJ) ........ ۵۹
د سویلي او لویدیځ افغانستان او بلوچستان د همغږۍ ټولنه (SWABAC) ........ ۶۰
د سیمه ییزو ارګانونو خپلواک ریاست (IDLG) ........ ۶۱
دعدلي سکټور سمون (JSR) ........ ۶۳
د غوښتنو د بهیر پیاوړې کول (PAC) او د بشر دوستانه کړنو پلان (HAP) ........ ۶۵
د فساد په وړاندې د مبارزې او څارنې لویه اداره (HOOAC) ........ ۶۶
د کابل کنفرانس او د کابل بهیر ........ ۶۷
د لومړیتوب ډله ییز او ملي پروګرامونه (NPPs) ........ ۶۸
د لندن کنفرانس ۱۳۸۵ ........ ۷۱
د لندن کنفرانس ۱۳۸۹ ........ ۷۱
د مدني ټولنې او بشري حقونو شبکه (CSHRN) ........ ۷۲
د ملي پیوستون پروګرام (NSP) ........ ۷۳
د مرکزي احصائیې اداره (CSO) ........ ۷۵
د نادولتي مؤسسو قانون او کړنلاره ........ ۷۷
د نشه یي توکو په وړاندې مبارزه (CN) ........ ۷۸
د ولایتي بیارغونې ډله (PRT) ........ ۸۲
سیمه ییزې همکارۍ ........ ۸۳
عامه اداري سمون (PAR) ........ ۸۴
لیږد (انتقال) ........ ۸۵
ملي بودیجه ........ ۸۷
ملي پراختیایي کاري چوکاټ (NDF) ........ ۸۹
ملي سیمه ییز پراختیایي پروګرام (NABDP) ........ ۹۰
ملګري ملتونه په افغانستان کې ........ ۹۱
نړیوال سوله ساتي ځواکونه (ISAF) ........ ۹۵
ولایتي پراختیایي پلان (PDP) او ولایتي ستراتیژیکه پلان جوړونه (PSP) ........ ۹۷

# افغان سیمه ییز پولیس (ALP)

افغان سیمه ییز پولیس (ALP) امنیتي ستونزو ته د یو ځایي حل د موندلو لپاره د پخوانیو طرح شوو پروګرامونو وروستی تکراري بڼه ده. د ۱۳۸۹ کال د زمري په میاشت کې د ولسمشریز فرمان له لارې د افغان سیمه ییزو پولیسو له رامینځ ته کیدو ځخه وړاندې افغان حکومت او د هغه نړیوالو ملاتړو ګڼ شمیر ځایي او غیر رسمي امنیتي پروګرامونه و آزمویل.

په ۱۳۸۵ کال کې افغان ملي مرستندویه پولیس (ANAP) د امریکې د پوځیانو او کورنیو چارو د وزارت له خوا را مینځ ته شول چې په ۱۳۸۸ کال کې حکومت ته د لږ وفادارو وسله والو ډلو په اړه د اندیښنو له کبله د دوی فعالیت ودرول شو. سره له دې چې په ۱۳۸۸ کال کې د امنیت د تأمین لپاره د سیمه ییزو ځواکونو په شمیر کې چټک زیاتوالی هم راغی. د ۱۳۸۸ کال د چنګاښ په میاشت کې افغان حکومت په هغو سیمو کې چې د افغان امنیتي ځواکونو شتون محدود و د ټاکنیز بهیر د امنیت د تأمین لپاره د ټولنې د دفاع ځواکونه (CDF) جوړ کړل( که څه هم چې د دې ځواکونو د بودیجې د تر لاسه کولو لپاره د موقعیتونو ټاکل د دې ادعا ګانو لامل شو چې ګواکې سیاسي اجنډا ګانو د دوی استفاده ټاکلې ده). په همدې کال د افغان عامه ساتنې پروګرام (AP۳) د میدان وردکو په ولایت کې ظاهراً د کورنیو چارو وزارت تر اثر لاندې خو په پراخه توګه د امریکې د ځانګړو پوځونو تر لارښوونې لاندې رامینځ ته شو. په عین حال کې د ۱۳۸۸ کال د چنګاښ په میاشت په افغانستان کې د ګډو ځواکونو ځانګړې عملیاتي قومندانۍ (CFSOCC-A) د ټولنې د دفاع نوښت (CDI) یې رامینځ ته کړ، چې ډیر ژر یې نوم د ځایي د فاع په نوښت (LDI) بدل شو. نوموړي پروګرامونه د حکومت ضد ډلو څخه د ځان د ژغورلو په موخه سیمه ییزو ټولنو ته د لارو چارو د برابرولو په لټه کې شول. په ۱۳۸۹ کال کې CDI/LDI د کلیو د ثبات د عملیاتو ( VSOs ) تر چتر لاندې راغلل، چې د امریکې د متحدو ایالتونو د دفاع د څانګې له خوا یې څارنه کیده. د ۱۳۸۹ کال د زمري په میاشت کې د LDI ډلې په ALP کې شاملې شوې.

د ALP پروګرام تر ۲۰۱۵ کال پورې د فعالیت لپاره بودیجه لري، سره له دې د دې نیتې د غځیدو احتمال هم موجود دی. هغه ولسوالۍ چې په دې پروګرام کې د برخې اخیستنې لپاره ټاکل شوي کابو ۳۰۰ نارینه یې د یونیفورم د تر لاسه کولو، AK۴۷s او د امریکې د ځانګړو ځواکونو له خوا د روزنو د تر لاسه کولو لپاره نومولې دي. په تیورۍ کې د ټولو ګمارنو ارزونه او تایید باید د ولسوالیو د شوراګانو او د افغان استخباراتي سازمان له خوا وشي. د ګمارنو د ارزونې مسوولې شورا ګانې د سیمه ییزو ارګانونو د خپلواک ریاست د افغان ټولنیز انسجام د پروګرام له خوا رامینځ ته شوي دي(IDLG, ASOP). همدا راز د ALP د غړو په واک کلک محدودیت لګول شوی دی، دوی توقیف او له خپلو ولسوالیو څخه بهرګزمه نه شي کولای او یا درندې وسلې نه شي درلودلای، او په تیورۍ کې د پولیس د سیمه ییز امنیه قومندان تر اثر لاندې دي.

په دې هکله پراخې اندیښنې موجودې دي چې د ټولنې په کچه د ځاني دفاع نوښتونه حکومت ته د لږې وفادارۍ له امله د ځایي زورواکو له خوا د ګټه اخیستنې په وړاندې زیانمنونکي دي او ښایي د قومونو او یا

ډلو تر مينځ د ترينګلتياوو لامل شي . همدا راز دا هم په ډاګه شول چې ښايي دغه ډلې د دولت واک او د بې وسلې کولو په برخه کې پرمختيا کمزورې کړي. د (( فقط دې ته مليشه مه وايه)) تر سرليک لاندې د بشري حقونو د څار د۱۳۹۰کال د وړې د مياشتې يو رپوټ کې شمير دغه ادعا ګانې په تفصيل سره څرګندې کړي دي.

له دې انديښنو سره سره د ټولنې په کچه د دفاع ډلې افغانانو ته د امنيتي مسوولیتونو د ليږد د بهير د يوې مهمې برخې په توګه پاتې دی. اوس مهال د ALP د ځواک شمير ۱۰۰۰۰ تنو ته رسيږي او په پام کې ده چې د دې ځواکونو شمير ۳۰۰۰۰ ته ورسيږي. د ALP پروګرام د امريکې د دفاع د څانګې له خوا تمويليږي.

## افغان ملي پوځ (ANA)

www.mod.gov.af

افغان ملي پوځ (ANA) د ۱۳۸۱ کال د ليندۍ په يوولسمه نيټه د ولسمشر حامد کرزي له لوري د يوه فرمان پر بنسټ رامينځ ته شو. افغان ملي پوځ د ملي دفاع وزارت تر مشرۍ لاندې د افغان ملي امنيتي ځواکونو (ANSF) يوه برخه جوړوي چې د دې ځواکونو بله برخه افغان ملي پوليس دي(ANP). افغان ملي پوځ د افغانانو له ټولو ټولنيزو او توکميزو ډلو څخه جوړ يو د خپلې خوښې ځواک بلل کيږي. په پام کې وه چې افغان ملي پوځ په بنسټيزه توګه ۷۰۰۰۰ وسله والو ځواکونو ته ورسيږي. په ۱۳۸۲ کال کې د افغان ملي پوځ له رامينځ ته کيدو وروسته د بُن د تړون پر بنسټ دغه ځواکونه د افغان حکومت د امنيتي سکټور د سمون د ستراتيژۍ له پنځو ستنو څخه يوه وبلل شوه(SSR) د افغان ملي پوځ دندې: ۱) د پولو ساتنه او له بهرنيو ګواښونو څخه مخنيوی؛ ۲) ترهګرو ځواکونوته ماته ورکول؛ ۳) د نا قانونه وسله والو ډلو له مينځه وړل، بيا پيوستون يا نيول؛ ۴)د افغان ملي پوليسو په همکارۍ د کورنيو امنيتي ګواښونو او بيړنيو حالاتو اداره کول.

د ۱۳۸۸ کال د مرغومي په مياشت کې د څارنې او همغږۍ ګډ پلاوي(JCMB) د پوځيانو په شمير کې زياتوالی تاييد کړ چې په دې توګه له ۱۳۴۰۰۰( چې له ۱۲۲۰۰۰ فعاله ځواکونو او ۱۲۰۰۰ تر روزنې لاندې عسکرو څخه جوړ دی) د ۱۳۹۰ کال د تلې تر مياشتې پورې به۱۷۱۰۰۰ تنو ته ورسيږي. افغان ملي پوځ په شپږو ډلو ويشل شوی چې د دې ډلو شمير له ۱۲۰۰۰ نه تر ۱۸۰۰۰ سرتيرو ته رسيږي؛ د کابل د امنيت مرکزي قومنداني چې شمير يې ۹۰۰۰ سرتيرو ته رسيږي؛ د پلازمينې فرقه د پلازمينې او حکومتي ځايونو د امنيت مسووليت په غاړه لري؛ د ځانګړو عملياتو د ځواک فرقه چې ۸۸۰۰ سرتيري لري؛ او هوايي ځواکونه چې د هوا له لارې د بنسټيزو توکو د رسولو له لارې د افغان ملي پوځ له غونډونو سره د مرستې دنده پر غاړه لري. د بيا کتل شوي پلان پر بنسټ د غونډونو په شمير کې به زياتوالی راشي. د ۱۳۹۰ کال د غبرګولي په مياشت کې د څارنې او همغږۍ ګډ پلاوي (JCMB) تاييد شوی شمير ۱۹۵۰۰۰ ته لوړکړ؛ داسې ښکاري چې تر ۲۴۰۰۰۰ پورې د دې ځواکونو د زياتوالي لپاره ښايي پلانونه راتيت شوي

وي. د ۱۳۹۰ کال د لیندی په میاشت کې افغان ملي پوځ د خپلو ځواکونو شمیر کابو ۱۸۰۰۰۰ سرتیري وښودل؛ چې له دې ډلې نه کابو دوه پر دریمه برخه یې جګړه ییز ځواکونه او درې سلنه یې هوایي ځواکونه وو. د افغان ملي پوځ جوړول او په افغانستان کې د مسوولیتونو د لیږد پلې کول د امریکې د متحدو ایالتونو د ستراتیژۍ مهمه برخه ده. د مسوولیتونو د لیږد په پړاو کې به افغان ملي پوځ له نړیوالو سوله ساتو ځواکونو څخه د هیواد امنیتي مسوولیتونه په ځو پړاوونو کې په غاړه واخلي.

د افغان ملي پوځ د دودیز جوړښت او د سپکې وسلې لرونکي پیاده نظام پر بنسټ ولاړ ځواک دی. د پوځ د رامینځ ته کیدو موخه په لومړي سر کې د بلواګرو په وړاندې مبارزه وه، خو د افغانستان د ملي خپلواکۍ او ځمکنۍ بشپړتیا په ساتلو کې ددوی د ټولیزې وړتیا د نشتوالي له کبله د ځمکني مانور شپږ ځواکونه په سیمه ییزو قومندانیو: کابل، ګردیز، کندهار، هرات، مزارشریف او لښکرګاه وویشل شول. د افغان ملي پوځ کنډکونه له ۶۵۰ سرتیرو، وړوضابطانو او افسرانو څخه جوړ دی. د افغان هوایي ځواک چې د شوروي اتحاد په بیا رغول شوو الوتکو سمبال دی، د یولړ دندو لکه د ولسمشر لیږد، د مړو او ټپیانو د لیږد، درملو د لیږد، دکشفي الوتنو او هوایي او کنټرولي قوماندو او سپکو هوایي بریدونو د تر سره کولو په موخه روزل شوي دي. د ۱۳۹۰ کال د مرغومي تر میاشتې پورې افغان هوایي ځواکونه د ۵۰ چورلکو په ګډون ۷۶ الوتکې درلودلې.

له جغرافیایي او توکمیز توپیر څخه د ډاډ د تر لاسه کولو په موخه افغان ملي پوځ د افغانستان په ۳۴ ولایتونو کې د جلب وجذب مرکزونه لري. هره میاشت څه د پاسه ۶۰۰۰ نوي کسان د ملي پوځ په لیکو کې جذبیږي. چې نوي را جذب شوي کسان د کابل په پوځـي روزنیز مرکز (KMTC) کې ۱۲ اوونیز روزنیز پروګرام بشپړوي. ددې مرکز ټول روزونکي افغانان دي چې د امریکې دمتحدو ایالتونو، انګلستان، فرانسې او نورو هیوادونو د پوځـي روزونکو له خوا ورسره مرسته کیږي. له پوځـي روزنیز مرکز څخه تر فراغت وروسته د افغان ملي پوځ سرتیري اړوندو ځواکونو کې تر ګمارلو وړاندې په وسلو د سمبالیدو په موخه یوه شپږ اوونیزه روزنه تر لاسه کوي ( چې په کې د اړونده برخې له افسرانو او درجه دارو افسرانو سره یوځای کیږي). سر بیره پردې ، په ۱۳۸۸ کال کې د افغان ملي پوځ د افسرانو لومړۍ دورې د افغانستان له پوځـي اکاډمۍ څخه چې په ۱۳۸۳ کال کې جوړه شوې وه د فراغت سند تر لاسه کړ. د افغان ملي پوځ کارکوونکي یو درې کلن تړون امضا کوي چې کیدای شي په خپله خوښه بیا نوی شي. په ملي پوځ کې د خدمت کولو اعظمي موده ۲۵ کاله ده. له دغه رسمي قراردادي میکانیزم سره سره د ملي پوځ د لیکو پریښودل د یوې جدي ستونزې په توګه دوام لري. د تیرو دوه کلونو په ترڅ کې د ملي پوځ له لیکو څخه د تیښتې منځنۍ کچه په میاشت کې ۲.۶۵ سلنه ده

د امریکې د متحدو ایالتونو روزنیزې ډلې د افغان ملي پوځ په زیاترو واحدونو له کنډک نه نیولې تر قطعې پورې ښکیل دي. د نړیوالو سوله ساتو ځواکونو روزونکي د افغان ملي پوځ په ټاکلو واحدونو کې د عملیاتي روزنیزو او د اړیکو د پروګرام له لارې ښکیل دي.

د امریکې متحد ایالتونه دملی پوځ د روزنې او سمبالونې په برخه کې یو مهم ملګری شمیرل کیږي چې ملی پوځ ته لازمې تخنیکي او مالي مرستې برابروي. د غه هیواد ژمنه کړې چې د ۱۳۸۷ نه تر ۱۳۹۲ کاله پورې ۱۷ میلیارده ډالره به د پوځ د روزنې او سمبالونې په برخه کې ولګوي. او له دې نیټې ځخه وروسته به د امریکې متحده ایالتونه خپلې مالي مرستې په کال کې ۳ ملیارده ډالرو ته راټیټې کړي. تمه کیږي چې نور بسپنه ورکوونکي هیوادونه به په ګډه ۱ میلیارد ډالره مرسته وکړي. چې دا د افغان ملي پوځ د اوسني شمیر دساتنې د مالي ثبات په اړه اندیښنې راپاروي.

د افغان حکومت اوسنۍ موخه د ۱۳۹۳ کال تر پایه د لیږد د بهیر د برخې په توګه د بشپړ امنیتي مسوولیت په غاړه اخیستل دي.

## افغان ملي پولیس (ANP)

www.moi.gov.af

افغان ملي پولیس د افغان دولت د پولیسو ترټولو ستر بنسټ دی چې د کورنیو چارو د وزارت (MoI) تر مشرۍ لاندې خپلې چارې پرمخ بیایي . د افغان ملي پولیسو دندې د امنیتي چارو یوه پراخه لړۍ ده چې د قانون پلي کول، د نظم ساتل، جنایي پلټنې، د پولو امنیت ، د نشه یي توکو او ترهګرو پروړاندې مبارزه په کې شامله ده.د ۱۳۹۰ کال د لیندۍ تر میاشتې پورې د افغان ملي پولیسو ځواک ځه د پاسه ۱۳۸۱۲۱ تنه وو چې لاندیني ځواکونه جوړې:

- ملي پولیس یا افغان یونیفورم لرونکي پولیس (AUP) : د پولیسو د ورځینیو دندو زیاتره مسئوولیت په غاړه لري او د ولایتونو، ولسوالیو او سیمه ییزو قومومندانیو د پولیسو دپوستو لپاره ګمارل شوي دي؛ د افغان ملي پولیسو تر پوښښ لاندې ټول شپږ زونونه د کورنیو چارو مرستیال وزیر ته رپوټ ورکوي؛ د دغو پولیسو شمیر ۸۰۲۷۵ دی؛
- د افغانستان د عامه نظم ملي پولیس (ANCOP) : په لوړه کچه روزل شوي، په ځانګړي ډول سمبال د چټک غبرګون ځواک دی چې موخه یې د "مهمو پولیسي وضعیتونو" په وړاندې لکه دعامه بی نظمۍ، لوټ، برمته کولو، بلواګرۍ او داسې نورو په وړاندې غبرګون دی د دې پولیسو شمیر ۱۳۶۷۸ کسه دی.
- افغان سرحدي پولیس (ABP): دا پولیس په نړیوالو پولو او د هیواد په نورو دروازو کې د قانون د پلي کولو دنده لري؛ ټول ځواک یې ۲۳۰۸۶ کسه دی چې په شپږو زونونو(لویدیځ، سویل لویدیځ، سویل ختیځ، شمال، شمال ختیځ) کې تنظیم شوي دي.
- نور واحدونه کورنیو چارو وزارت ته د ځانګړو شوو کارکوونکو، د جنایي پلټنود برخې، له نشه یي توکو سره د مبارزې د پولیسو (CNPA) په ګډون د ځه له پاسه ۲۵۰۰ځواک درلودونکي دي، او د روزنې، استخباراتو او د اور وژنې د پولیسو چې په ټولیزه توګه یې د ځواکونو شمیر ۲۱۰۸۲ ته رسیږي.

- سر بیره پر دې ۷۸۴۰ ګمارل شوي کارکوونکي په روزنو بوخت دي.

افغان حکومت ګڼ شمیر ځایي دفاعي پروګرامونه آزمویلي دي چې د ټولنې په کچه د امنیتي ستونزو د غیر رسمي حل له لارې د افغان ملي پولیسو د پراختیا لپاره هڅه کوي. د دې تر ټولو وروستۍ بڼه افغان ځایي پولیس دي.

د ۱۳۸۹ (۲۰۱۰) کال لپاره د ملي پولیسو د ځواک جوړښت دیو بشپړ تشکیل شوي، مسلکي، ګټور او د قومیت له پلوه د یوه انډول او تر ۶۲۰۰۰ کسانو څخه د جوړ ځواک په توګه د افغانستان د ۱۳۸۵ کال د ټرون یوه موخه وه. د ۱۳۸۶ کال د وري په میاشت کې د څارنې او همغږۍ ګډ پلاوي (JCMB) د افغانستان په سویل کې د مخ په زیاتیدونکي بلوا پر وړاندی د غبرګون په موخه دغه شمیر ۸۲۰۰۰ تنو ته لوړ کړ. چې په دې توګه د افغان ملي پولیسو د ځواک شمیر د ۱۳۸۸ کال د تول تاکنو په درشل کې ۹۶۸۰۰ تنو ته لوړشو . سره له دې د ۱۳۸۸ کال د مرغومي په میاشت کې د څارنې او همغږۍ ګډ پلاوي د ۱۳۸۹ کال د تلې د میاشتې تر پایه د پولیسو په شمیر کې ۱۰۹۰۰۰ او د ۱۳۹۰ کال د تلې د میاشتې تر پایه ۱۳۴۰۰۰ تنو پورې نور زیاتوالی یې منظور کړ. ځینو بسپنه ورکوونکو د افغان ملي پولیسو د زیاتیدونکي شمیر د مالي ثبات په اړه اندیښنې څرګندې کړې؛ ځینې نور بیا دا اندېښنه لري چې د پولیسو د سمون تمرکز د ملکي پولیسو د ځواک له جوړښت څخه د ملیشه یا د بلواوو پر وړاندې د مبارزې ځواک دجوړښت پر لور اوړي.

د پولیسو د سکټور سمون د افغان حکومت د امنیتي سکټور د سمون د ستراتیژۍ له پنځو اساسي ستنو څخه یوه ده چې په لومړي سرکې د پولیسو په روزنه او لاربښوونه، د وسایلو او زیربناوو پر برابرولو، همدارنګه په اداري جوړښت کې د بدلون لکه د معاشونو او رتبو پر سمون، تمرکز کوي. د افغانستان لپاره د قانون او نظم د وجهي صندوق (LOTFA) اصلي دنده د افغانستان د ملي پولیسو د معاشونو لپاره د بسپنه ورکوونکو د مرستو همغږي ده. د افغانستان د پولیسو له سکټور څخه ۲۵ مرستندویه هیوادونه ملاتړکوي چې د آلمان هیواد تر ۱۳۸۶ کاله پورې د مهمو ملګرو د همغږۍ دنده په غاړه درلودله. د ۱۳۸۶ کال په غبرګولي کې په افغانستان کې د اروپایي ټولنې د پولیسو پلاوي (EUPOL) ,د اروپایي ټولنې د غړو هیوادونو ترمینځ د بیلا بیلوکړنلارو د یو ځای کولو په موخه د پولیسو په سمون کې د آلمان اصلي ونډې ته په خپل پروګرام کې ځای ورکړ. د دې ماموریت دنده د ۱۳۸۹ کال تر غبرګولي پورې وه. د ۱۳۸۹ کال د غویي په میاشت کې د اروپایي ټولنې شورا د نوموړي پلاوي د کار موده د ۱۳۹۲ کال د غبرګولي تر لسمې نیټې پورې وغځوله.

د امریکې متحده ایالتونه د بشري قوا او مالي سرچینو ترټولو لوی مرسته ورکوونکی هیواد بلل کیږي. له۱۳۸۴ کال راهیسي د افغانستان د امنیت د لیږد ګډې قوماندانۍ (CSTC-A) د امریکې د متحدو ایالتونو په واسطه د افغان ملي پولیسو د روزنې او پراختیا په ګډون د پولیسو د سمون د هڅو لاربښوونه کوي. نوموړې قوماندانې د افغانستان د ملي پولیسو د ماموریت لپاره کابو څو زره کارکوونکي او ترون کوونکي ځانګړي کړي دي.

د بسپنه ورکوونکو تر مینځ د پولیسو د سمون تګلارې په پراخه توګه سره توپیر لري او ددغو تګلارو د یوځای کولولپاره هڅې هم سوکه دي. د ۱۳۸۶ کال په لومړیو کې بسپنه ورکوونکو او افغان حکومت د افغانستان دپولیسو د سمون لپاره د نړیوالې ټولنې د هڅو د یووالي او همدارنګه له دې سمون څخه د افغانانو د برخمنتیا د لوړولو په موخه یې د پولیسو د همغږۍ نړیوال پلاوی (IPCB) جوړ کړ. د ۱۳۸۶ کال تر وروستیو پورې ددې پلاوي دارالانشأ فعاله وه او غړو یې په منظمه توګه سره غونډې کولې او د افغانستان د امنیت د لیږد دګډې قومندانۍ، په افغانستان کې د اروپایي ټولنې د پولیسو له پلاوي او د نړیوالو سوله ساتو ځواکونو سره ښکیل وو. د ۱۳۸۸ کال په غبرګولي کې د افغانستان لپاره د ناټو روزنیز پلاوی (NTM-A) د افغان ملي پولیسو د روزنې په موخه رامنځ ته شو. چې دې پلاوي د افغانستان د امنیت د لیږد له ګډې قومندانۍ سره په واحده قومندانۍ کې په همکارۍ پیل وکړ.

د افغانستان پر ملي پولیسو اصلي اغیزمن قوانین، د ۱۳۸۴ کال د پولیسو قانون او د ۱۳۸۳ کال د موقتو جزایي اصولوقانون دی. دغه قوانین د اساسي قانون د ۵۶، ۷۵ (۳) او ۱۳۴ مادې پر بنسټ ولاړ دي. دقوماندې نوې کړۍ په دې ډول ده: ۱)د کورنیو چارو وزیر؛ ۲) په امنیتي چارو کې مرستیال وزیر؛ ۳) سیمه ییز قومندانان؛ ۴) د ولایتونو امنیه قومندانان؛ او ۵) د ولسوالیو امنیه قومندانان. اوس مهال د افغانستان د ملي پولیسو تر پوښښ لاندې شپږ سیمې دي: د کابل ولایت، شمال، ختیځ، سویل، لویدیځ او مرکزي برخې.

له اصولو سره سم د افغانستان د ملي پولیسو یو رتبه لرونکی افسر ( څارن ) باید له ۱۲ ټولګي څخه فارغ او د کابل د پولیسو په اکاډمۍ(KPA) کې درې کلنه روزنه بشپړه کړي. یو رتبه نه لرونکی افسر (ساتنمن) باید د ښوونځي له ۹ ټولګي څخه فارغ او همدارنګه د کابل د پولیسو په اکاډمۍ کې نهه میاشتنۍ روزنیزه دوره بشپړه کړي. ساتونکی( ګزمه) باید په کابل یا هم په سیمه ییزو روزنیزو مرکزونو کې چې په بامیانو، ګردیز، هرات، جلال آباد، کندهار، کندز او مزار شریف کې موجود دي، روزنیزه دوره بشپړه کړي.

## افغان ملي امنیتي ځواکونه (ANSF)

د افغان ملي امنیت ځواکونه د افغان ملي پوځ(.۴..مخ) او افغان ملي پولیسو ( ..۶...مخ) څخه جوړ دی.

## اوبه

د افغانستان زیاتره وګړي د ځان د ژوغورلو لپاره د کروندو پر معیشت متکي دي، او د پایلې په توګه د هیواد د اوبو د سرچینو ساتنه خورا مهمه ده. کلیوالي ټولنې د خپلو محصولاتو د خړوبولو لپاره پر بسیا اورښتونو تکیه لري. د ۱۳۸۹ کال په وروستیو او د ۱۳۹۰ کال په لومړیو کې د بارانونو او واورو کمښت د افغانستان په شمالي او لویدیځو سیمو کې د وچکالۍ لامل شو چې له یو نه تر درې میلیونه خلک یې وځپل. وچکالۍ د غنموکلني حاصلات په کلکه زیانمن کړل، چې په پای کې یې د هیواد په کچه د خوړو خوندیتوب راټیټ کړ.

اوس مهال افغانستان د وګړو پر سر په کال کې ۲.۷۷۵ مترمکعبه اوبه تر لاسه کوي، په اسانۍ سره د وګړو پر سر له ۱۷۰۰ متر مکعب څخه زیاتې اوبه د وګړو د اړتیاوو د پوره کولو لپاره اړینې بلل شوي دي. که څه هم چې د اوبو دغه د پام وړ اندازه د هیواد په کچه په ورته ډول نه ویشل کیږي. د بیلګې په توګه د شمالي سیندونه د هیواد د اوبو یواځې درېیمه سلنه حجم جوړوي، د سیمې لپاره د سړي پر سر ۶۷۶ مترمکعبه اوبو ته په پام سره د اوبو د کمښت په درشل کې به د سړي پر سر ۵۰۰ مترمکعبه اوبه ورسیږي.

سر بیره پر دې، د اوبو د زیرمه کولو د وړتیا نشتوالی له یوه کاله تر بل کاله او په کلنۍ توګه افغانستان په بیلابیل ډول په کلکه زیانمنوي. په ټولیزه توګه د هیواد د اوبو زیربنا خورا کمزورې پاتې ده؛ د هیواد د ټولو مخزنونو له ډلې نه ۱۲ مخزنه د ۱۲۹۸ او ۱۳۱۸ (۱۹۲۰ او ۱۹۴۰) کلونو تر مینځ جوړ شوي دي او افغانستان اوس مهال په نړۍ کې د اوبو د زیرمه کولو د یو ټیټ ظرفیت درلودونکی هیواد دی. دا مهال افغانستان پاکو اوبو ته د منځني لاس رسي له مخې په نړۍ کې تر ټولو ټیټه کچه لري؛ په ۱۳۸۶ کال کې دغه کچه ۲۶.۸ سلنه وه( په همدې لاربشود کې ولایتي لنډیز وګورئ).

د اوبو د ویش دودیزسیستمونه د شخړو له امله په کلکه زیانمن شوي او اوبه په ټولنه کې دشخړو د دوهم ستر لامل په توګه د مفسدو چارواکو له خوا ناوړه ګټه اخیستنې ته برابرې دي. د میرآب د سیستم د جوړولو له لارې د اوبو د مدیریت ښه کولو ته اړتیا ده، چیرې چې ټولنې د عامه زیرمو د مدیریت لپاره استازي ټاکي څو د اوبو په ویش کې د مساوات او شخړو د حل په څیر موضوعګانو په برخه کې ښکیل وي.

د نفوسو او اقتصاد وده او د ژوندانه د معیارونو ښه کیدل به په هیواد کې د اوبو د اندازې لپاره غوښتنې لوړې کړي، وړاندوینه کیږي چې په ۱۴۰۴ (۲۰۲۵) کال کې به د موجودو اوبو حجم د سړي پر سر په ۱۳۸۳ کال کې د اوبو د موجودې اندازې په نسبت ۳۶ سلنه راټیټ شي. دا په ځانګړې توګه د ښاري سیمو د پراختیا لپاره هڅې مختلوي، د اټکل له مخې په ۱۴۰۴ کال کې به کابل له اوسنۍ اړتیا څخه ۶ ځله زیاتو اوبو ته اړتیا ولري. د اقتصاد له عصري کیدو پرته دغه بهیر کولای شي د هیواد په کچه د خوړو خوندیتوب له پام وړ اوږد مهاله ګواښ سره مخامخ کړي.

د افغانستان د زریزې پراختیایي موخو ته د رسیدو د مهمې برخې په توګه د اوبو سکټور ته په کتلوسره، د افغانستان د ملي پراختیایي ستراتیژۍ د زیربنا تر ستنې لاندې د اوبو د سکټور یوه ستراتیژي جوړه شوې ده. اوبه په نورو سکټوري ستراتیژیو لکه کرهنه، بریښنا، چاپیریال، د کلیو او ښارونو په پراختیا کې هم په کلکه څرګندې شوې دي. د ستراتیژۍ لنډ مهاله موخې لکه پاکو اوبو ته تر ۹۰٪ د کلیو د لاس رسی پراختیا، هغه موخه ده چې په ۱۳۸۹ کال کې به بشپړ شي؛ منځ مهالي موخې لکه د اوبو په سکټور کې د حقوقي او حکومتي جوړښتونو پراختیا او اصلاحات، باید په ۱۳۹۲ کال کې بشپړ شي؛ او اوږد مهالي موخې لکه د اوبو د موجودو زیربناوو بیا رغول او د نوو زیربناوو جوړول، باید په۱۴۰۲ (۲۰۲۳ )کال او تر هغې وروسته بشپیر شي. که څه هم چې د افغانستان د بشري پراختیا تر ټولو وروستی رپوټ(NHDR) ادعا کوي چې دغه موخې خورا لوړې دي او په راتلونکو څو لسیزو کې دې موخو ته رسیدل له احتماله لیرې برېښي.

په ۱۳۸۸ کال کې د اوبو یو قانون تصویب شو، د اساسي قانون د نهمي مادې له مخې دا د اوبو د سکټور د ادارو د بیا تنظیم او مقررو لپاره یو کاري چوکاټ جوړوي، د "اوبو د بنې ادارې "د نړیوالو میکانیزمونو د اصولو منل لکه د اوبو د سرچینو یو واحد مدیریت(IWRM)، چې د اوبو مدیریت ډنډ او د ډنډ لاندینۍ کچې ته لیږدوي.

د ۱۳۸۲ او ۱۳۸۸ کلونو تر مینځ د اوبو پروژو ته د ۱.۲ ملیارده ډالره پیسو ژمنه شوې وه چې امریکا، نړیوال بانک، جرمني، کاناډا، اروپایي کمیسیون او جاپان ددې پروژو له مهمو بسپنه ورکوونکو څخه دي. سره له دې، له دې پیسو څخه یوازې ۵۷۸ میلیون ډالره ورکړل شوي دي. د اوبو د پراختیا د سکټور په برخه کې د حکومت اوسنۍ پروژې د کلیو د اوبو د زیرمو، د روغتیا ساتنې او اوبو لګولو پروګرام د کلیو د بیا رغونې او پراختیا د وزارت له خوا د امریکې د نړیوالې پراختیایي ادارې(USAID)، د انګلستان د نړیوالې پراختیایي ادارې(DFID)، د ملګرو ملتونو پراختیایي پروګرام(UNDP)، یونیسف(UNICEF)، د پراختیا او همکارۍ لپاره د سویس سازمان (SDC ) په مالي مرسته او د اروپایي کمیسیون له خوا تمویل شوي د پنج آمو د سیند د ډنډ پروګرام اود لویدیځ ډنډ پروژې، رواني دي. نوموړي پروګرامونه په افغانستان کې د اوبو د سرچینو د واحد مدیریت د کړنلارې د آزمایښت ، او په ټول هیواد کې د هغو د پلي کولو د وروستۍ موخې لپاره هڅه کوي.

د افغانستان د اوبو د سرچینو د اوسني وضعیت په هکله د لازیاتو معلوماتو لپاره ، د ۱۳۹۰ کال د بشري پراختیا ملي رپوټ (NHDR)، هیر شوی اړخ: د اوبو خوندیتوب او د روغتیا ساتنې ناورین:
:http://www.cphd.af/ahdr2011.html)

او د افغانستان د څېړنې او ارزونې د ادارې د څېړنیزو پروژو بیلابیلې خپرونې( د اوبو مدیریت، مالداري او د اپینو اقتصاد)) وګورئ:

(http://areu.org.af/ResearchProjectDetails.aspx?contentid=2&ParentId=2&ResearchProjectId=647855732).

## ائتلافي ځواکونه (CF)

www.cjtf101.com

ائتلافي ځواکونه هغه اصطلاح ده چې له ۱۳۸۰ کال راهیسې په افغانستان کې د امریکې تر مشرۍ لاندې د پوځي ادارو لپاره کارول کیږي. دوی د ملګرو ملتونو د امنیت د شورا تر مشرۍ لاندې له نړیوالو سوله ساتو ځواکونو یا آیساف څخه چې په افغانستان کې عملیات تر سره کوي بیل دي.

ائتلافي ځواکونو د شمالي ټلوالې د ځواکونو په همکارۍ د ۱۳۸۰ کال د لړم په میاشت کې د طالبانو رژیم راوپرځاوه. دغه سرتیري د تلپاتې خپلواکۍ د عملیاتو (OEF) د ماموریت پربنسټ په افغانستان کې خپلو عملیاتو ته ادامه ورکوي او د افغان دفاعي ځواکونو په وضعیت کې سمون راولي، چې په پای کې به دغه

ځواکونه په افغانستان کې د تل پاتې ثبات د تأمین مسوولیت ولري. ائتلافي ځواکونه د افغانستان د حکومت دامنیتي سکټور د سمون مهم پلي کوونکي ملګري دي .

که څه هم چې په افغانستان کې له پوځي برخو څخه بهر غیر ایساف ځواکونه یا د امریکې ځواکونه د ائتلافي ځواکونو په نامه یادیدل چې دغه ځواکونه د ۱۳۸۲ کال د سلواغې په میاشت کې بیا تنظیم او د افغانستان د ګډو ځواکونو د قومندانۍ (CFC-A) په نامه بیا ونومول شول. په ۱۳۸۳-۱۳۸۴ کلونو کې دې ځواکونو (CFC-A) ایساف ته د سیمه ییزې قوماندې په لیږد پیل وکړچې دا کارله لویدیځو او شمالي سیمو څخه پیل شو؛ د ۱۳۸۵ کال د چنګاښ په میاشت کې د سویلي ولایتونو د قوماندې لیږد تر سره شو. دهیواد د وروستۍ ځلورمې برخې یعنې د ختیځو سیمو د قوماندې لیږد د ۱۳۸۵ کال د تلې په میاشت کې تر سره شو. او په دې توګه آیساف ته د ټول هیواد د امنیت د ساتلو دنده وسپارل شوه(که څه هم چې د ۱۳۸۷ کال د تلې له میاشتې راهیسې په افغانستان کې امریکایي ځواکونو له آیساف سره په همغږۍ کې د ختیځو سیمو د قوماندې لپاره په افغانستان کې د تل پاتې خپلواکۍ د ماموریت مسوولیت یې په ځان پورې تړلی ګاڼه). په ۱۳۸۵ کال کې آیساف ته د سیمو له لیږد وروسته د افغانستان د ګډو ځواکونو قومنداني(CFC-A) نور د ائتلافي ځواکونو د یوې قومندانۍ په څیر غیر فعاله وه؛ په پای کې پاتې غیر ایساف امریکایي ځواکونه (د امریکې د ګډو ځواکونو Task Force ۷۶ او CSTC-A) تر قوماندې لاندې راغلل چې په پای کې یې څارنه د امریکې د مرکزي قومندانۍ(CENTCOM) په غاړه وه.

په وروستیو کې د ۱۳۸۷ کال د تلې په میاشت کې ائتلافي ځواکونه په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو په توګه له سره تنظیم شول(USFOR-A) چې د امریکې د مرکزي قومندانۍ (CENTCOM) له خوا یې مشري او څارنه کیږي. په داسې حال کې چې آیساف د ناټو تر مشرۍ لاندې ځواک دی سره له دې هم د ۱۳۸۷ کال د تلې له ۱۷ نیټې راهیسې دغه دواړه ځواکونه تر یوې قومندانۍ لاندې راغلل او پر همهغه نیټه جنرال ډیوېډ دي مک کیرنن د متحده ایالتونو تر ټولو لوړپوړی پوځي افسر په افغانستان کې وروسته له هغو انګیرنو نه چې د ۱۳۸۷ کال په غبرګولي کې به د آیساف د ځواکونو قومانده پر غاړه واخلي د امریکې د ځواکونو د قومندان پر دنده ونومول شو.چې وروسته بیا د ۱۳۸۸ کال د وري په میاشت کې دده پر ځای جنرال ستنلي ای.مک کریستال وټاکل شو، چې د ۱۳۸۹ کال د غبرګولي په میاشت کې د هغه پرځای جنرال ډیوید پتریوس ددې ځواکونو قومانده په غاړه واخیسته. د ۱۳۹۰ کال د چنګاښ په میاشت کې جنرال جان الن د جنرال پتریوس پر ځای وټاکل شو.

په افغانستان کې د امریکې ځواکونه د آیساف د ځواکونو له ماموریت څخه دامریکې د ملاتړ دهمغږۍ او اغیزمنتوب د زیاتولو په موخه رامینځ ته شول. د دې ځواکونو نیت په افغانستان کې د ټولو امریکایي ځواکونو د کنټرول او قوماندې د تنظیمولو او اغیزمن کولو له لارې د آیساف او د امریکې تر مشرۍ لاندې دهڅو یو والی دی. د۱۳۹۰ کال د مرغومې تر میاشتې پورې په افغانستان کې کابو ۱۸۰۰۰ امریکایي سرتیري پر دندو ګمارل شوي دي.

په افغانستان کې د امریکې ځواکونه دوه تر لاس لاندې قومندانۍ لري:

- ۱۰۱ ګډ ځواکونه (CJTF۱۰۱)، د بګرام په هوايي هډه کې میشت او د ترهګرۍ په وړاندې د مبارزې او بیارغونې دندې په غاړه لري.
- د افغانستان د امنیت د لیږد ګډه قومنداني (CSTC-A) په کابل کې د ایګیرس په کمپ کې میشته ده، او د افغان امنیتي ځواکونو د روزنې په ګډون د افغانستان په امنیتي سکټور کې د ائتلاف د ځواکونو پر ونډه څارنه کوي. نوموړي ځواکونه د امریکې د مرکزي قومندانۍ تر کنټرول لاندې دي.
- د فوینکس ځواکونه، د افغانستان د امنیت د لیږد د ګډې قومندانۍ تر کنټرول لاندې دي چې د افغان ملي پوځ اوافغان ملي پولیسود روزنې، لارښوونې او سلا مشورو ورکولو دنده په غاړه لري.
- د افغانستان د امنیت د لیږد ګډه قومنداني د ائتلاف د سازمانونو یو ګډ ځواک دی چې پوځي کارکوونکي یې د امریکې د متحدو ایالتونو او له نورو ځواک برابروونکو هیوادونوڅخه دي او همدا راز ملکي سلاکاران، څارونکي او لارښوونکي هم دیوټرون پر بنسټ ګماري.

## بېړنۍ لویه جرګه (ELJ)

د بُن له تړون سره سم یوه بېړنۍ لویه جرګه (ELJ) د ۱۳۸۱ کال د غبرګولي د میاشتې له ۲۱ څخه تر ۲۹ نېټې په دې موخه جوړه شوه چې ,,په افغانستان کې د آزادو او منصفانه ټاکنو له لارې د یو ټاکل شوي حکومت تر رامینځ ته کیدو پورې د پراخ بنسټه انتقالي حکومت له لارې د افغانستان چارې پرمخ بوځي، ټاکني باید د بېړنۍ لویې جرګې له جوړېدو څخه وروسته د دوو کلونو په موده کې ترسره شي.” بېړنۍ لویه جرګه په خپلو دندو کې د ولسمشر په توګه د حامد کرزي ( چې مخکې د افغانستان د لنډمهالي ادارې مشر ؤ) په ټاکلو او هغه ته په لوړه ورکولو او همدارنګه د هغه د کابینې په تصویب او په دې توګه د انتقالي حکومت په جوړولوکې پراخ بریالیتوب ترلاسه کړ.

یوه ځانګړی خپلواک کمیسیون (د لویې جرګې کمیسیون) د بېړنۍ لویې جرګې لپاره اصول او کړنلارې وټاکلې، چې باید د ۱۵۰۱ استازو لپاره څوکۍ ولري چې په هغوي کې ۱۶۰ تنه ښځې وې. په پای کې ۱۶۵۰ تنو استازو ګډون وکړ چې په هغوي کې تر ۲۰۰ زیاتو ښځو برخه درلوده. د بېړنۍ لویې جرګې د بهیر او پایلو په اړه اندېښنې په لاندې برخو کې موجودې وې: د استازو د ټاکلولپاره معیارونه، د حکومت د جوړښت او د کابینې د غړو د ټاکلو لپاره په منصفانه رایه ورکونه کې نه بریالیتوب، د استازو ګواښول، او په بهیرکې دپام وړ رونوالې نشتوالی. په عمومي توګه فکر کېده چې په بېړنۍ لویه جرګه کې د اساسي قانون د لویې جرګې (۲۱ مخ) په پرتله چې د ۱۳۸۲ کال په وروستیو کې جوړه شوه د استازو په کړنوکې یوپرمختګ ؤ، ځکه د ګواښونو او ځورولو ریپوټونه لږ وو.

# په افغانستان کې د اروپایي پولیسو پلاوی (EUPOL)

www.eupol-afg.eu

په افغانستان کې د اروپایي پولیسو پلاوي له افغان حکومت سره د پولیسو د داسې یو ځواک په جوړونه کې چې بشري حقونو ته درناوی ولري او همدا راز د کورنیو چارو او عدلیې له وزارتونو سره یې د اصلاحاتو په برخه کې د مرستې لپاره په کار پیل وکړ. ددې پولیسو دنده "د یو تلپاتې او اغیزمن ملکي پولیس له جوړولو سره مرسته ده چې د افغانانو تر واک لاندې له پراخ جنایي عدلي سیستم سره مناسبې اړیکې به تضمین کړي."

دغه پولیس دوزارتونو، سیمو، ولایتونو او ولسوالیو په کچه افغان چارواکو ته په شپږو مهمو برخو کې روزنه او سلا مشورې ورکوي: د استخباراتي پولیسو؛ د قوماندې پولیس؛ کنټرول او اړیکې؛ جنایي پلټنې؛ د فساد ضد ستراتیژي؛ د پولیس - څارنوال اړیکې؛ او د افغان ملی پولیسو(..۶.مخ) په مینځ کې د بشري حقونو او جنسیت پراختیا. د کابل څخه بهر د دې پولیسو کارکوونکي د ولایتي بیارغونې بیلابیلو ډلو(...۸۱. مخ) ته ځانګړي شوي دي.

دغه پلاوی چې په اصل کې یوه جرمني آزمایښتي پروژه ده د ۱۳۸۶ کال د غبرګولي په میاشت کې د اروپایي ټولنې د شورا په واسطه او د عامه امنیت او دفاع د پالیسی(CSDP) له لارې یې په کار پیل وکړ، چې له مخې یې د اروپایي ټولنې هیوادونه د دې وړتیا لري څو په ګډه د ملکي او پوځي کړکیچونو د ادارې په برخه کې کار وکړي.

په اصل کې ددې پولیسو ماموریت د درېوو کلونو لپاره د ۱۳۸۹ کال د غبرګولي تر میاشتې پورې و د ۱۳۸۹ کال د غویي په میاشت کې د اروپایي ټولنې د شورا له خوا د دې پلاوي ماموریت د ۱۳۹۲ کال د غبرګولي تر ۱۰ نیټې پورې وغځید.

څه له پاسه ۳۲۵ نړیوال او ۲۰۰ ځایي کارکوونکي په روان ماموریت کې په کار بوخت دي. د ۱۳۹۰ کال د لیندۍ تر میاشتې پورې ددې ادارې بودیجه ۶۰.۵ میلیون یورو ( کابو ۸۰ میلیون ډالره) وه چې د اروپا د ټولنې د ۲۳ هیوادونو( تر ټولو ستر مرسته کوونکی هیواد د جرمني هیواد و) لکه: کاناډا، کوریشیا، ناروې او نیوزیلنډ له خوا مرسته کیدله. د ۱۳۸۹ کال د چنګاښ په میاشت کې فنلنډي جنرال جوکا ساوولینن (Jukka Savolainen) د پولیسو د ډنمارکي کمیشنر کای ویټرپ پر ځای (Kai Vittrup ) د دې ماموریت د مشر په توګه وټاکل شو. جنرال ساوولینن پر ماموریت د بیا تمرکز مسوولیت پر غاړه لري. د خپلو عادي دندو تر څنګ به په ۱۳۹۱ کال کې دغه ماموریت د افغان ملي پولیسیو په اکاډمۍ کې دې پولیسو ته د رهبریت پر روزنیز پروګرام تمرکز وکړي. په بامیانو کې به د CID یو نوی پوهنځی او یو روزنیز مرکز ښځینه پولیس افسران وروزي. درېواړه اداري به د اروپایي ټولنې د یوې پروژې د برخې په توګه د ۱۵میلیونو یورو په ارزښت په ۱۳۹۱ کال کې جوړې شي. اوس مهال د رهبریت روزنیز پروګرامونه د ولسوالیو امنیه قومندانانو او د پولیسو نورو کاروکوونکو ته په موقتي توګه جوړشوي دي.

# په افغانستان کې کاریدونکې کلیزې

په افغانستان کې درې ډوله کلیزې کارول کیږي:

- هجري لمریزه ( اسلامي لمریزه) کلیزه، د افغانستان د رسمي کلیزې په توګه په اساسي قانون کې منل شوې، او له ۱۳۳۶ کال راهیسې په رسمي توګه ترې ګټه اخیستل کیږي ( د میاشتو نومونه یې له ایراني یا فارسي نومونو څخه توپیر لري). په ۲۰۱۲ کال کې په افغانستان کې نوی کال د ۱۳۹۱ کال د وري په لومړۍ نیټه پیلیږي( چې د ۲۰۱۲ زیږدیز کال د مارچ له ۲۱مې نیټې سره سمون لري).
- هجري سپوږمیزه( اسلامي سپوږمیزه) کلیزه، چې د مذهبي پیښو او رخصتیو لپاره کارول کیږي.
- زیږدیزه یا میلادي کلیزه (عیسوي کلیزه)، په نړیوالو اړیکو کې کارول کیږی.
- د www.nongnu.org/afghancalender ویب پاڼې له لارې د افغانستان د رسمي کلیزو نسخې د لاسرسۍوړ دي. د سپوږمیزو او زیږدیزو کلونو د بدلولو لپاره ( او یا په فارسي نېټو کې د ایراني نومونو د کارونې لپاره) لاندینۍ ویب پاڼې وګورئ:
- www.fourmilab.ch/documents/calendar
- www.iranchamber.com/calendar/iranian_calender_converter.php

# په افغانستان کې قوانین

په افغانستان کې د رسمي قوانینو سرچینې دادي: (۱) اسلامي قانون، (۲) د ۱۳۸۳ کال اساسي قانون، (۳) قانون نامې، فرمانونه او قوانین، (۴) نړیوالې لوز نامې او تړونونه او (۵) بیلا بیل حکمونه او مقررې د اساسي قانون له ۳ مادې سره سم هیڅ یو قانون نه شي کولای چې له اسلامي عقیدو او ارشاداتو سره په ټکرکې و اوسي او د هیواد یو زیات شمیر قانون نامې او فرمانونه د اسلامي قوانینو اصول څرګندوي.

په افغانستان کې یو شمیر قوانین شته (۱۹۷۷،۱۹۶۴،۱۹۳۱،۱۹۲۳) او ۱۹۸۷ ( چې په ۱۹۹۰ کال کې تعدیل شو) او د ۲۰۰۴ کال اساسي قانون چې دا ټول یا د پارلمان او یا هم د لویې جرګو له خوا تصویب شوي دي، په داسې حال کې چې لنډ مهاله اساسي قوانین په ۱۳۸۰،۱۳۷۹ او ۱۹۹۲ کې تسوید شول خو هیڅکله تصویب نه شول. لکه په نورو ځایونو کې افغان قوانین هم باید له اساسي قانون سره په تضاد کې نه وي. نوي قوانین او په موجودو قوانینو کې تعدیلات باید د ملي شورا له خوا تصویب او د ولسمشر له خواتوشیح شي چې تر هغې وروسته بیا د عدلیې وزارت له خوا په پښتو او دری ژبو په رسمي جریده کې خپریږي. په داسې حال کې چې ټولې مقررې باید په رسمي جریده کې خپرې شي خو هغه قوانین او مقررې چې یواځې نړیوالې چارې او یا د یو ځانګړي وزارت اړتیاوې اغیزمنوي ملي شورا ته یې د تصویب لپاره او یا په رسمي جریده کې د خپریدو لپاره عدلیې وزارت ته د لیږلو اړتیا نه شته. د ۱۳۴۲ کال د لړم له میاشتې راهیسې رسمي جریده په پرله پسې توګه خپریږي. تر دې وړاندې هر یو قانون د یوې بیلې

رسالې په توګه خپریده چې په دې توګه یې د څرک معلومول ستونزمن کار و. د رسمي جریدې د ۱۳۷۸ کال ۷۸۷ مه ګڼه د قانوني اسنادو د تصویب او خپرولو د اړینو لارو چارو په اړه څرګندونې لري.

اوس مهال د قوانینو هیڅ یو رسمي واحد نوم لړ او نه هم د محکمو د قضیو او پریکړو په اړه د رپوټ ورکونې کوم کارنده سیستم شتون لري( آن د سترې محکمې). د امریکې دمتحدو ایالتونو د پراختیایي اداری د افغانستان د قانون د واکمنۍ پروژې (AROLP) د رسمي جریدې یوه بشپړه ټولګه یې سکن کړې او د عدلیې وزارت په ویب پاڼه کې د PDF په بڼه یواځې په پښتو او دري ژبو د لاسرسۍ وړ ده(www.moj.gov.af). همدا راز په همدې ویب پاڼه کې د رسمي جریدې د قوانینو یو بشپړ متن یواځې په پښتو او دري ژبو د لټون وړ دی. قوانین، مقررې، منشورونه او فرمانونه یو ګڼ شمیر مهمې حقوقي برخې رانغاړي خو په بشپړ ډول نه راغونډ شوي او نه هم تدوین شوي( که څه هم چې ګڼ شمیر یې په رسمي جریده کې خپاره شوي دي).

ګڼ شمیر نړیوال سازمانونه د پخوانیو او نوو قوانینو ژباړې ته اړتیا لري. اوس مهال د ځینو قوانینو ژباړه په www.afghantranslation.checchiconsulting.com کې د لاس رسۍ وړ دي. نورې غیر رسمی ژباړې د افغانستان د څیړنې او ارزونې د ادارې د کتابتون په نوم لړکې په آنلاین ډول د لاسرسۍ وړ دي (www.areu.org.af) او ځینو وزارتونو خپل اړوند قوانین یې د PDF په بڼه په خپلو ویب پاڼو کې د لاس رسۍ وړ ګرځولي ( د بیلګې په توګه، د مالیې قوانین د مالیې وزارت په ویب پاڼه کې – www.mof.gov.af). او یا د ټولټاکنو په اړه قوانین او مقررې د ټاکنو د خپلواک کمیسیون په ویب پاڼه کې د لاس رسۍ وړ دي (www.iec.org.af/eng/)

د افغان قوانینو لپاره کومه خپره شوې مستنده سرچینه شتون نه لري. له ۱۹۶۳ کال څخه وروسته د یو قانون د بشپړې پیژندنې په موخه ښه به دا وي چې د رسمي جریدې شمیرې او همدا راز نیټې ته یې مراجعه وشي(دواړه نیټې: هم هجري لمریزه او هم زیږدیزه نیټه ) د بیلګې په توګه د تدارکاتو قانون( رسمي جریده ۸۶۵ ګڼه د ۱۳۸۴ کال د لړم د میاشتې ۳ مه نیټه چې د ۲۰۰۵ کال د اکتوبر له ۲۵ مې نیټې سره سمون لري). د ۱۹۶۳ کال څخه وړاندې قوانینو لپاره د خپرونې بشپړ سرلیک او بشپړې نیټې ته اړتیا ده، د بیلګې په توګه اصول اساسي( اساسي قانون) د ۱۳۱۰ کال د لړم د میاشتې ۸ چې د ۱۹۳۱ کال د اکتوبر د میاشتې له ۳۱ نیټې سره سمون لري.

## په افغانستان کې منرالي سرچینې

د افغانستان تر ځمکې لاندې مهم منرالونه پراته دي. د پنټاګون له خوا د ۱۳۸۹ کال د غبرګولي د میاشتې یوې سروې له مخې د دې منرالونو ارزښت ۱ تریلیون امریکایي ډالره اټکل شوی دی که څه هم چې د نورو اټکلونو له مخې د دې منرالونو ارزښت تر ۳ تریلیون ډالرو لوړښودل شوی دی. د افغانستان حکومت او نړیواله ټولنه هیله لري چې دغه صنعت داقتصادي ودې او زیربنا د پراختیا د هڅولو وړتیا لري. حکومت،

د افغانستان د منرالي سرچینو د صنعت په هکله دوه سندونه خپاره کړي دي: د تیلو، ګازو او کانونو د سکټور لرلید او د کانونو د را ایستنې ملي پروګرام. دې سندونو د کانونو د اغیزمن، او روڼ سکټور لپاره چې د افغانانو له اقتصادي ثبات سره به مرسته وکړي او پر نړیوالو مرستو به د دوی تړاو کم او د افغانانو پر ژوند به خورا مثبتې اغیزې ولري، د افغان حکومت ستراتیژي یې څرګنده کړه. د کانونو وزارت د اټکل له مخې په ۱۴۰۲ ( ۲۰۲۴ )کال کې د منرالونو را ایستنه به د افغان حکومت د پراختیایي پلان ۴۲-۴۵ سلنه پوره کړي. نړیوال بانک چې دا مهال د طبیعي سرچینو د اوږد مهالي پراختیا دوهمه پروژه چې د ۵۲ میلیونو ډالرو په ارزښت یوه پنځه کلنه پروژه ده او د ۱۳۹۵( ۲۰۱۶ )کال د غبرګولي تر میاشتې پورې به دوام وکړي پر مخ بیایي په دې بهیر کې له افغان حکومت سره مرسته کوي.

که څه هم چې د افغانستان د منرالونو د شتمنۍ پراختیا د پام وړ ستونزو سره مخامخ ده. د استخراجي صنایعو په وده کې د چاپیریالي همکاریو د کډون تمه هم کیږي. دوهم ، د منرالونو ګټور استخراج به دافغانستان د کورنۍ زیربنا د پام وړ پراختیا ته اړتیا ولري. د نړیوال بانک د اټکل له مخې ( په هیواد کې به د یو ستر کان پراختیا اوږده مهال، ستري پانګې، او د نړیوالې پانګونې لوړ عملیاتي قیمت ته اړتیا ولري). دریم د منرالونو څخه ګټه اخیستنه او د دې کار د تر سره کولو د حق د تر لاسه کولو لپاره د مناقصې بهیر دواړه د فساد او درغلۍ لپاره لاره هواروي. په ۱۳۸۹ کال کې افغانستان د ۱۷۸ هیوادونو له ډلې څخه د فساد په نوم لړکې د ۱۷۶ مقام په درلودلو سره، دغه ویره پر ځای ده چې کیدای شي د افغانستان د منرالونو شتمني به هم تالا شي او افغان ولس به د هغې له ګټو څخه بې برخې شي. له دې څخه د مخنیوي لپاره د افغانستان حکومت د ۱۳۸۷ کال د کب په میاشت کې یې د استخراجي صنایعو د روڼوالي نوښت تصویب کړ، خو سره له دې هم په همدې کال کې د عینکو د مس د ستر کان د مناقصې په اړه ادعا ګانې پورته شوې.

دوه مناقصې اوس بهرنیو کمپنیو ته ورکړل شوي څو په افغانستان کې د کانونو د استخراج کار پیل کړي. د ۱۳۸۶ کال د تلې په میاشت کې د عینکو د کان د مناقصې په هکله خبرې بریالۍ وې. د چین د MCC کمپني بریالۍ مزایده کوونکې کمپنۍ وه چې افغان حکومت ته یې ۸۰.۸ میلیونه ډالره چې د امتیاز د تر لاسه کولو د تولیزو پیسو (۸۰۸ میلیونو ډالرو) لومړۍ برخه وه وسپارله. همدا راز افغان حکومت ته به د مسو د نړیوالې بیې له مخې حق الامتیاز ورکول کیږي. د مزایدې د برخې په توګه چیني کمپنۍ په دې موافقه وکړه چې د مسو د تصفیې دستګاه به جوړه کړي چې په کال کې به ۲۵۰۰۰۰ ټنه مس تولیدوي. د ۹۰۰ کیلو متره په اوږدوالي د اورګاډې د پټلۍ او د ۴۰۰ MW د سکرو د انرژۍ د دستګاه جوړول په مزایده کې شامل وو. که څه هم چې د دې نورو زیربناوو په جوړولو کې ستونزې په دې مانا دي چې له ۱۳۹۳ کال نه مخکې د ۱۳۹۰ کال د لړم په میاشت کې د کان د راایستنې کار شونی نه ښکاري، د حاجي ګک د اوسپنې د کان مناقصه د هندوستان د فولادو د کمپنۍ په مشرۍ یو کانسورټیم ته وسپارل شوه(SAI). دې کمپنۍ څرګنده کړه چې په پام کې لري په افغانستان کې د منرالونو د راایستنې او د فولادو د یوې دستګاه د جوړولو په موخه د ۱۱ بیلیون ډالرو پانګونه وکړي چې نوموړې دستګاه به په کال کې د ۶ میلیون ټنه فولادو د تولید وړتیا ولري. له دې امتیاز څخه په ګټه اخیستنه کې به د اورګاډي د پټلۍ او د انرژۍ د دستګاه

جوړول هم شامل وي. د ۱۳۹۰ کال د لیندۍ په میاشت کې افغان حکومت د منرالونو څخه د ګټې اخیستنې د ودې لپاره یې خپلو هڅو ته دوام ورکړ اوپه همدې لړ کې یې د مسو او سرو زرو د څلورو سترو کانو نو د مناقصې پړاو پیل کړ.

## په کابل پوهنتون کې د افغانستان دمعلوماتو د سرچینې مرکز (ACKU)

www.ackuaf.org

په کابل پوهنتون کې د افغانستان مرکز یوه غیر انتفاعي اداره ده چې د افغاني ټولنې د تیرو، اوسنیو او راتلونکو اقتصادي، سیاسي او فرهنګي بدلونونو په اړه د پوهاوي سره د مرستې لپاره سر چینې راغونډوي او د لاس رسۍ وړ یې ګرځوي او همدا راز هغو څیړنو ته چې د افغانستان د بیا رغونې اړوند ننګونې په نښه کوي لاره هواروي. له ۲۲۰۰۰ فهرست شوو توکو( او په ټولیزه توګه د ۶۰۰۰۰ کتابونو) په درلودلو سره په سیمه کې په افغانستان پورې د اړوندو موادو تر ټولو ستره ټولګه جوړوي. د افغانانو لپاره د مرستو د همغږۍ اداري د سرچینو او معلوماتو تر مرکز وړاندې د ۱۳۸۴ کال د وږي په میاشت کې د افغانستان مرکز په خپلواکه توګه په کابل پوهنتون کې جوړ شوی و.

دغه ټولګې په پښتو، دري ، انګریزي او نورو ژبو د افغان حکومت ، ملګرو ملتونو، نا دولتي سازمانونو، نړیوالو پوهانو او څارونکو له خوا رامینځ ته شوي دي. نوموړې ټولګې د روغتیا، کرهنیزو چارو، سیاسي شننو، د ښځو د حقونو، وروستیو قوانینو، د مجاهدینو او طالبانو د کمیابه خپرونو، د فرهنګي میراثونو د موضوعګانو او د ګڼ شمیر افغاني هنري او ادبي عملي کارونو درلودونکي دي.

دغه مرکز له جګړې څخه وړاندې پړاو پورې اړوند د کرهنیزې سروې ، ولسي( فولکلور) موزیک، شفاعی فولکلور او تاریخ په ګډون د تر سره شوو څیړنو اسناد په واک کې لري او همدا راز ملي احصائیې یې تر لاسه کړې دي.

ګڼ شمیر دغه اسناد له کابل څخه بهر د ولایتونونو پوهنتونو او عامه کتابتونونو ته د دې ویش د تضمین په موخه په ډیجیتلي بڼه بدلیږي( تر اوسه پورې ۶۴۰۰۰۰ پاڼې په ډیجیتلي بڼه اوښتي دي).

دغه مرکز زده کوونکو، استادانو او پالیسي جوړوونکو ته د مطالعې خونه چمتوکړې چې په کمپیوټر او انټرنټ چې د دې مرکز له معلوماتي زیرمې (ډیټابیس) سره تړلی دی سمباله ده. سمعي او بصري برخه چې د نا دولتي سازمانونو د پروګرامونو په هکله وروستي خبرونه، رپوټونه او بیلابیلې ویډیوګانې، د افغانستان د وروستیو تاریخي پیښو په اړه ویډیوګاني او د خلکو د فرهنګ او ژوندانه په هکله فیلمونه لري. د دې مرکز د کتابونو الماري او د مطالعې خونه د کابل پوهنتون په مرکزي کتابتون کې موقعیت لري. د دې مرکز نوې ودانۍ د افغان حکومت د دوه میلیونه امریکایي ډالرو په لګښت د کابل پوهنتون په انګړ کې د جوړېدو په حال کې ده په پام کې ده چې دغه ودانۍ به په ۱۳۹۱ کال کې ګټې اخیستنې ته چمتو شي.

په کابل پوهنتون کې د افغانستان د مرکز د (BOX Library Extension)(ABLE) پروژه فعاله ده چې ولایتي ټولنو، لیسو او شوراګانو ته د کتابونو د چمتوکولو په موخه جوړه شوې ده . د ځایي ټولنو د مسوولینو( لکه ښوونکو د نا دولتي سازمانونو کارکوونکو، هټیوالو او ملایانو )له خوا اداره کیږي. د غه خوځنده کتابتونونه (وړې طاقچه شوې او ارابه لرونکي محفظې) د بیلابیلو موضوعاتو لکه تاریخ، چاپیریال، د کور تنظیم، د ښې روغتیا عادتونه ، د کمپیوټر کاروني او ډکشینریو په ګډون کتابونه لري. نوموړي ګرځنده کتابتونونه چې د ۳۴ ولایتونو له ډلې نه ۳۱ ولایتونو ته کتابونه رسوي د بیلابیلو موضوعاتو لکه د مور او ماشوم پاملرنه، کرهڼه، د څارویو د ساتنې او اسلام په هکله د اسانه لوستلو کتابونه خپروي. دې کتابتونونو تر اوسه له ۲۳۵ څخه د زیاتو سر لیکونو په اړه په پښتو او دري ژبو کتابونه خپاره کړي دي او ۱۹۶ ښوونځیو، ټولنیزو مرکزونو او د ولایتي شوراګانو کتابتونونوته ۲۰۰۰۰۰ ټوکه کتابونه برابر کړي دي.

## د اداري سمون او ملکي خدمتونو خپلواک کمیسیون (IARCSC)

www.iarcsc.gov.ag

د ۱۳۸۱ کال د غويي په میاشت کې د بُن د تړون له غوښتنې سره سم د ملکي خدمتونو خپلواک کمیسیون د افغان دولت د عامه اداري اصلاحاتو د بهیر د پرمخ بیولو په موخه جوړ شو. وروسته بیا د ۱۳۸۲ کال د غبرګولي په میاشت کې د دې کمیسیون دندې د ولسمشر د دوو فرمانونو له لارې تعدیل او پراخې شوې او د کمیسیون نوم د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو کمیسیون ته واړول شو.

د کمیسیون د کار موخه په افغانستان کې د یوې عملي، ګټورې، رنې، حساب ورکوونکې، مسوؤلې، غیر سیاسي او ناپییلې عامه ادارې رامنځ ته کول دي. د دغه کمیسیون ستراتیژیکې موخې دادي:

- د بشري سرچینو د مدیریت د ودې لپاره د اړین قانوني کاري چوکاټ او وړتیا رامینځ ته کول؛
- د کمیسیون د وړتیا ښه کول؛
- د عامه خدمتونو د ادارې هر اړخیز اصلاحات؛
- د وړتیا او لیاقت پر بنسټ د آزادو سیالیو له لارې په عامه ادارو کې د ګمارنو هڅول؛
- په ملکي ادارو کې د رتبو او معاشونو د اصلاحاتو او د اجراأتو د ارزونې پلې کول؛
- له افغانانو سره د دې اصلاحاتو په اړه خبرې اترې؛
- د ملکي ادارو د کارکوونکو د شکایتونو د په نښه کولو لپاره د یوې اغیزمنې کړنلارې رامینځ ته کول؛
- په ملکي ادارو کې د ښځو د ونډې هڅول؛
- د اصلاحاتو د اوسنیو او پخوانیو بهیرونو د پلي کولو د پرمختګ ارزول او د بدلون او پراختیا د راتلونکي پړاو پیل.

دغه کمیسیون له لاندې برخو څخه جوړ دی: د ملکي خدمتونو اومدیریت څانګه(CSMD)، د ملکي خدمتونو دارالانشاء(CSS)، د ملکی خدمتونو یو انستیتیوت(CSI) ، دګمارلو یا ټاکلو خپلواک پلاوی ، د غوښتنو خپلواک پلاوی ، د ولایتي چارو یوه څانګه او د پروګرامونو د طرحې او همغږۍ ریاست.

د ملکي خدمتونو او مدیریت څانګه په بشري سرچینو پورې د اړوندو پالیسیو د پلي کیدو د تسوید او څارنې او همدا راز د روزنې او پراختیا د نده لري. د ملکي خدمتونو دارالانشأ نوموړي کمیسیون ته اجرائیوي، ارتباطي او عملي مرستې برابروي او د پروګرامونو دپلي کیدو د ارزونې دنده پر غاړه لري. د ملکي خدمتونو انستیتیوت په ۱۳۸۶ کال کې د افغانستان په کچه د ټولو ملکي مامورینو لپاره د روزنې د سرچینې په توګه را مینځ ته شو چې د مدیریت، معلوماتي ټکنالوژۍ او د انګلیسي ژبو کورسونه په ملي او ولایتي کچه وړاندې کوي.

د ټاکنې پلاوی د ملکي خدمتونو د لوړپوړو چارواکو د ګمارلو او د منځنۍ کچې د چارواکو پر ګمارنې د څارنې دنده لري. د غوښتنو یا تقاضا پلاوی داسې یوه اداره ده چې له دې لارې ملکي کارکوونکي کولای شي د ګمارلو د پریکړو په ګډون خپل شکایتونه وړاندې کړي. که څه هم چې دواړه پلاوي د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو د کمیسیون تر نظر لاندې کار کوي خو په خپلواکه توګه عمل کوي.

د ولایتي چارو څانګه د ولایتونو په کچه د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو د خپلواک کمیسیون د خدمتونو د انسجام د تضمین دنده په غاړه لري او د محلي ارګانونو له خپلواک ریاست سره نږدې خپلې چارې پر مخ بیايي. د پروګرامونو د طرحې او همغږۍ ریاست په داسې حال کې چې د حکومت له پراخو پراختیایي موخو سره د خپلې همغږۍ ضمانت کوي له وزارتونو سره د پراختیایي پروګرامونو په طرح کې هم مرسته کوي. دواړه پلاوي په ۱۳۹۰ کال کې د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو د خپلواک کمیسیون د پراختیا د برخې په توګه رامینځ ته شوي دي چې په دې توګه د دې کمیسیون د کارکوونکو شمیر ۹۰۰ تنو ته رسیږي.

په ۱۳۹۰ کال کې د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو کمیسیون د وړتیا د لوړولو د برخې په توګه څه د پاسه ۱۶۰۰۰ ملکي کارکوونکو ته لومړنۍ روزنې وړاندې کړې دي. د مدیریت د عملي کار د پروژې په ګډون چې د ملکي کارکوونکو د راتلونکي نسل لپاره طرح شوي دي، د لوړې او اجرائیوي کچې ملکي مامورینو ته اداري روزنې، د کابل او بلخ د پوهنتونو په همکارۍ په ملکي اداره کې د ماسټرۍ وده، د ۱۳۹۱ کال لپاره له مهال ویش سره سمې مهمې پروژې دي.

دغه کمیسیون اوس مهال ۷ سیمه ییزې څانګې، ۳۴ ولایتي څانګې او ۲۷ روزنیز مرکزونه لري .

د کمیسیون مالي او تخنیکي مرستې د ملګرو ملتونو د پراختیایي پروګرام (UNDP)، د آسیا پراختیایي بانک، نړیوال بانک، اروپایي ټولنې، د متحده ایالتونو د نړیوالې پراختیایي ادارې( USAID)، د انګلستان، سویلي کوریا، استرالیا، ناروې، سویس او جرمني د هیوادونو او د افغانستان د بیارغونې د وجهي صندوق له خوا برابریږي.

## د چارو د اداري او دوزيرانو د شورا د دارالانشأ رياست (OAA/CMS)

www.president.gov.af/troot_eng.aspx?id=171

د چارو د اداري او د وزيرانو د شورا د دارلانشأ رياست، په اجرائيوي کچه د همغږۍ، مشورې او مرستې يوه اداره ده چې د افغانستان له ولسمشر سره د حکومت د مشر، د دولت د مشر او د وزيرانو شورا د رئيس په توګه مرسته کوي. په اصل کې د چارو د ادارې دفتر په ۱۹۵۰ لسيزه کې د محمدظاهر شاه د واکمنۍ پرمهال رامينځ ته شو، په ۱۳۸۱ کال کې ددې ادارې په جوړښت کې بدلون را غی؛ د وزيرانو د شورا دارلانشأ او د څارنې او ارزونې څانګه په۱۳۸۲ کال کې د دوو(۲) بيلا بيلو رياستونو په توګه جوړه شوه څو د وزيرانو د شورا غونډو ته سيستماتيک ملاتړ تضمين کړي. د چارو د ادارې دفتر د حکومتي ادارو د مرکز په توګه د دولت د درې اساسي ستنو( اجرائيه قوې، مقننه قوې اوقضائيه قوې) تر مينځ د پاليسۍ د همغږي کوونکي دنده لري. ددې ادارې نورې دندې لکه د ولسمشرۍ د فرمانونو او د وزيرانو د شورا د پريکړو پر پلي کيدو څارنه ده. همدا راز دغه اداره د ولسمشر، د ولسمشر د مرستيالانو، او د ولسمشر د سلا کارانو دفترونو ته اداري، لوژستيکي او مالي مرستې برابروي. همداراز دغه اداره د اساسي قانون د ۷۵ مادې د ۶ بند په رڼا کې د هر مالي کال په پای کې دې موخو ته د رسيدو لپاره د حکومت د لاس ته راوړنوپه اړه ملي شورا ته رپوټ برابروي. ددې ادارې نورې دندې لکه پر تولو هغو وړانديزونو چې د وزيرانو شورا ته وړاندې کيږي بيا غور اود هغو شننه ، د کابينې د غونډو د اجندا او ياداښتونو چمتوکول او له اړتيا سره سم په دندو کې له دغې شورا سره مرسته ده. همدا راز دغه اداره د وزيرانو د شورا منظمو او بيړنيو غونډو او همدا راز اقتصادي، ټولنيزو، فرهنګي او حقوقي فرعي کميټو ته اسانتيا برابروي .

که څه هم چې دغه اداره د يوبې طرفه اجرائيوي ارګان په توګه طرح شوې خو دغه اداره پاليسي نه جوړوي بلکې د پاليسۍ جوړول همغږې کوي. د اداري چارو دفتر او دارالانشأ د وزارتونو له خوا پرتسويد شوو پاليسيو باندې غور کوي ترڅو دا تضمين کړي چې دغه مسودې د افغانستان له لنډمهالې ملي پراختيايي ستراتيژۍ سره سمون لري، مهم او پراخ بنسټه نوښتونه په نښه کوي او يوه روښانه او کره بوديجه لري. کله چې د پاليسۍ مسوده يوځل د نومورې ادارې له خوا تصويب شي، دغه مسوده بيا ولسمشر او کابينې ته د وروستۍ کتنې او احتمالي تصويب په موخه لېږل کيږي. کله چې يوه پاليسي تصويب شي، د چارو د ادارې دفتر د هغې د پلي کېدو د بهير څارنه او ارزونه کوي.

## د اساسي قانون پر تطبيق د څارنې خپلواک کميسيون (ICSIC)

د افغانستان د ۱۳۸۳ کال اساسي قانون د مقننه (۹۰ ماده ) او قضائيه قوې( ۱۲۱ ماده) د قانوني څارنې لپاره مواد لري. که څه هم چې دا کار له کلونو راهيسي کله چې ولسي جرګې او سترې محکمې د قانوني موضوعګانو په هکله د نورو نفوذ رد کړ، د ستونزو لامل دی. له دې شرايطو څخه د مخنيوي لپاره د اساسي قانون ۱۵۷ مادې د اساسي قانون پر تطبيق د څارنې د يو خپلواک کميسيون د جوړيدو غوښتنه وکړه

څو د یوستر مینځګړي په توګه دنده تر سره کړي. که څه هم چې دغه کمیسیون په ۱۳۸۹ کال کې د ولسي جرګې له خوا د نورو موضوعاتو تر څنګ د ۱۳۸۹ کال د سلواغې د میاشتې د ټاکنیز قانون د تعدیل پر سر د ناندریو په ګډون له څو اوونیو اعتراضونو وروسته رامینځ ته شو. د دې کمیسیون قانوني ورکړل شوې دندې او صلاحیتونه دا دي:

- د ولسمشر، حکومت،ملي شورا او نورو دولتي او غیر دولتي ادارو له خوا له اساسي قانون څخه پر تطبیق او اجرااتو څارنه؛
- ولسمشر او ملي شورا ته د اساسي قانون د اړوندو موضوعاتو په هکله د قانوني مشورو وړاندې کول؛
- ولسمشر او ملي شورا ته د اساسي قانون له غوښتنو سره سم وړاندیزونه؛
- او له اساسي قانون څخه د کومې سرغړونې په هکله ولسمشر ته رپوټ ورکول.

اساسي قانون څرګندوي چې د دې کمیسیون غړي باید د ولسمشر له لوري وټاکل شي او ولسي جرګه باید د دوی ټاکنه تأیید کړي.

دغه کمیسیون هم د ۱۳۸۹ کال له ټاکنو وروسته ناندریو کې څه نا څه ښکیل و ( په همدې لاربنود کې د حکومت برخه وګورئ) چې وروسته بیا د ولسمشر کرزي له خوا د غیر قانوني ټاکنو په هکله د حکم په موخه د ځانګړې محکمې د جوړیدو اعلام وشو، خو په عامه کچه د خپلې پریکړې د کولو په کار کې پاتې راغله.

## د اساسي قانون لویه جرګه (CLJ)

د اساسي قانون د لویې جرګې جوړېدل د نوي اساسي قانون پر سر د موافقې د بهیر پایله وه. د اساسي قانون لویه جرګه د ۱۳۸۲ ل کال د لیندۍ په ۲۳مه نیټه پرانیستل شوه او د ۲۲ ورځو لپاره یې دوام درلود. له ۵۰۰ استازو څخه ۴۵۰ تنه یې د سیمه ییزو ټاکنو له لارې وټاکل شول، او ۵۰ تنه یې د حامد کرزي له لورې وټاکل شول. د څوکیو له یو پر پنځمې برخې څخه زیاتې یې د ځانګړې ډلې استازو ته ځانګړې شوي وې، چې ښځې، په پاکستان او ایران کې کډوالو، کورنیو بېځایه شوو وګړو، کوچیانو، هندوانو او سکانو په کې برخه درلوده.

د اساسي قانون پر مسوده د اساسي قانون د تسوید د کمیسیون او د اساسي قانون د بیاکتنې د کمیسیون له خوا مباحثې وشوې. د ۱۳۸۲ کال په نیمایي کې، د مدني زده کړو له یو میاشتني فعالیت څخه وروسته، د اساسی قانون یوه مسوده د عامه نظریاتو او سلا مشورو د راغونډولو لپاره په افغانستان، ایران او پاکستان کې د کډوالو ټولنو په مینځ کې هیوادوالو ته وړاندې شوه. دافغانستان لپاره دملګرو ملتونو دمرستندوی پلاوي (UNAMA) د اټکل پر بنسټ په دې بهیر کې۱۷۸۰۰۰ تنو ګډون درلود چې د هغوي له ډلې څخه ۱۹ سلنه یې میرمنې وې. د اساسي قانون وروستنۍ مسوده د اساسي قانون د بیاکتنې دکمیسیون له خوا د ۱۳۸۲ ل کال د لړم د میاشتې په ۱۲مه نېټه خپره شوه.

د اساسي قانون په لويه جرګه کې استازي د اساسي قانون د مسودې پر متن د بحث لپاره په کاري ډلو وېشل شوي وو. د روغې جوړې یوې کمیټې په مسوده کې د کاري ډلو د وړاندیزونو د ځای پر ځای کولو په موخه د مسودې متن تصحیح کړ. په بحثونو کې جذباتي خبرې اترې، د اړیکو شلول یا تحریمونه، او تاوده بحثونه رامینځ ته شول. ډېرو لانجمنو مادو پر سر لکه د حکومت پر بڼه، د اسلام پر ونډې، ملي ژبو، ملي سرود او د وزیرانو ددوه ګونو تابیعتونو په اړه د یوې رای اخیستنې ګومان کېده که څه هم چې رای اخیستنه تر سره نه شوه، د ۱۳۸۲ ل کال د مرغومي د میاشتې په ۱۴ مه نېټه د لويې جرګې د پای ته رسېدو مراسم جوړ شول چې هلته استازي په پښو ودریدل او د اساسي قانون دوروستنې متن دتصویب اعلان یې وکړ.

اساسي قانون په رسمي توګه د ۱۳۸۲ کال د سلواغې د میاشتې په ۶مه نېټه د ولسمشر حامد کرزي له خوا لاسلیک شو. دغه قانون ټاکل شوي ولسمشر ته ددوه مرستیالانو، د وزیرانو دیوې کابینې او له دوو جرګو څخه جوړ (ولسي جرګه او مشرانو جرګه) یو پارلمان د درلودلو لپاره لاره هواره کړه. دغه قانون افغان نارینه او ښځو ته مساوي حقونه ورکوي، او افغانستان د بشر د حقونو له نړیوالو مکلفیتونو څخه ملاتړ ته ژمن کوي. دغه قانون څرګندوي چې افغانستان یو اسلامي جمهوري دولت دی او دلته هیڅ یو قانون به له اسلام سره مخالف نه وي.

## د استانبول سیمه ییز کنفرانس

د آسیا په زړه کې د امنیت او همکارۍ لپاره د استانبول یو ورځنی کنفرانس د ۱۳۹۰ کال د لړم د میاشتې په ۱۱ (د ۲۰۱۱ کال د نوامبر ۲) نېټه د افغانستان او د هغه د ګاونډیو هیوادونو تر مینځ د مهمو سیمه ییزو همکاریو په موخه په ځانګړې توګه د امنیت او اقتصاد په برخه کې جوړ شو. د دې کنفرانس ګډونکوونکي هیوادونه افغانستان، ترکیه، پاکستان، هندوستان، ایران، چین، روسیه، قزاقستان، قرغزستان، تاجکستان، ترکمنستان، ازبکستان، سعودي عربستان، او عربي متحده امارات وو. فرانسه، کاناډا، اروپایي ټولنه، جرمني، ایتالیا، جاپان، سویډن، هسپانیه، ناروې، انګلستان، امریکا او ملګري ملتونه د څاروونکو په ډله کې وو. کنفرانس د یوې اعلامیې په خپرولو سره چې د ټولو ګډونوالو او څارونکو له خوا منل شوې وه پای ته ورسید. په دې اعلامیه کې په افغانستان کې د بیا پخلاینې له بهیر څخه د ملاتړ او د ګاونډیانو په چارو کې د یو بل د دوه اړخیزې نه لاس وهنې په هکله ژمنې شوې وې. ټولو ګډون کوونکو د استانبول له بهیر څخه چې موخه یې د امنیت، اقتصاد، له نشه یي توکو سره د مبارزې او پراختیا په برخه کې دسیمه ییزې همکارۍ زیاتول دي ملاتړ وکړ. په دې کنفرانس کې پریکړه وشوه څو د استانبول په کنفرانس کې ټاکل شوو موخو ته د رسیدو لپاره د ۱۳۹۱ کال د کابل په کنفرانس کې ځانګړي پلانونه وړاندې شي.

د لړم د میاشتې په ۱۲ نېټه افغانستان او پاکستان په یوه بیله غونډه کې د ګډې پولې نه هاخوا دې خوا د نه راجستر شوي تګ راتګ د مخنیوي په موخه د بایو متریک تخنیک څخه د ګټې اخیستنې ژمنه وکړه.

# د افغان ښځو شبکه (AWN)

www.afghanwomensnetwork.org

د افغان ښځو شبکه(AWN) په افغانستان کې د غیر دولتي سازمانونو یوه شبکه ده چې دافغان ښځو د پیاوړتیا او په ټولنه کې د هغوی د انډول ګډون دحق د تر لاسه کولو لپار ه کار کوي. د ماشومانو پیاوړتیا او د هغوی ساتنې ته پاملرنه د دې شبکې له بنسټیزو دندو څخه ده. دغه شبکه هڅه کوي څو د غړیتوب او همکارۍ د هڅولو، مدافعې او تبلیغاتو او د وګړنیزې وړتیا د لوړولو له لارې د خپلو غړو تر منځ اغیزمنتوب زیات کړي.

د افغان ښځو شبکه لومړی ځل په ۱۳۷۴ کال په بیجنګ کې د ملګرو ملتونو د ښځو له څلورم نړیوال کنفرانس څخه وروسته رامینځ ته شوه او اوس په افغانستان کې د ښځو د حقونو تر ټولو ستر ملی سازمان دی چې له ۵۰۰۰ څخه زیاتو انفرادي غړو او د ۸۸ غیر دولتی سازمانونو استازیتوب کوي.

په ۱۳۹۰ کال کې د افغان ښځو شبکې د بن په کنفرانس کې د ښځو د لس کسیز پلاوي له ګډون څخه د ملاتړ او د کنفرانس د اعلامیې په وړاندې د غبرګون په موخه له UN Women او Canada Fund سره په ګډه کار وکړ. همدا راز د افغان ښځو شبکې د معلوماتو د شریکولو د بهیر د اسانتیا لپاره د ګردي میز بحثونه تنظیم کړي چې د مدني ټولنې او د ښځو ډلې به دا وړتیا تر لاسه کړي څو د سولې او مسوولیتونو د لیږد د روان بهیر په هکله تعلیمي دریځونه او د ملاتړ موضوعګانې برابرې کړي. یاد ګردی میز د مدني ټولنې د نارینه او ښځو لپاره یو فرصت و څو د پالیسیو پر موادو بحث وکړي چې د ۱۳۹۰ کال د بن د کنفرانس او له ۱۳۹۳ کال وروسته د افغان دولت راتلونکې اجنډا یې جوړوله.

د افغان ښځو شبکه د (ارتقا) په نامه د خپلې میاشتنۍ مجلې خپرولو ته دوام ورکوي. دغه اداره د ښځو د غیر دولتي سازمانونو د ګټې اخیستنې لپاره یو کتابتون او د انټرنټ اسانتیا لري ددې شبکې ویب پاڼه غړو سازمانونو ته دا فرصت برابروي څو دخپلو فعالیتونو په اړه له همدې لارې رپوټونه وړاندې کړي او همدا راز روزنیزو پروګرامونو او نورو سرچینو ته ددوی لاس رسی په آنلاین ډول تامینوي.

ددې شبکې عمومي غونډه چې د افغان ښځو د شبکې له غړو څخه جوړه ده هر کال د یوې اجرائیوي کمیټې د ټاکنې په موخه سره راغونډیږي څو په بنسټیزو پریکړو کې د افغان ښځو د شبکې لپاره د یو پلاوي په توګه دنده تر سره کړي. یوه سلاکاره کمیټه له شبکې سره په ستراتیژیک پلان جوړونه، له نړیوالو غیردولتي سازمانونو سره د همغږۍ، د مالي مرستو د جلبولو د هڅو ملاتړ، او له اجرائیوي کمیټي سره د سلا مشورو په برخه کې مرسته کوي. په کابل کې میشت د دې شبکې مرکزی دفتر د مدیره پلاوي په وړاندې ځواب ویونکی دی او د هغو پروګرامونو او کمپاینونو د پلي کولو دنده لري چې د مدیره پلاوي له خوا تایید شوي دي. ددې شبکې سیمه ییزې څانګې په جلال آباد او هرات کې فعالې دي او په ګاونډیو ولایتونو کې د پروژو مدیریت په غاړه لري. د جلال آباد او هرات پر دفترونو سربیره د دې شبکې د اړیکو څانګه په پېښور کې، په پاکستان کې میشتو افغان کډوالو ته د لوژیستیکي او عمومي مرستو د رسولو په موخه فعالیت کوي.

## د افغانستان انتقالي اداره (ATA)

د افغانستان انتقالي اداره (ATA) یوه حاکمه اداره وه چې د ۱۳۸۱ کال د غبرګولي په میاشت کې د بیړنۍ لویې جرګې (ELJ) له لارې رامینځ ته شوه. دغه اداره د افغان لنډمهالي ادارې (AIA) څخه وروسته چې یوه موقته اداره وه او د بُن په کنفرانس کې مینځ ته راغلې وه، رامینځ ته شوه. د انتقالي ادارې مشري هم ولسمشر کرزي په غاړه درلودله چې وړاندې تر دې د لنډمهالي ادارې مشر ؤ چې د بیړنۍ لویې جرګې د غړو له خوا د پټو رایو په پایله کې ټاکل شوی ؤ.

د انتقالي ادارې تر مشرۍ لاندې د ۱۳۸۲ کال د مرغومي په میاشت کې د اساسي قانون لویې جرګې د افغانستان د نوي اسلامي جمهوریت د اساسي قانون په اړه پریکړه وکړه. د ۱۳۸۲ کال د اساسي قانون پر بنسټ به انتقالي اداره تر هغه پورې د واک واګې په لاس کې ولري تر څوچې یوبشپړانتخابي حکومت د خلکو د آزادو او بې پرې رایو پربنسټ نه وي رامینځ ته شوی. د ۱۳۸۳ کال د تلې په میاشت کې حامد کرزی د ولسمشر په توګه وټاکل شو؛ د همدې کال په لیندۍ کې دده د لوړې په مراسمو کې انتقالي اداره د افغانستان په اسلامي جمهوریت بدله شوه سره له دې د ملي شورا ټاکنې د ۱۳۸۴ کال د وږي ترمیاشتې پورې وځنډیدلې.

## افغان پراختیایي ټولنه (ADA)

www.ada.org.af

افغان پراختیایي ټولنه یوه غیر دولتي او غیر انتفاعي اداره ده چې موخه یې له افغانستان څخه د بیوزلۍ د جرړو راایستل دي. دغه ټولنه لومړی ځل په ۱۳۶۸ کال په پاکستان کې چیرې چې دې ټولنې د افغان کډوالو له پنډغالو سره کار کاوه رامینځ ته شوه. په کابل کې د دې ادارې پر مرکزي دفتر سر بیره ، د دې ادارې ۵۶۴ کارکوونکي په کندهار، ارزګان، زابل، فراه، ننګرهار، لغمان، کابل، پروان، کاپیسا، پنجشیر، فاریاب، جوزجان، بغلان، کندز او تخار ولایتونو کې په کار بوخت دي.

دې ټولنې د ګوښې پاتو او زیانمنونکو ډلو د ملاتړ په موخه د بیا رغونې او پراختیا څو سکټوریزه پروژې پلي کړي چې د کرهنې برخې اوهغو کلیوالي فعالیتونو ته چې له یو اغیزمن او باثباته معیشت سره په بنسټیزه توګه مرسته کولای شي ځانګړې پاملرنه اړولې ده، دغه اداره د خپلې پروژې د پلان جوړونې او پلي کولو د یوې برخې په توګه په ټولنه کې پر ګډون یا مشارکت ټینګار کوي.

د خپل پنځه کلن ستراتیژیک پلان له مخې دغه ټولنه په پنځو څانګو کې ترتیب شوې لکه: پلان جوړونه، د وړتیا لوړول، ښوونه او روزنه، یو ټوټه کلیوالي پراختیا(IRD) او مالي برخه. د هرې برخې مشري د یوه رئیس له خوا کیږي چې د کارکوونکو، سرچینو او اسانتیاوو له لارې یې ملاتړ کیږي. همدا راز د دې ټولنې د ناورین د ګواښ د راټیټولو یونټ هم فعال دی او د دې ټولنې د پروژو ټولو سیمو ته غځیدلی دی.

افغان پراختیايي ټولنه  به په ۲۰۱۲ کال کې خپل پنځه کلن پلان نوی کړي، چې له  پروګرام څخه د ګټه اخیستونکو د وړتیا پر لوړولو او سازماني پراختیا به زیات ټینګار وکړي.

## د افغانستان په اړه د هاګ کنفرانس

د ۱۳۸۸ کال د وري د میاشتې په ۱۱ مه د هالنډ هیواد  د هاګ په نړیواله غونده کې د افغانستان په اړه د یو نړیوال کنفرانس کوربه ؤ:   چې موضوع یې "په سیمه ییزو شرایطو کې یوه هر اړخیزه ستراتیژي" وه. دې کنفرانس له ۷۲ هیوادونو څخه لوړ پوړې کسان سره یوځای کړل او د افغانستان په اړه یې ددوی د ژمنو بیا تأیید وکړ. برخه والو په  وروستۍ اعلامیه کې د سترو همکاریو، ښې حکومتدارۍ، اقتصادي پراختیا او په افغانستان کې د پیاوړي امنیت په اړتیا ټینګار وکړ.

## د افغانستان تړون

د تړون بشپړ متن په ....... مخ کې وګورئ.

د افغانستان تړون د افغانستان  له لنډ مهالي ملي پراختیايي ستراتیژۍ(ANDS) سره یوځای د ۱۳۸۴ کال د مرغومي د میاشتې د لندن په کنفرانس کې پیل شو. دا د افغان حکومت، ملګرو ملتونو او مرستندویه ټولنو تر منځ د همکارۍ یو پنځه کلن کاري چوکاټ و چې د دې فعالینو تر منځ د سلا مشورو له لارې جوړ شو.د تړون نیټه  د  ۱۳۸۹ کال د سلواغې(د ۲۰۱۱ کال د فبروري) په میاشت کې  په رسمي توګه پای ته ورسیده.

تړون د ملګرو ملتونو د ۱۶۵۹، ۱۶۶۲ او د ۱۷۴۶ شمیرې اعلامیو له لارې تصویب او د قانون د واکمنۍ تر سیوري لاندې د غوره حکومتدارۍ او له بشري حقونو څخه په ملاتړ سره د یوباثباته او آباد افغانستان پر لور د هڅولپاره د افغانستان او نړیوالې ټولنې د ژمنو بیا پخلی کوي. تړون څرګندوي:

> **په دې توګه د افغانستان حکومت، د افغانستان د راتلونکي لپاره د دغه ګډ لید لوري د پوره کولو لپاره ځان ژمن بولي، او همدا راز نړیواله ټولنه هم په خپل وار سره د دې لید لوري د بشپړیدو لپاره د سرچینو او مرستو په برابرولو کې خپل ځان ژمن بولي.**

تړون د افغان او نړیوالې ټولنې د پراختیايي او بیارغنیزو هڅو د همغږۍ او د بن له تړون څخه د ملاتړ لپاره یو میکانیزم رامینځ ته کړ چې د ۱۳۸۴ کال د وږې د میاشتې  د پارلماني او د ولایتي شوراګانو د  ټاکنو له تر سره کولو سره په رسمي توګه پای ته ورسید. د افغانستان د ملي پراختیا د لنډ مهالې ستراتیژۍ او له هغو موخو سره سم چې د افغان حکومت له خوا د زریزې  پراختیايي موخو د ۱۳۸۴ کال په ملکي رپوټ کې ( د ۱۳۹۹ کال لر لید) څرګندې شوي دي ، تړون د فعالیتونو درې مهمې او له یوه بل سره تړلې  برخې څرګندې کړي دي: ۱) امنیت؛ ۲) حکومتداري، د قانون واکمني، بشري حقونه؛ ۳) اقتصادي او ټولنیزه پراختیا. د نشه يي توکو د کارخانو له مینځه وړل یوه بله مهمه او هر اړخیزه  موضوع ده چې په تړون کې راڅرګنده شوې ده.

د ټرون لومړۍ ضمیمه مفصلې پاڼلې، معیارونه، او دچارو د تر سره کولو لپاره مهالویش چې د افغانستان د ملي پراختیا د لنډ مهالې ستراتیژۍ له لوړو موخو سره سمون لري په ګوته کوي. دوهمه ضمیمه د افغان حکومت او نړیوالې ټولنې هغه ژمنې څرګندوي چې د حساب ورکونې او نړیوالو مرستو د اغیزمنتوب په اړه تر سره شوي دي. همدا راز دغو فعالینو د ټرون او د افغانستان د ملي پراختیایي ستراتیژۍ د اجرااتو د څارنې او په منظمه توګه د عمومي رپوټ د برابرولو په موخه د څارنې او همغږۍ ګډ پلاوی(JCMB) جوړ کړ. د JCMB رامینځ ته کول د افغانستان د ټرون د یوې مهمې او دایمي پاڼلې په توګه پاتې دی.

## د افغانستان د ټولنیزانسجام پروګرام (ASOP)

د افغانستان د ټولنیز انسجام پروګرام د امریکې د نړیوالې پراختیایي ادارې(USAID )په مالي مرسته یو پروګرام دی چې په نا امنو ولسوالیو کې د ولسوالیو د شورا ګانو په رامینځ ته کولو کې د سیمه ییزو ارګانونو له خپلواک ریاست (IDLG) سره مرسته کوي. دا د اساسي قانون له۱۴۰ مادې سره سم د ولسوالیو د ټاکل شوو شورا ګانو په نه شتون کې رامینځ ته شوی دی. نوموړی پروګرام د AECOM د نړیوالې پراختیایي ادارې له خوا پلی کیږي.دغه پروګرام چې د ۱۳۸۸ کال د غبرګولي په میاشت کې پیل شوی د ۱۳۹۰ کال د مرغومي تر میاشتې پورې به ادامه ولري. د دې پروګرام د دوهم پړاو په هکله خبرې اترې د سیمه ییزو ارګانونو د خپلواک ریاست او د امریکې د نړیوالې پراختیایي ادارې تر مینځ د ۱۳۹۰ کال د مرغومي له میاشتې راهیسې روانې دي.

د افغانستان د ټولنیز انسجام د پروګرام په کړنلاره کې د حکومت په جوړښت کې د دودیزو قومي شوراګانو او مذهبي مشرانو د شاملولو د سیستم په توګه، د ولسوالۍ له ۳۰-۵۰ کسیزې شورا ټاکنه شامله ده. په پام کې ده چې د ولسوالۍ د شوراګانو تر ټاکنې پورې، هغه شورا ګانې چې د پروګرام تر سیوري لاندې رامینځ ته شوي دي د ولسوالۍ په کچه د مهمو ادارو په توګه به لاندې دندې تر سره کوي:

- په ولسوالۍ کې د حکومت ضدعناصرو او فعالیتونو له ملاتړ څخه د مخنیوي لپاره د ټولنې د پیوستون هڅول؛
- ولسوالیو ته د راغلو پراختیایي پروژو او خدمتونو څارنه، او له اړوندو وزارتونو او بسپنه ورکوونکو سره د اندیښنو په اړه خبرې اترې؛
- د افغان سیمه ییزو پولیسو د ګمارنې لپاره د ارزونې د یومیکانیزم په توګه د دندې ترسره کول او له بلواګرو ډلو سره د بیا پخلاینې هڅول؛
- له حکومتي چارواکو او امنیتي ادارو سره د امنیت د ښه کولو او د قانون د واکمنۍ د پلي کولو په موخه د اړیکو او خبر اترو تضمین؛
- د هغو شخړو لپاره چې په سیمه ییزه کچه حل کیدلای نه شي د ولسوالۍ په کچه د یو جرګه ځای

جوړول؛

- حکومت ته د عامه خدمتونو د وړاندې کولو په برخه کې د کمزورتياوو، نا سم مديريت اوستونزو په هکله د معلوماتو د ورکولو له لارې د عامه انديښنو لپاره د يوې لارې برابرول او د مناسب حل د موندلو او پلي کولو په موخه له حکومتي چارواکو سره په ګډه کار کول؛
- د پراختيايي پروژو د امنيت د تضمين، او د پروژو د پايلو د څارنې او په دې هکله حکومت ته د رپوټ ورکونې له لارې، د باثباته پراختيا لپاره د مطمئن کيفيت برابرول؛
- د حکومت او خلکو تر مينځ د باور او اعتماد د کچې د لوړولو په موخه د ټولنو او حکومت تر مينځ د خبرو اترو، همغږۍ او همکارۍ اسانول او د ولسواکې حکومتدارۍ لپاره د يو پياوړي بنسټ رامينځ ته کول.

د افغانستان د ټولنيز انسجام پروګرام د شورا غړو ته د بيلابيلو موضوعګانو لکه مديريت، ښه حکومتداري، د شخړو د حل، د سولې د ټينګښت او د ناورين د ګواښ د راکمولو په هکله لارښوونې او د خدمتونو د څارنې په هکله روزنې وړاندې کوي. د ۱۳۹۰ کال د ليندۍ له مياشتې راهيسې په ناامنو ولسواليو کې له ۱۳۹ څخه زياتې شوراګانې رامينځ ته شوي او د ټولنيزو شوراګانو ۸۰۵۲ غړي چې ۳.۵ سلنه يې ښځې وې روزل شوي دي. په ۱۳۹۰ کال کې د افغانستان د ټولنيز انسجام د پروګرام بوديجه کابو ۳۵ ميليون ډالره وه.

د سيمه ييزوارګانونو خپلواک رياست اوس مهال د سازماني جوړښتونو د وضاحت په هکله چې د افغانستان د ټولنيز انسجام د پروګرام او دکليو د بيا رغونې او پراختيا له وزارت سره، چې خپلې د ولسوالۍ د مرسته رسولو غونډې يې تر ورته حکم لاندې او له ورته مسووليتونو سره کار کوي، په ګډه رامينځ ته شوي دي. په دې هکله د زياتو معلوماتو لپاره سيمه ييزه حکومتداري (......مخ) وګورئ.

## د افغانستان د مدني ټولنې دمجتمعې اداره (ACSFo)

www.acsf.org

د افغانستان د مدني ټولنې مجتمع (ACSFo په رسمي توګهACFS) د افغان مدني ټولنې د ډلو او فعالينو يوه شبکه ده چې د خبرو اترو لپار کړنلاره برابروي او موخه يې په سياسي پريکړو کې د مدني ټولنې د ونډې پراختيا ده. د مدني ټولنې د مجتمع اداره د مدني ټولنې د فعالينو او د Swiss peace(د سولې د هڅونې لپاره د سويس يو خصوصي بنسټ) د بنسټ تر مينځ د همکارۍ او د افغان مدني ټولنې د لومړي کنفرانس د ۷۶ ګډونکوونکو د وړانديز پر بنسټ په ۱۳۸۰ کال کې د جرمني دبد هونيف په ښار کې رامينځ ته شو.

په پيل کې له نوموړي سازمان سره د سويس د سولې د بنسټ له خوا مرسته کيده خو د ۱۳۸۴ کال د مرغومي له مياشتې راهيسې په بشپړه توګه خپلواک دی. د غه اداره د ۸۰ سازمانونو او ۵۰ کسانو په ګډون

۱۳۰ غړي لري. همدار از دغه اداره د وړتیا د لوړولو ، مدني زده کړو، مدافعي، څیړنې او رسنیو لپاره ۳۲۰ ملګري لري. د دې ادارې مدیره پلاوی له (۹) استازو څخه جوړدی چې هر یو د دې ادارې د غړو په کلنۍ عمومي غونډه کې د دوه کلنې مودې لپاره ټاکل شوی دی.

له ۱۳۸۱-۱۳۸۵ کاله راهیسې د مدني ټولنې مجتمع د بن د تړون له پلي کیدوسره مرسته کړې، د اساسي قانون د جوړونې د بهیر په اړه یې روزنیز، رسنیز او مدافعوي فعالیتونه پیل کړي دي، او همدا راز د ۱۳۸۳ کال په ولسمشریزو ټولټاکنو او د ۱۳۸۴ کال په پارلماني ټاکنو کې یې د مدني زده کړې او د نوم لیکنې کمپاینونه په لاره اچولي دي. له ۱۳۸۴ کال څخه وروسته دې ټولنې خپله تګلاره بدله او له عامه پوهاوي څخه یې لاس واخیست او د سازماني پیاوړتیا سره د مرستې په لور یې ودانګل. د دې ادارې ستراتیژي پر : همغږۍ او د شبکې یا اړیکو جوړولو، د وړتیا لوړولو، مدافعې، مدني زده کړې، او څیړنه متمرکزه ده. په ۱۳۸۹ کال کې ښه حکومتداري، د قانون واکمني، رونوالی او حساب ورکونه، ګډون او پراختیا د دې سازمان د پاملرنې د برخو په توګه وپیژندل شوې.

دغه اداره د مدني ټولنې د سرچینو مرکز لري او په پام کې ده چې په ۱۳۹۱ کال کې په خپلو سیمه ییزو څانګو( جلال آباد، مزارشریف، کندز، بامیان، او ګردیز) کې هم ورته مرکزونه پرانیزي. دغه اداره د "جامعه مدني" تر سر لیک لاندې یوه مجله په پښتو او دري ژبو او یوه میاشتنۍ خبرپاڼه( په پښتو، دري او انګریزي ژبو )خپروي. دغه اداره خپله مالي مرسته د یو زیات شمیر نا دولتي موسسو، سازمانونو او مرستندویه حکومتونو څخه تر لاسه کوي.

## د افغانستان د جیوډیزۍ او کارټوګرافۍ مرکزي اداره (AGCHO)

www.agcho.org

د افغانستان د جیوډیزۍ او کارټوګرافۍ مرکزی اداره یوه حکومتی اداره ده چې په افغانستان کې د رسمي نقشو جوړولو او نورو اړوندو دندو مسوولیت لري. د دې ادارې چارې د فزیکي، جغرافیایي، سیاسي، موضوعي، کادستري، اوطبیعي سرچینو د نقشو؛ د ځمکې دګُرې د سنجولو چارې ؛ او ملي اطلس پر تولید، خپرولو او ویشلو تمرکز کوي. نوموړې اداره چې په مستقیمه توګه ولسمشر ته رپوټ ورکوي، څه د پاسه ۷۰۰ کارکوونکي او په ۱۶ ولایتونو کې سیمه ییزې څانګې لري. دغه اداره په پنځو څانګو ویشل شوې ده: دمعلوماتو او مراجعینو د خدمتونو، کارټوګرافي او جغرافیایي معلوماتي سیستم (GIS)، کادستر، له هوا څخه د عکاسۍ له لارې او له له لیرې واټن څخه نقشه اخیستنه (Photogrammetry & Remote sensing)، او جیوډیزي. د یوې خپلواکې ادارې په توګه د دې ادارې له رامینځ ته کیدو وړاندې په ۱۳۳۷کال کې ټولې نقشې د پوځ له خوا برابریدلې.

تر ۱۳۵۸ کال یعنې د پخواني شوروي اتحاد تر یرغل پورې د افغانستان د جیوډیزۍ او کارټوګرافۍ مرکزي ادارې تر ۲۶٪ (geodetic triangulation) ، او ۳۰٪ کادستري سروې ګانې چې د هیواد لپاره د ارزښت وړ

وې بشپړې کړې دي. په دغه موده کې او وروسته تر هغې د نقشې اخيستنې او چاپولو وسايل د سويزرلنډ، جرمنې او هالنډ له هيوادونو څخه راوړل شول. چې په دې کې ستره ليکا کمره او د وه د آفسيټ د چاپ رنګه ماشينونه، او زيات شمير د نقشو دتوليد وسايل شامل وو چې لا تر اوسه د استفادې وړ دي. له ۱۳۸۰ کال را هيسې ددې ادارې د عصري کولو په موخه نوې هڅې روانې دي، دې ادارې د دولت ځانګو او بهرنيو سازمانونو ته يو شمير موضوعي نقشې برابرې کړې دي او اوس مهال د جغرافيايي معلوماتي سيستم په اړه روزنيز پروګرامونه وړاندې کوي. دې ادارې د کابل په پوهنتون او د کابل د پوليتخنيک په پوهنتون کې د جيوګرافي او جغرافيايي معلوماتي سيستم ځانګې هم پرانيستي دي. په ۱۳۹۰ کال کې دې ادارې د GIS د ادارې په مرسته د ۱:۱۸۰۰۰ د کابل ښار د سرکونو د ډيجيټلي تصويري نقشو په ګډون ګڼ شمير نوې نقشې جوړې کړي دي. دغه اداره په پام کې لري څو د ۱۳۹۱ کال د غبرګولي په مياشت کې(۲۰۱۲ کال د جون په مياشت) د جرمني د حکومت په مرسته د افغانستان يو ملي اطلس چې له ۵۰ څخه د زياتو نقشو درلودونکې دی خپور کړي.

د افغانستان د جيوډيزۍ او کارټوګرافی مرکزي اداره وزارتونو او نړيوالو سازمانونو ته، چې په ځينو حالاتو کې د ځانګړو مرستندويه اسنادو غوښتونکي دي، خدمتونه وړاندې کوي. ټولې هغه نقشې چې په افغانستان کې خپريږي بايد په قانوني توګه د دې ادارې له تاييد څخه برخمنې وي.

## د افغان نا دولتي سازمانونو د همغږۍ اداره (ANCB)

www.ancb.org

د افغان غير دولتي سازمانونود همغږۍ اداره(ANCB) په ۱۳۷۰ کال کې د افغان غير دولتي سازمانونو، ملګرو ملتونو، نړيوالو سازمانونو او مرستندويه ادارو او حکومت تر مينځ د فعاليتونو دهمغږۍ په موخه جوړه شوه.

ددې ادارې غړيتوب يواځې په افغان غير دولتي سازمانونو پورې محدود دی. دا اداره اوس مهال ۱۹۰ غړي لري. ددې ادارې د غړيتوب لپاره غوښتنه د مديره پلاوي له لوري ارزول کيږي او وروسته بيا په عمومي غونډه کې پرې رايې اخيستل کيږي( د غړو سازمانونو درې مياشتنۍ غونډه). ددې ادارې ۱۱ کسيزه مديره پلاوی د يوه کال لپاره د عمومي غونډې له خوا ټاکل کيږي. دنوموړې ادارې مرکزي دفتر په کابل او سيمه ييزې ځانګې يې په جلال آباد او ميدان وردکو کې موقعيت لري.

دغه اداره خپلې غونډې چې پر بيلابيلو موضوعاتو لکه روغتيا، ښوونه او روزنه، کرهڼه، روغتيا ساتنه، بيا رغونه او حکومتي پاليسو راڅرخي په مياشت کې يو ځل جوړوي. همدا راز دا اداره د خپلو غير دولتي غړوسازمانونو د تخنيکي وړتيا د لوړولو په موخه د اړتياوو د ارزونې ، مديريت، مالي، اداري پراختيا، بشري حقونو، ډموکراسۍ، حقوقي پوهاوي، رپوټ او وړانديز ليکنې په برخه کې سيمينارونه او روزنيزکورسونه په جوړوي. همدا راز دغه اداره د خپلو غړو لپاره په خپله اداره کې د انټرنټ اسانتياوې برابروي او يوه اوونيزه خبرپاڼه، او د پيوستون په نامه درې مياشتنۍ مجله او د خپلو ټولو غړو يو لاربښود کتاب خپروي .

د افغان غیر دولتي سازمانونو د همغږۍ اداره د افغانانو لپاره د مرستو د همغږۍ د ادارې(ACBAR )، د خپلې خوښې سازمانونو د نړیوالې شورا، د نړۍ د مدني ټولنې د مجتمع او دملي ټولنو د پیوستون د ډلې غړیتوب لري. دغه اداره د افغان مدنی ټولنې د مجتمع (ACSFO)یو فعال غړی دی. د دې ادارې بودیجه د حق العضویت یا د غړیتوب له لاس ته راغلو پیسو څخه برابریږي.

## د افغانستان د بشر د حقونو خپلواک کمیسیون (AIHRC)

www.aihrc.org.af

د افغانستان د بشر د حقونو خپلواک کمیسیون (AIHRC) د اساسي قانون د ۵۸ مادې په رڼا کې رامینځ ته شو. د نوموړي کمیسیون د ونډې د ټاکلو په برخه کې اساسي قانون څرګندوي:

> د ولت به په افغانستان کې د بشري حقونو د په پام کې نیولو او څارنې او دهغو د ودې او ساتنې په موخه د افغانستان د بشر دحقونو خپلواک کمیسیون جوړ کړي. هر څوک کولای شي چې د هغه پر بشري حقونو د تیري په صورت کې نوموړي کمیسیون ته خبرورکړي او یا هغه ته شکایت وکړي. کمیسیون کولای شي چې له بشري حقونو څخه د سر غړونې پیښې حقوقي چارواکو ته ولیږدوي او ددوی د حقونو په ساتنه کې مرسته وکړي. د دې کمیسیون جوړښت او دندې به د قانون له لارې تنظیم شي.

د بشر د حقونو د خپلواک کمیسیون د جوړښت، دندو او صلاحیتونو په هکله قانون د کابینې له خوا منظور او د ولسمشر له خوا د ۱۳۸۴ کال د غویي په میاشت کې توشیح شو. د دې قانون په رڼا کې(۴ ماده)، د افغانستان د بشر د حقونو خپلواک کمیسیون د هغو حقونو او آزادیو د ساتنې او ودې واک لری چې د افغانستان په اساسي قانون او د بشر د حقونو په نړیوالو قوانینو کې چې د افغانستان له خوا منل شوي خوندي دي. د نوموړي قانون ۶ ماده په دې قانون کې راغلو موخو ته د رسیدو لپاره د افغانستان حکومت، د مدني ټولنې له سازمانونو، غیر دولتي سازمانونو او د افغانستان له ټولو خلکو څخه د همکارۍ غوښتنه کوي.

د افغانستان د بشر د حقونو د خپلواک کمیسیون مشري د نهو (۹) کمیشنرانو له خوا کیږي چې د یوې پنځه کلنې دورې لپاره د ولسمشر له خوا ټاکل کیږي. د ۱۳۹۰ کال د لیندۍ تر میاشتې پورې د دې کمیسیون مشري د ډاکترې سیما سمر له خوا کیږي چې ددې کمیسیون مرستیال احمد فهیم حکیم دی. ولسمشر دهغو کمیشنرانو ټاکنه اړینه بولي چې د جنسیتي، قومي، مذهبي او ژبنۍ تنوع منعکسوونکي وي او د علمي ادارو او مدني ټولنو استازیتوب وکړي. د ۱۳۹۰ کال د لیندۍ په میاشت کې ولسمشر کرزي هغه درې کمیشنران چې د کار موده یې پای ته رسیدلې وه له دندو څخه ګوښه کړل. ځینې دا استدلال کوي چې دا یو عادي بهیر او د نوو څېرو د راوستلو یوه لاره وه، سره له دې له دندو څخه د هغوکسانو د لیرې کولو پریکړه چې په شفاعي ډول یې پر حکومت نیوکې کولې د نوروپه هاند د بشري حقونو د کمیسیون د غیر فعاله کولو لپاره یوه سیاسي هڅه وه.

د افغانستان د بشر د حقونو خپلواک کمیسیون د هیواد په کچه له ټولو ونډه والو سره له پراخې سلا مشورې وروسته یو څلور کلن ستراتیژیک او عملیاتي پلان (۱۳۸۹-۱۳۹۲ ) منظور کړ. نوموړی پلان د افغانستان د بشر د حقونو د خپلواک کمیسیون د دارالانشا له خوا چې مشري یې د اجرئیوي رئیس ښاغلي محمد موسی محمودي له خوا کیږي پلی کیږي. ددې پلان پنځه ستراتیژیکې موخې رهبریت، پوهنه، واک ورکول، مدافعه یا ملاتړ، څارنه او پلټنه دي. دغه کمیسیون په ټول هیواد کې د خپلو خدمتونو د پوښښ د تضمین په موخه اته سیمه ییزې څانګې( هرات، کندهار، پکتیا، بامیان، ننګرهار، کابل، کندز او بلخ) او شپږ ولایتي څانګې( غور، دایکندي، هلمند، ارزګان، فاریاب او بدخشان) په ولایتونو کې له ۶۰۰ څخه د زیاتو کارکوونکو په درلودلو سره پرانیستې دي.

# د افغانستان د بیا رغونې وجهي صندوق (ARTF)

www.worldbank.org/artf

دافغانستان د بیارغونې وجهي صندوق د ۱۳۸۱ کال د وري په میاشت کې د افغان حکومت  د منظمو لګښتونو سره د بسپنه ورکوونکو د مالي مرستو د همغږۍ د وسیلې په توګه جوړ شو.  ARTF اوس مهال د حکومت اصلي بودیجې (په ...۸۶..مخ کې ملي بودیجه وګورئ) ته نه یواځې د معاشونو او عملیاتي لګښتونو په برخه کې  بلکې د لومړیتوب لرونکو  پراختیایي پروګرامونو لپاره چې موخه یې د هیواد په ښه شوو ملي پراختیایي موخو ته رسیدل دي، د مرستو د  لیږد له تر ټولو ارزښتناک میکانیزم دی.

د ۱۳۹۰ کال د لړم تر میاشتې پورې د ۳۲ نړیوالو بسپنه ورکوونکو له خوا د افغانستان د بیارغونې له وجهي صندوق سره د ۵.۲۱ ملیارد ډالرو ژمنه شوې ده. نړیوال بانک( د مدیریت څانګه)، د آسیا پراختیایي بانک(ADB)، د ملګرو ملتونو پراختیایي اداره (UNDP) او د افغانستان د مالیې وزارت د دې صندوق د مدیریت د کمیټې غړیتوب لري. د افغانستان د بیا رغونې وجهي صندوق د ۱۳۸۹ لمریز کال (۲۰۱۰-۲۰۱۱) په  اوږدو کې د بسپنه ورکوونکو له مرستو څخه ۶۱۰.۴۴ میلیون ډالره تر لاسه کړي دي. د ۱۳۹۰ کال (۲۰۱۱-۲۰۱۲) لپاره ژمنې ۹۷۲.۹۱ میلیون ډالرو ته  لوړې شوي دي. ددې صندوق له پرانیستلو راهیسې د ۱۳۹۰ کال  د لړم تر میاشتې (د ۲۰۱۱ کال د نوامبر) پورې ۲.۲۹ ملیارده ډالره حکومت ته د  منظمو لګښتونو د بودیجې په توګه  او ۱.۴۴ میلیارده ډالره د پانګونې د پروژو لپاره ورکړل شوي دي.

 د افغانستان حکومت بسپنه ورکوونکي هڅوي څو د غیر دولتي سازمانونو او نورو فعالینو پر ځای د افغانستان د بیارغونې د وجهي صندوق له لارې خپلې مالي مرستې سمبالې کړي، ځکه چې دغه  صندوق د بیارغونې په بهیرکې د افغانانو د واک د زیاتولو، د مرستو د همغږۍ او د څرک د معلوملو او د روڼوالي د زیاتولو یوه ښه وسیله ګڼي. مرستندویان له صندوق سره د مرستې پرمهال کولای شي  د حکومت ځانګړې پروژه یا پروګرام غوره کړي؛ دغه غوره توب د یوې ادارې د کلنی مرستې تر ۵۰ سلنې پورې محدودیږي.

د افغانستان دبیارغونې وجهي صندوق د ګڼ شمیر ملي پراختیایي پروګرامونو لکه د ملي پیوستون پروګرام

(NSP)، د بیړنی کارموندنې ملي پروګرام (NEEP)، د تعلیمي کیفیت د ښه کولو پروژه (EQUIP)، د بیوزلو کلیوالو لپاره د روغتیایي فعالیتونو له پیاوړي کولو، د افغانستان لپاره د کوچنیو پورونود پانګې اچونې د ملاتړ له ادارې (MISFA) او د کلیو او ښارونو د اوبو رسولو او روغتیا ساتنې سره مالي مرسته کړې ده. په دې وروستیو کې دې صندوق د پایلو د اسانتیا لپاره د وړتیا د لوړولو یو نوی پروګرام پیل کړ چې موخه یې د دندو د ښه تر سره کولو، افغانانو ته د بنسټیزو خدمتونو د وړاندې کولو او د ملي لومړیتوب د پروګرامونو د پلي کولو په برخه کې د اړوندو وزارتونو د وړتیا او اجرااتو په ښه کولو کې له حکومت سره مرسته ده .

د افغانستان د بیارغونې وجهي صندوق له دوهمې بهرنۍ ارزونې څخه وروسته چې د ۱۳۸۷ کال د زمرې په میاشت کې بشپړه شوه د افغانستان د ملي پراختیایي ستراتیژۍ د لومړیتوبونو د پلي کولو د هڅونې په موخه په پروګرام پورې خورا اړوند، سکټور ته متمایل مالي میکانیزم پر لور یې بدلون وموند. د ۱۳۸۷ کال د لیندۍ په میاشت کې د دې صندوق بسپنه ورکوونکو او د افغانستان حکومت، د افغانستان د بیا رغونې د وجهي صندوق د منظم لګښت په برخه( Recurrent Cost Window) کې د یو هڅوونکي پروګرام په رامینځ ته کیدو موافقه وکړه. د هڅوونکي پروګرام موخه د حکومت د سمون له اجنډا څخه ملاتړ او د مالي ثبات پر لور پرمختګ دی. د حکومت له بودیجې سره مالي مرستې د رښتینو کړنو پر بنسټ ورکول کیږي. د دغه صندوق لوی مرستندویان انګلستان، د امریکې او کاناډا هیوادونه دي. نور مرستندویان یې د ۱۵ اروپایي هیوادونو په ګډون، داروپا کمیسیون، هند، ایران، ترکیه، استرالیا او د خلیج هیوادونه دي.

## د افغانستان د پانګونې د ملاتړ اداره (AISA)

http://www.aisa.org.af

د افغانستان د پانګونې د ملاتړ اداره د افغانستان د حکومت له خوا په ۱۳۸۲ کال کې“ پانګه اچوونکو ته د اسانتیا په موخه رامینځ ته شوه. دغه اداره په افغانستان کې د نوو پانګونو د ثبت، جواز ورکولو او هڅونې دنده په غاړه لري. د دې ادارې مرکزي دفتر په کابل کې دی او په هرات، کندهار، مزارشریف، کندز، خوست او جلال آباد کې سیمه ییزې څانګې لري.

د افغانستان د پانګونې د ملاتړ اداره افغانستان ته د پانګې په جلب او هڅونه کې خپل ځان د یوې فعالې ادارې په توګه ګڼي، او یو شمیر څانګې چې د پانګوالو د ملاتړ لپاره ځانګړي شوي دي لري. د انفرادي مشتري د پانګې ملاتړ، د کورنیو او بهرنیو کنفرانسونو او نندارتونونو په لاره اچول، او د پانګه والو او کمپنیو تر مینځ د همکارۍ د فرصتونو رامینځ ته کول د نوموړې ادارې له دندو څخه شمیرل کیږي.

دغه اداره د پانګوالو یو لارښود خپروي؛ چې د دې لارښود وروستۍ ګڼه په ۱۳۸۹ کال کې خپره شوه چې په افغانستان کې د کابو ۷۵۰۰ فعالو کورنیو او بهرنیو کمپنیو لیست یې خپور کړی. آیسا په پام کې لري چې د دې خپرونې راتلونکې ګڼه د ۲۰۱۲ کال په لومړیو دریوو میاشتو کې خپره کړي. همدا راز آیسا د

پانګوالو یو نوی آنلاین لاربښود یې هم جوړ کړی دی( نوموړی لاربښود د ویب پاڼې د پورټنۍ پټې له لارې د لاس رسۍ وړ دی) چې پانګوالو ته دا فرصت ورکوي چې د نوم او لیسانس د شمیرې له مخې په دري او انګریزي ژبو د سوداګرۍ لپاره لټون وکړي. دې معلوماتو ته لاس رسی له ثبت شوو کمپنیو سره مرسته کوي څو خپلو سوداګریو ته بازار ومومي او د کمپنیو، مراجعینو او نورو مینه والو تر مینځ اړیکې اسانه کړي.

دغه اداره د څیړنې او پالیسۍ څانګه هم لري چې د خصوصي سکټور د پراختیایي چارو شننه کوي، د خصوصي سکټور د ستراتیژیو په رامینځ ته کولو، د سوداګرۍ او پانګونې د فرصتونو په اړه د سکټور ځانګړې څیړنې بشپړوي او دملي شورا او د افغان حکومت له ادارو څخه وړاندې د سکټور د عملي پالیسۍ د ملاتړ په چارو کې ښکیل ده. همدا راز د صنعتي پارکونو د پراختیا څانګه هم په دې اداره کې فعاله ده چې اوس مهال د امریکې د متحدو ایالتونو د پراختیایي پروګرام(USAID) په مالي مرسته د کابل، مزار شریف او کندهار په ولایتونو کې د درې صنعتي پارکونو د مدیریت چارې په غاړه لري او د درې نورو سوداګریزو پارکونو د جوړیدو چارې د کابل، ننګرهار او هلمند په ولایتونو کې روانې دي.

## د افغانستان د سولې او بیا پیوستون پروګرام (APRP)

http://www.undp.org.af/WhoWeAre/UNDPinAfghanistan/Projects/psl/prj_aprp.html

د افغانستان د سولې او بیا پیوستون پروګرام(APRP) د ۱۳۸۹ کال د غبرګولي په میاشت کې د ولسمشر کرزي له خوا افغاني ټولنې ته د وسله والو ډلو د ټولو هغو غړو د بیا پیوستون په موخه منظور شوچې غواړي له تاوتریخوالي څخه لاس واخلي او د افغانستان اساسي قانون ومني. په ټولیزه توګه ددې پروګرام بودیجه ۷۸۲ میلیون ډالره ده چې د ۱۳۹۰ کال د مرغومي تر میاشتې پورې دې پروګرام ۱۴۸.۵ میلیون ډالره له بهرنیو بسپنه ورکوونکو حکومتونو څخه ترلاسه کړي دي.

ددې پروګرام مشري د سولې د عالي شورا له خوا کیږي چې غړي یې د ۱۳۸۹ کال د وږي په میاشت کې د حامد کرزي له خوا ټاکل شوي دي. د ۱۳۹۰ کال د وږي په میاشت کې د سولې د عالي شورا رئیس پخوانی ولسمشر برهان الدین رباني ووژل شو، خو له دې سره سره افغان حکومت د دې پروګرام د دوام په هکله خپلې ژمنې څرګندې کړې.

نوموړی پروګرام د ګډې دارالانشا له خوا د اجرائیوي آمر تر مشرۍ لاندې پلې کیږي چې د سیمه ییزې کچې د بهیرونو لپاره والیان او ولسوالان د اړوندو وزارتونو د مرستې همغږي کوونکي دي. د APRP له پلي کیدو څخه د ملګرو ملتونو د پراختیایي پروګرام (UNDP) نړیوال سوله ساتی ځواک (AISAF) د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو مرستندوی پلاوي (UNAMA) او بسپنه ورکوونکو هیوادونو په ګډون د نړیوالو ملګرو له خوا ملاتړ کیږي. دهغو ولسوالیو یا کلیو امنیت چې د افغانستان د سولې او بیا پیوستون په پروګرام کې برخه اخلي د افغان ملي پوځ د ځواکونو له خوا د نړیوالو سوله ساتو ځواکونوپه مرسته تأمینیږي.

د افغان حکومت ستراتیژي درې اصول لري. لومړی د سولې او بیا پیوستون د هڅونې په موخه د حکومتدارۍ د امنیتي او ملکي ادارو پیاوړې کول. دوهم له سیاسي شرایطو سره مرسته او د یوې تل پاتې او عادلانه سولې د رامینځ ته کیدو په موخه د افغانانو ملاتړ. دریم د سولې او ثبات د هڅولو په موخه د ملي، سیمه ییزو او نړیوالو مرستو او همغاړیتوب لوړول. دغه هڅې د دوو پراخو کټګوریو تر مینځ چې په یوه وخت کې به تر سره شي ویشل کیږي:

**ستراتیژیکه بیاپخلاینه**

ستراتیژیکه او سیاسی کچه د بلواګرۍ پر مشرتابه تمرکز کوي او په کې د پټن ځایونو د په نښه کولو ستونزه، د ملګرو ملتونو د مجازاتو له لیست څخه د نومونو د لیرې کولو لپاره د ګامونو اوچتول، له القاعدې سره د اړیکو د تفکیک تضمین او دسیاسي چاپیریال تأمین او په دریم هیواد کې د میشتیدو امکان هم شامل دی.

**په تکتیکي او عملیاتي کچه کې سوله او بیا پیوستون**

دغه برخه د پیاده عسکرو، کوچنیو ډلو او سیمه ییزو مشرانو پربیا پیوستون تمرکز کوي چې د بلواګرۍ ستره برخه جوړوي. په دې کې: د باور رامینځ ته کوونکو اقداماتو هڅول؛ د حکومت، پخوانیو جنګیالو او خلکو تر مینځ د ښښنې لپاره هڅه؛ د ملکي کولو لپاره د ملاتړ برابرول؛ له تور لیست څخه د نومونو لیرې کول؛ د سیاسي ښښنې تضمین؛ د ځایی امنیت د تضمین او د اوږد مهالو مسلکي روزنیزو پروګرامونو برابرول ؛ د اسلامي تعلیماتو او د لیک لوست د زده کړې برابرول؛ د وضعیت پر بنسټ د دندو او بیا میشتیدو د فرصتونو رامینځ ته کول؛ او له غوښتنې سره سم د منځګړیتوب او مرستو وړاندې کول شامل دي. د افغانستان د سولې او بیا پیوستون د پروګرام عناصر په درې پړاونو ویشل شوي دي:

١. د ټولنیز انسجام ، د باور د رامینځ ته کولو، د حکومت او نا دولتي سازمانونو په ګډون د خبرو اترو لپاره فعالیتونه او د سیمه ییزو شوراګانو سمبالول څو هغو ټولنو ته چې د سولې له بهیر سره د یوځای کیدو نیت لري لاس رسی ومومي . سر بیره پردې دغه پروګرام په ملي، ولایتي او د ولسوالیو په کچه د سولې رامینځ ته کوونکو وړتیاوو د پراختیا لپاره د تخنیکي او عملیاتي مرستو، د لومړیتوب لرونکو سیمو له ارزونو او سروې، ستراتیژیکي اړیکو، څارنې او ارزونې، د نارضایتیو له مینځه وړل، د بشري حقونو څارنه، د راپیښیدونکې جګړې د پیښیدو د ګواښ د راټیټولو په موخه د مخکینۍ خبردارۍ میکانیزم او له آزادو او مسوولانه خبرو اترو سره مالي ژمنې هم کوي. په دې پړاو کې د مدني ټولنې ډلې او موجوده دودیز میکانیزمونه( لکه د شخړو حل کوونکي افغان نا دولتي سازمانونه)، ځایي او مذهبي مشران، د علماوو د شورا غړي، او د سرحدونو او قبایلو د چارو وزارت د نارضایتیو د له مینځه وړلو د بهیر په موخه شامل دي.

٢. د ملکي کولو یو ۹۰ ورځنی بهیر چې په ترڅ کې یې یو بې وسلې شوی جنګیالی د بیاپیوستون او څارنې په معلوماتي زیرمه(ډاټا بیز )کې چې د ګډې دارالانشا له خوا ترتیب شوی راجستریږي، ورته د هویت کارت چې په آزاده توګه د هغه د تګ راتګ ضمانت کوي برابریږي او بښل کیږي. په

داسې حال کې چې تمه کیږي چې ګڼ شمیر جنګیالي به بیا هیواد ته راستانه شي خو د افغانستان د سولې او بیا پیوستون پروګرام په بل هیواد کې د بیا میشتیدو د موضوع د په نښه کولو په هکله ژمن دی. ټولنې د ټولنیزو پراختیایي شوراګانو په ټاکنو کې له کارول شوي سیستم څخه په ګټه اخیستې سره د بیا راستنیدونکو وګړو په وړاندې مسوولیت لري.

۳. "د سولې د ټینګښت او د ټولنیزې ودې د ملاتړ" لپاره طرح شوی، په دې پړاو کې پخوانیو وسله والو مخالفینو ته د دوی د ټولنو د وړتیا، امنیت، او د اړتیاوو د تنوع پر بنسټ د انتخابونو د نوم لړ وړاندې کونه شامله ده، چې په دې کې: د لومړنیو خدمتونو، مدني زده کړو، تخنیکي او مسلکي تعلیماتو/ روزنو او دندو ته د لاسرسۍ د ودې په څیر اقدامات شامل دي. نورې لارې چارې لکه: د کرهنیزو محصولاتو د ساتنې یوه ډله، د عامه کارونو ډله او له افغان ملي پوځ سره یو ځای کیدل. په دې ټولنیزه وده کې د کرهنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت(MAIL)، د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت(MRRD)، او د ټول ګټو وزارت(MoPW ) برخه لري.

د افغانستان د سولې او بیا پیوستون د پروګرام اسناد څرګندوي چې د دې پروګرام د پیل لپاره د چټک لومړیتوب درلودونکي ولایتونه د هلمند، کندهار، ننګرهار، خوست، بغلان، بادغیس، کندز، او د هرات ولایتونه دي. سره له دې نوموړي اسناد څرګندوي چې دغه پروګرام بدلون منونکی دی او په هر ولایت کې د وړتیاوو او سرچینو له موجودیت سره سم د را مینځ ته کیدونکو فرصتونو په وړاندې به ځواب ویونکی وي.

نوموړی پروګرام د یو شمیر خطرناکو لاملونو له امله پیچلی کیږي. د پروګرام مرکزي ماهیت ته په پام سره یوه ستونزه ده چې په سیمه ییزه کچه د وړتیاوو کمښت به په عمل کې د پرمختګ په وړاندې د خنډ لامل شي. او په خورا ناوړه پیښنو کې دا کیدای شي چې ګډونکوونکي له پروګرام سره خپله لیوالتیا له لاسه ورکړي او بیرته بلواګرۍ ته ور وګرځي. ویل کیږي چې د راستنیدونکو لپاره د کاري فرصتونو په برابرولو کې د حکومت کمزوري د دې لامل شوې چې ګڼ شمیر د دواړو پروګرامونو له رسمي بیلوالي سره سره د افغان سیمه ییزو پولیسو له لیکو سره یوځای شي. چې دې کار د ټولنې د اوږد مهالي ثبات په اړه اندیښنې راپارولي دي. دغه پروګرام د امنیتي موضوعاتو له کبله د مختلیدو له ګواښ سره مخامخ دی. دغه پروګرام په خورا ناامنو ولایتونو او ولسوالیو کې پلی کیږي، او هغه کسان چې د سولې او بیا پیوستون له پروګرام سره کار کوي کیدای شي د وسله والو مخالفو ډلو له خوا په نښه شي. د ارزونې د بهیر سره سره د غه پروګرام د ژمنو بلواګرو او د "دګمارلو لپاره وسلو " ترمینځ توپیر کې له اصلي ستونزې سره مخامخ دی.

دغه پروګرام تر دې دمه په افغانستان کې د بیا پیوستون او بیاپخلاینې د ټولو پلي شوو پروګرامونو په پرتله هر اړخیز دی. په پخوانیو هڅو کې د افغانستان د نوي پیل د پروګرام د بې وسلې کولو ملکي کولو او بیا پیوستون، د ناقانونه وسله والو ډلو منحلول( ډاياګ) او د سولې د پیاوړي کولو افغان مشریزه پروګرام(PTS) شامل دي.

## د افغانستان د کلیو د پروژو د پراختیا پروګرام (AREDP)

www.aredp-mrrd.gov.af

د افغانستان د کلیو د پروژو د پراختیا پروګرام په ملي کچه یوه پنځه کلنه پروژه ده چې موخه یې د افغانستان په کلیو کې دخصوصي سکټور د ودې پیل دی. د اټکل له مخې د ۱۰۴ میلیون ډالرو په ارزښت د کلیو د پروژو د پراختیا پروګرام د افغانستان د حکومت له خوا د افغانستان د کلیو د پروژو د پراختیا د پروګرام د مدیریت د دفتر(PMO) له لارې د کلیو د بیارغونې او پراختیا په وزارت کې اداره کیږي او د نړیوال بانک، د افغانستان د بیا رغونې د وجهي صندوق او نورو دوه اړخیزه بسپنه ورکوونکو له خوا ورسره مرسته کیږي. دغه پروګرام د ۱۳۸۹ کال د غبرګولي په میاشت کې په رسمي توګه پیل او اوس مهال د پروان، بامیان، ننګرهار، هرات، بلخ، کندهار او هلمند په ولایتونو کې فعال دی.

د افغانستان د کلیو د پروژو د پراختیا پروګرام هڅه کوي څو موجودې کوچنۍ پروژې او همدا راز سیمه ییزې ډلې او ټولنې سره یوځای کړي او د پروژو په سترو او خورا ګټورو ټولنو یې بدلې کړي. څو د تراکم له ښیګڼو او انډول اقتصاد څخه ګټه پورته کړي. دغه پروژه له درې مهمو عناصرو څخه جوړه ده :

**د ټولنې په مشرۍ د پروژو پراختیا:** ددې برخې موخه د سپما د ډلو(SGs)، د پانګونې د ډلو (EGs)، او د کلیو د سپما او پورونو د ټولنو (VSLAs) را مینځ ته کول دي. له دې ادارو سره به د دوی د وړتیاوو د لوړولو، د سودا ګرۍ د ارزښت په لوړولو، د بازار د پیژندل شوو فرصتونوله لارې د تولیداتو دهمغږۍ د تضمین، او پورونو ته د لاس رسۍ د را مینځ ته کولو په برخه کې مرسته وشي او روزنه به ورکړل شي.

**د کوچنیو او منځنیو پروژو پراختیا:** د دې برخې موخه له کلیوالي اقتصاد سره د غوره سوداګریزو اړیکو او مالي خدمتونو ته د بسیا لاس رسۍ له لارې د کوچنیو اومنځنیو پروژو د سکټور له را مینځ ته کیدو سره مرسته ده. دغه پروژه به د مهمو ارزښتونو لړۍ او د وړتیاوو تشې په هر یو ولایت کې په ډاګه کړي او کوچنۍ او منځنۍ پروژې به د بازار د پراختیا لپاره اړین تخنیکي ملاتړ ته لاس رسۍ ومومي.

**د پروژې د پلي کیدو ملاتړ:** نوموړی عنصر به د کلیو دبیا رغونې او پراختیا د وزارت د پروژې له مدیریت، څارنې او ارزونې ؛ د حکومتدارۍ او حساب ورکونې د کاري پلان جوړونې؛ د جنسیت د کاري پلان جوړونې او پلې کونې، او له درې اړخیزې پلټنې سره مرسته وکړي.

## د افغانستان د نا دولتي مؤسسو د ساتنې دفتر (ANSO)

www.ngosafety.org

د افغانستان کې د نادولتي سازمانونو د ساتنې دفتر چې په ځانګړې توګه په افغانستان کې د نادولتي سازمانو ټولنې ته اړینې امنیتي سلا مشورې وړاندې کوي په ۱۳۸۱ کال کې جوړ شو. د دې ادارې بودیجه د اروپا د کمیسیون د بشر دوستانه مرستو د دفتر (ECHO)، د سویس د پراختیا او همکارۍ د ادارې (SDC)،

او د ناروې د بهرنیو چارو د وزارت له خوا برابریږي. نوموړې اداره په انګلستان کې د میشت نا دولتي سازمانونو د ساتنې د نړیوال سازمان(INSO) له خوا فعالیت کوي.

د دې ادارې مرکزي دفتر په کابل او سیمه ییزې څانګې یې په مزار شریف، هرات،جلال آباد او کندهار کې دي. هغه ټول نادولتي سازمانونه چې له دې سازمان سره راجستر دي، لاندینیومنظمو خدمتونو ته لاسرسي لري:

- د ورځنیو ګواښونو په هکله خبرتیاوو او امنیتي تیاریو، د پېښو اوونیز برابر شوي لیست، او همدارنګه دوه اوونیزو او درې میاشتینیو رپوټونو ته چې د امنیتي وضعیت شننه کوي او امنیتي تګلارې طرح کوي
- اوونیزې سیمه ییزې امنیتي غونډې
- د نادولتي سازمانونو د کارکوونکو لپاره میاشتنی لارښوونې
- د ملي او نړیوالو امنیتي ادارو سره اړوند، د نادولتي مؤسسو استازيتوب
- د ساتونکو او راډیو چلوونکو (Radio Operator) لپاره روزنې

په افغانستان کې د نادولتي مؤسسو د ساتنې دفتر د غوښتنې او له خپلې موجوده وړتیا سره سم، ښايي لاندیني خدمتونه هم وړاندې کړي:

- د نادولتي سازمانونو د تګ راتګ لپاره د هیواد په کچه امنیتي معلومات
- په سازمانونو پورې اړوندې امنیتي سلا مشورې
- دغړو نادولتي سازمانونو دامنیتي پلانونو او د ځای پر امنیت بیا غور
- د امنیت د اړوندو احصائیوي معلوماتو (ډاټا) چمتو کول او شننه
- د کړکیچ پروړاندې د غبرګون خدمتونه

## د افغانستان د نوي پیل پروګرام (ANBP)

www.anbp.af.undp.org

د افغانستان د نوي پیل پروګرام(ANBP) د ملګرو ملتونو د پراختیایي پروګرام له خوا تمویل شوې پروژه وه چې د ۱۳۸۲ کال د وري په میاشت کې د افغان حکومت د بې وسلې کولو،ملکي کولو او بیا پیوستون (DDR ) د پلي کولوپه نیت جوړه شوه. دې پروګرام د وخت په تیریدو سره ناقانونه وسله والې ډلې منحلې

(DIAG) او د پرسونل ضد ماینونو او مهماتو زیرمې (APMASD) یې ویجاړ ې کړي دي. نوموړې پروژه په ۱۳۹۰ کال کې پای ته ورسیده، او اوس د سولې او بیا پیوستون پروګرام د بې وسلې کولو او بیا پیوستون پر هڅو خپل تمرکزته بنه ورکوي.

افغان حکومت د ۱۳۸۱ کال د سلواغې په میاشت د توکیو په غونډه کې د لومړي ځل لپاره د خپل امنیتي سکټور د سمون د ستراتیژۍ (SSR)د یوې برخې په توګه د بې وسلې کولو او ملکي کولو او بیا پیوستون (DDR)د خپلې خوښې ملي بهیر د دوام لپاره خپل نیت اعلان کړ. په پام کې وه چې د DDR له لارې، د افغانستان پوځي ځواکونه (AMF) چې په کې شمالي ټلواله، د جګړه ماروقومندانانوملیشې او د طالبانو د دورې وسله والې ډلې شاملې وې خپلې وسلې وسپاري او ملکې ژوندانه ته راوګرځي. هغو وسله والو ته چې خپلې وسلې یې د بې وسلې کولو، ملکي کولو او بیا پیوستون د بهیر له لارې سپارلي دي، یو مډال او یو تصدیق لیک ورکړل شوی دی،او د بیا پیوستون یو لړ نورې ټولګې لکه مسلکي روزنې، کرهڼیزې روزنې او د کوچنۍ سوداګرۍ فرصتونه هم دوی ته برابر شوي دي.

د افغانستان د نوي پیل پروګرام د بې وسلې کولو، ملکي کولو او بیاپیوستون د بهیر د بې وسلې کولو او ملکي کولو برخې یې د ۱۳۸۴ کال د غبرګولي په میاشت کې بشپړې کړې، او د بیا پیوستون چارو یې د ۱۳۸۵ کال د غبرګولي تر میاشتې پورې دوام درلود. د افغانستان د نوي پیل پروګرام اصلي موخه دا وه څو د دریوو کلونو په ترځ کې ۱۰۰۰۰۰ وسله وال بې وسلې او ټولنې ته یې راستانه کړي چې وروسته بیا دغه شمیره راټیټه شوه. کله چې د بې وسلې کولو، ملکي کولو او بیاپیوستون بهیر په رسمي ډول د ۱۳۸۵ کال په غبرګولي کې پای ته ورسید، د افغانستان د پخواني پوځ ۶۰۰۰۰ افسران او سرتیري بې وسلې شول. د دې جنګیالیو سترې برخې د بیاپیوستون له بیلابیلو لارو څخه یوه لاره غوره کوله.

په ۱۳۸۴ کال کې د بې وسلې کولو، ملکي کولو او بیا پیوستون د پروګرام په بشپړېدو سره د افغانستان د نوي پیل پروګرام خپله پاملرنه د حکومت د پرسونل ضد ماینونو او مهماتو د زیرمو د ویجاړولو او د ناقانونه وسله والوډلو د بې وسلې کولو(DIAG) نوښتونو ته چې د ملي دفاع د وزارت له خوا پلي شول واړوله. د پرسونل ضد ماینونو او مهماتو د زیرمو د ویجاړولو(APMASD)، له حکومت سره د پرسونل ضد ماینونو د کارونې، زیرمه کولو، تولید او لیږدولو د مخنیوي دکنوانسیون ( چې د اوټاوا د کنوانسیون په نامه یادیږي) د شرایطو د پوره کولو په برخه کې مرسته وکړه. دغه پروژه د ۱۳۸۷ کال د مرغومي په میاشت کې بشپړه شوه، چې کابو۲۰۰۰۰ متریکه ټنه مهمات او له ۵۰۰۰۰۰ څخه زیات د پرسونل ضد ماینونه یې ویجاړکړي دي.

د ناقانونه وسله والو ډلو د منحلولو بهیر چې د اټکل له مخې د افغان پخواني ملي پوځ له جوړښت څخه بهرد ۱۰۰۰۰۰ هغو فعالو وسله والو ملیشه ډلود منحلولو په موخه رامینځ ته شوی و، د ۱۳۸۹ کال د کب په میاشت کې پای ته ورسید. په داسې حال کې چې بې وسلې کول، ملکي کول او بیاپیوستون(DDR) یو د خپلې خوښې بهیر و، مګر د ناقانونه وسله والو ډلو منحلول(DIAG) یوه جبري پروسه وه چې د ولسمشر

د فرمان او همدارنګه د ملي قوانینو له خوا یې ملاتړ کیده. ډایاګ پر یو خوندي چاپیریال او د معیشت د مرستندویې پروژې او همدا راز د مالدارۍ په برخه کې د وړتیاوو د روزنیزو پروګرامونو او د چرګانو د تولید په ګډون پرهغو پروژو چې تولنیزې ګټې یې تأمینولې تمرکز یې درلود.

د دې پروژې د پای ته رسیدو په وخت کې ډایاګ د پروژې له خوا په پام کې نیول شوو ۱۴۰ ولسوالیو کې څه د پاسه ۵۴.۸۷۳ وسلې راغونډې کړې ، له دې ډلې نه ۱۰۳ یې " له ډایاګ سره د موافقو" ولسوالیو په نامه یادې شوې وې، ۳۷ پاتې " له ډایاګ سره مخالفې" ولسوالۍ د حکومت ضد عناصرو د سترې برخې په درلودلو سره د خپلو پروژو په پلې کولو کې د ډایاګ د وړتیا په لارکې خنډ وې. د ملګرو ملتونو پراختیایي پروګرام(UNDP) څرګنده کړه چې د افغانستان د نوي پیل پروګرام به په دې ولسوالیو کې د بې وسلې کولو او بیا پخلاینې ننګونې په غاړه واخلي. د ۱۳۸۹ کال د کب په میاشت کې د ANBP یوشمیر پخوانیو کارکوونکو د بیا پخلاینې د پخوانیو پروګرامونو د سازماني یاد په تضمین یې په خپل کار پیل وکړ.

## د افغانستان ملي پراختیايي ستراتیژي (ANDS)

د افغانستان ملي پراختیایي ستراتیژي (ANDS) د افغانستان د پراختیا مهم کاری چوکاټ دی چې موخه یې د بیوزلو په ګټه د ودې، په افغانستان کې د ډموکراټیک بهیر او ادارو له جوړیدو څخه ملاتړ، او د بیوزلۍ او زیانمنني را ټیټول دي. دغه ستراتیژي د هیواد د بیوزلۍ د راټیټولو د سند(PRSP) په توګه کار کوي چې د نړیوال بانک او د پیسو د نړیوال وجهی صندوق له خوا له پور څخه د خلاصون لپاره د یوه هیواد د شرایطو د ارزولو په موخه د یو مهم سندپه توګه کارول کیږي. دافغانستان د ملي پراختیایي ستراتیژۍ د رامینځ ته کیدو وړاندیزلومړی ځل په ۱۳۸۴ کال کې د افغانستان په پراختیایي غونډه(ADF) کې وشو. د افغانستان وروستۍ پراختیایي ستراتیژي د ۱۳۸۷ کال د غویي د میاشتې په دوهمه نیټه د ولسمشرکرزي له خوا تصویب شوه او وروسته بیا د همدې کال د غبرګولي په میاشت کې دغه ستراتیژي د پلي کیدو لپاره د نړیوالې ټولنې دملاتړ د تر لاسه کولو په موخه د پاریس کنفرانس ته وړاندې شوه.

دغه ستراتیژي د پلي کولو لپاره د پالیسۍ کاري چوکاټ اویو لاربنود څرګندوي ، د افغانستان له ټرون سره یوځای د افغانستان د پراختیایي ستراتیژۍ سند په پام کې لري چې د ۱۳۹۹ کال تر پایه د افغانستان د زریزې پراختیایي موخو (MDGs) ته د رسیدو لپاره لاره هواره کړي.

د افغانستان د وروستنۍ ملي پراختیایي ستراتیژۍ څخه وړاندې د افغانستان ملي لنډمهاله پراختیایي ستراتیژي وه چې د۱۳۸۴ کال د لیندۍ په میاشت کې د افغان حکومت له خوا تصویب او د افغانستان له ټرون سره یوځای د همدې کال د مرغومي په میاشت کې د لندن کنفرانس ته وړاندې شوه. په ۱۳۸۵ کال کې د افغانستان حکومت او د هغه نړیوالو ملګرو د لنډ مهالې ستراتیژۍ په پلې کولو پیل وکړ او هڅه یې وکړه څو دا په یوې بشپړې ستراتیژۍ بدله کړي څو وکړای شي د بیوزلۍ د کچې د راټیټولو

د ستراتيژۍ د سند غوښتنې پوره کړي. د افغانستان ملي لنډمهالې پراختيا يي ستراتيژۍ چې د ۱۳۸۵-۱۳۸۹ موده يې تر پوښښ لاندې وه او په اصل کې يې د افغانستان د تړون د پلي کولو سره اړيکه درلوده؛ په لنډمهاله ستراتيژۍ کې د تړون هر يو معيار د يوې پنځه کلنې ستراتيژيکې موخې په توګه څرګند شوی و.

د افغانستان دبشپړې ملي پراختيايي ستراتيژۍ همغږي د دې ستراتيژۍ د دارالانشأ له خوا او څارنه يې د افغانستان دملی پراختيايی ستراتيژۍ د څارنې د کميټې(OSC) له خوا چې د کابينې اووه تنه وزيران هم په کې برخه لري تر سره شوه. د همغږۍ او څارنې ګډ پلاوی او لوړ پوړی افغان حکومتي پلاوی د افغانستان د تړون د پلي کيدو څارنه کوي او همداراز د افغانستان د ملي پراختيايي ستراتيژۍ د جوړولو لپاره لارښوونې وړاندې کوي.

د سکټور ستراتيژي چې د سکټور د ستراتيژۍ د پراختيا د ډلې (SSDGs)له خوا چې د سکټوري وزارتونو ، د ملي پراختيايي ستراتيژۍ د دارالانشا، د ماليې وزارت(MOF) له استازو څخه جوړه وه او پراخ موضوعات په کې شامل دي تسويد شوې وه د ۱۳۸۶ کال په وروستيو کې بشپړه شوه.

د افغانستان د ملي پراخيتايي ستراتيژۍ د جوړيدو لومړنی ګام د دې ستراتيژۍ د دارالانشأ له خوا د وړاندې شوې بيلګې د په پام کې نيولو سره د حکومت د ټولو وزارتونو او ادارو له خوا د ۴۳ انفرادي ستراتيژيو جوړول وو. د ۱۳۸۶ کال په نيمايي کې د دې ستراتيژيو له بشپړيد وروسته ددې ستراتيژيو ارزونه وشوه او پياوړې شوې او د هغې ستراتيژيک لومړيتوبونه او د بوديجې ځانګړي کول د سلا کارې ډلې ، د بسپنه ورکوونکو د خبرو اترو او غونډو، او د ګوابش او زيانمننې د ملي ارزونې (NRVA)پر بنسټ د بيوزلۍ د شننې، له لارې د پراخو سلا مشورو په واسطه انډول شول او وړاندې تر دې چې د دې وزارتونو او ادارو

> د افغانستان له تړون سره سم، دافغانستان د وروستۍ پراختيايي ستراتيژۍ لومړيتوبونه او ننګونې په درې رکنونو کې ترتيب شوې دي: ۱) امنيت؛ ۲) حکومتداري، د قانون واکمني او بشري حقونه؛ او۳) اقتصادي او ټولنيزه پراختيا. په وروستۍ پراختيايي ستراتيژۍ کې د ۱۷ سکټورونولپاره ستراتيژۍ ځای لري چې ۸ فرعي رکنونه لري:
>
> ۱) امنيت؛ ۲) ښه حکومت داري؛ ۳) زيربنا او طبيعي سرچينې؛ ۴) پوهنه اوفرهنګ؛ ۵) روغتيا او تغذي؛ ۶) کرهنه او د کليو پراختيا؛ ۷) ټولنيز خونديتوب؛ او ۸) د حکومتي او خصوصي اقتصادي سکټورپراختيا.
>
> همدا راز په دې کې د شپږو نورو هر اړخيزوموضوعګانو لپاره ستراتيژي هم ځای لري: د ظرفيت لوړول، د جنسيت برابري، له نشه يي توکو سره مبارزه، سيمه ييزه همکاري، له فساد سره مبارزه او چاپيريال.
>
> د سکټور ستراتيژي له ۱۳۹۱-۱۳۸۷(۱۳-۲۰۱۲-۰۸-۲۰۰۷) موده ترخپل پوښښ لاندې نيسي. چې له دې ويب پاڼې څخه را ښکته کيدای شي:www.ands.gov.af/ands/ands_docs/index.asp

## د افغانستان د ملي پراختیایي ستراتیژۍ جوړښت ( سرچینه: د افغانستان حکومت)

| امنیت | حکومتداري | ټولنیزه او اقتصادي پراختیا | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱. امنیت | ۲. غوره حکومتداري او د قانون واکمني | ۳. بنسټونه او طبیعي سرچینې | ۴. پوهنه او کلتور | ۵. روغتیا او تغذي | ۶ کرهنه او د کلیو پراختیا | ۷. ټولنیز خوندیتوب | ۸. اقتصادي حکومتداري او د خصوصي سکټور پراختیا |
| **سکټورونه** | | | | | | | |
| امنیت | عدالت او د قانون واکمني | انرژي | پوهنه | روغتیا او تغذي | کرهنه او د کلیو پراختیا | ټولنیز خوندیتوب | د خصوصي سکټور پراختیا او سوداګري |
| | حکومتداري، د ملکي ادارو سمون، بشري حقونه | ټرانسپورټ | فرهنګ ، رسنۍ او ځوانان | | | کډوال، راستانه شوي او کورني بېځایه شوي وګړي | |
| | دیني چارې | د اوبو د سرچینو مدیریت | | | | | |
| | | د اړیکو او معلوماتو ټکنا لوژي | | | | | |
| | | ښاري پراختیا | | | | | |
| | | د کانونو استخراج | | | | | |

عمومي موضوعګاني

اداري سمون او د وړتیا لوړول

د جنسیت برابري

د نشه يي توکو پروړاندې مبارزه

سیمه ییزې همکارۍ

د فساد پر وړاندې مبارزه

چاپیریال

ستراتیژۍ د سکټور د ستراتیژۍ په مسوده کې له یوبل سره یوځای شي پرې غور وشو او وده ورکړل شوه. په ۱۳۸۶ کال کې په ۳۴ ولایتونو کې د سلا مشورې یو سیمه ییز بهیر جوړ شوچې موخه یې په افغاني ټولنه کې د افغانستان د وروستۍ پراختیايي ستراتیژۍ د پراختیايي لومړیتوبونو په اړه د یو ګډ نظر د ځرګندولو تضمین و، چې دا د ولایتي پراختیايي انفرادي پلانونو د رامینځ ته کیدو لامل شو(PDP).

د سکټوري ستراتیژیو له بشپړیدو وروسته د خارنې کمیټې د پنځو کلونو لپاره د موجودو اجرایي سرچینوپه ګډون له تصویب شوو معیارونوڅخه د ګټې اخیستنې لومړیتوبونه وټاکل ( لکه چې د افغانستان د ملي پراختیايي ستراتیژۍ د لوی اقتصاد د کاري چوکاټ له لارې ځرګند شو).

وروسته بیا د افغانستان د ملي پراختیايي ستراتیژۍ دارالانشأ د اړوندو وزارتونو په همکارۍ یې سکټوري ستراتیژۍ د افغانستان د ملي پراختیايي ستراتیژۍ په مسوده کې سره یو ځای کړې. سلاکارې ډلې د افغانستان د ملي پراختیايي ستراتیژۍ پر وروستۍ مسوده بیا کتنه وکړه او د تصویب لپاره د افغانستان د ملي پراختیايي ستراتیژۍ د څارنې کمیټې ته واستول شوه ترڅو دا تضمین کړي چې دغه ستراتیژي په بشپړډول د حکومت له لومړیتوبونو او د افغانستان د تړون له معیارونو سره سمون لري.

د افغانستان حکومت په ۱۳۸۷ کال کې د ملي پراختیايي ستراتیژۍ د سند له بشپړولو سره د سکټوري ستراتیژیو پر پلی کیدو او څارنې هم تمرکز درلود. د افغانستان د ملي پراختیايي ستراتیژۍ د څارنې کمیټې دحکومت د همغږۍ کمیټې (GCC) ته یې بدلون وموند چې دغه کمیټه د افغانستان د ملي پراختیايي ستراتیژۍ د بهیر دلوړې کچې د همغږۍ دنده لري. په داسې حال کې چې اړوند وزارتونه د افغانستان د ملي پراختیايي ستراتیژۍ د پلي کولواصلي دنده لري، د مالیې او اقتصاد وزارتونه د دغه بهیر د مدیریت او څارنې دنده په غاړه لري. ددې کار د تر سره کیدو په موخه د افغانستان د ملي پراختیايي ستراتیژۍ د پلي کولو او پراختیا د همغږۍ ریاست د مالیې په وزارت کې ، او همدا راز د څارنې او ارزونې ریاست د اقتصاد په وزارت کې جوړ شول.

د افغانستان د ملي پراختیايي ستراتیژۍ لومړنی کلنی رپوټ په ۱۳۸۸ کال کې وړاندې او د حکومت د همغږۍ د کمیټې له خوا تصویب شو. د افغانستان د ملي پراختیايي ستراتیژۍ د پرمختګ لومړنی رپوټ د نړیوال بانک، د پیسو نړیوال صندوق پلاوي ته د په کلکه پوروړو بیوزلو هیوادونو(HIPC) د منلو د بهیر د برخې په توګه وړاندې شو. د ۱۳۸۸ کال د مرغومې په میاشت کې نړیوال بانک او د پیسو نړیوال صندوق له ۱ بیلیون ډالرو څخه زیات یې له پور څخه د خلاصون لپاره اعلام کړې. تر دې لړ وروسته یو نوی سیاسي او د حکومتدارۍ نوښت چې موخه یې د افغانستان د ملي پراختیايي ستراتیژۍ پر پلي کیدو تمرکز و، پیل شو. په دې هکله د لازیاتو معلوماتو لپاره د کابل کنفرانس او د کابل بهیر(....مخ)، او د ملي او ډله ییز لومړیتوب پروګرامونه ( ( په..۶۶...مخ ) کې وګورئ.

# د افغانانو لپاره د مرستو د همغږۍ اداره (ACBAR)

www.acbar.org

د افغانانو لپاره د مرستو د همغږۍ اداره(ACBAR) د چتر په څیریوه اداره ده چې په افغانستان کې د نادولتي سازمانونو په مینځ کې رونوالی او حساب ورکونه هڅوي او همغږۍ ته لاره هواروي. دغه اداره په ۱۳۶۶(۱۹۸۸) کال کې د هغو نادولتي سازمانونو له خوا چې په پاکستان کې له افغان کډوالو سره په کار بوختې وې رامینځ ته شوه او د ملګرو ملتونو، نا دولتي سازمانونو، بسپنه ورکوونکو او افغان حکومت تر مینځ د معلوماتو د وسیلې په توګه دنده تر سره کوي. اروپایي کمیسیون، SDC، د سویډن او فرانسې سفارتونه او د دې غړي نا دولتي سازمانونه د نوموړي سازمان دبسپنه ورکوونکو په ډله کې دي.

۱۱۲ ملي او نړیوال نا دولتي سازمانونه د اکبرغړیتوب لري. د اکبر د غړیتوب غوښتونکي سازمانونه باید لازم معیارونه پوره او د افغانستان د نادولتي سازمانونو د قانون او کړنلارې په لاسلیک کولو مکلف دي. د اکبر ټول غړي په کال کې دوه ځله د دې ادارې په عمومي غونډه کې سره ګوري. د مشرتابه د کمیټې ۱۶ غړې ( ۱۲ اصلي او ۴ علی البدل) هره میاشت په کابل کې سره غونډه کوي. د دې کمیټې رئیس تل افغان وي، په داسې حال کې چې نور غړي یې د نړیوالو او سیمه ییزو نادولتي سازمانونو استازي دي.

اکبر خپلې چارې د څلورو بنسټیزو برخو له لارې تنظیموي: Info/coord د معلوماتو د همغږۍ ډله د معلوماتو د خپرولو، د غونډو د جوړولو، د هیواد په کچه د نا دولتي سازمانونو د فعالیتونو د ریکارډولو، د نا دولتي سازمانونو د یو لاربنود د ساتلو او د نورو ارتباطي نوښتونو دنده په غاړه لري. د پالیسۍ او مدافعې ډله د نا دولتي سازمانونو تر مینځ د نظریو او معلوماتو راکړې ورکړې ته لاره هواروي څو "د مهمو موضوعګانو په هکله د ګډ نظر او همغږۍ سره مرسته وکړي".د قانون او مقررې ډله د نا دولتي سازمانونو په مینځ کې د ښې حکومتدارۍ د هڅونې او څارنې او د نادولتي سازمانو اړوندو قوانینو، مقررو او معیارونو په هکله د اړوندو وزارتونو او څانګو او د نادولتي سازمانونو د ورتیا د لوړولو دنده په غاړه لري. د مدني ټولنې او دولتي ادارو د تعامل ډله له نورو نا دولتي سازمانونو/ د مدني ټولنې له شبکو سره د ګډ کار دنده لري څو په دې توګه وکړای شي له حکومت او پارلمان سره د مدني ټولنې د سازمانونو اړیکي جوړې او پیاوړې کړي

اکبر د حکومت مشریزې او سازمان منځې همغږۍ د میکانیزم لپاره د نادولتي سازمانونو د استازو په ټاکنه کې مرسته کوي. او د نا دولتي سازمانونو د قانون، د مالیې د قانون او د کار د قانون په اړه نادولتي سازمانونو ته په منظم ډول سلا مشوره ورکوي. اکبر په۱۳۸۳، ۱۳۸۴ او ۱۳۸۶ کلونو کې د افغانستان په پراختیایي ټولنه کې د نا دولتي سازمانونو او د ۱۳۸۷ کال د پاریس په کنفرانس او د ۱۳۸۸ کال د هاګ په کنفرانس او د ۱۳۸۹ کال د لندن په کنفرانس کې، د سولې په ملي مشورتي جرګه او د کابل په کنفرانس کې د نادولتي سازمانونو او مدني ټولنې استازیتوب وکړ. اکبر د مدني ټولنې له سلاکار پلاوي سره چې د افغان حکومت او ملګرو ملتونو له مرستندوی پلاوي سره اړیکه لري مرسته کوي. په کابل کې د دې ادارې

پر مرکزي دفتر سربیره اکبر په هرات، جلال آباد او مزار شریف کې سیمه ییزې څانګې لري. د دې ادارې ویب پاڼه د دندو د اعلانونو یوه پیژندل شوې پاڼه هم لري.

## د افغانستان لپاره د کوچنیو پورونو د پانګونې د ملاتړ اداره (MISFA)

www.misfa.org.af

د افغانستان لپاره د کوچنیو پورونو دپانګونې د ملاتړ اداره په ۱۳۸۲ کال کې د افغان حکومت او بسپنه ورکوونکو د ټولنې له خوا په ګډه جوړه شوه. دغه اداره د مایکرو فینانس هغو ادارو ته پیسې برابروي چې بیوزلو او زیانمنونکو افغانانو ته کوچني پورونه او نور مالي خدمتونه وړاندې کوي څو وکړای شي له هغو افغانانو سره چې غواړي کوچني خو با ثباته کارونه پیل او یا پراختیا ورکړي مرسته وکړي. دکوچنیو پورونو د پانګونې د ملاتړ اداره د کوچنیو پورونو له ملګرو ادارو سره د دوی د داخلي سیستم د پیاوړتیا او د ودې امکاناتو ته د رسیدو لپاره د دوی له انفرادي هڅو څخه د ملاتړ لپاره خپلې نږدې همکارۍ ته دوام ورکوي.

د غه اداره د ۱۳۸۴ کال د کب له میاشتې راهیسې د یوې خپلواکې او غیر انتفاعي افغان ادارې په توګه ثبت او د دولت او خصوصي سکټور له استازو او همدارنګه د کوچنیو پورونو د پانګونې له نړیوالو متخصصینو څخه جوړ د یوخپلواک مدیره پلاوي درلودونکې ده. دغه اداره په افغانستان کې د مایکرو فینانس لومړنۍ اداره ده، چې د بسپنه ورکوونکو د ډول ډول مالي مرستو میکانیزمونه د مایکرو فینانس وړاندې کوونکو ته په ملاتړ کې په یو ساده ، اغیزمن او بدلون منونکې ډول ،سره یو ځای کوي.

د کوچنیو پورونو د پانګونې اداره د یوه بانک په ګډون، چې په ۲۲ ولایتونو کې د ۲۴۴ څانګو درلودونکې دی د مایکروفینانس د خدمتونو له اووه (۷ ) وړاندې کوونکو ادارو سره کار کوي. دوی له ۲۳۰۰۰۰ څخه زیاتو پوروړو ته چې ۷۵ سلنه یې ښځې دي خدمت کوي. تر اوسه د دې ادارې ملګرو د کابو ۱.۱ میلیارد ډالرو په ارزښت ۱.۹ میلیونه پورونه ورکړي دي. د پوروړو لپاره اوسنی پاتې پور ۱۱۵ میلیون ډالره دی، په داسې حال کې چې د پور منځنۍ کچه ۴۹۹ ډالره ده. د MISFA ملګرو له ۳۰۰۰ څخه زیات افغانان چې ۳۷ سلنه یې ښځې جوړوي په دندو ګمارلي دي. په ۲۰۰۷ کال کې په انګلستان کې دمیشت پراختیایي مطالعاتو د انستیتیوت له خوا د مایکرو فینانس د لومړني بنسټ/ د اغیزې د یوې مطالعې له مخې په افغانستان کې د مایکرو فینانس هر پور د د ندو ۱.۵ فرصتونه رامینځ ته کوي او یا ورسره مرسته کوي.

## د افغانستان لپاره د ماین پاکولو پروګرام (MAPA)

www.macca.org.af

د افغانستان لپاره د ماین پاکولوپروګرام (MAPA)، په نړۍ کې د ماین پاکۍ تر ټولو لوی پروګرام دی چې په ۱۳۶۸ کال کې د ماینونو او له جګړو څخه د پاتې نورو نا چاودو توکوله ګواښ څخه د افغانستان د ژغورلو په موخه جوړ شو.

اوس مهال د افغانستان لپاره د ماین پاکولو د پروګرام څارنه او همغږي په تدریجي توګه د ملي واک پر لور بدلون مومي. د ماین پاکولو د همغږۍ مرکز (MACCA) چې د افغانستان د ماین پاکولو د پروګرام د همغږۍ د اداري په توګه د افغان حکومت د ماین پاکولو له څانګې(DMC) سره په ګډه د افغانستان د ماین پاکولو د پروګرام د فعالیتونو او موخو د پلي کیدو اوڅارنې په موخه د یوې ستراتیژۍ د جوړولو لپاره کار کوي. د افغانستان د ماین پاکولو د پروګرامونو د همغږۍ مرکز(MACCA) د ملګروملتونو د ماین پاکولود خدمتونو(UNMAS) یوه پروژه ده چې د ملګرو ملتونو د پروژو د خدمتونو د اداري ( UNOPS) له خوا یې تړون شوی دی.

د افغانستان د حکومت د ماین پاکولو څانګه او د افغانستان د ماین پاکولو د پروګرامونو د همغږۍ مرکز د افغانستان لپاره د ماین پاکولو د پروګرام فعالیتونه د ماین پاکولو د ۷ مرکزونو له لارې په کابل، هرات، کندهار، مزار شریف، کندز، ګردیز او جلال آباد کې همغږې کوي. د دې سیمه ییزو مرکزونو کارکوونکي ټول افغانان دي، چې په سیمه ییزه کچه د ماین پاکولو د فعالیتونو د همغږۍ او څارنې دنده لري . د افغانستان لپاره د ماین پاکولود پروګرام پلي کوونکي ملګري ملي او نړیوال غیر دولتي سازمانونه دي چې د ماین پاکولو او سروې، د ماینونو د ګواښ په هکله روزنې، د ماینونو له قربانیانو سره مرسته، د وړتیا د لوړولو، مدافعې، څارنې او روزنې چارې پرمخ بیایي. سر بیره پر دې د افغانستان لپاره د ماین پاکولو پروګرام (مپا) د کار ، ټولنیزو چارو شهیدانو او معلولینو، او د عامې روغیتا له وزارتونو سره په ګډه کار کوي څو د ځمکنیو ماینونو د ژغورل شویو کسانو په ګډون د یوه معلولیت درلودونکو وګړو په استازیتوب ، مدافعه وکړي.

د ۱۳۹۰ کال د وړي د میاشتې په پای کې په افغانستان کې ۶.۲۱۶ په نښه شوي ګواښونه پاتې وو چې د هیواد په کچه کابو ۶۰۲ کیلو متره مربع ځمکه او ۱.۹۸۰ ځایي ټولنې اغیزمنوي. د ۱۳۹۰ کال په اوږدو کې د افغانستان لپاره د ماین پاکولو پروګرام په ۷۰ سیمو کې د ماین پاکولو له لارې ۳۲۴ په ماینونو پوښل شوې سیمې او ۷۶ د جګړې سیمې له ماینونو څخه پاکې کړې او له ۷.۷۹۳ څخه زیات د پرسونل ضد ماینونه، ۲۶۵ د ټانک ضد ماینونه، او ۱۸۲.۶۶۳ د جګړې پاتې چاودیدونکي توکي ویجاړ کړي دي.

د افغانستان د ماین پاکولو پروګرام د اوټاوا د کنوانسیون د هغې موخې د تر سره کولو لپاره کار کوي چې له مخې یې تر ۲۰۱۳ کال پورې له افغانستان څخه د پرسونل ضد ټول ماینونه به پاک، د ماین د ګواښونو په هکله به روزنې وړاندې او له ماینونو څخه د ژوغورل شوو کسانو سره به مرسته وکړي. که څه هم چې د اوټاوا کنوانسیون، هیوادونه دې ته مکلف کړي چې پرسونل ضد ماینونه له مینځه یوسي نه د ټانک ضد ماینونه(AT ) او یا له جګړې څخه پاتې نا چاودل شوي توکي(ERWs). له دې سره سره MACCA په داسې حال کې چې د اوټاوا د کنوانسیون پر مکلفیتونو تمرکز کوي د نورو خطرونو له پامه نه غورځول هم خورا ارزښتناک ګڼي. افغان دولت به د پرسونل ضد ماینونو د ټولو پیژندل شوو سیمو د پاکولو لپاره ښایي د ۲۰۱۳ کال د وروستۍ نیټې د غځولو لپاره هڅه وکړي.

د هیواد په کچه د پوهنې وزارت په مشرۍ د ماینونو د ګواښ روزنیز پروګرام دوام لري؛ او په هرو درې میاشتو کې په منځنۍ توګه۲۰۰۰۰۰ افغانان د ماینونو د ګواښ په هکله روزنې تر لاسه کوي. اوس مهال په منځنۍ توګه هره میاشت ۲۲ افغانانو ته د ځمکنیو ماینونواو له جګړې څخه پاتې نورو ناچاودل شوو توکو له امله مرګ ژوبله اوړي.

## د افغانستان لپاره د نظم او قانون وجهي صندوق (LOTFA)

http://wwww.undp.org.af/WhoWeAre/UNDPinAfghanistan/Projects/sbgs/prj_lotfa.html

د افغانستان لپاره د قانون او نظم وجهي صندوق د مالي مرستې دیو میکانیزم په توګه په ۱۳۸۱ کال کې جوړ شو چې د نړیوالو بسپنه ورکوونکو له خوا په افغانستان کې د امنیتي سکټور د سمون او په ځانګړي توګه د ملي پولیسو دمعاشونو په برخه کې چې د دې صندوق ستره برخه جوړوي د مرستې د وسیلې په توګه کارول کیږي. د ملګرو ملتونو پراختیایي پروګرام د پیسو مدیریت او د کورنیو چارو وزارت د حکومت د ملګري په توګه د دې پروژې د پلي کولو مسوولیت په غاړه لري، او له مدیریت سره دمرستې یوه اداره له وزارت سره په اجرائیوي پروژو کې چې د حکومت اوسني میکانیزمونه یې د تر سره کولو وړتیا نه لري مرسته کوي.

ددې صندوق له پرانیستلو راهیسې څلور پړاوونه بشپړ شوي دي. د دې وجهي صندوق ۵ پړاو چې د ۱۳۸۷ کال د وږي له میاشتې نه د ۱۳۸۹ کال د لیندۍ تر میاشتې پورې د کابو ۵۵۳ میلیون ډالرو له ټولیزې بودیجې سره دوام درلود. پنځم پړاو د کورنیو چارو د وزارت د پلان جوړونې او تصمیم نیونې په بهیر کې د بښکیلتیا د زیاتولو له لارې د کورنیو چارو وزارت د اداري پراختیا لور ته یې خپل تمرکز واړاوه. سر بیره پردې دې پروژې د ثبات ، نظم او قانون د ساتلو په موخه پر افغان ملی پولیسو د عامه باور د پیاوړي کولو په موخه هڅې کړي دي.

د قانون او نظم د وجهي صندوق شپږم پړاو د ۱۳۹۰ کال د مرغومي په میاشت کې د ۱.۴ میلیون ډالرو په ټولیز لګښت سره پیل او د ۱۳۹۲ کال د کب ترمیاشتې پورې به دوام ومومي. د شپږم پړاو لاندې ټول فعالیتونه په درې برخو ویشل شوي دي:

۱. د پولیسو او د جیلونو د کارکوونکو معاشونه، او دپولیسو د زیربنا په برخه کې پانګه اچونه؛

۲. په پالیسۍ، سازماني او انفرادي کچه کې د کورنیو چارو د وزارت اداري ریفورم او د ظرفیت او جندرپراختیا؛

۳. د پولیس مردمي ( ولسي پولیس) د نوښت له لارې د ځایي پولیسو جوړول( دا له افغان سیمه ییزو پولیسو سره کومه اړیکه نه لري).

۴.

د دې صندوق مهمې لاس ته راوړنې دا دي: د معاشونو د یوې عصري ټکنالوجۍ د رامینځ ته کولو له لارې د پولیسو په معاشونو کې د نظم او روڼوالي تضمین، د پولیسو ۹۹ سلنه د معاشونو د ورکړې د الکترونیکي سیستم تر پوښښ لاندې راغلي دي او ۸۲ سلنه په الکترونیکي ډول د پیسو د لیږد د سیستم تر پوښښ لاندې راغلي دي؛ د وړتیا د پراختیا د پروګرام له لارې د کورنیو چارو وزارت د وړتیا او اداري سمون دوام؛ د جندر او بشري حقونو د نظریې په اړه د پولیسو د ۳۰۰ روزونکو روزل؛ له تیرو درې کلونو راهیسې له ۱۰۰۰ څخه د زیاتو ښځینه پولیسو ګمارل او د کورنیو چارو په وزارت کې د جندر د پراختیا د اداري جوړول؛ د ځایي پولیسو د خدمتونو د خورا اغیزمن لیږد په موخه د ټولنیزو پولیسو اغیزمن ګډون. د ۱۳۹۰ کال د مرغومي تر میاشتې پورې د افغان ملي پولیسو په لیکو کې د ښځینه پولیسو شمیر ۱۳۰۰ ته رسیدلی و.

داروپا کمیسیون، د جاپان او د امریکې هیوادونه د دې صندوق تر ټولو ستر بسپنه ورکوونکي دي. ددې صندوق مشري د یوې کمیټې له خوا د مالیې او عدلیې وزارتونواو یوناما د استازو په ګډون د ملګرو ملتونو د پراختیایي پروګرام او کورنیو چارو د وزارت له خوا کیږي. لکه څرنګه چې د دې صندوق د پایلو او سرچینو په کاري چوکاټ او کلني پلان کې په ډاګه شوي د ملګرو ملتونو پراختیایي پروګرام د پرمختګ پر لور د پایلو د کیفیت، کمیت او د مهالویش څارنه په منظمه توګه تر سره کوي.

## د امنیتي سکټور سمون (SSR)

دامنیتي سکټور سمون په افغانستان کې د سولې د ټینګښت په اړه د ۱۳۸۱ کال د سلواغې د میاشتې د توکیو په غونډه کې اعلان شو، د امنیتي سکټور د سمون لپاره د حکومت کاري چوکاټ پنځه برخې درلودلې:

۱. د افغان ملي پوځ جوړونه

۲. د افغان ملي پولیسو جوړونه

۳. د عدلي سکټور سمون

۴. بې وسلې کول، ملکي کول او بیا پیوستون

۵. د نشه یي توکو په وړاندې مبارزه.

د ۱۳۸۴ کال د غبرګولي په میاشت کې د بې وسلې کولو اوملکي ژوندانه ته د راګرځولو د پروګرام په بشپړیدو سره د ناقانونه وسله والو ډلو د انحلال پروګرام (DIAG) پیل شو. د ناقانونه وسله والو ډلو د انحلال پروګرام ددې لپاره طرح شو ترڅو هغه ناقانونه وسله والې ډلې بې وسلې او منحلې کړي چې د مرکزي حکومت له کنټرول څخه بهر کار کوي. د ۱۳۸۹ کال د کب په میاشت کې د ډیاګ پروګرام پای ته ورسید او د افغانستان د سولې او بیا پیستون پروګرام پیل شو.

د بې وسلې کولو، ملکي کولو او بيا پيوستون له پروګرام څخه پرته دغه برخې د حکومت له وزارتونو - لکه د دفاع وزارت، د کورنيو چارو وزارت، د عدليې وزارت او د نشه يي توکو په وړاندې د مبارزې وزارت له اصلاحاتو او جوړيدوسره په څرګنده توګه سمون لري. د ۱۳۸۰ کال د بن او توکيو په غونډو کې، پنځوبسپنه ورکوونکوهيوادونو موافقه وکړه چې هر يو د امنيتي سکټور د سمون د يوې برخې مسووليت په غاړه واخلي: متحده ايالتونو د افغان ملي پوځ؛ آلمان دافغان ملي پوليسو (چې نوموړې دنده وروسته بيا په افغانستان کې د اروپايي ټولنې د پوليسو پلاوي په غاړه واخيسته)؛ ايټاليې د عدلي سکټور ريفورم ؛ جاپان د بې وسلې کولو، ملکي کولو او دبيا پيوستون ؛ او بريتانيې د نشه يي توکو په وړاندې د مبارزې برخې په غاړه واخيستلې. په اصل کې د لارښوونکو بسپنه ورکوونکو په توګه، دې مهمو همکارانو د خپلو ځانګړو سکټورونو د څارنې دنده هم درلوده، په داسې حال کې چې دوی په لازمي توګه د مالي مرستې د ډېرې برخې تمويلوونکي نه وو؛ له دې امله د "لارښوونکو بسپنه ورکوونکو" يا "د مهمو همکارانو" اصطلاح نوره نه کارول کيږي. نور بسپنه ورکوونکي په هره برخه کې په بيلابيله کچه برخه لري، او امريکا تر يو حده په ټولو سکټورونو کې ښکيل ده.

د ۱۳۸۳ کال راهيسې د ملي امنيت شورا(NSC) او د ملي امنيت د شورا دفتر د امنيتي سکټور د سمون د چارو د عمومي همغږۍ دنده په غاړه لري او د همغږۍ دوه کميټې يې جوړې کړې چې په دواړو کې نړيوال استازي برخه لري: د امنيتي سکټور د سمون د همغږۍ کميټه او د امنيت د همغږۍ غونډه. دافغانستان په ملي پراختيايي ستراتيژۍ کې دامنيتي سکټور دسمون نوې ستراتيژۍ ته اشاره شوې وه چې د ۱۳۸۷ کال د ورې په مياشت کې د ولسمشر کرزي له خوا تصويب شوه. د افغانستان د ملي پراختيايي ستراتيژۍ برعکس د ملي امنيت پاليسي او د امنيتي سکټور د سمون ستراتيژي په عامه کچه د لاس رسۍ وړ نه دي.

په ۱۳۸۸ کال کې د يو اغيزمن امنيتي ځواک تر جوړيدو پورې يو غير دولتي امنيتي ځواک ديوې لنډ مهالي حل لارې په توګه رامينځ ته شو. د افغان عامه ساتنې پروګرام (APPP/AP۳ ) په نا امنو سيمو کې ځايي خلک روزي څو د ټولنې د ساتونکي ځواک په توګه دنده تر سره کړي، له همدې وخت څخه راهيسې د افغان سيمه ييزو پوليسو په پروګرام کې څرګند او د ۱۳۸۹ کال د چنګاښ په مياشت کې د يو مهم نوښت په توګه پيل شو. په دې هکله ځينې انديښنې شتون لري چې ښايي د ځاني دفاع ټولنيزې ډلې به د دولت واکمنې او د بې وسلې کولو په برخه کې پرمختګ کمزوری کړي.

## د برلين غونډه او اعلاميه

د ۱۳۸۳ کال د ورې د مياشتې له ۱۲نېټې څخه تر ۱۳ نېټې پورې د افغانستان سترو بسپنه ورکوونکو هېوادونو او پراختيايي ملګرو د برلين په غونډه کې ګډون وکړچې په هغه کې د افغانستان حکومت د افغانستان د راتلونکي خونديتوب تر سرليک لاندې د يوې سترې مالي مرستې د ترلاسه کولو لپاره اسناد وړاندې کړل. له نوموړو اسنادو څخه دا څرګنديږي چې افغانستان په راتلونکو اوو کلونو کې په خپل ځان بسيا او يو باثباته دولت د بيارغولو لپاره کابو ۲۷,۴ ميليارد ډالرو ته اړتيا لري. دا په داسې حال کې ده

چې د ۱۳۸۰ کال د مرغومي په میاشت کې د توکیو په غونډه کې د وزیرانو د غونډې پرمهال د راتلونکو لسو کلونو لپاره له ۱۵ میلیاردو ډالرو څخه زیاته غوښتنه شوې وه. د برلین په غونډه کې بسپنه ورکوونکو هېوادونو په راتلونکو دریوو کلونو کې د ۸,۲ میلیاردو ډالرو د ورکړې ژمنه وکړه او د ۱۳۸۳ مالي کال لپاره دحکومت د۴,۲ میلیارډو ډالرو سملاسي اړتیا یې پوره کړه.

د افغانستان د راتلونکي خوندیتوب پر اسنادو سر بیره د برلین په غونډه کې د افغانستان حکومت ته ددې فرصت ورکړل شو څو د بُن د تړون د پلي کېدو په اړه د پرمختګ رپوټ او خپل اوسنی پلان وړاندې کړي. ”وروسته بیا: د افغان حکومت کاري پلان“ د بې وسلې کولو، ملکي کولو او بیا پیوستون ، دټول ټاکنو اړوندو فعالیتونو، د عامه ادارو لپاره د نوښتونو، مالي مدیریت، ټولنیزې او اقتصادي پراختیا، جنسیت، د نشه یي توکو پروړاندې د مبارزې، د قانون د واکمنۍ او د بشري حقونو لپاره یوه پیاوړې اجنډا ترتیب کړه.

په غونډه کې ګډون کوونکو د برلین اعلامیه لاسلیک کړه، په کومه کې چې نړیوالې ټولنې له افغان حکومت سره د بُن د تړون په پلي کولو، د امنیتي وضعیت د ښه کیدو او له پراختیایي اجنډا سره سم وړاندې تګ کې د مرستو ژمنه کړې ده. د برلین د اعلامیې یو بل تړون لیک د نشه یي توکو پروړاندې د مبارزې اعلامیه وه چې د افغانستان، چین، ایران، پاکستان، ازبکستان، ترکمنستان، او تاجکستان له خوا لاسلیک شوه. په دې اعلامیه کې افغانستان او د هغه ګاونډیانو موافقه وکړه چې د ناقانونه نشه یي توکو د کرکیلې، تولید او قاچاق د له منځه وړلو په برخوکې خپلې هڅې همغږې کړي.

## د بشري پراختیا ملي رپوټ (NHDR)

www.cphd.af/nhdr.html

د بشري پراختیا ملي رپوټونه د بشري پراختیا د نظریې پر بنسټ چې د انساني اړتیاوو پر توپیر لکه ګټې، پوهې ته لاس رسی، تغذي او روغتیا، امنیت، سیاسي او کلتوري خپلواکي او په ټولنه کې پر ګډون ټینګار کوي، ولاړ دي. له ۱۳۷۱ کال راهیسې تر ۵۰۰ زیات د بشري پراختیا ملي رپوټونه په اصل کې د مخ پر ودې هیوادونو له خوا د ملګرو ملتونو د پراختیایي ادارې (UNDP) په مرسته جوړ شوي دي.

د افغانستان د بشري پراختیا لومړی ملي رپوټ د ۱۳۸۳ کال د سلواغې په میاشت کې ، ”د بشر لپاره امنیت“ تر سر لیک لاندې چې د امنیت او پراختیا پر اړیکو متمرکز و د کابل پوهنتون او ملګرو ملتونو د پراختیایي ادارې له خوا د افغان حکومت په استازیتوب د یو لړ سکتوري او موضوعي اسنادو پر بنسټ چې د ملي څیړونکو له خوا تر سره شوی و، خپور شو.

د افغانستان د بشري پراختیا دوهم ملي رپوټ د ۱۳۸۶ کال په وروستیو کې ، د” دود او دستور او عصریتوب د راوستلو“ تر سرلیک لاندې په کابل پوهنتون کې د ملګرو ملتونو د پراختیایي ادارې د پالیسۍ او بشري پراختیا د مرکز (CPHD) په مرسته جوړشوی ؤ خپور شو. دغه رپوټ چې د قانون د واکمنۍ او د بشري پراختیا پر اړیکو یې تمرکز درلود، په افغانستان کې د قانون د واکمنۍ د پراختیا په وړاندې مهمې ننګونې

په ګوته کوي، او د ټولنیز عدالت په لټه کې د عصري کیدلو او دود دستور تر مینځ د اړیکو درامینځ ته کیدو د کړنلارو وړاندیز کوي.

د بشري پراختیا دریم ملي رپوټ په ۱۳۹۰کال کې د " پراختیا د هیر شوي اړخ: په افغانستان کې د اوبو نه خوندیتوب او په روغتیا ساتنه کې کړکیچ " تر سر لیک لاندې د CPHD له خوا د کابل پوهنتون په مرسته خپور شو. دغه رپوټ پاکو اوبو ته د ټیټې لاسرسی، د کمزورې روغتیا ساتنې، د اوبو د سرچینو د نه اندول ویش، او په اوبو پورې د اړوندو شرایطو د ضربو په وړاندې د بې ساري زیانمننې څرنګوالی چې د ځواک په کورنۍ مبارزه او نړیوالې امنیتي اجنډا کې په کلکه له پامه غورځول شوی راسپړي. رپوټ همدا راز په افغانستان کې اوبو ته د بشري پراختیا او د سولې لپاره د هیلې په توګه ارزښت ورکوي.

## د بشري مرستو د همغږۍ سازمان (CHA)

www.cha-net.org

د بشري مرستو د همغږۍ سازمان یو غیر انتفاعي بشردوستانه سازمان دی چې په ۱۳۶۶ کال کې جوړ شو. د بیوزلۍ او زیانمنې را کمول، د سرچینو د عادلانه ویش تضمین، له باثباته ټولنیزې او اقتصادي پراختیا سره مرسته او د افغانانو د بنسټیزو حقونو تضمین ددې سازمان ستراتیژیکې موخې دي. د بشري سرچینو پراختیا(OHRD)، د سبا د رسنیو سازمان(SMO)، او پر بنسټیزو حقونو د څار سازمان(WBRO )یې خویندې سازمانونه دي.

نوموړي سازمان په لومړي سر کې خپل فعالیتونه د فراه ولایت په دوو ولسوالیو کې پیل کړه خو ډیر ژر یې د فعالیتونو لړۍ اتو (۸) نورو ولایتونو لکه کابل، کندهار، بلخ، هرات، غور، فاریاب، پروان او کاپیسا ته هم وغځیده. دغه سازمان د کابو ۲۰۰۰ کارکوونکو په درلودلو سره په افغانستان کې د سترو ملي نادولتي سازمانونو په ډله کې راځي. دغه سازمان اوس مهال په شپږو مهمو ستراتیژیکو برخو کې فعالیت لري: ۱. روغتیا او تغذي، ۲. تعلیمي او فرهنګي چارې، ۳. کرهنه او مالداري، ۴. د سیمه ییزو ټولنو پراختیا او ټولنیز خوندیتوب، ۵. د ناورین د ګواښ کمول او ورسره بیړنی غبرګون او ۶. د جندر پراختیا. دغه سازمان د افغان حکومت او بسپنه ورکوونکو د یو مهم ملګري په توګه د خپلو پروژو د اندازې، د پوښښ سیمې او د فعالیتونو د تنوع د لوړولو وړتیا لري. اکسفام نویب (Oxfam- Novib)، د ناروې د کلیسا مرستې USAID/Caii ،NCA، اروپایي ټولنه EU، د ملګرو ملتونو د کډوالو عالي کمیشنرۍUNHCR، IOM، FAO، DKH، آسیایي ټولنه، د عامې روغتیا وزارت، او د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت د دې سازمان بسپنه ورکوونکي ادارې او سازمانونه دي.

# د بُن تړون

د بن تړون په افغانستان کې د تلپاتو حکومتي ادارو د بیاجوړولو لپاره یو مهال وېش ترتیب کړ، او د دایمي ادارو تر رامنځ ته کېدو پورې د لنډمهالو پروګرامونو د جوړولو لپاره د یو لاربنود په څېر هڅې کړې دي. دغه تړون د ۱۳۸۰ کال د لیندۍ د میاشتې په ۱۴ نېټه د افغانانو د بېلابېلو ډلو د استازو له خوا (پرته له طالبانو) د ملګرو ملتونو په مرسته په بُن کې د افغانستان په اړه د جوړ شوي کنفرانس په پای کې لاسلیک شو.د بُن په تړون کې بېلابېلې پروسې ترتیب شوې، لکه بېړنۍ لویه جرګه او د اساسي قانون لویه جرګه چې د هغې له لارې به د چارو واګې په لاس کې ونیول شي او د وخت په تېرېدو سره به د آزادو او بې پرې ټولټاکنو په پایله کې، واک یو ټاکل شوي حکومت ته ولېږدول شي. د افغانستان د حاکمیت لپاره دا زمینه برابره شوه چې لومړی لنډمهاله اداره، وروسته انتقالي حکومت او په پای کې یو ټاکلی حکومت ولري.

که څه هم چې د امنیتي حالاتو له کبله مهال وېش اغېزمن شوی و خو بیا هم د بُن له تړون څخه په پراخه توګه ملاتړ کېده. افغان حکومت او ملګرو ملتونو زیاتره هغه لنډمهاله پروګرامونه چې غوښتنه یې شوې وه په بریې سره پلي کړل (پرته له کابل او نورو ښارونو او یا له هغو سیمو څخه چې د ملګرو ملتونو ځواکونه په کې میشت وو د پوځي ځواکونو رااېستل). د بن د تړون وروستي مهم پړاوونه د ولسمشرۍ او ولسي جرګې ټولټاکنې وې چې د ۱۳۸۳ کال د تلې او د ۱۳۸۴ کال د وږي په میاشت کې ترسره شوې. د ۱۳۸۴ کال د مرغومي په میاشت کې د بُن د تړون ځای د افغانستان تړون ونیو.

# د بن کنفرانس ۱۳۹۰ لمریز کال (۲۰۱۲ زېږدیزکال)

د بن له لومړي کنفرانس څخه یوه لسیزه وروسته دغه کنفرانس جوړ شو. د دې کنفرانس موخه د تحول د لسیزې۱۳۹۳- ۱۴۰۲ (۲۰۱۴-۲۰۲۴) په اوږدو کې د افغانستان او نړیوالې ټولنې تر منځ د همکارۍ لپاره د یو نوي لس کلن پلان طرح وه چې د لیرد د بهیر پایلې به تعقیب کړي کنفرانس د جرمني په کوربه توب او د افغانستان په مشرۍ او د ۸۵ هیوادونو او ۱۵ نړیوالو سازمانونو په ګډون تر سره شو. نوموړي کنفرانس پر درې مهمو برخو تمرکز درلود:

- په ۲۰۱۴ کال کې د افغانستان حکومت ته د مسوولیت د لیږد ملکي اړخونه.
- له ۲۰۱۴ کال څخه وروسته په افغانستان کې د نړیوالې ټولنې اوږد مهاله ښکیلتیا.
- سیاسي بهیر چې موخه یې په هیواد کې اوږد مهاله ثبات دی.

کنفرانس له افغانستان سره په ځانګړې توګه د امنیت په برخه کې د نړیوالې ټولنې له اوږدمهالو ژمنو او افغان امنیتي ځواکونو ته د راتلونکو مالي مرستو په اړه د ناټو په مشرۍ د ۱۳۹۱ کال د غویي د میاشتې (د ۲۰۱۲ کال مې) په غونډه کې د یو څرګند پلان پر جوړولو له موافقې او د سولې له یو هر اړخیز بهیر سره پر ملاتړ د بیا ټینګار سره پای ته ورسید. همدا راز په دې موافقه وشوه چې د نړیوالې ټولنې

دنده به د خدمتونو له رسوني ځخه د وړتیاوو لوړولو او مرستو لور ته واوړي. همدا راز کنفرانس په افغانستان کې د ترهګرۍ لپاره د یوسیمه ییز حل او د افغانانو په مشرۍ د سولې د یو افغاني بهیر غوښتنه وکړه، اویادونه وشوه چې یو سیاسي حل به د ثبات یو مهم عنصر وي. نړیوالې ټولنې د دې تر ځنګ چې د افغانستان د منرالي سر چینو ود ه یې تایید کړه د یو داسې منظم کاري چوکاټ وړاندیز یې وکړ ځو افغان ولس ته د ګټو د رسیدلو ضمانت وکړي. افغان حکومت په خپل وار سره ژمنه وکړه ځو مهم پراختیایي لومړیتوبونه لکه د فساد په وړاندې مباره او د قانون واکمني له سره پیاوړي او د بشر د نړیوالو حقونو او د جندر د حقونو په وړاندې خپل مکلفیتونه درک او د نشه یي توکو د کرکیلې په وړاندې خپلې مبارزې ته دوام ورکړي.

## د بېوزلۍ د راټیټولودستراتیژۍ سند (PRSP)

د بېوزلۍ د راټیټولو د ستراتیژۍ سند ددې لپاره طرح شوی چې د بسپنه ورکوونکو هېوادونو او د بېوزلو هېوادونو د حکومتونو لپاره د عمل یو کاري چوکاټ رامنځ ته کړي. د کمو عوایدو لرونکي هیوادونه له پورونو ځخه د خلاصون او نورو امتیازاتو لپاره د وړتیا د ترلاسه کولو په موخه باید ځینو بسپنه ورکوونکو ته د بېوزلۍ د راټیټولو دستراتیژۍ سند چمتو کړي. که ځه هم چې د دغه سند فورمې بدلون منونکې دي خو پر یو شمېر اصولو ولاړې دي. د بېوزلۍ د راټیټولو ستراتیژي باید:

- د مدني ټولنې او خصوصي سکټور د نظریو په مرسته او د هېواد د لومړیتوبونو پر بنسټ جوړه وي او حکومت یې واک ولري.
- د بیوزلو په ګټه پایلې ولري.
- د بېوزلۍ د ځو اړخیز طبیعت په پېژندلو کې بشپړه او هر اړخیزه وي.
- د همکارۍ پراصولو ولاړه وي (د دوه اړخیزو، ځو اړخیزو او نادولتي موسساتو په همکارۍ سره جوړه شوې وي).
- د بېوزلۍ د راټیټولو لپاره داوږدمهال لرلیدپر بنسټ ولاړه وي.

د بېوزلۍ د راټیټولو د ستراتیژۍ لنډمهاله سند د هغه شمېر هېوادونو له خوا چې لا تر اوسه د بیوزلۍ د راټیټولو د ستراتیژۍ د یو بشپړ سند جوړولو ته چمتو نه دي، جوړیږي. د ۱۳۸۰ کال د برلین په غونډه (۴۸ م مخ) کې افغانستان دا ومنله چې د بېوزلۍ د راټیټولو د ستراتیژۍ سند او ورسره د بېوزلۍ د راټیټولو د ستراتیژۍ لنډمهالی سند به په یو مناسب وخت د ۱۳۸۴ کال د غبرګولي په میاشت کې برابرکړي. د افغانستان د پراختیا په غونډه کې چې د ۱۳۸۴ کال د وري په میاشت کې تر سره شوه داسې پریکړه وشوه چې دافغانستان د ملي پراختیایي ستراتیژۍ رامنځ ته کول به د بیوزلۍ د راټیټولو د ستراتیژۍ سند د بهیر معیارونه پوره کړي. د افغانستان لنډ مهاله ملي پراختیایي ستراتیژي چې له ۹ میاشتو تیاریو ځخه وروسته د ۱۳۸۴ کال د مرغومي په میاشت کې پیل شوه، هیواد ته د بېوزلۍ د راټیټولو د ستراتیژۍ د بشپړ سند د تر لاسه کولو لپاره لاره هواره کړه.

د ۱۳۸۷ کال د وري په میاشت کې د افغانستان د ملي پراختیا ستراتیژي بشپړه شوه ، او نړیوال بانک او د پیسو نړیوال وجهي صندوق ته د افغانستان د بیوزلۍ د کمولو د ستراتیژي دسند په توګه وسپارل شو.

## د پاریس کنفرانس

www.diplomatie.gouv.fr

د افغانستان لپاره د مرستې نړیوال کنفرانس چې د پاریس د کنفرانس په نامه یادیږي، د فرانسې د ولسمشر نیکولاس سرکوزي، د افغانستان ولسمشر حامد کرزي او د ملګرو ملتونو د سرمنشي بان کي مون په ګډ مشرتابه د ۱۳۸۷ کال د غبرګولي د میاشتې په ۲۳مه نېټه پرانیستل شو. په دې سترې نړیوالې غونډه کې د افغانستان ملي پراختیایي ستراتیژي پیل شوه. لکه څرنګه چې په وروستۍ اعلامیه کې څرګنده شوه، ددې کنفرانس نیت دا ؤ څو له دې ستراتیژۍ سره د ملاتړ لپاره د افغان مشرتابه تر سیوري لاندې د افغانستان د حکومت او نړیوالې ټولنې ګډه همکاري جلب کړي. په دغه کنفرانس کې د افغانستان د ملي پراختیایي ستراتیژۍ د پلي کولو او همدارنګه د ۱۳۸۸ کال د ټولټاکنو لپاره د تیارۍ په موخه د ۲۰ میلیاردو ډالرو ژمنه وشوه.

د دغه کنفرانس اعلامیې بیا تایید کړه چې د افغانستان تړون به د دغه هیواد د پرمختګ لپاره د یوبنسټ په توګه پاتې شي؛ همدارنګه دغې اعلامیې د سازمانونو او اقتصادي وړتیا د پیاوړي کولو لپاره په تیره بیا د کرهنې او بریښنا په برخه کې لومړیتوبونه څرګند کړل. همدارنګه د دغه کنفرانس په اعلامیه کې د مرستو د څرنګوالي او اغیزمنتوب د پیاوړي کولو په اړه دیوګډ مسوولیت په توګه یادونه وشوه. په داسې حال کې چې افغان حکومت د اقتصادي او سیاسی اصلاحاتو ژمنې وکړې، نړیوالې ټولنې هم هوکړه وکړه چې په دوامداره توګه او له ښې همغږۍ سره به لا زیاتې سرچینې برابرې کړي.

## د پالیسۍ د شننې او پراختیا ریاست (PADD)

د مالیې وزارت د پالیسۍ په څانګه کې د پالیسۍ د شننې او پراختیا د ریاست موخه افغان حکومت ته د لوړڅرنګوالي درلودونکو څیړنو او د پالیسۍ د شننو د برابرولو له لارې حکومتدارۍ ته د شواهدو پر بنسټ له یوې کړنلارې سره مرسته ده. دغه ریاست د ۱۳۸۸ کال د غبرګولي په میاشت کې د ستر اقتصادي سلاکار او د مالیې د وزیر تر مستقیمې څارنې لاندې رامینځ ته شو. دغه اداره د افغانستان د ملي پراختیایي ستراتیژۍ په ګډون د حکومت د پالیسیو د پلي کیدو په وړاندې پراته خنډونه او تشې په ډاګه کوي او شننه یې تر سره کوي. هیله کیږي چې د وزارت په چوکاټ کې د داسې یوې وړتیا رامینځ ته کول به د پالیسي جوړونې، پروګرام جوړونې او څارنې او پلي کونې سره مرسته وکړي.

دې موخو ته د رسیدو لپاره PADD تمه لري چې:

- د ملي ټولنیزې اقتصادي پراختیا او د حکومتدارۍ د سمون، د عامه مالي مدیریت او بودیجې د سمون، تدارکاتو، ګمرکونو او عامه عوایدو اړوند د پالیسۍ ځانګړې ارزونې تر سره کړي

- د مرکز او ولایتونو په کچه د مالیې وزارت د اړوندو ادارو خدمتونو ته بیا کتنه وکړي
- د مالي سیستم د ثبات په موخه د پالیسۍ له وړاندیزونو سره مرسته وکړي
- په مالیې وزارت کې د بښې اداري په ګډون په ټولو برخو کې د پراختیایي موضوعګانو د پراخې لړۍ په هکله مهم رپوټونه او بیا کتنې برابرې کړي
- د افغانستان د ملي پراختیایي ستراتیژۍ د پلي کیدو اړوند د راتلونکو او اوسنیو پالیسیو څیړنه او شننه وکړي
- د ملي لومړیتوب ۲۲ پروګرامونو او ولایتي پراختیایي پلانونو پورې اړوند د افغانستان د ملي پراختیایي ستراتیژۍ د پرمختګونو په هکله له رپوټونو او شننو سره مرسته وکړي
- په کابل کنفرانس کې له شوو ژمنو سره سم د بودیجې له لارې د شوو مرستو د اغیزمنتوب په موخه د سمون بیا کتنه وکړي
- د علمي او څیړنیزو ټولنو، خصوصي سکټور او مدني ټولنې له مهمو ملګرو سره د معلوماتو د تبادلې او د عامه پالیسیو له بحثونو سره مرسته وکړي
- د خصوصي سکټور د پانګونې سره د مرستې او اسانتیا د برابرولو په موخه ارزونه تر سره کړي
- د پالیسیو د رسمي کولو په موخه یو لارښود تسوید کړي

په خپله د مالیې وزارت د پالیسۍ معینیت، د اقتصادي موضوعاتو په هکله د کابینې فرعي اقتصادي کمیټه، د حکومت د همغږۍ کمیټه، د څارنې او همغږۍ ګډ پلاوی، د مالیې وزیر، او د وزیرانو همغږې کوونکې ډله د دې ادارې له کار څخه مهم ګټه اخیستونکي دي.

## د پراختیایي مرستو معلوماتي زیرمه یا ډیټابیس (DAD)

http://dadafghanistan.gov.af/

د ملګرو ملتونو د پراختیایي ادارې او د افغانستان د مالیې وزارت په مرسته د ۱۳۸۱ کال د غبرګولي په میاشت کې د پراختیایي مرستومعلوماتي زیرمه( ډیټابیس) جوړه شوه. د ویب پاڼې د دغې معلوماتي زیرمې موخه د افغانستان د ملي پراختیایي بودیجې (۸۶ م مخ) له لارې د ټولو پلي کیدونکو پروژو او نورو پروژو په اړه چې په بودیجه کې شاملې نه دي ، د وروستنیو معلوماتو چمتو کول دي. دغه معلوماتي زېرمه د پراختیایي پروژو د موقعیت، د مالي مرسته کوونکو او د پلي کوونکو سازمانونو په اړه تفصیلي معلومات زیرمه کوي. دغه زیرمه پرهغو معلوماتو چې د پراختیایي پروژو د تمویلوونکو او پلي کوونکو لکه حکومتي ادارو، پراختیایي ملګرو، او د ملګرو ملتونو د ادارو له لوري برابریږي، تکیه کوي. دغه زیرمه په دري او انګریزي ژبو د لاس رسۍ وړ ده.

په اصل کې دغه زېرمه په هیواد کې د مرستو د څرک د معلومولو او د پراختیایي او بشردوستانه پروژو د پرمختګ د بهیر د ثبت په موخه طرح شوې وه. که څه هم چې دغه پروژه لا تراوسه په همدې موخه کار کوي، خو له کومه ځایه چې د افغانستان حکومت هڅه کوي څو خپله بودیجه پیاوړې کړي، نود پراختیایي مرستو معلوماتي زېرمه هم د بودیجې د جوړولو د معلوماتو د زیرمې په توګه کارول کیږي. دغه معلوماتي زیرمه به ډېر ژر شپږمې نسخې ته لوړه شي، چې ځینې بیلګې به ساده او سیستم به ګټه اخیستونکو ته خوندور او په ویب پاڼه کې به کار چټک کړي.

## د توکیوغونډې

www.mofa.go.jp/region/middle_e/afghanistan/min0201

د توکیو د وزیرانو غونډه- چې په رسمي توګه د افغانستان له بیا رغونې سره د مرستې په اړه د نړیوال کنفرانس په نامه یادیږي، د افغانستان د بیارغونې د ډلې یوه غونډه وه چې د طالبانو له راپرځیدو وروسته د افغانستان د بیارغونې په اړه یې د بسپنه ورکوونکو ژمنې سمبالې کړې دي. دغه غونډه چې د ۱۳۸۰ کال د سلواغې د میاشتې ۱-۲ نیټې تر سره شوه، د جاپان، امریکې، د اروپا د ټولنې او سعودي عربستان له خوا یې مشري کیده. د ۶۱ هیوادونو او ۲۱ نړیوالو سازمانونو وزیرانو او استازو په کې ګډون درلود. نا دولتي سازمانونو په جلا توګه یوه ورته غونډه جوړه کړه او پایلې یې د وزیرانو د غونډې عمومي مجلس ته وړاندې کړې.

بحثونو په اوږد مهال کې د بیارغونې پر یو هر اړخیز کاري چوکاټ تمرکز درلود او د افغانستان د بیارغونې لګښت یې د راتلونکو لسو کلونو لپاره ۱۵ ملیارده ډالره وښوده. چې دغه شمیر بیا د افغانستان د راتلونکي خوندیتوب په رپوټ کې چې د برلین د غونډې پایله وه او د ۱۳۸۲ کال د کب په میاشت کې تر سره شوې وه ۲۷.۴ ملیارد ډالرو ته لوړ شو. د ۱۳۸۱ کال د سلواغې په میاشت کې په توکیو کې یوه بله غونډه په افغانستان کې د سولې د ټینګښت په اړه د توکیو د کنفرانس تر سرلیک لاندې جوړه شوه. دغه غونډه په افغانستان کې د امنیتي سمون په اړه د بحث لپاره تر سره شوه او پایله یې د امنیتي سکټور د سمون ستراتیژي وه چې پنځه برخې یې درلودلې.

## د حکومت د معلوماتو او رسنیو مرکز(GMIC)

www.gmic.gov.af

د حکومت د معلوماتو او رسنیو مرکز په ۱۳۸۶ کال کې د ولسمشریز فرمان له لارې د یوې افغان مشریزې اداري په توګه د افغانانو، رسنیو او نورو کورنیو او بهرنیو ګټه اخیستونکو د معلوماتي اړتیاوو د پوره کولو په موخه رامینځ ته شو. د دې مرکز موخه د افغانانو او نورو ګټه اخیستوونکو تر مینځ : د په وخت او کره معلوماتو د برابرولو ، د پرله پسې او باوري معلوماتو دخپرولو، د افغان حکومت د ادارو او خپلواکو رسنیو

تر مینځ د همغږۍ او معلوماتو د شریکولو لپاره د اسانتیاوو د برابرولو له لارې د باور رامینځ ته کول دي، او همداراز دغه اداره د حکومت د معلوماتو او اړیکو د وړتیا د لوړولو د یو ور په توګه دنده تر سره کوي. د دې ادارې د بودیجې ستره برخه د امریکې د سفارت له خوا برابریږي.

د حکومت د معلوماتو او رسنیو د مرکز د پروګرام درې څانګې د دې ادارې د موخو لپاره کار کوي. د رسنیو د اړیکو او همغږۍ څانګه د افغان حکومت او خپلواکو رسنیو تر مینځ د اړیکو د رامینځ ته کولو او ساتلو له لارې افغانانو ته د معلوماتو د همغږۍ او خپرولو ضمانت کوي. د وړتیا د لوړولو څانګه د افغان حکومت په ارتباطي ادارو کې له اړتیا سره سم د روزنیزو فعالیتونو د رامینځ ته کولو او تر سره کولو له لارې د وړتیا په لوړولو کې ونډه اخلي، او همدا راز د خپلواکو رسنیو د خبریالانو د مسلکي وړتیاوو د لوړولو په موخه سیمینارونه او ورکشاپونه په جوړوي. د عامه انسجام څانګه، او په دې اداره کې د پوهاوي دلوړولو څانګه له عصري او دودیزو وسایلو څخه په ګټې اخیستلو سره د هیواد په کچه د معلوماتو د راغونډولو او خپرولو له لارې افغانانو ته د حکومت د فعالیتونو او پرمختګونو په اړه خبرتیا ورکوي.

## د څارنې او همغږۍ ګډ پلاوی (JCMB)

www.ands.gov.af/ands/jcmb

د څارنې او همغږۍ ګډ پلاوی یوه لوړ پوړې مرکزي اداره ده چې په ۱۳۸۵ کال کې د افغانستان د ترون د پلي کیدو ته د تولیزې ستراتیژیکې همغږۍ د تأمین په موخه رامینځ ته شوه. د پاریس په کنفرانس کې د افغانستان د ملي پراختیایي ستراتیژۍ له تصویب وروسته JCMB خپله پاملرنه د افغانستان د ترون د پلي کیدو له څارنې څخه د افغانستان د ملي پراختیایي ستراتیژۍ د پلي کیدو په اړه د ستراتیژۍ او پالیسۍ پر لارښود جوړونې متمرکزه کړه. د ۱۳۹۰ کال د سلواغې په میاشت کې، د افغانستان د ترون د نیټې په تیریدو سره، د دې پلاوي دنده د کابل د بهیر پر څارنه متمرکزه ده او د تصمیم نیونې د یوې لوړې ادارې په توګه افغان حکومت او نړیواله ټولنه سره نښلوي، او د افغان ملي امنیتي ځواکونو د پراختیا په څیر نوښتونو په هکله تصمیم نیسي.

د څارنې او همغږۍ ګډ پلاوی د افغان حکومت او نړیوالې ټولنې له خوا د افغانستان د ترون او د افغانستان د ملي پراختیا د لنډمهالې ستراتیژۍ له لاسلیک کیدو وروسته د ۱۳۸۵ کال د مرغومي په میاشت د لندن په کنفرانس کې جوړ شو. د دې پلاوي موخه د افغان حکومت او نړیوالې ټولنې د هڅو لازیاته همغږي ده څو هغه موخې چې په لومړي ځل د افغانستان په ترون او د پاریس د کنفرانس په اعلامیه او وروسته بیا د کابل کنفرانس په اعلامیه کې راغلي تعقیب کړي.

د همغږۍ او څارنې د ګډ پلاوي مشري د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د سرمنشي د ځانګړي استازي او د افغانستان د حکومت د کابینې د همغږۍ د کمیټې د رئیس( اوس مهال د مالیې وزیر) له خوا کیږي، چې د څارنې او همغږۍ د ګډ پلاوي د څارنې او د افغانستان د ملي پراختیایي ستراتیژۍ د پلي کولو مسؤولیت

لري. JCMB له ۲۸ استازو څخه جوړ دی، چې له دې ډلې نه ۷ یې دحکومت استازي دي او ۲۱ نور یې د نړیوالې ټولنې استازي دي چې د پراختیایي مرستو او سرتیرو د سترې برخې د مرستې او همدارنګه د سیمه ییز استازیتوب د معیار پر بنسټ ټاکل شوي دي. په دغو استازو کې د ملګرو ملتونو مرستندوی پلاوی یا یوناما، ناټو، د افغانستان لپاره د امریکې د امنیت د لیږد ګډه قومنداني، نړیوال بانک، د آسیا پراختیایي بانک، بسپنه ورکوونکي حکومتونه، اروپایي ټولنه او د ګاونډیو هیوادونو حکومتونه برخه لري. د ګډونوالو شمیر ثابت نه دی او د لوړیدو امکان یې هم شته، د سویلي کوریا استازی په دې وروستیو کې د دې پلاوي په ترکیب کې ور زیات شوی دی. دغه پلاوی په کال کې څلور ځله غونډه کوي.

د همغږۍ او څارنې د ګډ پلاوي دنده اوس مهال د دریوو فعالو کمیټو له خوا تسهیلیږي چې امنیت؛ حکومتداري، بشري حقونه اود قانون واکمني؛ اقتصادي او ټولنیزه پراختیا په کې راځي. دغه موضوعي برخې د افغانستان د ملي پراختیایي ستراتیژۍ له ارکانو سره سمون لري. د دې په ارزونه کې دغه پلاوی له فعالو کمیټو څخه د نظریاتو غوښتونکی دی: په دې کمیټو کې د افغان حکومت استازي او د اړوندو نړیوالو ملګرو استازي او همدا راز له اړتیا سره سم د متخصصینو ډله برخه لري، چې د فعالې کمیټې له خوا د ځانګړو تخنیکي موضوعګانو د په نښه کولو په موخه رامینځ ته کیږي. JCMB د خپلو اصلي دندو په رڼا کې په کال کې دوه ځله خپل رپوټ جوړ کړی دی؛ چې وروسته بیا له ۱۳۸۷ کال راهیسې دا په یوه کلني رپوټ بدل شو همدا راز نوموړی پلاوی ځیني نور رپوټونه چې د عامو خلکو د لاسرسۍ وړ دي، خپروي.

## د روغتیایي خدمتونو بنسټیزه ټولګه (BPHS)

د روغتیایي خدمتونو بنسټیزه ټولګه (BPHS) د ۱۳۸۱ کال د کب په میاشت(۲۰۰۳ کال مارچ) کې دعامې روغتیا وزارت(MOPH) له خوا د مهمو بسپنه ورکوونکو په همکارۍ را مینځ ته شوه. دا ټولګه دوې موخې لري: ۱) د روغتیایي خدمتونو دیوې معیاري ټولګې برابرول چې د لومړنیو روغتیایي پاملرنو په کلینیکونو کې د روغتیایي خدمتونو د وړاندې کولو بنسټ جوړوي، او ۲) د وګړو د شمیر پر بنسټ روغتیایي خدمتونو ته د برابرې لاسرسۍ له لارې د روغتیایي خدمتونو د بیا ویش هڅونه.

د روغتیایي خدمتونو بنسټیزه ټولګه په ټیټه بیه د روغتیایي خدمتونو وړاندې کولو ته ځانګړې شوې او پر ناروغیو د اخته کیدو او د مړینې اصلي لاملونه په نښه کوي. دغه پروګرام پر هغو حالاتو چې ښځې او ماشومان اغیزمنوي ژورتمرکز لري. د افغانستان د زریزې له پراختیایي موخو(MDG) سره سم د روغتیایي خدمتونو بنسټیزه ټولګه په پام کې لري چې ټولو افغانانو ته په ځانګړي توګه هغو کسانو ته چې بیوزله دي او په لیرې پرتو کلیوالو سیمو کې ژوند کوي روغتیایي خدمتونه وړاندې کړي.

د عامې روغتیا وزارت له خپلومهمو بسپنه ورکوونکو لکه نړیوال بانک، د امریکې د متحده ایالتونو نړیوالې پراختیایي ادارې او اروپایي کمیسیون سره په موافقه کې د ۳۴ ولایتونو له ډلې نه ۳۱ ولایتونو ته د دې

ټولګې د رسولو په موخه یې له نا دولتي سازمانونو سره تړون کړی او همدا راز درې ولایتونو ته د دې ټولګې د رسولو په موخه یې له خپلو ولایتي روغتیایي څانګو سره تړون کړی دی.

یاده ټولګه د شپږو اسانتیاوو له لارې وړاندې کیږي: ۱) روغتیایي پستونه، ۲) ثانوي روغتیایي مرکزونه، ۳) ګرځنده روغتیایي ډلې،۴) بنسټیز روغتیایي مرکزونه، ۵) بشپړ (جامع) روغتیایي مرکزونه، ۶) د ولسوالیو روغتونونه. همدا راز د روغتیایي خدمتونو بنسټیزه ټولګه د کارکوونکو د ګمارلو او د دې اسانتیاوو د زیربنا د بیارغونې لپاره معیارونه برابروي. په ۱۳۸۹ کال کې پر دغه ټولګه بیا کتنه شوې او د بیا کتل شوې ټولګې په روغتیایي اسانتیاوو کې د سترګو د لومړنیو پاملرنو، د ټولنیز رواني ( psychosocial) خصوصي مشورو او د فزیوتراپۍ شاملول مهم بدلونونه وو. کابو ۵۷٪ افغانان له نږدې روغتیایي اسانتیا څخه د یو ساعت (په خپلو پښو مزل ) په واټن کې ژوند کوي.

## د زریزې پراختیایي موخې (MDG)

www.un.org/millenniumgoals

په ۱۳۸۳ کال کې د افغانستان انتقالي حکومت د ملګرو ملتونو د زریزې په ۲۰۰۰ غونډه کې د رامینځ ته شوو موخو (د زریزې پراختیایي موخو (MDGs)) ته د رسیدو لپاره یې خپل نیت اعلام کړ. د زریزې پراختیایي موخې په پام کې لري چې د ۱۳۹۴ او ۱۳۹۹ کلونو لپاره له ټاکل شوو موخو سره په ټوله نړۍ کې د ملي پالیسیو او د بیارغونې د لومړیتوبونو د پراختیا په لارښوونه کې د یو کاري چوکاټ په توګه کار وکړي. د زریزې پراختیایي موخې د افغانستان په ملي پراختیایي ستراتیژۍ (۳۹م مخ)، او د افغانستان په تړون (Afghanistan Compact) کې شاملې شوې دي. د افغانستان حکومت د خپلو پراختیایي نوښتونو لپاره نهمه موخه هم زیاته کړې ده: د امنیت ښه کیدل. د زریزې نهه پراختیایي موخې دادي:

۱. د سختې لوږې او بیوزلۍ له مینځه وړل.

۲. د لومړنیو عمومي زده کړو تر لاسه کول.

۳. د جنسیت د برابرۍ هڅول او د ښځو پیاوړتیا.

۴. د ماشومانو د مړینې د کچې راکمول.

۵. د میندو د روغتیایي وضعیت ښه کول.

۶. د ایچ آی وي/ ایدز، ملاریا او نورو ناروغیو په وړاندې مبارزه.

۷. د چاپیریال د ثبات تضمین.

۸. د پراختیا لپاره د هر اړخیز ګډون رامینځ ته کول.

۹. د امنیت ښه کول.

د ۱۳۸۴ کال د غبرګولي په میاشت کې افغان دولت د زریزې د پراختیایي موخو د پوره کولو او د هغې د پرمختګ د څرنګوالي په اړه د بحث لپاره په کابل کې یو کنفرانس جوړ کړ. د غونډې پایله "د افغانستان د ۲۰۲۰ کال لرلید" رپوټ و چې د هغه په ترڅ کې د ۱۳۹۴ کال زیاتره موخو ته چې په ۱۳۹۹ کال کی به پوره شي بیا کتنه وشوه، او دهیواد د پراختیا لپاره د ظرفیت په وړاندې پراته خنډونه او امنیتي ستونزې هم په نښه شوې.

په ۱۳۸۹ کال کې افغان حکومت د زریزې د ۹ پراختیایي موخو په پوره کولو کې د افغان حکومت د پرمختګ په هکله یو بشپړ رپوټ خپور کړ. رپوټ څرګنده کړه چې په داسې حال کې چې د بیلابیلو موخو په برخه کې پرمختګ متنوع و، خو هیواد په دې وتوانید څو د وړو ماشومانو او له پنځو کلونو څخه کم عمره ماشومانو د مړینې د کچې په راټیټولو، ښوونځي ته د ښوونځي دعمر ماشومانو په بیرته راتګ کې، او د ژوند په ټاکلو برخو کې د جنسیت د تشې د کمولو په برخه کې ښه والی راولي. که څه هم چې رپوټ، تر بیاکتنې لاندې د زیاتو برخو لپاره د معلوماتو نشتوالی د څارنې د پرمختګ په وړاندې ستر خنډ وباله او آن د ستونزو ممکنه پراختیا یې درک کړه ، د بیلګې په توګه، رپوټ څرګندوي چې د HIV/AIDS د خپریدو کره اټکل نه شي کیدای.

په خورا جدي توګه دې رپوټ یادونه کړې چې "په دې اړه چې د پراختیا لپاره د نړیوالې همکارۍ زیاترې موخې د پوره کیدو وړ وي لږ شواهد موجود دي" همدا راز د "غوره مرستو" اړتیایې په ډاګه کړه، په رپوټ کې د بسپنه ورکوونکو د پیسو په هکله د اټکل د نشتوالي، د بسپنه ورکوونکو د ژمنو او ربښتینو لګښتونو تر مینځ د تشې د شتون ادعا شوې وه او همدا راز ویل شوي چې د بسپنه ورکوونکو پانګې د زریزې د پراختیایي موخو له لومړیتوبونو سره په یوه لیکه کې نه دي نو دا د زریزې د پراختیایي موخو د پوره کولو لپاره ستونزمنه وه . لکه څرنګه چې په وروستیو کې د افغانستان پراختیایي بودیجه مالي مرستې جوړوي نو رپوټ ادعا کوي چې "له افغانستان سره مرستې د بسپنه ورکوونکو د غوره توبونو او سپارښتنو پر بنسټ دي نه د افغانانو د اړتیاوو د پوره کولو لپاره"

## د سولې ملي مشورتي جرګه (NCPJ)

د سولې ملي مشورتي جرګه د ۱۳۸۹ کال د غبرګولي له ۱۲-۱۴ نیټې پورې دافغانستان له ۳۴ ولایتونو څخه د څه د پاسه ۱۶۰۰ استازو په ګډون په کابل کې جوړه شوه. دغه جرګه د اساسي قانون د تصویب د لویې جرګې په خیمه کې پرانیستل شوه. په پام کې وه چې جرګه به له بلواګرو سره د بیا پخلاینې او خبرواترو د وړاندیز په هکله له خلکوسره د سلامشورې لپاره حکومت ته یوه کړنلاره جوړه کړي.

څرنګه چې دغه جرګه یوه مشورتي جرګه وه نو ځکه یې حقوقي ارزښت یې نه درلود. دا د سولې او بیا پیوستون د نوښت سره د حکومت له موافقې او همدا راز په ۱۳۸۹ کال کې د لندن په کنفرانس کې د افغانستان د حکومت یوې شوي ژمنې دعملي کولو سره خپلې لوړې درجې ته ورسیده.

ددې جرګې د اجنډا مشري د ولسمشر کرزي له خوا کیده ، ددې جرګې ګډونکوونکي والیان، په پارلمان کې د خلکو استازي، سیمه ییز مشران، دعلماوو د عالي شورا غړي، مدني ټولنې، سوداګر، کوچیان، معلولین، کډوال او ښځې وې. په لومړي سر کې د اندیښنو له رامینځ ته کیدو وروسته د ښځینه ګډونکوونکو شمیر

۴۰۰ ته لوړ شو چې د ګډونکوونکو ۲۰ سلنه یې جوړوله. د طالبانو او نورو بلواګرو ډلو او د سیاسي مخالفینو استازو په دې جرګه کې ګډون نه درلود.

## د سوېلي او لویدیځ افغانستان او بلوچستان د همغږۍ ټولنه (SWABAC)

دغه ټولنه د افغانستان په سوېل کې د افغان او نړیوالو نادولتي سازمانونو د همغږۍ په موخه جوړه شوې ده. د دې ټولنې مرکزي دفتر په کندهار کې دی او اوس مهال په کابل کې د نوموړې ټولنې د یوې څانګې د پرانیستلو په موخه هڅې روانې دي.

دغه ټولنه د ۱۳۶۷ کال د وږي په میاشت کې د هغو ۱۲ نادولتي سازمانونو له خوا چې د بلوچستان په کلیو او په افغانستان کې دننه له افغان کډوالو سره په مرستو او بیا رغنیزو چاروکې بوختې وې را منځ ته شوه. د نوموړې ټولنې غړیتوب هغه نا دولتي سازمانونه چې د افغانستان له حکومت سره راجستر وي او په سوېلي سیمو کې کار کوي او همغږۍ ته لیواله وي او همدارنګه د بسپنه ورکوونکو د بودیجې اسناد او سازماني تاریخچه ولري او د پنځو نورو نادولتي سازمانونو له خوا تأیید شوي وي، تر لاسه کولای شي. د ۱۳۹۰ کال د لیندۍ تر میاشتې پورې دې ټولنې۴۱ غړي درلودل. دغه ټولنه د غړیتوب منظمې غونډې، میاشتنۍ عمومي غونډې او د مشورتي کمیټې لپاره په هرو دوو اوونیو کې ګردې میز جوړوي، سر بیره پردې د اړتیا په وخت کې هم غونډې جوړوي.

د سوېلي او لویدیځ افغانستان او بلوچستان د همغږۍ د ټولنې فعالیتونه په دریوو برخو وېشل کیږي: همغږي، ملاتړ او د وړتیا لوړول. دغه ټولنه خپلو غړو ته د مرسته رسولو لپاره د پالیسۍ د لارښوونو، د سرچینود مدیریت او نورو عملیاتي مسئلو او په سوېلي افغانستان کې د مرستندویه ټولنو په مینځ کې د همغږۍ د پیاوړتیا د وروستنۍ موخې په اړه د بحث لپاره یو جرګه ځای برابروي. دې ټولنې د نادولتي سازمانونو د قانون او مقرراتو ( ۷ مخ) په تسوید کې د افغانانو لپاره د مرستو د همغږۍ له اداري ( ۴۲ مخ)، د افغانستان د نا دولتي سازمانونو د همغږۍ له اداري او د افغان ښځو له شبکې سره په همکارۍ کې برخه درلوده. د خپلو غړو نادولتي سازمانونو په استازیتوب او د سوېلي سیمو د استازي په توګه، دې ټولنې د افغانستان د ملي پراختیایي ستراتیژۍ د کرهنې او کلیو د پراختیا د سکتورونو په برخه کې اغیزمنه ونده درلوده.

په ۱۳۸۹ کال کې دې ټولنې د لندن په کنفرانس کې ګډون درلود او د سولې د جرګې او د کابل د کنفرانس لپاره د مدني ټولنو د اعلامیې په برخه کې مرسته کړې ده. همدا راز د ۲۰۱۱ کال د جون په ۲۷ نیټه په برلین کې د VENRO له خوا د نادولتي سازمانونو د شبکې په یوه ناسته کې یې ګډون وکړ. په همدې توګه SWABAC د ۲۰۱۱ کال د ډسمبر په میاشت کې د افغانستان په هکله د بن په نړیوال کنفرانس کې د افغانستان د مدني ټولنې د مشورې د یو غړي په توګه د سیمه ییز استازیتوب په معرفي کولو او نوموړي کنفرانس ته د مدني ټولنې د ګډې اعلامیې په جوړولو کې یې مهمه ونده درلوده. اوس مهال SWABAC د کندهار د ولایتي پراختیا د کمیټې د ځایي همکارۍ او همغږۍ د برخې لارښوونکی سازمان دی.

## د سیمه ییزو ارگانونو خپلواک ریاست (IDLG)

د سیمه ییزو ارگانونو خپلواک ریاست د ۱۳۸۶ کال د وږي د میاشتي په ۸ مه نیټه د ولسمشریز فرمان پر بنسټ رامینځ ته شو، د دې اداري دنده په سیمه ییزه کچه د ښې حکومتدارۍ او ثبات رامینځته کول دي. همدارنگه دغه اداره د والیانو، ولسوالانو، ولایتي شوراگانو او ښاروالیو (پرته له کابل ښاروالۍ) د څارنې دنده په غاړه لري. نوي سیمه ییزې استازې ادارې به د سیمه ییزو ارگانونو د خپلواک ریاست تر مشرۍ لاندې کارکوي. د ۱۳۸۷ کال د غویي د میاشتې له دوهم فرمان څخه وروسته، دې ریاست ته د افغانستان لپاره د سیمه ییزې حکومتدارۍ د یوې پالیسۍ د جوړولو د بهیر د لارښوونې دنده ورکړل شوه چې په دې کې ۲۳ وزارتونه او حکومتي ادارې شاملې وې.

د نوموړي ریاست دنده "د عادلانه او ډموکراتیکو بهیرونو او دښې حکومتدارۍ د ادارو له لارې د سولې او ثبات پیاوړي کول، په سیمه ییزه کچه د خدمتونو رسول، پراخې او انډولې اقتصادي ودې ته دلاس رسۍ تامین او په دې توگه د افغانانو د ژوندانه ښه کول." دي . دغه ریاست د گڼ شمیر دندو مسوولیت لري د دې ریاست لومړیتوبونه، ستراتیژۍ او دندې ددې ادارې په ستراتیژیک کاري چوکاټ ، پنځه کلن ستراتیژیک کاري پلان (چې له ۱۳۸۷-۱۳۹۲ موده یې تر پوښښ لاندې ده) او د سیمه ییزې حکومتدارۍ په پالیسۍ کې (چې د ۱۳۸۹ کال د وري د میاشتې په دوهمه نیټه تصویب شوه) څرگندې شوي دي.

دغه ریاست له ۷ ریاستونو څخه جوړ دی: د پالیسۍ ریاست، د ښاروالیو د چارو عمومي ریاست، د سیمه ییزوشورا گانو عمومي ریاست، د ستراتیژیکو همغږیو اداره(SCU)، د سرحدونو ریاست، د جندر اداره او د بشري سرچینو ریاست. د سیمه ییزو ارگانونو خپلواک ریاست په پام کې لري چې په ۱۳۹۱ کال کې د څارنې او ارزونې اداره هم جوړه کړي.

دغه ریاست د شپږو پروگرامونو مسوولیت لري لکه څرنگه چې د افغانستان په ملي پراختیایي ستراتیژۍ کې په تفصیل سره یې یادونه شوې، د حکومتدارۍ ترسیوري لاندې د سیمه ییزې حکومتدارۍ د ملي لومړیتوب پروگرام جوړوي.( ډله ییز او د ملي لومړیتوب پروگرامونه په .. مخ کې او د افغانستان ملي پراختیایي ستراتیژي په..۳۹ مخ کې وگورئ)

د ستراتیژیکې همغږۍ اداره (SCU) د دې پروگرامونو د رامینځ ته کیدو مسوولیت لري چې په راتلونکو درې کلونو کې به د سیمه ییزې حکومتدارۍ د پراختیا لارښوونه وکړي.

- د سیمه ییزو ارگانونو خپلواک ریاست په ۱۳۸۹ کال کې د کړنو پر بنسټ د والیانو صندوق(PBGF) یې را مینځ ته کړ. نوموړی صندوق د ټولنیز انسجام په برخو کې د عملیاتي پیسو په توگه والیانو ته په میاشت کې ۲۵۰۰۰ ډالره برابروي. دا پیسې د والیانو د کړنو له مخې چې په هرو درېوو میاشتو کې ارزول کیږي، برابریږي. دغه ریاست په پام کې لري چې په ۱۳۹۱ کال کې د ولایتي شورا گانو لپاره هم (PBFG) رامینځ ته کړي.

- د ولسوالیو د مرستې د پروګرام(DDP) موخه په نوو امن شوو ولسوالیو کې د ولسوالیو د خدمتونود ټولګو(DPs) د پلي کولو له لارې په ځایي کچه د حکومت د حضور پیاوړي کول دي. د ۱۳۹۰ کال د لیندۍ ترمیاشتې پورې د ۴۴ ولسوالیو لپاره د ولسوالیو ټولګې د جوړیدو په حال کې وې، ۳۸ یې جوړې شوي دي، ۳۲ د مالیې د وزارت له خوا تایید شوي دي. دا ټولګه په ۱۹ ولسوالیو کې د پلي کیدو په حال کې ده. تر اوسه پورې یوه ټولګه د هلمند ولایت د نادعلي په ولسوالی کې پلي شوې ده. د سیمه ییزو ارګانونو خپلواک کمیسیون په پام کې لري چې په ۱۳۹۲ کال کې دغه پروګرام ټولو په نښه شوو ولسوالیو ته پراخ کړي.
- د افغانستان د سیمه ییزې حکومتدارۍ دوهم پروګرام په ۳۴ ولایتونو کې د والیانو دفترونو ته تخنیکي مرستې او د وړتیا د لوړولو بیلا بیلې لارې برابروي.
- د افغانستان د سیمه ییزې ادارې د پراختیا د آسانتیا پروګرام د زیر بنا د پراختیا یو پروګرام دی چې د سیمه ییزې حکومتدارۍ ادارو ته دفترونه او بسیا آسانتیاوې برابروي.
- د افغانستان د ټولنیز انسجام پروګرام (ASOP) د سیمه ییزو ټولنو شوراګانې جوړوي چې د سیمه ییزې حکومتدارۍ په جوړښت کې یوځای کیږي. د لا زیاتو معلوماتو لپاره ASOP (په ...۲۶... مخ ) کې وګورئ.
- د ښاري وګړو لپاره د افغان سیمه ییزو ښاروالیو پروګرام(RAMP-UP) د ۳۴ ولایتونو له ښاروالیو سره د کارکوونکو د وړتیا د لوړولو او روزنې، او خدمت رسولو د کیفیت د لوړولو لپاره کار کوي.

د سیمه ییزو ارګانونو خپلواک ریاست د مسوولیتونو د لیږد له بهیر سره د پام وړ مرسته کوي. د ستراتیژیکې همغږۍ ادارې(SCU) د سیمه ییزو ارګانونو خپلواک ریاست ته د لیږد په بهیر کې د سیمه ییزې حکومتدارۍ اړوندو سیمه ییزو مهمو موضوعګانو د په نښه کولو لپاره د معلوماتو د چمتو کولو په موخه یوه اداري ارزونه پیل کړې ده. دغه ارزونه په آزمایښتي ډول په دوه ولایتونو کې په بریالیتوب سره پای ته ورسیدله، او دغه پروژه به په ټول هیواد کې پیل شي او په پام کې ده چې د نوموړې پروژې کار به د ۱۳۹۰ کال د کب په میاشت کې بشپړ شي.

نوموړی ریاست د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو له خپلواک کمیسیون سره د عامه اداري اصلاحاتو په چارو کې نږدې همکاري لري. د عامه اداري اصلاحاتو(PAR) نوښت لکه د کړنو او د رتبو پر بنسټ د معاشونو سیستم کابو په ۶۵٪ حکومتي ادارو ته معرفي شوی دی. په همدې توګه همدا اوس ۱۶ والیان او ۶۶ ولسوالان د سیاسي ټاکنو پر ځای د وړتیا پر بنسټ د آزادو سیالیو له لارې پر دندو ګمارل شوي دي.

د سیمه ییزو ارګانونو د خپلواک ریاست مهم بسپنه ورکوونکي دا دي: د ملګرو ملتونو پراختیایي اداره(UNDP) چې اوس مهال د افغانستان د سیمه ییزې حکومتدارۍ پر دوهم پروګرام کار کوي، ایشیا فونډیشن او د امریکې د پراختیایي ادارې(USAID) د وړتیا د لوړولو پروګرام (DGP).

# دعدلي سکټور سمون (JSR)

د عدلي سکټور سمون د افغانستان د حکومت د امنیتي سکټور د سمون د ستراتیژۍ له پنځو ستنو څخه یوه ستنه ده. په دې سکټور کې د پروژو یوه پراخه لړۍ شامله ده چې ګڼ شمیر فعالین یې مسوولیت په غاړه لري. د افغانستان په حکومت کې دایمي سازمانونه لکه ستره محکمه، دعدلیې وزارت، او لویه څارنوالي د دې سکټور په نوښتونو کې ښکیل او په خپله هم دعدلي سکټور د سمون له نوښتونو سره مخامخ دي. د عدلي سکټور مهم بسپنه ورکوونکي د ایټالیا، امریکې، کاناډا، ناروې، جرمنی او بریتانیې هیوادونه دي. د ملګرو ملتونو یو شمیر سازمانونه لکه د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوی یا یوناما، د ملګرو ملتونو پراختیایي پروګرام، د ماشومانو لپاره د ملګرو ملتونو وجهي صندوق یا یونیسف، د ښځو لپاره د ملګرو ملتونو وجهي صندوق یا UNIFAM هم له دې سکټور سره مرسته کوي. په دغه سکټور کې له پورته نه ښکته سازماني پراختیا او له ښکته نه پورته د عامه لاسرسۍ نوښتونه شامل دي، لکه:

- د عدلي ادارو د زیربناوو جوړول او بیارغونه او د عدلي سکټور د کارکوونکو روزل او د وړتیاوو لوړول.
- په ځینو پوهنتونونو کې د قضا اړوند روزنو او کورسونو د میتودونو نوي کول.
- د قانون تسوید.
- د حقوقي مرستو او د عامه حقوقي پوهاوي د کمپاینونو پراختیا.
- د ملي حقوقي نظام او د بشري حقونو له نړیوالو معیارونو سره سم د دودیزوعدلي میکانیزمونو وده.
- د حکومت له نورو لومړیتوبونو لکه له نشه یي توکو سره د مبارزې، له فساد سره د مبارزې او د ځمکو له اصلاحاتو سره همغږي.

له ۱۳۸۰ کال را هیسې دعدلي سکټور د سمون لاس ته راوړنې دادي؛ د مهمو قوانینو تصویب، د قاضیانو، د قضایي پولیسو، د څارنوالانو او مدافع وکیلانو روزنه؛ قضا پورې اړوند د تعلیمي میتودولوژۍ نوي کول او د یو شمیر محکمو، څارنوالیو، جیلونو او د عدلي سکټور نورو ادارو رغونه. د ایټالیا د هیواد تر مشرۍ لاندې د ولایتي عدلي نوښت په نامه پروګرام چې په ۱۳۸۳ کال کې پیل شو، افغان ښوونکي یې وروزل او په ټول هیواد کې په سیمه بیزه کچه د حقوقي وړتیا د لوړولو په موخه یې په دندو وګمارل. د حقوقي روزنو ملي خپلواک مرکز په ۱۳۸۶ کال کې د کابل په پوهنتون کې پرانیستل شو. چې دغه مرکز د پوهنتون فارغینو، حقوقي مسلکي کسانو او د افغانستان د عدلي ادارو کارکوونکو ته حقوقي روزنې وړاندې کوي؛ دې مرکز په ۱۳۸۷ کال کې د افغانستان د حقوقو لومړی بشپړ کتابتون پرانیسته.

د عدلي سکټور د سمون ژمنې د ۱۳۸۵ کال د تلې په میاشت کې د عدلي سمون د نړیوالې همغږۍ د ډلې په رامینځ ته کیدو، په دوبۍ کې د ۱۳۸۵ کال د لیندۍ د میاشتې د قانون د واکمنۍ کنفرانس،او په افغانستان کې د عدالت او د قانون د واکمنۍ په هکله د ۱۳۸۶ کال د چنګاښ د میاشتې د روم کنفرانس سره بیا متمرکزې شوې.

د روم په کنفرانس کې ګډون کوونکو- د افغان حکومت استازو، بسپنه ورکوونکو او نړیوالې ټولنې - په یو لړ ګډو موخو، اساسي اصولو اومهمو فعالیتونو سره موافقه وکړه. د اساسي فعالیتونو پلې کول له کنفرانس څخه وروسته پیل شول چې په دې کې د یو ملي عدلي پروګرام، د ملي عدلي سکټور یوه ستراتیژي، د پروګرام د بسپنه ورکوونکو د مالي مرستو لپاره یو میکانیزم، د لنډ مهالو او اوږد مهالو پروژو لپاره د فوري مرستو برابرول او د مالي مرستو همغږي شامله وه. همدا راز د روم کنفرانس برخه والو د افغانستان د ملي پراختیایي ستراتیژۍ د دارالانشأ او د څارنې او همغږۍ دګډ پلاوي په چوکاټ کې د افغانانو په مشرۍ د عدلي سکټور لپاره د څارنې او ارزونې د سیسټم په رامینځ ته کیدو سره یې موافقه وکړه.

د افغانستان د ملي پراختیایي ستراتیژۍ د بهیر د یوې برخې په توګه، د افغانستان د عدلي سکټور هرې ادارې لکه ستره محکمه، د عدلیې وزارت او لویې څارنوالۍ، د اصلاحاتو لپاره یوه پنځه کلنه ستراتیژي جوړه کړه. دغه ستراتیژۍ بیا د ملګرو ملتونو د مرستندویه پلاوي د قانون د واکمنۍ د څانګې له لارښوونې او تخنیکي مرستو سره د ۱۳۸۶ کال د لړم په میاشت کې د عدلي سکټور په یوه ستراتیژۍ کې سره یوځای شوې، د عدلي سکټور ستراتیژي د افغانستان د ملي پراختیا د سکټور په ستراتیژیو کې تر ټولو زیاته پرمختللې ستراتیژي ده. د عدلیې ملي پروګرام او د سکټور ستراتیژي دواړه د ۱۳۸۶ کال د کب په میاشت کې بشپړ شول. د دې اسنادو پر بنسټ د پروژې د څارنې کمیټه ( چې دغه کمیټه د افغان حکومت له لوړ پوړو چارواکو څخه جوړه او د بسپنه ورکوونکو د یو نړیوال مدیره پلاوي له لورې سلا مشوره ورکول کیږي) او د پروګرام څخه د ملاتړ یو واحد د ۱۳۸۷ کال د چنګاښ په میاشت کې جوړ شول.

اوس مهال د افغانستان د عدلي سکټور د سمون پروژه (AJSPR) د نړیوال بانک تر لارښوونې لاندې پر مخ ځي او د افغانستان د بیارغونې د وجهي صندوق له خوا تمویلیږي؛ دغه پروژه به د عدلي سکټور لومړنۍ پروژه وي چې د دغه وجهي صندوق له خوا تمویلیږي. نوموړې پروژه د بشري سرچینو او فزیکي زیربناوو پر مدیریت، معلوماتي او ارتباطي ټکنالوژۍ؛ حقوقي مرستو او حقوقي پوهاوي او د پروژو د څارنې کمیټې (POC) او همدارنګه د پروګرام د ملاتړ له واحد (PSU) سره د مرستو په بڼه والي تمرکز لري. د افغانستان د عدلي سکټور د سمون دوهم پروګرام (AJSRP II) د دې پروژې دوهمه تکراري بڼه ده چې باید د ۱۳۹۰ کال د مرغومي په میاشت کې بشپړه شوې وای. دغه پړاو به ګڼ شمیر هغو نوښتونو ته ادامه ورکړي چې په لومړي پړاو کې پیل شوي وو. لکه د عدلي سکټور "د بشري پانګې" وده، د بشري سرچینو د نوي میکانیزم معرفي کول، د محکمو تر مینځ د "حقوقي یووالي " د مفکورې هڅول، د حقوقو مسلکي وګړو ته د حقوقي کتابتونونو زیاتول، د بسیا فزیکي زیربناوو جوړول، او مؤکلینو ته د حقوقي مرستو رسول.

د قانون او عدالت د ملي لومړیتوب پروګرام د ټولو لپاره د ۱۳۸۹ کال د چنګاښ په میاشت د کابل په کنفرانس کې معرفي شو. په داسې حال کې چې دغه پروګرام د عدلیې په ملي پروګرام کې د عدلي سکټور د فعالیتونو

سمون ته د لازيات لومړيتوب ورکولو نيت لري، همدا راز د حقوقي نظام پر هغو برخو (چې له حقوقي نظام او دقانون د واکمنۍ په هکله د خلکو له تجربو سره خورا اړونده دي) د تمرکز په موخه طرح شوی دی. په ۱۳۹۱ کال کې قانون او عدالت د ټولو لپاره به د نوو اقداماتو لکه د وزيرانو د ملي محکمې له رامينځ ته کولو او د فساد ضد محکمې پر پراختيا سربيره به په سيمه کې د روانو فعاليتونو لکه د معاشونو او رتبو، او دسمون او بيا جوړښت لومړيتوب(PRR) پياوړي کولو ته ادامه ورکړي.

## د غوښتنو د بهير د ۱۳۹۱ (CAP) او د بشر دوستانه کړنو د پلان يوځای کيدل

د افغانستان لپاره د ۱۳۸۹ کال د بشر دوستانه کړنو پلان دا په ډاګه کړه چې له ۱۳۸۱ کال راهيسې د لومړي ځل لپاره بشر دوست فعالين د داسې يو منسجم پلان د جوړولو په موخه چې وکړای شي د افغانانو د اوږدو مودو اړتياوې په نښه کړي سره يوځای شوي دي. د ۴۷ سازمانونو له خوا له وړاندې شوو نظريو سره دې پلان د بشر دوستانه ټولنې پلانونه او ګډې ستراتيژۍ په ډاګه کړې.دغه پلان دبی ساری بيوزلۍ ، مخ په زياتيدونکې نا امنۍ ، طبيعي ناورينونو او کمزورې حکومتدارۍ د ترکيب له امله د بشر دوستانه کړنو پر اغيزمنو برخو، د رامينځ ته شوو زيانونو او اړتياوو پر بهبود تمرکز ته لومړيتوب ورکوي.

د افغانستان بشر دوستانه ملکي ډلې (HCT) پريکړه وکړه چې د غوښتنو يو ځای شوی بهير ، د بشر دوستانه ستراتيژيک پلان جوړونې او بوديجې د جلبولو عمومي ميکانيزم به د بشر دوستانه کړنو د پلان(HAP) ځای ونيسي. CAP د پروژو د يوې ټولګې سره، جګړې او طبيعي ناورينونو ځپلي کورني بی ځایه شوو وګړو، کډوالو، بيرته راستنيدونکو او کوربه وګړو او همدا راز له اوږدې مودې زيانمنونکو ټولنو سره چې ژوند ژغورونکو مرستو ته اړ دي او لاتر اوسه ورته کا رنه دی شوی د مرستو پر تيارۍ او بيرني غبرګون خپل تمرکز چټکوي. مرستې د ګډو ستراتيژيو د تضمين په موخه ، ژوند ژغورونکې او معيشت ژغورونکې اړتياوې د پياوړو بيرنيو تياريو او احتمالي پلان جوړونې سره په نښه کوي . پروژې د يوولسو ډلو او سکټورونو پر بنسټ ترتيب شوي دي: همغږي؛ پوهنه؛ بيړنی سرپناه او غير خوراکي توکي؛ بيرني مخابرات؛ د خوړو خونديتوب او کرهڼه؛ روغتيا؛ لوژستيک؛ څو سکټورونه( د کورني بی ځايه شوو او راستنيدونکو کډوالولپاره)؛ تغذي؛ ساتنه؛ اوبه، او روغتيا ساتنه.

په ۱۳۹۰ کال کې CAP د ۱۳۴ پروژو لپاره د ۶۷۸ ميليون ډالرو غوښتنه وکړه چې له افغان حکومت سره په تفاهم کې د ۵۱ بشر دوستانه سازمانونو له خوا ومنل شوه (۲۳ نړيوال غير دولتي سازمانونه، ۱۶ ملي غير دولتي سازمانونه او ۱۲ د ملګرو ملتونو ادارې). وروسته بيا دغه شميره ۴۵۳.۶ ميليون ډالرو ته راټيټه شوه چې له دې نه ۷۰ سلنه يې( ۳۱۵.۵ ميليون ډالره ) تر لاسه شول.

د ۱۳۹۱ کال CAP د ۱۴۷ پروژو لپاره د ۴۳۷ ميليون ډالرو غوښتنه وکړه چې دغه غوښتنه د ۸۰ نړيوالو نادولتي سازمانونو، ۳۸ ملي نا دولتي سازمانونو او د ملګرو ملتونو د ۲۹ ادارو له خوا د افغانستان حکومت سره په مشوره کې ومنل شوه.

سږکال CAP درې ستراتيژيکې موخې لري:

- له وسله والو نښتو څخه د را پيدا شوو اړتياوو او بشري مرستو په وړاندې غبرګون او پلان چې په ځانګړي توګه پر : بې ځايه شوو؛ هغو کسانو چې لومړنيو او بشري مرستو ته لاس رسي نه لري( لکه د افغان حکومت له خوا د ليږدول شوو په ګډون)؛ او هغه وګړي چې بشري لاس رسی نه لري( د حکومت په ګډون په نورو مرستو) متمرکزې دي؛
- هغو کسانو ته چې په غير رسمي ښاري سيمو کې ميشت دي د مرستې او ملاتړ برابرول، د راستنو شوو داخلي بې ځايه شوو لپاره د راستنيدو د لومړنيو مرستو او ساتنو برابرول؛ او
- له کلنيو او موسمي طبيعي ناورينونو څخه د راپيدا شوو بشري اړتياوو د مخنيوي لپاره تيارى او غبرګون او همدا راز د Hyogo د کاري چوکاټ ( د ناورين د ګواښ د راټيټولو لپاره د نړۍ لومړنى نړيوال کاري چوکاټ) له ۱-۴ لومړيتوبونو د پلي کيدو په اړه د پرمختګ لپاره ملاتړ.

# د فساد په وړاندې د مبارزې او څارنې لويه اداره (HOOAC)

دفساد په وړاندې د مبارزې او څارنې لويه اداره د ۱۳۸۷ کال د چنګاښ په مياشت کې د ولسمشريز فرمان له لارې په افغانستان کې د فساد په وړاندې د مبارزې د ستراتيژۍ د پلي کيدو او څارنې په موخه رامينځ ته شوه. له فساد سره مبارزه د افغانستان د ملي پراختيايي ستراتيژۍ (ANDS) يوه هر اړخيزه موضوع ده. په ۱۳۸۵ لمريز کال کې ولسمشر کرزي د اداراتو په مينځ کې د فساد ضد اړوندې کميټې (IICC) چې دنده يې په افغانستان کې د فساد په له مينځه وړلو کې مرسته وه راميځ ته کړې. دې د فساد په وړاندې د مبارزې ملي ستراتيژي چې د فساد په وړاندې د مبارزې او څارنې د لويې ادارې د رامينځ ته کيدو وړانديز يې وکړ،جوړه کړه.

همدا راز د فساد لپاره د فرصتونو د راکمولو په موخه د حکومت د ميکانيزمونو د لوړولو تر څنګ دغه اداره د ناقانونه کړنو په هکله د راپور ورکونې دنده هم لري چې خلکو ته د فساد د بيلګو په هکله د راپور ورکولو لاره هواروي چې وروسته به نومورې قضيې د دې ادارې له خوا تعقيب او د ناقانونه کړنو په اړه د پوره شواهدو د راغونډولو په صورت کې به قضيه لويې څارنوالۍ ته وليږدول شي. سره له دې چې د نومورې ادارې دنده په پراخه توګه له فساد څخه مخنيوى دى نه د قضيو تعقيب.

د فساد په وړاندې د مبارزې او څارنې د لويې ادارې د ۱۳۹۰-۱۳۹۲ کلونو ستراتيژيک پلان، سيمه ييزې کچې ته د حکومتدارۍ د سپارلو له کبله د مخ په زياتيدونکي فساد د ګواښ يادونه کوي. له دې سره په غبرګون کې نومورې اداره اووه سيمه ييزې څانګې او همدا راز يوه ولايتي کاري ډله چې په کابل کې د همدې ادارې د مرکزي دفتر له خوا به تنظيم شي، جوړوي. د ۱۳۹۰ کال د ليندۍ تر مياشتې پورې د دې ادارې پنځه سيمه ييزې څانګې پرانيستل شوي دي. دغه اداره په اوږد مهال کې ټولو ۳۴ ولايتونو ته د خپلو څانګو د غځولو نيت لري.

# د کابل کنفرانس او د کابل بهیر

د افغانستان په اړه د کابل نړیوال کنفرانس د ۱۳۸۹ کال د چنګاښ په ۲۹ نیټه دایر شو د کابل کنفرانس په ترڅ کې د کابل د بهیر اصطلاح هم مطرح شوه چې د حکومتدارۍ د سمون او د سولې د اجنډا پر عملي کولودلالت کوي چې د ۱۳۸۸ کال د لړم په میاشت کې د ولسمشر کرزي د دوهمې لوړې د مراسمو په وینا کې پرې رڼا واچول شوه.

د ولسمشر حامد کرزي او د ملګروملتونو د عمومي سر منشي بانکي مون په ګډه مشرۍ د کابل کنفرانس په حقیقت کې د افغانستان په اړه د ګڼ شمیر نړیوالو کنفرانسونو له ډلې څخه لومړنی کنفرانس و چې په هیواد کې د ننه او د نړیوالو مشرانو او بهرنیو چارو د وزیرانو په ګډون دایر شو. په دې کنفرانس کې په افغان مشرتابه او افغان واک ټینګار کیده او د دې کنفرانس په اعلامیه کې دا څرګنده شوه چې د کابل بهیر "خلکو ته د ښه امنیت، ښې حکومتدارۍ او ښو اقتصادي فرصتونو په هکله "د افغان حکومت د ژمنو بیا پخلی دی. همدا راز دې "افغان مشرتابه ته د لیږد او د امنیت او اقتصادی مرستو د برابرولو په برخه کې د نړیوالې ټولنې ژمنې بیا تکرار کړې. "

د ۱۳۸۸ کال د مرغومي په میاشت کې د لندن کنفرانس او د ۱۳۸۹ کال د غبرګولي په میاشت کې د سولې جرګه د هغو شرایطو، کاري چوکاټونو او پلانونو د رامینځ ته کولو لپاره چې د کابل په کنفرانس کې پرې موافقه وشوه مهم پړاوونه وو. په دې کې دا برخې شاملې دي:

- د ۱۳۹۳ کال تر پایه له نړیوالو سوله ساتو ځواکونو یا آیساف او ائتلافي ځواکونو څخه افغان ملي پوځ ته د امنیتي مسولیتونو لیږد
- د افغانستان د سولې او بیا پیوستون د پروګرام رامینځ ته کول
- د افغانستان یوه لومړیتوب لرونکې او بیا جوړه شوې ملي پراختیایي ستراتیژي

نړیوالو ګډونوالو د لیږد سند، د ۱۳۹۳ کال په پای کې په ټولو ولایتونو کې افغان حکومت ته د امنیتي مسوولیتونو د سپارلو ژمنې تصویب کړې. له دې لیږد سره دمرستې لپاره افغان حکومت د افغان ملی پوځ د کیفیت او کمیت د لوړولو ژمنه وکړه، په داسې حال کې چې نړیوالو ګډونوالو د افغان ملی پوځ د روزنې، سمبالونې او تمویلولو ژمنې بیا تکرار کړې. ګډونوالو په اصولو کې د افغانستان د سولې او بیا پیوستون له پروګرام سره موافقه وکړه او د سولې او بیا پیوستون د وجهي صندوق له لارې یې له دې پروګرام سره د خپلو مرستو ژمنې تکرار کړې.

د افغانستان د یوې لومړیتوب ورکول شوې ملي پراختیایي ستراتیژۍ په کاري چوکاټ کې افغان حکومت د خدمت رسوونکو ادارو، د ملي لومړیتوب د پروګرامونو د پالیسیو د پریکړو او پلي کولو پر سمون دتمرکز ژمنه وکړه. ګډونوالو د افغانستان د ملی پراختیایي ستراتیژۍ د پلي کولو او لومړیتوب ورکولو سره دمرستې په موخه د افغان حکومت ډله ییزې کړنلارې (cluster) او د وزارتونو تر مینځ د همغږۍ له میکانیزم څخه چې موخه یې د افغانستان د ملي پراختیایي ستراتیژۍ له پلي کولو او لومړیتوب ورکولو سره مرسته ده، هرکلی یې وکړ. افغان حکومت دملي لومړیتوب د پروګرامونو لازیات پیاوړي کولو او لومړیتوب ورکولو

ته د پام وړ پایلو او بودیجې سره دمرستې لپاره ژمن دی. دغه پلان د پروګرام د اغیزمن مدیریت او حساب ورکونې د تضمین په موخه د سنجولو وړ ۶ او ۱۲میاشتو او ۳ او ۵ کلنو موخو وړاندیز کوي.

د لندن کنفرانس له اعلامیې سره سم ګډونوالو په دوو کلونو کې د افغان حکومت د اصلي بودیجې له لارې د لږ تر لږه د خپلو ۵۰ سلنې مرستو د مستقیمې ورکړې اعلام وکړ. که څه هم چې ټینګار وشو چې دغه ژمنه د افغان حکومت د عامه مالي مدیریت د نظام د پیاوړي کولو لپاره د سمون په پلې کولو، د فساد په راکمولو، د بودیجوي اجرااتو په ښه کولو او د عاید د راټولولو په زیاتوالي پورې اړه لري.( د ۱۳۹۰ کال د مرغومي په میاشت کې که څه هم چې د مالیې وزارت وویل چې دغه موخې ښایي پوره نه شي). سربیره پردې نړیوالو ګډونوالو د ملي لومړیتوب دپروګرامونود ملاتړ لپاره د خپلو پراختیایي مرستو د تنظیم او په دوو راتلونکو کلونو کې د دې موخې ۸۰ سلنې ته د رسیدو لپاره یې خپله تیاري څرګنده کړه.

د افغانستان لومړیتوب ورکړل شوې ملي پراختیایي ستراتیژۍ د پلې کولو څخه د څارنې په موخه افغان حکومت او نړیوالې ټولنې د کابل د بهیر د یوې برخې په توګه د افغانانو نویو لومړیتوبونو ته په پام سره د ژمنو د دوه اړخیز پرمختګ په موخه په کال کې یو ځل د وزارتونو په کچه د غونډو نیت څرګند کړ. ګډونوالو په دې هکله چې د څارنې او همغږۍ ګډپلاوی (JCMB) به د بهیر سره دمرستې او څارنې په موخه په څلورو میاشتو کې یوځل سره غونډه کوي( چې د دایمي او فرعي کمیټو له خوا یې ملاتړ کیږي). سر بیره پردې د کابل په بهیر کې د افغان حکومت، نړیوالې ټولنې، او مدني ټولنې ( د مرسته رسوونکو سازمانونو په ګډون) تر مینځ کلنۍ غونډې هم شاملې دي. چې د ۱۳۹۰ کال د غبرګولي تر میاشتې پورې یوه یې هم تر سره نه شوه، سره له دې هم په ۱۳۹۰ کال کې د بن د کنفرانس په څیر نړیوالو کنفرانسونو د مدني ټولنې لپاره فرصت برابر کړڅو له افغان حکومت او نړیوالې ټولنې سره ښکیل و اوسي.

## د لومړیتوب ډله ییز او ملي پروګرامونه

د افغانستان د ملي پراختیایي ستراتیژۍ پلي کیدو ته د لومړیتوب ورکولو په موخه افغان حکومت د ۱۳۸۹ کال د لندن په کنفرانس کې په ډله ییز یا (Cluster) ډول د وزارتونو د بیا تنظیم وړاندیز وکړ. دا د ثبات، د دندو رامینځ ته کولو، اقتصادي ودې ، او یوې استازې او حساب ورکوونکې ادارې په ګډون هغو موضوعاتو پورې اړوند و کوم چې په نوموړي کنفرانس کې پرې بحث وشو.

حکومت په وزارتونو پورې اړوند د لومړیتوب ډله ییزو او ملي پروګرامونو د رامینځ ته کولو په موخه د وزارتونو په کچه غونډې او سلا مشورې تر سره کړې او د چنګابښ د میاشتې په کابل کنفرانس کې د بیلابیلو کلستر ډلو لپاره یې یو کاري پلان وړاندې کړ. د کلستر او NPPs په بنسټیزو اصولو کې ښه څارنه او ارزونه او د بودیجې پالیسي جوړونې ته د یوې واحدې کړنلارې رامینځ ته کول شامل دي.

د ۱۳۹۰ کال د لیندۍ تر میاشتې پورې له یو شمیر تعدیلاتو څخه وروسته ډلې او د هغوی اړوند NPPs په لاندې ډول تنظیم شوي وو:

**د حکومتدارۍ ډله**

چې په کاري ډله کې د سترې محکمې، د عدلیې وزارت، لویې څارنوالۍ، د اداري چارو د سمون او ملکي خدمتونو د خپلواک کمیسیون، د سیمه ییزو ارگانونو د خپلواک ریاست، د فساد ضد ستراتیژۍ پر تطبیق د څارنې د لویې ادارې، د اداري چارو د ادارې، د افغانستان د بشر د حقونو د خپلواک کمیسیون، د مالیې وزارت، د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت، د کورنیو چارو وزارت، او د تفتیش او څارنې د ادارې استازیتوب وشو.

**د حکومتدارۍ د ملي لومړیتوب پروگرامونه**

۱. د مالي او اقتصادي سمون لپاره د ملي لومړیتوب پروگرام

۲. د ملي حساب ورکونې او روڼوالې لپاره پروگرام

۳. د با کفایته او اغیزمن حکومت لپاره د افغانستان پروگرام

۴. د سیمه ییزې حکومتدارۍ یا ادارې په اړه ملي پروگرام

۵. د ټولو لپاره د قانون او عدالت ملي پروگرام

۶. د مدني مسوولیتونو او بشري حقونو لپاره ملي پروگرام

**د اقتصاد او زیر بنا د پراختیا ډله (EID)**

د کانونو وزارت، د ملکي هوایي چلند او ترانسپورټ، د ټولګټو، د اوبو او انرژۍ، د سوداګرۍ او صنایعو، د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ، د ښاري پراختیا وزارتونه او کابل ښاروالي.

**د EID د ملي لومړیتوب پروگرامونه:**

۱. د ملي سیمه ییزو سرچینو د لارې نوښت

۲. دملي استخراجي صنایعو ښه والی

۳. د ملي انرژۍ برابرول

۴. د ښاري پلان جوړونې د تخنیکي مرستو آسانتیا

**د خصوصی سکټور د پراختیا ډله**

د سوداګرۍ او صنایعو، د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجۍ وزارتونه

۱. د واحدې سوداګرۍ د ملاتړ اسانتیا

۲. E-Afghanistan: د معلوماتو د یوې آزادې ټولنې هڅول

**د کرهنې او کلیو د پراختیا ډله ( ARD)**

د کرهنې، اوبولګولو او مالدارۍ، د کلیو د بیا رغونې او پراختیا، د اوبو او انرژۍ او د نشه يي توکو په وړاندې د مبارزې وزارتونه .

**د ARD د ملي لومړیتوب پروګرامونه**

۱. د اوبو او طبيعي سرچينو ملي پراختیا.

۲. د هر اړخیزو کرهنیزو تولیداتو او مارکیټ ملي پراختیا.

۳. د کلیو ملي لاسرسي.

۴. د سیمه ییزو ادارو ملي پیاوړتیا.

**د بشري سرچینو د پراختیا ډله (HRD)**

د پوهنې ، د لوړو زده کړو، د ښځو د چارو، د کار، ټولنیزو چارو، شهیدانو او معلولینو د چارو، او د عامې روغتیا وزارتونه.

**د HRD د ملي لومړیتوب پروګرامونه**

۱. د وړتیاوو د پراختیا او د کار د آزاد او دوستانه مارکیټ له لارې د پاییدونکې کار لپاره د لارې هوارول.

۲. زده کړه د ټولولپاره.

۳. د لوړو زده کړو لپاره د فرصتونو پراخول.

۴. د NAPWA د پلي کیدو د چټکتیا په موخه د ظرفیت پراختیا.

۵. د روغتیا لپاره بشري سرچینې.

**د امنیت ډله**

د کابل کنفرانس د بهیر په رسمي اسنادو کې د امنیتي ډلې رښتینې جوړښت په ډاګه شوی نه دی. خو سره له دې مهم امنیتي نوښتونه د افغانستان د سولې او بیا پیوستون د پروګرام او افغان امنیتي ځواکونو ته د امنیتي مسوولیتونو د لیږد له بهیر څخه رامینځ ته کیږي. د امنیتي سکټور سمون هم په ....۴۷...مخ کې وګورئ.

**دامنیت د ملي لمړیتوب کړنلاره (پرورګرام):**

۱. د افغانستان د سولي او بیایوځای کیدنې پرورګرام (APRP، ...۳۳. مخ)

# د لندن کنفرانس، ۱۳۸۵

د ۱۳۸۴ کال د سلواغې په ۱۱ او ۱۲مه نېټه د بریتانیې حکومت د لندن په ښار کې د افغانستان په اړه د لندن د لومړني مهم کنفرانس چې مشري یې د افغان دولت او ملګرو ملتونو د لوړ پوړو چارواکو له خوا کېده، کوربه ؤ. په دې کنفرانس کې له ۷۰ هیوادو او نړیوالو سازمانونو څخه له ۷۰ څخه زیاتو پلاوو ګډون درلود، دغه کنفرانس د یوې مجتمع په توګه د افغانستان د راتلونکي پراختیایي پړاو په اړه دبحث لپاره کار کاوه. دغه کنفرانس درې موخې درلودې: په رسمي توګه د افغانستان د تړون لیک (۲۵ مخ) پیلول، نړیوالې ټولنې ته د افغان حکومت له خوا د افغانستان د ملي پراختیایي لنډمهالې ستراتیژۍ (۳۹ مخ) وړاندې کول او د دې تضمین چې د افغانستان حکومت د خپلو کورنیو موخو او نړیوالو ژمنو د پوره کولو لپاره بسیا سرچینې لري.

د لندن په کنفرانس کې د بُن د بهیر د بشپړیدو او د طالبانو له نسکورېدو را وروسته د افغانستان د پراختیا له لومړني پړاو څخه چې په کې د سیاسي ادارو بیارغول او په ډموکراتیک ډول د یو ملي حکومت تاکل شامل وو، یادونه وشوه. همدا راز په دې کنفرانس کې د نړیوالې ټولنې غړو ته دا فرصت برابر شو څو یوځل بیا د افغانستان د بیارغونې په اړه دخپلو سیاسي او مالي ژمنو پخلی وکړي.

# د لندن کنفرانس ۱۳۸۹

د افغانستان په اړه د لندن دوهم کنفرانس د ۱۳۸۸ کال د سلواغې د میاشتې په ۸ نیټه دایر شو. په دې کنفرانس کې له ۶۰ څخه زیاتو هیوادونو ګډون درلود، ددې کنفرانس ګډه مشري د ولسمشر حامد کرزي، د انګلستان د صدراعظم ګوردن براون، او د ملګرو ملتونو د عمومي سرمنشي بانکي مون له خوا د افغان مشریزې سیاسي ستراتیژۍ په ملاتړ د پوځي او ملکي سرچینو د بشپړ اندول لپاره کیده. ددې کنفرانس موخه درې مهمو برخو ته د نړیوالې ټولنې د هڅو پر مخ بیول وو: امنیت، حکومتدارۍ او پراختیا، او سیمه ییز ملاتړ. چې له دې ډلې نه د امنیت،حکومتدارۍ او پراختیا په برخه کې د پام وړ ژمنې وشوې.

د کنفرانس ګډونوالو د افغان ملي پوځ او ملي پولیسو د ودې له پړاو سره د مرستې ژمنې وکړې څو د دې ځواکونو شمیر د ۱۳۹۰ کال د تلې تر میاشتې پورې په ترتیب ۱۷۱۶۰۰ او ۱۳۴۰۰۰ ته ورسیږي. د افغان امنیتي ځواکونو دغه پرمختګ افغان امنیتي ځواک ته د امنیت د مسوولیت د سپارلو د پړاو له پلان سره چې د چنګاښ د میاشتې د کابل کنفرانس څخه مخکې مطرح شوی و او ولایت په ولایت به تر سره کیږي په یوه لیکه کې دی.

ددې هڅو لپاره مهمه موضوع د افغان حکومت هغه ژمنې وې چې د سولې او بیا پیوستون د روڼ، باثباته، پراخ بنسټه او اغیزمن پروګرام د رامینځ ته کولو په واسطه د افغانانو په مشرۍ د بیا پیوستون د هڅو له سره پیل وو. په دې کې د ۱۳۸۹ کال د کابل له کنفرانس څخه وړاندې د سولې د جرګې د راغوښتلو او د سولې او بیا پیوستون د وجهي صندوق د پرانیستلو لپاره د نړیوالې ټولنې د ژمنې پلانونه هم شامل وو.

افغان حکومت د خورا منسجمې او ښې همغږۍ شوې پراختیا لپاره یو لرلید وړاندې کړ. په دې کې د پراختیا او ښې حکومتدارۍ په ډله کې د مهمو وزارتونو شاملول، د افغانستان د ملي پراختیایي ستراتیژۍ د لومړیتوبونو تصحیح کول، او په کابل کنفرانس کې د وړاندې کولو لپاره د مفصلو معلوماتو تیارول شامل وو. ګډونکوونکو په دوو راتلونکو کلونوکې د افغانستان د ملي بودیجې له لارې د ۵۰ سلنې نړیوالو پراختیایي مرستو د ورکړې په اړه د افغان حکومت هیلې ومنلې. سربیره پر دې په دې هکله هم یادونه وشوه چې دغه مرستې د عامه مالي مدیریت د نظام په پیاوړې کولو او د فساد په راکمولو کې د حکومت پر پرمختګونو مشروطې دي. د ۱۳۹۰ کال د مرغومي په میاشت کې د مالیې وزارت څرګنده کړه چې ښایي دغه موخې په نږدې راتلونکي کې پوره نه شي.

## د مدني ټولنې او بشري حقونو شبکه (CSHRN)

www.cshrn.af

د مدنی ټولنې او بشري حقونو د شبکې موخه(CSHRN) په افغانستان کې د بشري حقونو د پیاوړې نهضت له لارې بشري حقونو ته د درناوي زیاتول دي. د غه شبکه د ۱۳۸۳ کال د زمري په میاشت کې د ۲۵ افغاني سازمانونو له خوا رامینځ ته شوه، چې اوس مهال ۹۱ غړي سازمانونه لري. دغه سازمان د اقتصاد په وزارت کې د مدني ټولنې او بشري حقونو د سازمان په نامه ثبت دی.

ددې شبکې غړي سازمانونه د ښځو او ماشومانو د حقونو، د بیان د آزادۍ، د رسنیو د آزادۍ او د قانون د واکمنۍ په ګډون د بشر د حقونو لپاره په انفرادي او ټولیزه توګه کار کوي. همدا راز دغه شبکه له دولتي ادارو سره د خبرو اترو لاره هواروي دغه شبکه د غړو سازمانونو، دولتي ادارو او مشرانو تر مینځ خبرې اترې تنظیموي.

د مدني ټولنې او بشري حقونو شبکه یو شمیر پوه او با تجربه روزونکې لري چې د افغانستان له شرایطو سره سم یې یو لړ روزنیز لارښودونه برابر کړي دي چې پر بشري حقونو، د جګړې پر بدلون، انتقالي عدالت او د ښځو پر حقونو تمرکز لري. دغه شبکه د بشري حقونو د روزنې او په دې هکله د بحثونو د هڅونې په موخه رسنۍ کاروي. د سهار مو نیکمرغه افغانستان له راډیویي چینل سره کار کوي ، دغه شبکه د غږ په نامه د بشري حقونو اوونیزه خپرونه خپروي. همدا راز دغه شبکه په هرات او مزار شریف کې له ځایی راډیو ګانو څخه کار اخلي. سر بیره پردې دغه شبکه د انګاره تر سر لیک لاندې یوه درې میاشتنۍ مجله خپروي او د کلید په نامه اوونیزې کورنۍ مجله کې د بشري حقونو تر نامه لاندې یوه صفحه خپروي. همدا راز دغه سازمان د موضوع او د پالیسۍ پر بنسټ د مدافعې پروژې پر مخ بیایي. په ۱۳۹۰ ( ۲۰۱۱ ) کال کې دې سازمان په هرات کې د کورني تاوتریخوالي د راکمولو په موخه یې یو کمپاین پیل کړ او د معلوماتو د آزادۍ په اړه یې د یو قانون مسوده جوړه کړه.

ددې شبکې مرکزي دفتر په کابل او سیمه ییزې څانګې یې په جلال آباد، مزار شریف، بامیانو او هرات کې میشتې دي. د دې شبکې عمومي غونډه د دې شبکې د پالیسي جوړونې او پریکړه کوونکې ډلې په توګه له

غړو سازمانونو څخه جوړه ده. د مشرتابه کمیټه له یوولسو ټاکل شوو غړو څخه جوړه ده چې دا تضمینوي چې ددې شبکې ټول فعالیتونه د منل شوو قوانینو او ستراتیژیو سره سم دي.

## د ملي پیوستون پروګرام (NSP)

www.nspafghanistan.org

د ملي پیوستون پروګرام (NSP) د افغان حکومت یو مخکښه پروګرام دی چې په دري ژبه د همبستګي ملي او په انګلیسي ژبه د (National Solidarity Program) په نامه یادیږي. د ملي پیوستون پروګرام د باور په رامینځ ته کولو کې مرسته کوي او کلیوالي ټولنې له مرکزي حکومت سره د خدمتونو د لیږد له لارې نښلوي او له لاندینیو لارو د ولسواکۍ بنسټونه هڅوي:

- په ډموکراټیک ډول د ټاکل شوو شوراګانو د رامینځ ته کولو له لارې د کلیو په کچه د ځایي حکومتدارۍ پراختیا.
- د هیواد په کچه په کلیوالو ټولنو کې بنسټیزې زیربنا او ټولنیزو- اقتصادي پراختیایي فرصتونو ته د لاس رسۍ وده.

د ملي پیوستون پروګرام هڅه کوي چې دغو موخو ته دپروګرام د دریوو مهمو برخو له لارې ورسیږي:

١. د ټولنیزو پراختیایي شوراګانو له را مینځ ته کیدو سره مرسته، په ډموکراټیک ډول ټاکل شوې د ټولنې له ښځینه او نارینه غړو څخه جوړې پریکړه کوونکې استازې ادارې دي چې د کلیو په کچه د پراختیایي پلان جوړونې او لومړیتوبونو لارښوونه کوي.

٢. ټولنیزو پراختیایي شوراګانو ته د ټولنې لومړیتوب لرونکو ټولنیزو- اقتصادي پراختیایي پروژو د پلي کولو په موخه د ځانګړې بودیجې ورکول( د ځانګړې بودیجې منځنۍ کچه ۳۳.۵۰۰ ډالره، تر ټولو ټیټه اندازه یې ۵۰۰۰ او تر ټولو لوړه اندازه یې ۶۰۰۰۰ ډالره ده) او پراختیایي شوراګانو ته د سرچینو د ښه مدیریت او د حکومتدارۍ له لومړنیو دندو او پراختیا سره د مرستې په موخه د وړتیا د لوړولو د پروګرامونو وړاندې کول؛

٣. د ټولنیزو پراختیایي شوراګانو او نورو پراختیایي او حکومتي ادارو تر مینځ د اړیکو رامینځ ته کول.

دغه پروګرام د ټولنو له خوا دملي پیوستون د ۲۹ ملي او نړیوالو غیر دولتي سازمانونو لکه (UN- Habitat) په مرسته پلی کیږي.

د ملي پیوستون پروګرام هیله لري چې د سیمه ییزې حکومتدارۍ، د کلیو د بیا رغونې او د بیوزلۍ د راټیټولو دوامداره، او بنسټیزې بنې رامینځ ته کړي او د افغان ټولنو د وړتیا د لوړولو له لارې افغانان خپلې پراختیایي پروژې په خپله په ډاګه، پلان، مدیریت او څارنه یې وکړي. ټولنې پیاوړې کیږي څو پریکړې وکړي او د

پروژې د ټولو پړاوونو په بهیر کې د سرچینو مدیریت وکړي همدا راز هیله کوي چې دغه پیاوړې شوې ټولنې په ګډه له بشري خونديتوب سره مرسته وکړي.

د ملي پيوستون پروګرام په ۱۳۸۲ کال کې د نړيوال بانک له خوا د ماليې او د کليو د بيارغونې او پراختيا د وزيرانو په ګډون د افغانستان له لنډ مهال حکومت سره په مشوره کې مينځ ته راغی. د ۱۳۹۰ کال د ليندۍ د مياشتې تر وروستيو پورې د ملي پيوستون پروګرام دکليو ۷۵ سلنه وکړي يې تر خپل پوښښ لاندې راوستي دي او د افغانستان د کابو ۴۰۰ولايتي او ولسواليو د مرکزونو له ډلې نه يې په ۳۵۷ مرکزونو کې له ۲۸۲۴۳ څخه زياتې ټولنيزې پراختيايي شورا ګانې جوړې کړي دي. د خپل کار له پيل راهيسې دې پروګرام له ۹۱۴ ميليون ډالرو څخه زياتې پيسې يې کليوالي ټولنو ته د بوديجې په توګه ويشلې چې په پايله کې د څه د پاسه ۶۰۳۸۶ ټولنيزو لومړيتوب ورکول شوو فرعي پروژو سره مالي مرسته شوې ده. او د دې فرعي پروژو له ډلې نه له ۴۷۵۲۴ څخه زياتې پروژې بشپړې شوي دي. چې د دې فرعي پروژو له ډلې نه د ترانسپورټ (۲۵٪)، اوبو رسولو او روغتيا ساتنې (۲۴٪)، اوبولګولو (۱۸٪)، د بريښنا (۱۳٪) پوهنې (۱۲٪)، معيشت (۵٪) او نوروبرخو کې (۳٪) زياته پاملرنه شوې ده. د ملي پيوستون پروګرام د هيواد په زياترو ليرو پرتو سيمو کې د حکومت يوائينی فعال پراختيايي پروګرام دی.

د ملي پيوستون د پروګرام لومړی پړاو چې ۱۷۳۰۰ ټولنې يې تر پوښښ لاندې وې د ۱۳۸۵ کال د کب په مياشت کې بشپړ شو. ددې پروګرام دوهم پړاو چې ۶۰۰۰ نورې ټولنې يې تر پوښښ لاندې وې د ۱۳۸۶ کال د وري په مياشت کې پيل او د ۱۳۹۰ کال د وږي تر مياشتې پورې يې دوام وکړ او په دې توګه د ملي پيوستون دپروګرام ټوليز پوښښ ۲۳۲۰۰ ټولنو ته رسيږي. د دې پروګرام دريم پړاو چې له (۲۰۱۰-۲۰۱۵) کاله پورې به دوام وکړي د افغان حکومت له خوا له نړيوال بانک، د ملي پيوستون د بسپنه ورکوونکو، مرستندويه ملګرو، د ټولنې غړو او نورو ونډه والو په سلا مشوره طرح شوی. په داسې حال کې چې ددې پروګرام دريم پړاو يو شمير نوي عناصروړاندې کوي، دغه پروګرام د يو ټولنيز هڅوونکي پراختيايي پروګرام په توګه پاتې دی. ددې پروګرام ټوليزې پراختيايي موخې د سيمه ييزې حکومتدارۍ او ټولنيزې- اقتصادي پراختيا لپاره د اغيزمنو ادارو په توګه د ټولنيزو پراختيايي شوراګانو جوړول، پياوړي کول او ساتل دي.

د ملي پيوستون د پروګرام دريم پړاو له درې عناصرو څخه جوړ دی: (۱) د ملي پيوستون دريم پړاو به څه دپاسه ۱۶۰۰۰ ځايي ټولنو ته چې لا تر اوسه ددې پروګرام تر پوښښ لاندې نه دي راغلي د هيواد په کچه د لومړنۍ ځانګړې مالي مرستې په بشپړولو کې مرسته وکړي او په دې توګه دغه پروګرام به په افغانستان کې ټولې کليوالي ټولنې چې کابو ۳۹۲۰۰ ته رسيږي تر خپل پوښښ لاندې راولي. (۲) د بوديجې د برابرولو په دوهم پړاو کې به ۱۲۰۰۰ هغو ټولنو ته چې خپله لومړنۍ بوديجه يې په برياليتوب سره لګولې او خپلې فرعي پروژې يې بشپړې کړي دي. ( د نوې بوديجې د تر لاسه کولو لپاره دغه ټولنې بايد نوې ټاکنې وکړي او د خپلې ټولنې پراختيايي پلان نوی کړي) (۳) دملي پيوستون د پروګرام دريم پړاو به د وړتيا پر لوړولو،

د سازماني کیفیت پر ښه کولو، د ټولنیزو پراختیایی شورا ګانو پر پاینت او اداريِ تمرکز وکړي څو وکړای شي له نورو ادارو سره د ځایي پراختیايي فعالیتونو د وسیلې په توګه ښکیل و اوسي.

د ملي پیوستون د پروګرام د دریم پړاو لګښت د پنځو کلونو لپاره ۱.۵ میلیارد ډالره اټکل شوی. ځانګړې بودیجه ددې پروګرام د ټولیز لګښت ۷۰ سلنه جوړوي، چې په دې کې لس سلنه یې د ځایي ټولنو له خوا په نقدي او یا جنسي ډول مرسته کیږي.

د ملي پیوستون د پروګرام د څارني دنده د کلیو د بیارغوني او پراختیا د وزارت او مدیریت یې د نړیوال بانک له خوا کیږي چې د دې بانک کاري ډله پروژې ته د پلي کیدو په برخه کې مرستې برابروي.

اوس د ملي پیوستون پروګرام ۱.۱ میلیارد ډالره بودیجه تر لاسه کړې چې په کې ۳۹۵ میلیون ډالره د نړیوالو پراختیایي مرستو، ۶۱۹ میلیون ډالر د افغانستان د بیارغوني د وجهي صندوق، ۴۱ میلیون ډالره د جاپان د ټولنیز پراختیایي صندوق (JSDF) او پاتې ۱۱۳ میلیون ډالره د دوه اړخیزه بسپنه ورکوونکو له خوا دې پروګرام ته برابریږي.

ددې پروګرام مرستندویه هیوادونه آسټرالیا، بلجیم، کاناډا، قبرس، د چک جمهوریت، ډنمارک، د اروپا کمیسیون، فرانسه، جرمني، ایټالیا، جاپان، نیو زیلاند ، ناروې، سویډن ، هسپانیه، سویزرلنډ، هالنډ ، انګلستان او د امریکې متحده ایالتونه دي.

# د مرکزي احصائیې اداره (CSO)

www.cso.gov.af

د مرکزي احصائیې اداره یوه مرکزي حکومتي اداره ده چې د رسمي احصائیو د راغونډولو او خپرولو دنده په غاړه لري. دغه اداره له نورو دولتي چارواکو څخه د ملي حسابونو، د بیو د انډیکس، بهرنۍ سوداګرۍ، او نفوسو په اړه معلومات راغونډوي اوشننه یې کوي څو د اقتصادي، مالي، جوړښتي پالیسیو او نورو فعالیتونو د څارنې لپاره ترې ګټه واخیستل شي.

د مرکزي احصائیې اداره چې په۱۳۵۲ لمریز کال کې جوړه شوه د ۱۳۸۴ کال د کب په میاشت کې د ولسمشریز فرمان پر بنسټ دیوې خپلواکې ادارې په توګه اعلام شوه. د دغې ادارې ۸۰۰ کارکوونکي د کابل په مرکزي دفتر او په ټولو ولایتونو کې د دې ادارې په سیمه ییزو څانګو کې په کار بوخت دي. د مرکزي احصائیې اداره په مستقیمه توګه ولسمشر ته رپوټ ورکوي او د ملي احصائیې د کمیټې او د ملي سرشمیرنې د کمیټې (د ملي سرشمیرنې د پلي کولو په موخه د لنډمهال لپاره جوړه شوې ده) له خوا ورته سلا مشورې ورکول کیږي. په دې دواړو کمیټو کې د ګڼ شمیر وزارتونو او خصوصي سکټور استازي برخه لري.

د مرکزي احصائيې د ادارې  چارې په لسو (۱۰) سترو څانګو وېشل شوي دي: اقتصادي احصائيه؛ د نفوسو او ټولنيزه احصائيه؛ د ملي حسابونو؛ عملياتي، د خپرونو او خپرولو، د ستراتيژيکي پلان جوړونې او له بسپنه ورکوونکو  سره د اړيکو،  اداري، داخلي ارزونې او پلټنې، د کارکوونکو  روزنيز مرکز، او يو سکرتريت.

 د مرکزي احصائيې اداره د افغانستان کلنی احصائيوي کتاب، د کورنيو له خوا  د توکو او خدمتونو د لګښت د بيې د منځني اټکل (CPI) کلنی کتاب،   د  افغانستان د سوداګرۍ کلنی احصائيوي کتاب( هغه خپرونه چې پر بهرنی سوداګرۍ تمرکز لري)، او د افغانستان د نفوسو اټکل ( په ولايتي او سيمه ييزه کچه د جندر او ښاري – کليوالي هستوګنو په اړه معلومات خپروي) هر کال خپروي.  دغه اداره د بهرنيو سوداګريزو احصائيو، او په کابل او جلال آباد  کې د کورنيو له خوا د توکواو خدمتونو د لګښت دمياشتنۍ بيې منځنی اټکل(CPI)، او دکورنيو  د ورځني لګښت په اړه يوه  درې مياشتينۍ ګڼه خپروي. په ۱۳۹۰ کال کې دې ادارې په داسې حال کې چې د ) CPI) په سبد کې د توکو شميره  له ۲۰۲ څخه ۲۹۰ ته زياتوي د (CPI) رپوټ ورکونه يې له شپږو ولايتونو څخه لسو ولايتونو ته غځولې ده. د دې ادارې خپرونې په پښتو، دري او انګليسي ژبو خپريږي همدا راز نوي معلومات د دې ادارې په ويب پاڼه کې  په منظم ډول خپريږي.

په ۱۳۸۳ کال کې د مرکزي احصائيې ادارې د نړيوال بانک، د آسيا پراختيايي بانک، د پيسو نړيوال صندوق، او د انګلستان د نړيوالې پراختيايي ادارې (DFID) په مرسته  د احصائيې يو ماسټر پلان جوړ کړچې  په ۱۳۸۴ کال کې تصويب شو، دې ماسټر پلان د حکومت پروګرام جوړونې ته د اړينو ملي معلوماتو د راغونډولو لپاره د مرکزي احصائيې په اداره کې د وړتيا د لوړولو  يو پروګرام  طرح کړ.  په ۱۳۸۷ کال کې  د مرکزي احصائيې  ادارې  په کابل کې د معيوبينو  لپاره د اسانتياوو يوه سروې پيل کړه او په ۱۳۸۸  کال کې  يې د اقتصادي ادارو  او په ملي کچه تصميم نيونې کې د ښځو د ګډون په هکله يوه سروې پيل کړه.

د مرکزي احصائيې اداره  به د بُن د تړون له مخې د وګړو ملي سر شميرنه پيل کړي.  وروستۍ سرشميرنه په ۱۳۵۷ کال کې پيل شوه، خو هيڅ کله بشپړه نه شوه. د غه اداره  له ۱۳۸۲ کال راهيسې د سرشميرنې په مقدماتي چارو کې بوخته ده؛ د ۱۳۸۶ کال په نيمايي کې دې ادارې  د خنډونو او ستونزو د په نښه کولو په موخه يوه آزمايشي سر شميرنه او د ټولو ۳۴ ولايتونو لپاره يې د کورنيو لومړنۍ ليست نيونه پيل کړه چې په ۱۳۸۸  کال کې بشپړه شوه. که څه هم چې په هيواد کې د پام وړ امنيت تر تأمين  پورې د وګړو بشپړه سر شميرنه  به شوني نه وي خو يوه سمه سر شميرنه به ۲۱ ورځې وخت ونيسي چې ۳۷۰۰۰ کارکوونکو او کابو ۶۲ ميليون ډالره بوديجې ته اړتيا لري.

د مرکزي احصائيې ادارې  او دکليو د بيا رغونې او پراختيا وزارت د اروپايی کميسيون په همکارۍ د ۱۳۸۸  کال دتلي په مياشت  کې د ۱۳۸۷/۱۳۸۶ کال د ګواښ او زيانمننې د ملي ارزونې(NRVA) موندنې خپرې کړې. چې دغه وروستۍ( NRVA)  د لنډ  مهالو معلوماتو د راغونډولو څخه د يوې کلنۍ ستراتيژۍ پر لور يو بدلون يې په نښه کړ. د دې ارزونې عملي کار د ۱۳۸۶ کال د زمري  له مياشتې نه د  ۱۳۸۷ کال د زمري تر مياشتې پورې دوام درلود چې موخه يې د راغونډو شوو معلوماتو د کيفيت د ښه کولو  لپاره د

موسمي لګښتونو تر لاسه کول او په سیمه کې د مرکه کوونکو د یوې کوچنۍ ډلې ګمارل وو چې په خورا دقت سره ټاکل شوې وه. ددې ارزونې له لارې په دې برخو کې معلومات راغونډ شول: د نفوسو جوړښت او بدلون، د کار د ځواک ځانګړتیاوې، کرهنه، بیوزلي او مساوات، پوهنه، روغتیا، د هستوګنځي برابرول، د ښځو دریځ، کورنۍ ترینګلتیاوې او ټولنیز غوره توبونه. همدا راز دې ارزونې په افغانستان کې د بیوزلۍ کچه ۳۶ سلنه وښوده، په دې معنی چې کابو ۹ میلیونه افغانان د خپلو بنسټیزو لګښتونو او نورو اړتیاوو د پوره کولو وړتیا نه لري. سر بیره پر دې د بیوزلۍ کچې ته نږدې ګڼ شمیر نور وګړي هم شته چې یوه منفي ضربه کولای شي نور ډیر زیات وګړي د بیوزلۍ لور ته ولیږدوي.

په ۱۳۹۰ کال کې دې ادارې د بامیان ولایت یوه (Socio-Demographic & Economic Survey SDES) ( ټولنیزه- د نفوسو او اقتصادي) سروې پیل کړه او د ګواښ او زیانمنې ملي ارزونې ته ورته معلومات یې راغونډ کړل. په ۱۳۹۱ کال کې SDES به د غور او دایکنډي په ولایتونو کې هم تر سره شي. د مرکزي احصائیې اداره په پام کې لري څو په ټول هیواد کې د سروې په موخه دغه سروې ته په کلنې او منظم ډول ادامه ورکړي. د NRVA او د SDES له فعالیتونوڅخه تر لاسه شوې پایلې او رپوټونه د مرکزي احصائیې د ادارې په ویب پاڼه کې د لاس رسی وړ دي.

ټول هغه سازمانونه چې په پام کې لري په افغانستان کې احصائیوي څیړنې وکړي، د قانون له مخې اړ دي چې خپل فعالیتونه د مرکزي احصائیې له ادارې سره همغږې کړي.

## د نادولتي مؤسسو قانون او کړنلاره

www.ngo-dept.gov.af

له ۱۳۸۱ کال څخه دوه ستر نوښتونه په دې موخه رامینځ ته شوي څو دا روښانه کړي چې کوم سازمانونه غیر انتفاعي نادولتي سازمانونه دي او کوم یې نه دي، او په افغانستان کې د نادولتي مؤسسو په فعالیتونو کې رونېوالی او حساب ورکونه پیاوړي کړي. لومړی نوښت هغه قانون ؤ چې د هغه له مخې دا څرګندیږي چې یوه نادولتي مؤسسه څه ده او د هغوي مجاز فعالیتونه څه دي، د نادولتي مؤسسو د جوړولو او داخلي ادارې لپاره یو شمېر معیارونه برابروي، د نادولتي مؤسسو لپاره د رپوټ ورکونې شرایط څرګندوي، او هغه ډله انتفاعي مؤسسو ته چې اوسمهال د نادولتي مؤسسو په بڼه ثبت شوي دي دا توان ورکوي ترڅو ځان په سوداګریزه بڼه سمبال کړي، او د نادولتي مؤسسو په چارو کې رونېوالي او حساب ورکونې ته وده ورکوي. دوهم نوښت د نادولتي مؤسسو قانون او کړنلاره وه چې د هغو نادولتي مؤسسو د ټولنې له خوا چې په افغانستان کې په فعالیت بوخت دي د یو خودمختاره میکانیزم په څیر طرح شو ترڅو د رونېوالي، حساب ورکونې او مسلکي معیارونو په اړه د ټولو لاسلیک کوونکو هوډ تضمین کړي.

له نادولتي مؤسسو سره په سلا او د نادولتي مؤسسو لپاره دغیر انتفاعي قانون د نړیوال مرکز په تخنیکي مرسته د نادولتي مؤسسو د قانون لومړۍ مسوده په ۱۳۸۲ ل کال کې عدلیې وزارت ته وړاندې شوه. د ۱۳۸۳ او ۱۳۸۴ کلونو د وري په میاشتو کې د افغانستان د پراختیا په غونډو کې له نادولتي مؤسسوڅخه په وخت د قانون جوړوني غوښتنه وشوه، او په پای کې د نادولتي مؤسسو قانون د ۱۳۸۴ کال د غبرګولي په میاشت کې تصویب شو. دغه قانون یوه داسې وسیله برابره کړه ، چې له مخې یې دغیر انتفاعي نادولتي موسسو او هغو ترون کوونکو تر مینځ چې د نا دولتي سازمانونو په توګه ثبت شوي دي توپیر را مینځ ته کوي (د ۱۳۸۰ او ۱۳۸۳ کلونو تر مینځ د ثبت لپاره د رسمي معیارونو د نه شتون سره سره شاوخوا ۲۴۰۰ اداري د نادولتي مؤسسو په توګه له حکومت سره ثبت شوي دي). په لنډ ډول کله چې د ۱۳۸۲ کال د چنګاښ په میاشت کې د نادولتي مؤسسو د قانون لومړۍ مسوده حکومت ته وړاندې شوه، نو ۱۲۰ نادولتي مؤسسو د نادولتي مؤسسو د قانون او کړنلارې په منځپانګې د بحث لپاره په یو ورکشاپ کې ګډون وکړ. دغه قانون په افغانستان کې د نادولتي مؤسسو د ۴ سترو همغږو کوونکو ادارو: اکبر یا د افغانانو لپاره د مرستو همغږي کوونکي، د افغاني نادولتي مؤسسو د همغږۍ اداره، د سهیلي او لویدیځ افغانستان او بلوچستان د همغږۍ اداره او د افغان ښځو د شبکې له خوا تسویدشوی ؤ. د دغه قانون دارالانشاء د اکبر د موسسې تر څارنې لاندې جوړه شوه ترڅوهغه مسوده چې د ۱۳۸۳ کال د غویي په میاشت کې بشپړه شوه تنظیم او وروستۍ یې کړي. په پای کې د نادولتي مؤسسو قانون د ۱۳۸۴ل کال د غبرګولي د میاشتې په ۹مه نېټه په عمومي ډول د نادولتي مؤسسو له خوا رامینځ ته شو. د دې لپاره چې نوموړی قانون ټول لاسلیک کړي، نو له نادولتي موسسو څخه وغوښتل شول څو یو شمیر اسناد چې ددوی د نا دولتي سازمان حالت، لکه قانوني ثبت،د همغږۍ د ادارو غړیتوب، مالي ریکارډ، او اړونده وزارت ته د رپوټ ورکولو شواهد څرګندوي، وړاندې کړي. د نادولتي مؤسسو قانون څه دپاسه۱۰۰ افغان او نړیوال لاسلیک کوونکي لري.

د نادولتي سازمانونو په اړه د قانون له مخې، نادولتي سازمانونه مکلف دي څو خپلې پانګې او لګښتونه ثبت او په دې اړه د اقتصاد وزارت او نورو اړوندو حکومتي ادارو ته په کال کې دوه ځلې رپوټ ورکړي او همدا راز په کال کې یو ځل د خپلو پلې شوو پروژو د مالي څارنې تو تفتیش په اړه هم رپوټ ورکړي. د اقتصاد وزارت د نادولتي سازمانونو ریاست او د هغوی ویب پاڼه ( چې پورته یې یادونه شوې ده) کولای شي د ناد ولتي سازمانونو د ثبت او رپوټ ورکونې په اړه لازم معلومات وړاندې کړي.،

## د نشه یي توکو پر وړاندې مبارزه (CN)

www.mcn.gov.af

د ۱۳۸۳ کال د لیندۍ په میاشت کې نوي ټاکل شوي جمهور رئیس حامد کرزي د نشه یي توکو په وړاندې د مبارزې په ملي کنفرانس کې له نشه یي توکو سره مبارزه د خپل حکومت له لومړیتوبونو څخه وګڼله او په افغانستان کې د نشه یي توکو پر کرکیله، تولید، ناوړه کاروني او قاچاق بندیز ولګیده.

له نشه يي توکو سره مبارزه د حکومت د امنيتي سکټور د سمون په پالیسۍ کې له پنځو ستنو څخه یوه ده او د افغانستان په تړون او د افغانستان په ملی پراختیایي ستراتیژۍ او په دې وروستیو کې د کابل په بهیر کې د یوې ارزښتناکې او هراړخیزې موضوع په توګه راغلې ده. له نشه يي توکو سره د مبارزې وزارت پر پالیسۍ او ستراتیژۍ څارنه کوي او له نشه يي توکو سره د مبارزې ټول فعالیتونه همغږي کوي او د ګڼ شمیر وزارتونو لکه د کورنیو چارو، کرهنې، اوبولګولو او مالدارۍ، د کلیو د بیا رغونې او پراختیا، د عامې روغتیا وزارت او د ملګرو ملتونو له نشه يي توکو او جرمونو سره د مبارزې له دفتر(UNODC) سره په ګډه کار کوي. اوس مهال له نشه يي توکوسره د مبارزې دنوښتونو لارښوونه د نشه يي توکو دکنټرول د ملي ستراتیژۍ(NDCS) د ۱۳۸۵ کال د نوې نسخې له لارې چې د نشه يي توکو سره دمبارزې د وزارت له خوا د نوي کولو په بهیر کې ده، کیږي.اوس مهال د نشه يي توکو د کنټرول ملي ستراتیژي د حکومت له نشه يي توکو سره د مبارزې لپاره د ستراتیژیک کاري چوکاټ په توګه څلور مهم لومړیتوبونه وړاندې کوي:

۱. د قاچاقچیانو او د هغوي د ملاتړ کوونکو د په نښه کولو له لارې د نشه يي توکو د سوداګرۍ او د سوداګریزو بنسټونو له منځه وړل.

۲. د کلیوالي مشروع معیشتونو پیاوړي کول او متنوع کول.

۳. د غیر قانوني درملو د غوښتنې کمول او په نشه يي توکو د روږدو کسانو د ستونزو درملنه.

۴. په مرکز او ولایتونو کې د دولتي ادارو پیاوړي کول.

سربیره پردې لومړیتوبونو، د نشه يي توکو د کنټرول ملي ستراتیژي د فعالیتونو اته ستنې په نښه کوي: عامه پوهاوی، نړیواله او سیمه ییزه همکاري، د معیشتونو بدیل، د نشه يي توکو د غوښتنې راټیټول، د قانون پلي کول، جنايي عدالت، د جرړو را ایستل، اود ادارو رغونه.

له نشه يي توکو سره د مبارزې قانون چې د ۱۳۸۴ کال د لیندۍ په میاشت کې د ولسمشریز فرمان او د ۱۳۸۳ کال د اساسي قانون د اوومې(۷) مادې پر بنسټ تصویب شو د نشه يي توکو د کنټرول له ملي ستراتیژۍ څخه ملاتړ کوي. دا قانون څرګندوي چې "دولت د هر ډول ترهګریزو فعالیتونو، د نشه يي توکو د کرکیلې او قاچاق، او د نشه راوړونکو موادو د تولید او مصرف د مخنیوي دنده لري." لکه څرنګه چې د نشه يي توکو په قانون کې په تفصیل سره راغلي دي د عدلیې وزارت د نشه يي توکو سره د مبارزې یو اغیزمن کاري چوکاټ جوړ او د ۱۳۸۳ کال د سلواغې په میاشت کې د نشه يي توکو پر وړاندې د مبارزې په موخه د جنايي عدالت یوه کاري ډله جوړه کړه څو له نشه يي توکو سره د مبارزې په قضیوکې ښکیل وي او د نشه يي توکو سره د مبارزې د کړنلارو په برخه کې قاضیان، څارنوالان، او پلټونکي وروزي.

له نشه يي توکو سره دمبارزې د قانون د پلي کولو لپاره دوه اداري شته، چې دواړه د نشه يي توکو سره د مبارزې په برخه کې د کورنیو چارو د مرستیال وزیر تر مشرۍ لاندې کار کوي. د افغانستان د نشه يي توکوسره د مبارزې پولیس (CNPA) د نږدې ۲۵۰۰ ځواک په درلودلو سره له نشه يي توکو سره د

مبارزې د قانون  د پلي کولو، دنشه يي توکو د قاچاق د اړوندو سرغړونو کشف او پلټنې د همغږۍ لومړنۍ مسووله اداره ده.  دا د افغانستان له نشه يي توکو سره د مبارزې د پوليسو بيلابيل مرکزي واحدونه لري چې د نړيوالو ادارو له خوا روزل کيږي لکه د نړيوالې مخنيوی کوونکي اداري(NIU) او حساسې پلټونکي اداري(SIU )له خوا چې د امريکې د متحدو ايالتونو د نشه يي توکو د انفاذ د ادارې له خوا روزل کيږي. له نشه يي توکو سره دمبارزې ځانګړی ځواک چې په ټول افغانستان کې د نشه يي توکو د مخنيوي دعملياتو دنده لري،  د نشه يي توکو سره د مبارزې له  پوليسو سره له نږدې همکاري کوي. افغان ملي پوليسو او سرحدي پوليسو ته له نشه يي توکو سره د مبارزې روزنه هم ورکول کيږي.

له نشه يي توکو سره د مبارزې د ستراتيژۍ د يادو شوو ستنو له ډلې نه د معيشت بديل ته زيات ارزښت ورکړل شوی دی. د دې موخې د اپينو بزګرانو او کارګرانو ته د بديل محصول انتخاب، د پور ميکانيزمونه، سوداګريزې مرستې، بازار ته لاسرسي او د کار فرصتونه دي. په لنډ مهال کې د معيشت د بديل پروګرامونه هڅه کوي څو هغو کسانو ته چې په خپله خوښه يې  د کوکناروکرکيله بنده کړې او يا د دوی محصول  په زور ويجاړ شوی او په دې توګه يې خپل معيشت له لاسه ورکړی مرستې برابرې کړي. چې په دې کې د هغو کاري پروژو لپاره  چې د کليو زيربنا جوړوي او يا يې بيا رغوي نقدې پيسې، د عايد لرونکو کارونو رامينځ ته کول، او د زيانمنوشوو کورنيو لپاره د وړتيا لوړونکي فعاليتونه راځي. په اوږد مهال کې دغه پروګرام په پام کې لري چې د کليوالي پراختيا هر اړخيز نوښتونه و اوسي. د کرهنې او کليو د پراختيا د هر اړخيزې مرستې(CARD-F)  پروګرام د ۱۳۸۸ کال د تلې په مياشت کې پيل شو، چې له نشه يي توکو سره د مبارزې او د معيشت د بديل د پروګرامونو د موخو اصلي مسير ټاکي. د دې پروګرام دوه مهمې موخې دا دي: "د خورا اغيزمنو مارکيټونوله لارې د مشروع کليوالي دندو او عايداتي فرصتونو زياتول" او " د مشروع ګټو د  تر لاسه کولو په موخه بزګرانو ته د پاييدونکواو مناسبو  سوداګريزو بديلونو د رامينځ ته کولو له لارې په افغانستان کې دمهمو اقتصادي مرکزونو په د ننه او شاوخوا کې د کوکنارو د بيا کرکيلې د ګواښ راکمول "

د کابل د بهير د اسنادو له مخې د (CARD-F) پروګرام د لومړني پړاو لپاره "په پام کې نيول شوې پايله په ټاکل شوو ولايتونو او ولسواليو کې د سيمو پر بنسټ د واحدې کرهنيزې او کليوالي پراختيا د تر سره کولو لپاره آزمويل شوی او ثابت شوی ميکانيزم دی." د کرهنې او کليو د پراختيا د هر اړخيزې مرستې پروګرام (CARD-F)  لا تر اوسه په خپل آزمايښتي پړاو کې دی، دغه پروګرام چې د ۱۳۹۱ کال دکب تر مياشتې پورې به دوام وکړي د انګلستان د نړيوال پراختيايي پروګرام (DFID) له خوا ۴۷.۵ميليون ډالره ورسره ژمنه شوې ده. دغه پيسې د اداري پراختيا لپاره د ولسوالۍ په کچه د اقتصادي پراختيا د۱۷ټولګو د طرحې(EDP) او د دې ټولګو له ډلې نه د پنځه ټولګو د پلي کولو په موخه لګول شوي دي. د EDP د ټولګو د تر لاسه کولو لپاره  د ولسواليو ټاکنه د CARD-F د وزارت مينځي کميټې له خوا تنظيميږي چې مشري يې له نشه يي توکو سره د مبارزې د وزارت له خوا د کرهنې، اوبولګولو او مالدارۍ، دکليو د بيارغونې او پراختيا او د ماليې د وزارتونو د استازو په ګډون کيږي.

دغه پروګرام د افغان حکومت یوه اداره ده، چې د کرهنې، اوبو لګولو او مالدارۍ ، او د کلیو د بیا رغونې او پراختیا د وزارتونو ترمشرۍ لاندې د یوکلني پلان او ستراتیژیک لاربنود  په رڼاکې چې د وزارت مینځي کمیټې له خوا چې د نشه یی توکو په وړاندې د مبارزې د وزیرله خوا یې مشري کیده تصویب شوی، کارکوي.

له۱۳۸۰-۱۳۸۱ (۲۰۰۱-۲۰۰۲) کال د کرکیلي د موسم راهیسې د نشه یي توکو د جرړو ایستل له نشه یي توکوسره د مبارزې د هڅو یوه برخه وه. د کوکنارو د جرړود راایستنې پیل شوی  پروګرام له نشه یي توکو سره د مبارزې په وزارت کې د کوکنارو د کښت د له مینځه وړلو، پلان جوړونې او څارنې د مرکزي څانګې له خوا طرحه شوی او د کوکنارو د له مینځه وړنې د مرکزي ځواک له خوا د نړیوالې ټولنې په مرسته تر سره شو. د ویجاړونې ځینې نور پروګرامونه د والیانو له خوا د والیانو په مشرۍ د ویجاړونې د پروګرام (GLE) له لارې او  د افغان ملي پولیسو (۵ مخ) او افغان ملي پوځ(..۴..مخ) په مرسته تر سره شوي دي. په ۱۳۸۸ کال کې د کوکنارو د له مینځه وړنې  ځواک  منحل شو او له هغې راهیسې پاملرنه د والیانو په مشرۍ د کوکنارو د له مینځه وړنې پروګرام ته واوښته. د کوکنارو د له مینځه وړنې د کاري ډلې غونډه په هره اونۍ کې له نشه یي توکو سره د مبارزې د وزارت له خوا د افغان حکومت، انګلستان، د امریکې د متحدو ایالتونو، نړیوالو سوله ساتو ځواکونو او ملګرو ملتونو د استازو په ګډون تر سره کیږي. له نشه یي توکو سره د مبارزې لپاره د کابینې یوه فرعي کمیټه چې د اړوندو وزارتونو، سفارتونو او د بسپنه ورکوونکو له استازو څخه جوړه شوې  همدا راز له نشه یي توکو سره د مبارزې  د وزارت تر مشرۍ لاندې د نشه یي توکو د کنټرول د ملي ستراتیژۍ د څانګړو موضوعګانو لپاره کاري ډلې شتون لري او همدا راز له نشه یي توکو سره  مبارزه  د پالیسۍ د لوړې کچې د عمل دډلې د اجنډا په سر کې راځي. همدارنګه له نشه یي توکو سره د مبارزې لپاره سلاکاره ډله د افغانستان په ملي پراختیایي ستراتیژۍ کې ځای لري.

له نشه یی توکو سره د مبارزې له نوښت سره مالي مرسته د یو شمیر سرچینو له خوا کیږي. د ۱۳۸۴ او ۱۳۸۷ کلونو تر مینځ له نشه یي توکو سره د مبارزې وجهي صندوق ، د څو بسپنه ورکوونکو سرچینې له نشه یي توکو سره د مبارزې د ملی ستراتیژۍ د موخو له پوره کولو سره یې مرسته کړې ده( دغه ستراتیژي نوره موجوده نه ده).  اوس مهال ځینې مالي مرستې د ښو کړنو د نوښت(GPI)، او له نشه یي توکو سره د مبارزې د وزارت له خوا هغو ولایتونو ته چې له کوکنارو څخه د خلاصو ولایتونو په توګه پاتې دي او یا د کوکنارو د کښت د راټیټولو لپاره یې د پام وړ ګامونه اخیستي دي، کیږي.

# د ولایتي بیارغونې ډله (PRT)

www.nato.int/isaf/topics/prt

د ولایتي بیارغونې ډلې هغه کوچنۍ ډلې دي چې هم پوځي او هم ملکي کارکوونکي لري چې په پوځي اډو کې میشتې دي؛ د ولایتي بیا رغونې ډلې د هیواد په کچه د پراختیایي لومړیتوبونو له پلي کیدو سره مرسته کوي. په ولایتي کچه د مرستندویه هڅو لپاره د امنیت د ټینګښت او بیارغونې سره دمرستې دنده په غاړه لري. د دې پروګرام په هکله وړاندیز د لومړي ځل لپاره د ۱۳۸۱ کال په لومړیو کې د ائتلافي ځواکونو او د متحده ایالتونو د سفارت له خوا د تلپاتې خپلواکۍ د دریم پړاو څخه (د جګړې له پړاو) څلورم پړاو (د بیارغونې پړاو) ته د بدلون په بحثونو کې وشو. د ولایتي بیارغونې د ډلو را مینځ ته کیدل په رسمي توګه د ۱۳۸۱ کال د لړم په میاشت کې د ولسمشر کرزي له خوا اعلان شو.

د ولایتي بیارغونې ډلې په اصل کې د ائتلافي ځواکونو له خوا پیل شوې. په داسې حال کې چې د ملګرو ملتونو د امنیت د شورا د ۱۳۸۲ کال د تلې د میاشتې له اعلامیې څخه وروسته چې له مخې یې دنړیوالو سوله ساتو ځواکونو ماموریت له کابل څخه بهر پراخ شو، نونړیوالو سوله ساتو ځواکونو د دغو ډلو مشري په غاړه واخیسته او په ۱۳۸۳ کال یې د افغانستان په شمال او لویدیځ کې د ولایتي بیا رغونې نوې ډلې جوړې کړې. په ۱۳۸۵ کال کې په ختیځ او سویلي سیمو کې د ولایتي بیارغونې د ډلو قومانده آیساف ته وسپارل شوه، او په دې توګه په ټول افغانستان کې د ولایتی بیارغونې د ټولو ډلو مشري د آیساف په غاړه شوه.

د ولایتي بیارغونې د ډلو موخه لکه څرنګه چې د ولایتي بیارغونې د اجرائیوي کمیټې له خوا ټاکل شوې ده ، دا ده:

**دافغانستان اسلامي جمهوریت سره مرسته څو دعملیاتو په ټاکل شوو سیمو کې د یو باثباته او خوندي چاپیریال د رامینځ ته کولو په موخه خپله واکمني پراخه ، او د امنیتي سکټور د سمون او بیارغونې هڅې پیاوړي کړي.**

ددغه پراخ ماموریت له اعلامیې څخه د کوم تفصیلي ماموریت له لارې ملاتړ نه دی شوی، او همدارنګه د ولایتي بیارغونې د ډلې کومه واحده بیلګه هم نشته. په داسې حال کې چې د ولایتي بیارغونې د ډلو مشري د ځانګړو هیوادونو له خوا کیږي، خو د دغو ډلو پوځي برخه د آیساف د قومندانانو تر قوماندې لاندې ده. د دغو ډلو جوړښت او عملیات په ځانګړو ولایتونو کې د حالاتو او همدارنګه د پوځي ځواک ورکوونکو هیوادونو د نظریو او لارښوونو له امله اغیزمن کیږي.

د ولایتي بیارغونې ډلې په مینځنۍ توګه له ۸۰ کارکوونکو څخه جوړې شوي دي. چې له دې ډلې نه د انجینیرۍ یا کرهنې په برخه کې ۶۰ ملکي کارپوهان، او کابو ۲۰ تنه ملکي متخصصین دي چې له بسپنه ورکووکو سازمانونو او خپلو افغان همکارانو سره کار کوي.د ولایتي بیارغونې ځینې ډلې د کرهنې او

وترنرۍ سلاکاران، د ملکي پولیسو روزونکي، د حکومتدارۍ سلاکاران، پراختیایي سلاکاران، او همدارنګه د نشه یي توکو په وړاندې د مبارزې کارپوهان هم لري. د ولایتي بیا رغونې پوځي کارکوونکي د ملکي برخې امنیت ساتي په داسې حال کې چې د ولایتي بیارغونې د ډلو د بیارغونې او پرمختیایي فعالیتونو همغږي د دغو ډلو د ملکي کارکوونکو په غاړه ده.

د ولایتي بیارغونې د ډلې د دندو څارنه او لارښوونه د دغو ډلو د اجرائیوي کمیټې له خوا چې مشري یې په ګډه د کورنیو چارو د وزیر او د ائتلاف او آیساف د قومندانانو په غاړه ده، کیږي. په دغه کمیټه کې د مالیې ، د کلیو د بیارغونې او پراختیا د وزارتونو، دائتلافي ځواکونو، آیساف، یوناما او د پوځي ځواک ورکوونکو هیوادونو استازي برخه لري. د ولایتي بیارغونې د ډلې یوه کاري ډله له نوموړې کمیټې سره په چارو کې مرسته کوي.

ځیني نادولتي موسسې په دې اړه اندیښمنې دي چې په بشري مرستو کې د ولایتي بیارغونې د ډلو ورګډېدل د پوځي او مرستندویه سکټورونو ترمینځ توپیر له مینځه وړي. همدا راز دا هم ویل شوي چې د خدمتونو په رسولو کې له دې ډلو څخه ګټه اخیستل د دې لامل کیږي چې خلک د دې پر ځای چې دولت ته مرا جعه وکړي دوی ته مراجعه کوي نو له همدې کبله دا د پاییدونکې پراختیا لپاره د حل لاره نه ده. د دې کار ملاتړ کوونکو دا استدلال وکړ چې د ولایتي بیارغونې ډلې کولای شي چې مرستندویه پروژې له ګواښ څخه په ډکو سیمو کې چې د مرستندویه سازمانونو لپاره د لاسرسي وړ نه دي پلې کړي.

## سیمه ییزې همکارۍ

افغانستان د ګڼ شمیر سیمه ییزو سازمانونو او میکانیزمونوچې د بیلابیلو موخو درلودونکي دي غړیتوب لري:

**د سیمه ییزو همکاریو لپاره د سویلي آسیا سازمان(SAARC):** افغانستان، بنګله دیش، سریلانکا، بوتان، پاکستان، مالدیف او نیپال یې غړي هیوادونه دي. سارک د کرهنې، اقتصاد، سوداګرۍ ، د بیوزلۍ د راکمولو او امنیتي اړخونو په ګډون د همکارۍ ۱۶برخې لري.

**د اقتصادي همکاریو سازمان(ECO):** د دې سازمان غړي هیوادونه افغانستان، آذربایجان، قرغزستان، پاکستان، ایران، ازبکستان، ترکمنستان، تاجیکستان، او ترکیه دي. د دې سازمان ټاکل شوې موخه د توکو او خدمتونو لپاره د یو واحد مارکیټ رامینځ ته کول دي.

افغانستان همدا راز د شانګهای د همکارۍ د سازمان د تماس په ډله کې شامل دی، او د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت په نوموړي سازمان کې د زیاتي فعالې ونډې د درلودلو لپاره خپله لیوالتیا څرګنده کړه .

افغانستان د مرکزي آسیا د سیمه ییزې اقتصادي همکارۍ د سازمان(CAREC)، د سویلي او منځنۍ آسیا د ترانسپورټ او سوداګرۍ د ټولنې (CSATTF) او د منځنۍ آسیا د اقتصاد لپاره د ملګرو ملتونو د ځانګړي پروګرام غړیتوب لري.

د ۱۳۹۰ کال د لړم په میاشت کې افغانستان او دسیمې ۱۳ هیوادونو د د استانبول له بهیر سره چې موخه يې د امنيت ، اقتصاد، د نشه يي توکو په وړاندې د مبارزې او پراختيا په برخه کې د سيمه ييزې همکارۍ زياتول دي موافقه وکړه. له دې سره سم دې موخو ته د رسيدو لپاره د استانبول د کنفرانس له خوا د ځانګړو پلانونو د جوړولو څرګندونه هم وشوه چې د ۱۳۹۱ کال د کابل په غونډه کې به وړاندې شي.

د بهرنيو چارو وزارت څرګنده کړه چې حکومت د سيمه ييزې همکارۍ له لارې هڅه کوي څو:

- سوداګرې فرصتونو ته وده ورکړي.
- د سيمه ييزو لارو او اورګاډي له شبکو سره يو ځای شي.
- د سيمه ييزې انرژۍ په بازار کې يو مهم غړی شي.
- د نشه يي توکو سوداګري له منځه يوسي.
- د زريزې پراختيايي موخو ته ورسيږي (MDGs).

## عامه اداري سمون (PAR)

د افغان حکومت د عامه ادارو د اصلاحاتو کاري چوکاټ هڅه کوي چې په افغانستان کې ګټور، اغيزمن او رانه ملکي خدمتونه رامنځته کړي. دغه بهير د اداري سمون او ملکي خدمتونو د خپلواک کميسيون او د سيمه ييزو ارګانونو د خپلواک رياست له خوا څارل کيږي، عامه اداري اصلاحات يو له هغو لومړيتوبونو څخه دی چې د افغانستان په ټرون، د افغانستان په ملي پراختيايي ستراتيژۍ او په کابل کنفرانس کې طرح شوی دی.

د اداري اصلاحاتو موخه د بيلا بيلو ستونزو په نښه کول دي لکه: ټوټه ټوټه شوي دولتي جوړښتونه، په يوه وخت کې د ګڼ شمير دندو تر سره کول او د ادارو ترمينځ د همغږۍ نشتوالی؛ د مرکز (کابل) او ولايتونو ترمينځ کمزورې اړيکي؛ د حساب ورکونې د پياوړتيا ناڅرګنده او کمزوري ميکانيزمونه؛ د لازمو وړتياوو درلودونکي مسلکي او تجربه لرونکو کارکوونکو نشتوالی؛ د وړتيا پر بنسټ د ګمارلو او ټاکلولپاره د پياوړو کړنلارو نشتوالی کوم چې د واسطې پر بنسټ ګمارنو ته لاره هواروي؛ د معاشونو او رتبو داسې جوړښت ته اړتيا چې د ملکي کارکوونکو د جذب، ساتنې او هڅولو لامل شي؛ کمزورې فزيکي زيربناوې؛ او بيرته پاتي او پخواني اداري سيستمونه.

د عامه اداري اصلاحاتو يو مهم عنصر د اصلاحاتو د لومړيتوب او د جوړښتونو د تجديد نوښت دی(PRR)، چې موخه يي په وزارتونو کې د اداري ظرفيت جوړول او په معاشونو کې په پام کې نيول شوی زياتوالی دی. همدا راز دغه پروګرام د وزارتونو ترمينځ د هغې همغږۍ د تضمين په موخه چې د بيلابيلو بسپنه ورکوونکو په مرسته جوړيږي طرح شوی دی.

په ۱۳۸۴ کال کې د اداري اصلاحاتو پروګرام له سره طرح شو او اوسنی کاري چوکاټ یې جوړ کړ، چې له مخې یې تمرکز له تدریجي نوښتونو څخه د هراړخیز سمون لور ته واوښت، چې په هغه کې ټول وزارتونه او نور خپلواک سازمانونه شامل دي چې خپل مالي تخصیص د مالیې وزارت څخه په مستقیمه توګه تر لاسه کوي (چې د لومړنیو بودیجوي ادارو په نامه هم یادیږي)؛ او همدارنګه په پام کې لري چې اصلاحات له مرکز څخه ولایتونو او ولسوالیو ته هم وغځوي. د عامه اداري اصلاحاتو دغه نوی پړاو په پنځو برخو کې له سره جوړ شوی دی : ۱) اداري اصلاحات؛ ۲) معاشونه او هڅوونکي؛ ۳) د ملکي خدمتونومدیریت؛ ۴) د وړتیا پر بنسټ د ګمارنې تضمین او پراختیا؛ ۵) د وړتیا لوړول.

د ۱۳۹۰ کال د مرغومي تر میاشتې پورې اداري اصلاحات د ۶۵٪ ولایتي او مرکزي ادارو په کچه پلي شوي، او د کړنو او رتبو پر بنسټ د معاشونو د سیستم په څیر نوښتونه یې معرفي کړي دي. په همدې توګه ۱۶ والیان او ۶۶ ولسوالان د وړتیا پر بنسټ د آزادو سیالیو له لارې ګمارل شوي دي. چې پخوا تر دې به دغه پستونه د سیاسي ټاکنو له لارې ډکیدل.

د اداري اصلاحاتو د پروګرام راتلونکی پړاو د ملکي خدمتونو د خپلواک کمیسیون د مدیریت د ځانګې د ستراتیژۍ او پالیسۍ د ادارې له خوا رامینځ ته کیږي. او اوس مهال په خپل مشورتي پړاو کې دی. د ۱۳۸۹ کال د کابل په کنفرانس کې له شوو ژمنو سره سم به دغه نوښت د ملکي خدمتونو د اصلاحاتو د پروژې د انډولولو سره اړیکه ولري. تمه کیږي چې د اداري اصلاحاتو نوی پروګرام به د ملکي خدمتونو د ګمارنو د غیر سیاسي کولو پر روانو هڅو، او د معاشونو او رتبو پر سمون تمرکز وکړي. په بودیجوي لړۍ پورې اړوند د سازماني او انفرادي کړنو ارزونه به معرفي کړي، او د ظرفیت د لا زیاتې لوړتیا د اړتیاوو د په نښه کولو په موخه به د کړنو له دې ارزونې څخه ګټه واخلي. په نوي PAR کې به د جنسیت نظریه هم شامله شي.

د افغانستان د عامه سکټور په اړه د لازیاتو معلوماتو لپاره ۴۷ مخ وګورئ.

## لیږد (انتقال)

د لیږد بهیر چې د انتقال په نامه هم یادیږي، د هغه بهیر په توګه ښه پیژندل شوی چې له لارې به یې د افغانستان امنیتي مسولیتونه له ناټو او نړیوالو سوله ساتو ځواکونو څخه افغان ملي پوځ ته ولیږدول شي. د ناټو د څر ګندونو له مخې د لیږد بهیر به د کلیزې پر بنسټ نه بلکې د فرصت پر بنسټ یوبهیر وي، خو دواړه لورې افغان حکومت او د ناټو غړي په پام کې لري چې د امنیتي مسوولیتونو لیږد د ۱۳۹۳( ۲۰۱۴) کال په پای کې بشپړکړي.د ناټو څو ملګرو حکومتونو هم دغه نیټه له افغانستان څخه د ژمنه شوو سرتیرو د ستړې برخې د را ایستلو لپاره د وروستۍ نیټې په توګه ټاکلې ده.( د سرتیرو د شمیر په اړه د لازیاتو معلوماتو لپاره په همدې لاربنود کې ISAF وګورئ).

د لیږد پر بهیر د لومړي ځل لپاره په ۱۳۸۹ کال د لندن په کنفرانس کې بحث وشو، چیرې چې په دې موافقه وشوه چې افغان ملي پوځ به ولایت په ولایت د امنیتي چارو مسوولیت په غاړه واخلي. چې په دې اړه بیا

زيات تفصيلي پلانونه د۱۳۸۹ کال د کابل کنفرانس لپاره جوړ شول په کوم کې چې د افغان حکومت د ليږد سند د نړيوالې ټولنې له خوا تصويب شو. دې سند د افغان ملي پوځ د کميت او کيفيت د لوړولو غوښتنه کړې وه، چې دې موخې ته رسيدل د ليږد د بهير يوه خورا مهمه برخه ده.

د امنيتي مسووليتونو ليږد په څلورو پړاوونو کې تر سره کيږي. هغه سيمې چې په لومړي سر کې به افغان امنيتي ځواکونو ته سپارل کيږي د ۱۳۸۹ کال د کب په مياشت (۲۰۱۱ کال د مارچ مياشت) اعلان شوې. په دې سيمو کې د باميانو ولايت (ټولې ولسوالۍ)، د پنجشير ولايت (ټولې ولسوالۍ)، د کابل ولايت ( له سروبي پرته ټولې ولسوالۍ)، همدا راز د مزار شريف ښار( د بلخ ولايت)، د هرات ( د هرات ولايت)، لښکرګاه ( د هلمند ولايت) او مهترلام ( دلغمان ولايت). دغه لومړنۍ سيمې د افغانستان د ۲۰-۲۵٪ وګړو لپاره په نظر کې نيول شوي دي. دوهمه برخه د ۱۳۹۰ کال د لړم (۲۰۱۱ نوامبر) په مياشت کې اعلان شوه. چې په دې کې د بلخ، دايکندی، نيمروز، تخاراو سمنګان ولايتونو ټولې برخې او همدا راز په ۱۳ نورو ولايتونو کې ټاکل شوې ولسوالۍ راځي. د دوهمې برخې په بشپړيدو سره د هيواد د ۵۰ سلنې وګړو د امنيت مسووليت به افغان ملي پوځ ته وسپارل شي. د ۱۳۹۰ کال د مرغومي تر مياشتې پورې داسې بريښيده چې ښايي د دريمې برخې ليږد به د شيکاګو تر کنفرانس چې د ۱۳۹۱ کال دغويي په مياشت کې به پيل شي، لږ څه مخکې اعلان شي.

دې ته په پام سره چې د يوې سيمې د امنيتي مسووليتونو ليږد بايد يو دايمي بهير وي، دليږد لپاره شرايط د آيساف، د افغان او ناټو د ليږد د ګډ پلاوي(JANIB ) له خوا ارزول کيږي. چې وروسته بيا دغه پلاوی خپلې ارزونې د افغان حکومت کابينې ته د تاييد په موخه وړاندې کوي، چې وروسته تر دې دوی کولای شي د بهير پر پلې کيدو پيل وکړي. د ليږد لپاره د يوې سيمې د وړتيا ارزونه د څلورو مهمو معيارونو پر بنسټ ده:

- افغان ملي پوځ د آيساف په لږه مرسته د سترو امنيتي دندو د مسووليت اخيستنې وړتيا لري؛
- امنيت په هغه کچه دی چې خلکو ته د ورځنيو دندو د تر سره کولو فرصت ورکوي؛
- سيمه ييزه اداره په پوره توګه رامينځ ته شوې ده نو د آيساف د مرستو په کميدو سره به امنيت کمزوری نه شي؛
- څرنګه چې د افغان ملي پوځ وړتياوې لوړې شوي او د ګواښ کچه راټيټه شوې نو آيساف دې ته تيار دی چې خپل حضور کم کړي.

دريم فکټور هغه ټينګار منعکسوي چې افغان حکومت او نړيواله ټولنه يې پر سيمه ييزې ادارې لري، چې د سيمه ييزو ارګانونو د خپلواک رياست تر سيوري لاندې د يو شمير غير مرکزي نوښتونو مشري کوي. دسيمه ييزې حکومتدارۍ په هکله د لازياتو معلوماتو لپاره ...۸۹... مخ وګورئ. د سيمه ييز امنيت د ښه کيدو اړتيا د سيمه ييزو پوليسو د رامينځ ته کيدو او پراختيا لامل شو. د يوې سيمې د امنيت ليږد په دې مانا نه دی چې ګواکې د آيساف ځواکونه له هغې سيمې څخه وځي او يا خپل فعاليتونه دروي. په داسې حال کې

چې د افغانانو په مشرۍ امنيتي دندې يې کمېږي خو خپلې فعالې ونډې ته ادامه ورکوي. د افغان ملي پوځ له خوا د يوې سيمې د بشپړو امنيتي مسووليتونو اخيستل يو اوږد بهير دی؛ د ۱۳۹۰ کال د مرغومي تر مياشتې پورې د امريکې د متحدو ايالتونو د دفاع وزارت تمه درلوده چې د ولسواليو په لومړۍ برخه کې دغه بهير به په راتلونکو ۱۰-۲۲ مياشتو کې بشپړ شي.

د ۱۳۹۰ کال د مرغومي ترمياشتې پورې دا څرګنده نه وه چې افغان ملي پوځ ته امنيت د ليږد له بشپړ بهير وروسته به څومره بهرني سرتيري په افغانستان کې پاتې شي. آيساف څرګنده کړه چې ليږد د آيساف د ځواکونو وتل له افغانستان څخه نه څرګندوي لکه څرنګه چې د افغان ملي پوځ خپله وړتيا لوړوي نو دا فقط د ملاتړ کوونکې ونډې پر لور يو بدلون دی. که څه هم چې د ناټو د غړو هيوادونو له خوا کورنۍ سياسي ژمنې دا امکان رامينځ ته کوي چې د ۲۰۱۴ کال په پای کې به د سر تيرو په شمير کې چټک کموالی راشي.

ليږد به په افغانستان کې د نړيوالې ټولنې ونډه اغيزمنه کړي. هغه برخه چې د نړيوالو فعالينو له خوا پر مخ بيول کيږي په مستقيمه توګه به د خدمتونو له وړاندې کولو نه د افغان ادارو لپاره د مرستو او وړتيا د لوړولو لور ته بدلون ومومي. په دې بهير کې د ولايتي بيا رغونې د ټولو ډلو له مينځه وړل او په ملي او سيمه ييزه کچه د افغان حکومت د دندو او صلاحيتونو سره د هر موازي جوړښت منحلول شامل دي.

سره له دې چې د ۱۳۹۰ کال د بن د کنفرانس وروستۍ اعلاميه له افغانستان سره د نړيوالې ټولنې اوږد مهالې ژمنې بيا تکراروي، خو داسې انديښنې هم موجودې دي چې د بهرنيو سرتيرو وتل له افغانستان څخه د افغانستان د پراختيا لپاره په مرستو کې د چټک کمښت په مفهوم دی. د نړيوال بانک د وړاندوينې له مخې که چيرې د افغانستان اقتصاد سمه وده هم وکړي نو په ۲۰۲۱ کال کې تر ۲۵٪ پورې د GDP يوه مالي تشه به رامينځ ته شي، او يواځې دوامدارې نړيوالې مرستې بنايي وکولای شي چې دغه اړتياوې پوره کړي. نو له همدې کبله دغه انديښنې موجودې دي چې د نړيوالې ټولنې مرستې به پر ټولنيزې او اقتصادي پراختيا نه بلکې پر افغان ملي پوځ متمرکزې وي

## ملي بوديجه

www.budgetmof.gov.af

د افغانستان حکومت هر کال ملي بوديجه جوړوي. دغه بوديجه د هماغه کال د خدمتونو د برابرولو د لګښت يو اټکل دی او دغو خدمتونو ته د پيسو د ورکړې څرنګوالی مشخصوي. د ۱۳۹۰ مالي کال لپاره ملي بوديجه د تير کال برعکس کابو له ۴.۷۸۲ ميليارد ډالرو سره برابره ده دغه رقم پرته له پراختيايي بوديجې څخه چې د حکومت له چوکاټ څخه بهر لګيږي يواځې اصلي بوديجه څرګندوي .

لګښتونه د هغوی د موخو له مخې تصنيف شوې دي. عادي لګښت هغه پيسې دي چې د حکومت د ورځنيولګښتونو لپاره لکه د ملکي مامورينو ، ښوونکو او پوليس د معاشونو؛ د دفترونو او نورو بنسټونو د لګښتونو؛ د تجهيزاتو او ماشينونو لکه کمپيوټرونو او موټرونو د پيرودنې لپاره لګيږي. ددې لګښتونو

زیاتره برخه پیسې له مالیو او نورو کورنیو سرچینو څخه تر لاسه کیږي. د ۱۳۹۰ کال لپاره دغه بودیجه ۳.۲۰۷ ملیارد ډالره ده.

د عادي بودیجې تر څنګ د هیواد کورنۍ یا اصلي پراختیایي بودیجه ده. چې د مالیې وزارت له خوا د حکومت له محاسبوي کړنلارو سره سمه تر تیب شوې ده. دا هغه پیسې دي چې د خدمتونو د برابرولو پر پراختیا او ودې لګیږي. ددې لګښت زیاتره برخه د پراختیایي پروژو په بڼه ده- لکه د نوو ښونځیو جوړول، د نوو سړکونو او لارو جوړول، د اوبو رسولو او روغتیا ساتنې د نوو پروګرامونو د په لاره اچول،او د بشري سرچینو د وړتیا لوړول او نور. د ۱۳۹۰ کال لپاره اصلي پراختیایي بودیجه ۱.۵۷۵ ملیارد ډالره ده.

بهرنۍ پراختیایي بودیجه هغه پیسې دي چې د مرستندویه ټولنې له خوا حکومت ته نه بلکې نیغ په نیغه د خپلو ټرون لرونکو همکارانو په واک کې ورکول کیږي. د پراختیایي مرستو د معلوماتي زیرمې یا داټا بیز(DAD) له وروستنۍ ودې له کبله د مالیې وزارت په دې ونه توانیده چې د ۱۳۹۰ کال د بهرنۍ بودیجې ارقام وړاندې کړي په ۱۳۸۹ کال کې بهرنۍ پراختیایي بودیجه ۴.۱۱۲ ملیارد ډالره وه. د مالیې وزارت د اټکل له مخې د هیواد د مرستو د کمښت سره سم به دغه بودیجه د ۱۳۹۰ کال لپاره کمه وي. د ۱۳۹۰ کال ټولیزه بهرنۍ بودیجه به د پراختیایي همکاریو په غونډه کې چې د ۱۳۹۰ کال دکب (۲۰۱۲ کال د مارچ میاشت) په میاشت کې به جوړه شي، ترتیب شي.

پراختیایي بودیجه په ټولیزه توګه د هغو نړیوالو بسپنه ورکوونکو له خوا چې د ۱۳۸۹ کال د لندن په کنفرانس کې تر ۱۳۹۱ کاله پورې د حکومت د بودیجې له لارې د خپلو پراختیایي مرستو د لړتر لږه ۵۰ سلنې د لیږد ژمنه کړې ورکول کیږي ، دغه ژمنه د کابل په کنفرانس کې له سره تکرار شوه خو دا کار د پیسو د پوره مدیریت په برخه کې د حکومت په وړتیا پورې تړلی دی. د ۱۳۹۰ کال د مرغومي په میاشت کې د مالیې وزارت په دې اړه چې دغه موخه به په هغه وروستۍ ټاکل شوې نیټه پوره نه شي، خپل نظر یې څرګند کړ.

د کلنی بودیجې جوړول یو اوږد او پیچلی بهیر دی. د افغانستان د اساسي قانون په رڼا کې د دې بهیر مدیریت مالیې وزارت ته ورکړل شوی دی. د کلنی بودیجې جوړول کابو یو کال وخت نیسي او د دې بهیر د کنټرول لپاره د مالیې وزارت له خوا مهال ویش جوړ او د دې بهیر څارنه کیږي.

د بودیجې جوړوني فعالیتونه تل د ملي پلان – د افغانستان د ملي پراختیایی ستراتیژۍ څخه پیل کیږي. دا هغه پنځه کلن پروګرام دی چې دا په ډاګه کوي چې د افغانستان حکومت د نړیوالې ټولنې په مرسته په دې موده کې کومو موخو ته د رسیدو هیله لري او د مهمو لومړیتوبونو برخې ځانګړې کوي. د پلان د پلي کولو د لګښت او د عاید د سرچینو او د اندازې لپاره لازمې پیسې د منځنۍ مودې د مالي او بودیجې په کاري چوکاټ (MTBF) کې په پام کې نیول کیږي چې د کلنی بودیجې د جوړوني بهیر ته د اړتیا په صورت کې معلومات برابروي.

د مالیې وزارت اړوندو وزارتونو ته د کلنۍ بودیجې د جوړولو لپاره یو لړ قوانین د متحدالمال لیک دصادرولو له لارې وضع کړي دي. چې دا د عادي او پراختیایي بودیجې لپاره قوانین مشخصوي. اړونده

وزارتونه د خپلې بودیجې لپاره طرح شوی وړاندیز مالیې وزارت ته وړاندې کوي. او بیا د ټولو وزارتونو اټکل شوې بودیجه د ملی بودیجې په سند کې سره یوځای کیږي چې بیا د کابینې له خوا له تصویب وروسته پارلمان ته وړاندې کیږي. چې پارلمان تر ۴۵ ورځو پورې پر بودیجې بحثونه کوي او په پای کې د پارلمان له خوا تصویبیږي.

په ۱۳۸۸ کال کې د مالیې وزارت د ملي بودیجې د جوړونې د بنه والي او له غوره حکومتداری سره د مرستې لپاره یو لړ نوښتونه وړاندې کړل. چې د دوی په مینځ کې د پالیسی پر بنسټ د بودیجې جوړونه وه چې د وزارتونو لګښتونه په مستقیمه توګه د افغانستان د ملي پراختیایي ستراتیژۍ له غوښتنو سره د پروګرام د بودیجو په بڼه تړي . همدا راز د مالیې وزارت له اړوندو وزارتونو سره د تخنیکي مرستې د برابرولو، د بودیجې جوړولو د بهیر د اسانولو، او د بودیجې جوړونې لپاره د اضافي وخت د ورکولو له لارې د مرستې لپاره یو لړ ګامونه اوچت کړي دي. وروستی موخې اړوند وزارتونه ددې وړ ګرځولي څو د افغان ولس لپاره د خدمتونو څرنګوالي او پوښښ ته وده ورکړي.

## ملي پراختیایي کاري چوکاټ (NDF)

ملي پراختیایي کاري چوکاټ د افغانستان د لنډمهالي ادارې له خوا په ۱۳۸۱ کال کې په افغانستان کې د پراختیا او بیارغونې د پروسې د لارښود په توګه رامینځ ته شو. دغه چوکاټ ۱۶ ملي پراختیایي پروګرامونه او تر دریوو ستنو لاندې شپږ پراخ بنسټې مسئلې څرګندوي: ۱) انساني کرامت او ټولنیزخوندیتوب ۲) فزیکي زیربنا، ۳) د پراختیا لپاره وړ چاپېریال. ملي پراختیایي کاري چوکاټ همدا راز ۱۲ د لومړیتوب لرونکي پروګرامونه یې هم په نښه کړي چې دا د حکومت لپاره د پالیسی له تر ټولو سترو لومړیتوبونو څخه ګڼل کیږي.

د ۱۶ لومړیتوب لرونکو ملي پراختیایي پروګرامونو څارنه د مشورتي ډلو (۷۵م مخ) له خوا کېده. دغو مشورتي ډلو د یوې ټولنې په توګه کار کاوه چې په کې په هر سکټور کې د پراختیایي او بیا رغونې د پروژو په اړه به تفصیلي طرحې او بحثونه تر سره کیدل.وروسته بیا هرې مشورتي ډلې د خپل سکټور پلانونه، ملي پراختیایي بودیجې ته د عامه پانګه اچونې د پروګرام (PIP) د وړاندیز له لارې پلي کول. سر بېره پردې د هرو شپږو هر اړخیزو موضوع ګانو لپاره مشورتي ډلې شتون لري.

د مالیې وزارت ترلارښوونې لاندې ملي پراختیایي کاري چوکاټ د دولت د او بسپنه ورکوونکو د پلان جوړولو لپاره د ۱۳۸۴ کال د مرغومي تر میاشتې پورې د لومړني بنسټ په توګه پاتې شو، وروسته له دې د دغه چوکاټ ځای د افغانستان ملي پراختیایي لنډمهالې ستراتیژۍ ونیو.

# ملی سیمه ییز پراختیایي پروګرام (NABDP)

www.mrrd.gov.af/nabdp

ملي سیمه ییز پراختیایي پروګرام د ملګرو ملتونو د پراختیایي اداري(UNDP ) له خوا تمویلیدونکی پروګرام دی چې د کلیو د بیارغونې او پراختیا د وزارت له خوا پلی کیږي. نوموړی پروګرام په ۱۳۸۱ کال کې د افغان حکومت د ملی لومړیتوب دپروګرامونوپه توګه د افغانستان د ملي پراختیاپه کاری چوکاټ ( ۳۹مخ) کې مشخص شوی و پیل شو.

دلومړني NABDP موخه په ټول هیواد کې د حکومت د وړتیا د لوړولو او د پراختیا لپاره د ګډې همغږۍ د را مینځ ته کولو له لارې د کلیو د پراختیا د لومړیتوبونو په ټاکل شوو سیمو کې د چټکو بیارغونواو اوږد مهاله پراختیا هڅول وو. د دې پروګرام دوهم پړاو چې د ۱۳۸۴ کال د سلواغې په میاشت کې پیل شو موخه یې د حکومت او ملګرو ملتونو په ملاتړ د کلیو د پراختیا د پروګرامونو لپاره د همغږۍ د یو مهم میکانیزم په توګه کار و. دې پړاو پر سازماني پراختیا، د وړتیا پر لوړولو، او په سیمه ییزه او ولایتي کچه د سکټور ونو ترمینځ پر همغږۍ، او همداشان د سیمه ییز او ځایي اقتصاد دبیارغونې د فعالیتونو پر وده یې تمرکز درلود.

دریم او اوسنی پړاو چې د ۱۳۸۸ کال د چنګاښ په میاشت کې پیل شو د افغانستان د ملي پراختیایي ستراتیژۍ د دریمې ستنې یعنې ټولنیزې او اقتصادي پراختیا پر بنسټ ولاړ دی . او س مهال د ۱۳۹۳ کال د غبرګولي تر میاشتې پورې۲۹۴ میلیون ډالره بودیجه په واک کې لري.

د ملی سیمه ییز پراختیایي پروګرام دریم پړاو درې مهم عناصر لري:

۱. **د سیمه ییزې حکومتدارۍ او د ولسوالیو د پراختیایي ټولنو (DDA) رسمي کول:** د ټولنې له پراختیایي شوراګانو څخه په پیروۍ سره دغه پروګرام ملي پوښښ ته د رسیدو لپاره د ولسوالیو د پراختیایي ټولنو د رسمي کیدو کار ته به دوام ورکړي.

۲. **د کلیوالي زیربنا د خدمتونو له لارې د معیشت ثبات:** دغه برخه په پام کې لري چې په فزیکي زیربنا کې شته تشې ډکې کړي څو کرهنیز اغیزمنتوب او د کلیوالي اقتصاد پراختیا وهڅوي . په دې کې له کروندو څخه تر بازاره لارې، د اوبولګولو کارونه، د خوراکي توکو د زیرمه کولو اسانتیاوې، او سیمه ییز بازارونه شامل دي.

۳. **د اقتصادي معیشت د لوړولو له لارې ثبات:** دغه پروګرام به دجګړې او له جګړې وروسته شرایطو کې "د یوې نوښتګرې کړنلارې له لارې چې په کې یو شمیر اقتصاد جوړوونکې بیلګې او د هغه څه طرح ځای لري کومې چې باید په ځایي ټولنو ثبات لرونکې اغیزې ولري" د یو هر اړخیز حل لپاره به مرسته وکړي. همدا راز به دغه برخه د هغو کروندګرو لپاره چې د کوکنارو پر کر کیله تکیه لري د معیشت بدیل فرصتونه وهڅوي.

# ملګري ملتونه په افغانستان کې ( ۱۳۹۱)

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو(UN) د سیسټم استازیتوب د یو واحد پلاوي له خوا کيږي چې په کې د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو مرستندويه پلاوی(یوناما) او د ملګرو ملتونو څه دپاسه ۲۶ ادارې، وجهي صندوقونه او پروګرامونه شامل دي. د ملګرو ملتونو پراختیايي او بشر دوستانه دندو، سر بيره پر نړيوالې مالي ادارې، نړيوال بانک، د پيسو نړيوال وجهي صندوق(IMF)، او د آسيا پراختيايي بانک او د کډوالۍ نړيوال سازمان(IOM) په څير د خپلې خوښې غړي يې د ملګرو ملتونو د ملکي ډلې(UNCT) تر چتر لاندې راوستي دي.

که څه هم چې ملګري ملتونه د ځانګړو ادارو په درلودلو سره له ۱۳۳۸ کال راهيسې په افغانستان کې حضور لري، خو په دې اوسنۍ بڼه يو واحد ماموريت په ۱۳۸۱ کال کې د بن له تړون او د امنيت د شورا د ۱۳۸۱ کال د وري دمياشتې له ۱۴۰۱ اعلاميې څخه وروسته رامينځ ته شو. د يوناما ماموريت له ۱۳۸۱ کال راهيسې په دوامداره توګه غځيږي او دغه ماموريت هرکال د مارچ ( کب- وري) په مياشت کې د امنيت شورا له خوا د يوې اعلاميې له لارې نوی کيږي.

دغه اعلاميه يوناما او د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړي استازي ته دنده ورکوي چې له افغان حکومت سره په مهمو برخو لکه: امنيت، حکومتداري، اقتصادي پراختيا او سيمه ييزې همکارۍ په برخه کې مرسته وکړي او همدا راز د همدې موضوعاتو په هکله د لندن په کنفرانس( د ۱۳۸۸ کال د مرغومي مياشت) او ورپسې د کابل په کنفرانس کې( ۱۳۸۹ کال د چنګاښ مياشت ) د دوه اړخيزو شوو ژمنو له بشپړې پلي کيدو سره مرسته ده. همدا راز پلاوي ته: د سولې بهير ته د ستراتيژيکو او سياسي سلا مشورو، د ښو دفترونو د برابرولو، د بشري حقونو د هڅولو، د تخنيکي مرستو د برابرولو او له افغان حکومت سره د بشري مرستو او د ملګرو ملتونو د پراختيايي فعاليتونو د همغږۍ د تضمين په برخه کې نورې لارښوونې هم شوي دي. همدا راز عمومي سرمنشي ته دا دنده ورکوي چې په هرو دريوو مياشتو کې شورا ته د پرمختګ په هکله رپوټ وړاندې کړي.

له پورتنيو يادو شوو دندو سره سم يوناما خپلې هڅې د ټولټاکنو، سولې او بياپخلاينې، سيمه ييزې همکارۍ، ښې حکومتدارۍ، د قانون د واکمنۍ، بشري حقونو او پراختيايي انسجام د هڅونې، په برخو کې متمرکزې کړي دي. په ټوليزه توګه د يوناما دندې په دوو برخو ويشل شوي دي: لومړۍ برخه ( سياسي چارې) او دوهمه برخه ( پراختيايي او بشري چارې). په وروستيو کلونو کې د يوناما مهم فعاليتونه دا دي :

- د څارنې او همغږۍ د ګډ پلاوي له لارې د حکومت او بسپنه ورکوونکو له همغږۍ سره مرسته؛
- د افغانستان د ملي پراختيايي ستراتيژۍ او ملي لومړيتوب د پروګرامونو د پلي کيدو هڅول؛
- د افغانستان دسولې او بيا پيوستون د پروګرام او د سولې د عالي شورا له لارې د سولې او بيا پخلاينې هڅول؛

- د حکومت د وړتیا لوړول او په ولایتي کچه دشخړو حل؛
- د ملکي وګړو د ژغورلو او د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې په اړه د رپوټونو د خپرولو او څارنې له لارې د بشري حقونو هڅول، او په همدې توګه د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د له مینځه وړلو د قانون پلي کول؛
- د امنیتي مسوولیتونو د لیږد په وخت کې د پالیسۍ په بحثونو کې د بشري پراختیا د اهمیت تضمین.

د افغانستان له حکومت سره د زریزې پراختیایي موخو او تر ټولو زیاتو زیانمنونکو وګړو ته د بشري مرستو د برابرولو موخو ته له رسیدو سره د مرستې لپاره، ملګروملتونو دخپلو ژمنو په ټولو شرایطو کې د ملګرو ملتونو پراختیایي او بشر دوستو ادارو د خپل ماموریت سره سم دخپلو عملیاتو په ځانګړو برخو کې مرستې برابرې کړي دي.

د دغه واحد ماموریت مشري د ملګرو ملتونو د سرمنشي د ځانګړي استازي ژان کیوبیس له خوا چې د ۱۳۹۰ کال د مرغومي په میاشت کې پر دې دندې وګمارل شو کیږي. د ملګرو ملتونو د ځانګړي استازي دفتر د پالیسۍ د لارښوونې او د ماموریت د سیاسي برخې لپاره د لوړې کچې تصمیم نیونې دنده لري او دغه راز له حکومت، ائتلافي ځواکونو ( مخ) او نړیوالو سوله ساتو ځواکونو ( مخ) سره اړیکې لري. د سرمنشي له ځانګړي استازي سره د بشري حقونو، جنسیت، نشه یي توکو، د قانون واکمنې، پولیسو، پوځ ، ملکي کولو، حقوقي مسألو او همدا راز د اړیکو په برخو کې دوه مرستیالان او یوشمیر ځانګړي سلاکاران مرسته کوي. د سرمنشي د ځانګړي استازي دوه مرستیالان د یوناما د عملیاتو د دوو برخو مشري کوي. د یوناما د کارکوونکو مشر د یوناما دماموریت د دواړو ستنو د یو ځای کولودنده لري.

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو ملکي ډله(UNCT) د ملګرو ملتونو ټولې ادارې، مالي مرستې او په افغانستان کې ښکیل ټول پروګرامونه او همدا راز د ملګرو ملتونو د دارالانشا ګڼ شمیر څانګې سره یو ځای کوي. چې په دې کې د ملګرو ملتونو هغه ادارې راځي چې د پروګرامونو او یا نورو فعالیتونو له لارې له افغانستان سره ښکیل دي خو په هیواد کې کوم دفتر نه لري. په دا ډول فعالینو کې د نورو تر څنګ UNAIDS,، د کرهنې د پراختیا لپاره نړیوال صندوق(IFAD)، او د سوداګرۍ او پراختیا په برخه کې د ملګرو ملتونو کنفرانس (UNCTAD) هم دي.

د ملګرو ملتونو ادارې، صندوقونه او پروګرامونه چې د دې ماموریت دوهمه برخه وړاندې کوي، په افغانستان کې د ملګرو ملتونو پراختیایي او بشر دوستانه څانګې دي نو له همدې کبله د یوناما د ماموریت د پراختیایي، بشر دوستانه او بیا رغنیزو اړخونو سره مرسته کوي. د ځانګړي استازي مرستیال د دوهمې ستنې لپاره بیلابیلې دندې تر سره کوي چې په دې کې د هستوګن همغږي کوونکي(RC)، د بشردوستانه برخې همغږي کوونکي(HC)، او د ملګرو ملتونو د پراختیایي پروګرام د هستوګن استازي(RR) دندې راځي. د RC/HC برخې د ملګرو ملتونو پراختیایي او بشري برخې له یوناما سره نښلوي. هستوګن همغږی کوونکی د هستوګن همغږي کوونکي د دفتر په مرسته د ملګرو ملتونو د ملکي ډلې مشري او د ملګرو ملتونو

د پراختیایي ادارو د همغږۍ دنده پر غاړه لري؛ د بشردوستانه چارو همغږۍ کوونکی د UNOCHA په مرسته په افغانستان کې د بشردوستانه ټولنو همغږي په غاړه لري.

ملګرې ملتونه د هیواد په ۳۴ ولایتونو کې د فرعي دفترونو یا پروګرامونو له لارې حضور لري. په ولایتونو کې د ملګرو ملتونو د کارکوونکو په هڅو کې د ځایي ادارې د وړتیا لوړول، د سولې رامینځ ته کول او بیا پخلاینې او همدا راز د ولسوالیو په کچه د بشري حقونو او مدني ټولنو پیاوړتیا او ولسوالیو ته د لومړنیو ټولنیزو خدمتونو وړاندې کول هم شامل دي. دملګرو ملتونو یو شمیر ادارې لکه UNHCR,WFP,UNICF په بیلابیلو ولایتونو کې فرعي څانګې او پروژې لري، په داسې حال کې چې نورې ادارې په ځایي کچه د پروګرامونو په پلي کولو کې له حکومت، غیر دولتي سازمانونو او ځایي ټولنو څخه کار اخلي. په کابل کې د یوناما له مرکزي دفتر سربیره یوناما په کابل، کندهار، هرات، مزار شریف، جلال آباد، کندز، بامیان او ګردیز کې ۸ فرعي څانګې او ۱۵ ولایتي څانګې د دایکنډي، جوزجان، فاریاب، سر پل، بدخشان، بغلان، تخار، خوست، ارزګان، زابل، نیمروز، فراه، بادغیس، غور او کونړ په ولایتونو کې لري. همدا راز د سیمه ییزې همغږۍ په برخه کې په تهران، عشق آباد او اسلام آباد کې د اړیکو دڅانګو له خوا مرسته کیږي.

د ملګرو ملتونو یو شمیر ستراتیژیک او په پروګرام پورې اړوند ستندرد کاري چوکاټونه د ملګرو ملتونو د سیستم د پروګرامونو او اقداماتو لارښوونه کوي. په افغانستان کې د پراختیایي، بشري او سیاسي ننګونو او حکومت سره ملاتړ ته د یو منطقي غبرګون لپاره د ملګرو ملتونو سیستم د واحد ستراتیژیک کاري چوکاټ او د ملګرو ملتونو د پراختیایي مرستو په کاري چوکاټ کې د ۱۳۸۹- ۱۳۹۲ د یو واحد په توګه عمل کوي. واحد ستراتیژیک کاري چوکاټ هغه پراخې ستراتیژیکې لارښوونې چې په ټولیزه توګه د ملګرو ملتونو سیستم یې په افغانستان کې لري څرګندوي، اود ملګرو ملتونو د سیاسي، پراختیایي او بشر دوستانه چارو د ټولو اړخونو د انسجام تضمین په غاړه لري. له واحد ستراتیژیک کاري چوکاټ سره د UNDAF له خوا مرسته کیږي چې په افغانستان کې د ملګرو ملتونو ټولو فعالو ادارو ته د پروګرام د پلان جوړونې یو کاري چوکاټ دی. د یادونې وړ ده چې UNDAF د هیواد په کچه د ملګروملتونو د سیستم یو ګډ غبرګون څرګندوي، او دغه اداره د هرې ادارې انفرادي ملکي پروګرامونه، نه بدلوي. د ملګروملتونو د بشردوستانه اړخ پروګرام جوړونه د مرستې غوښتنې د یو ټینګ بهیر له لارې چې په کلنۍ توګه رامینځ ته کیږي، اداره کیږي.

د ملګرو ملتونو د پراختیایي مرستو دوهم کاري چوکاټ چې موده یې له ۱۳۸۹-۱۳۹۲ پورې ده، د ۱۳۸۸ کال د تلې په میاشت کې یې په کار پیل وکړ. دغه کاري چوکاټ د ملګرو ملتونو د ملکي ډلې( دهیواد په کچه) د غړو له خوا په ګډه د حکومت، مدني ټولنې او نړیوالو ملګرو سره د پراخو سلا مشورو په پایله کې رامینځ ته شو او د افغانستان له ملي پراختیایي ستراتیژۍ سره د مرستې لپاره د کاري چوکاټ د برابرولو په موخه د حکومت له خوا تصویب شو. په نوموړي چوکاټ کې درې دوه اړخیز پیاوړي کوونکي لومړیتوبونه برخه لري: ۱) حکومتداري، سوله او ثبات، ۲) باثباته معیشتونه: کرهڼه، د خوړو خوندیتوب او د عایداتو یا

ګټو فرصتونه، او ۳) ټولنیز بنسټیز خدمتونه : روغتیا، ښوونه او روزنه، او به او د روغتیاساتنې خدمتونه. د راتلونکي کاري چوکاټ لپاره تیارئ به په ۱۳۹۱ کال کې پیل شي د نوموړي چوکاټ د کار موده له ۲۰۱۴-۲۰۱۸ کاله پورې ده . چاپیریال، جندر او د ښځو پیاوړتیا او د نشه یي توکو په وړاندې مبارزه هغه پراخې برخې دي چې باید د پروګرام په ټولو برخو کې په پام کې ونیول شي.

یوناما او UNDP دواړو په ګډه له MACCA,IOM, UN-Habitat, UNIDO,UNOPS, UNCTAD, UNODC, UNFPA, ILO, UN Women او UNICEF سره د لومړیتوب د لومړئ برخې مشري په غاړه اخیستې ده. د FAO ILO, UNDP, UNICEF, UNIDO, WFP, UN-Habitat, UNEP, UNFPA, UNHCR او UN Women سره د دوهمې برخې مشري په غاړه اخیستې او همدا راز پر معیشت د تمرکز په برخه کې هم فعالیت کوي. د لومړیتوب دغه برخې به د لیک لوست د زده کړې او حرفوي روزنو، لومړنیو او ثانوي او لوړو زده کړو په برخه کې د حکومت له هڅو سره مرسته وکړي او هغه به بشپړې کړي.

د ملګرو ملتونو هیوادنئ ډله د روغتیایي سیستم او خدمتونو په ښه کولو ، د ځښناک د پاکو او بو په برابرولو، او روغتیاساتنې په برخو کې هم مرسته کوي. د دوی له نړیوالو دندو سره سم UNFPA,UNICEF او UNESCO په ګډه د WHO, WFP, FAO, UNIFEM او IOM په ټینګ ملاتړ سره د دریمې برخې مشري کوي.

د ملګرو ملتونو د ملکي ډلې غړي دا دي:

- په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندوی ماموریت (UNAMA)
- UN Women
- د افغانستان د ماین پاکولو د همغږئ مرکز (MACCA)
- د بشري حقونو لپاره د عالي کمیشنر دفتر (UNOHCHR)
- د پروژو د خدمتونو لپاره د ملګرو ملتونو اداره (UNOPS)
- د پیسو نړیوال صندوق (IMF)
- د روغتیا نړیوال سازمان ( WHO)
- د کار نړیوال سازمان ( ILO)
- د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنرئ اداره (UNHCR)
- د کډوالو لپاره نړیواله اداره (IOM)
- د ماشومانو لپاره د ملګرو ملتونوجهي صندق ( UNICEF)
- د ملګرو ملتونو پراختیایي پروګرام ( UNDP)

- د ملګرو ملتونو تعلیمي، علمي او فرهنګي اداره ( UNESCO)
- د ملګرو ملتونو د امنیت او ساتنې څانګه (UNDSS)
- د ملګرو ملتونو د بشر د هستوګنې پروګرام (UN-HABITAT)
- د ملګرو ملتونو د بشري چارو د همغږۍ اداره (UNOCHA)
- د ملګرو ملتونو د چاپیریال پروګرام (UNEP)
- د ملګرو ملتونو د خوړو او کرهنې اداره (FAO)
- د ملګرو ملتونو د سیمه ییزو معلوماتو واحده شبکه (UNIRIN)
- د ملګرو ملتونو د صنعت د پراختیا اداره (UNIDO)
- د ملګرو ملتونو د نشه یي توکو او جرمونو سره د مبارزې دفتر (UNODC)
- د ملګرو ملتونو د وګړو وجهي صندوق (UNFPA)
- د نړۍ د خوړو پروګرام (WFP)

## نړیوال سوله ساتي ځواکونه (ISAF)

www.isaf.nato.int

د نړیوال سوله ساتي ځواک یا آیساف دنده د افغان ملي امنیتي ځواکونو په بشپړ ملاتړ په افغانستان کې د یو خوندي او امن چاپیریال په رامینځ ته کولو اوساتلو کې د افغانستان له حکومت سره مرسته ده .

آیساف د لومړي ځل لپاره د ملګرو ملتونو د امنیت شورا د ۱۳۸۶ اعلامیې له لارې د ۱۳۸۰ کال د لیندۍ په ۲۹ (۲۰۰۱ کال د ډسمبر د میاشتې په ۲۰ مه نېټه) د افغان لنډمهالي ادارې له بلنې سره سم څرنګه چې دبُن د تړون په لومړۍ ضمیمه کې په پام کې نیول شوی و، را مینځ ته شو. آیساف د ملګرو ملتونو له خوا یو څو ملیتیز ځواک دی، نه د ملګرو ملتونو سوله ساتی ځواک. د آیساف مالي لګښتونه د ملګرو ملتونو له خوا نه بلکې د دغه څو ملیتیز ځواک د بسپنه ورکوونکو هیوادونو له خوا برابرېږي.

د ۱۳۸۲ کال د زمري د میاشتې په ۲۲ نېټه د ملګرو ملتونو په وړاندیز ناټو د آیساف مشرتوب په غاړه واخیست، چې بیا د دغه ځواک ماموریت په کابل پورې محدود پاتې شو. او د همدغه کال د تلې په میاشت کې د ملګرو ملتونو د امنیت شورا ناټو ته له کابل څخه بهر د خپل ماموریت د غځولو واک ورکړ. د ۱۳۸۵ کال د سلواغې تر میاشتې پورې د آیساف مشرتوب په دغه ځواک کې د ګډو هیوادونو تر مینځ په دوران کې و؛ د آیساف د لومړنیو ماموریتونو مشري د بریتانیې، ترکیې، جرمني او هالنډ د هیوادونو له خوا وشوه. د هرې دورې شمیره به په رومي شمیرو بنودل کیده. د ۱۳۸۵ کال د سلواغې په میاشت کې د آیساف د لسم(X) ماموریت له بشپړیدو سره سم ددې پرځای چې ماموریت یو ځانګړي هیواد ته وسپارل شي، آیساف

یوه"ګډه مرکزي قومنداني" جوړه کړه. دا په دې مانا ده چې هر هیواد دې د خپلو بستونو ټاکل شوې برخه په رضاکاره ډول ځرنګه چې خپله یې مناسبه ګڼي، ډکه کړي. د ۱۳۹۰کال د چنګاښ په میاشت کې امریکایي جنرال جان الن د امریکایي جنرال ډیوید پټریوس پر ځای وټاکل شو.

آیساف او د هغه عملیات د امریکې د متحده ایالتونو تر مشرتابه لاندی له ائتلافي ځواکونو څخه چې د طالبانو حکومت یې را وپرځاوه او د تلپاتې سولې اوآزادۍ د راوستلو په موخه په افغانستان کې خپلو عملیاتو ته دوام ورکوي جلا دي. په لومړي سر کې آیساف یوازې د کابل په ښار کې د امنیت د ساتلو دنده درلوده، په داسې حال کې چې، ائتلافي ځواک د هیواد په نورو پاتې برخو کې د امنیت د ټینګښت چارې په غاړه درلودې. د ۱۳۸۲ کال د تلې له میاشتې را هیسې که څه هم چې د آیساف د پراختیا او تر یوې مرکزي قوماندې لاندې د دواړه پوځي ځواکونو د راوستلو بهیر پیل شو. له همدې کبله د ولایتي بیارغونې د ډلو سیمه ییزه قومانده د ۱۳۸۳-۱۳۸۵ کلونو په اوږدو کې آیساف ته وسپارل شوه. د آیساف د ماموریت د جغرافیایي پراختیا په بشپړیدو سره، د هیواد وروستۍ څلورمه ختیځه برخه د ۱۳۸۵ کال د تلې د میاشتې په ۱۳مه نیټه آیساف ته وسپارل شوه او په دې توګه آیساف د ولایتي بیا رغونې د ټولو ډلو او په ټول افغانستان کې د امنیت مسؤولیت یې په غاړه واخیست. همدارنګه آیساف د عملیاتي لارښوونې اود ډلو د اړیکو پروګرام هم پلی کوي ، چې د افغانستان د ملي پوځ په ټاکل شویو کنډکونو کې ښوونکي ګماري.

د آیساف عمومي جوړښت: په کابل کې میشتې دوه مرکزي قومندانۍ(COMISAF&COMIJC)؛ د هوایي دندو ځواک چې د هوایي عملیاتو دنده په غاړه لري؛ د ټولو شپږو زونونو لپاره سیمه ییزه قومانده (پلازمینه، شمال، لویدیځ، سویل لویدیځ، سویل، ختیځ)؛ د مرستو د لیږد اډې؛ او د ولایتي بیا رغونې ډلې. د شمالي اتلانټیک شورا، د ناټو پریکړه کوونکې اداره د غیر ناټو ځواک له مرستندویه هیوادونو سره په مشوره کې آیساف ته سیاسي لارښوونې برابروي.

د ۱۳۸۸ کال د زمري په میاشت کې د ناټو غړو په دې موافقه وکړه چې د آیساف د لویې قومندانۍ جوړښت ته د مسولیتونو د اندازې او پراختیا سره سم سمون ورکړي. د ۱۳۸۸ کال د لړم په میاشت کې د ستراتیژیکو، سیاسي پوځي او ورځنیو دندو او عملیاتو د بیلولو له لارې د آیساف د هڅو د اغیزمنتوب په موخه یوه نوې منځنۍ مرکزي قومنداني پرانیستل شوه. دغه نوې لویه قومنداني له دې برخو څخه جوړه ده: یوه عالي ستراتیژیکه قومنداني چې د ۴ ستورو لرونکي جنرال( جنرال الن ) ترقوماندې لاندې ده، او دوه ثانوي درې ستوري لرونکې قومنداني ( یا منځنۍ قومنداني)، چې په افغانستان کې د ناټو د روزنیز ماموریت (NTM-A) په نامه او د آیساف د ګډې قومندانۍ په نامه یادیږي. د واړه قومندانۍ په کابل کې موقعیت لري.

د قوماندې تر دې نوې جوړښت لاندې د آیساف مرکزي قومنداني د آیساف د ماموریت په ډیرو ستراتیژیکو سیاسي - پوځي اړخونو تمرکز کوي او د ایساف عملیات په هیواد کې د افغان اونورو نړیوالو سازمانونو سره همغږې کوي. د ایساف مرکزي قومنداني په افغانستان کې د ایساف د قومندانۍ او د امریکې د ځواکونو

د قومندانۍ په توګه دوه ګوني قومنداني ده نو له دې کبله د ایساف او د امریکې د ځواکونو په مشرۍ د تل پاتې خپلواکۍ د عملیاتو همغږي په غاړه لري. د ایساف مرکزي قومنداني(COMISAF) د ایساف پر ګډې قومندانۍ(IJC)، په افغانستان کې د ناټو پر روزنیز ماموریت، او د ناټو د ځانګړو عملیاتو پر برخه د قوماندې مسوولیت لري.

د ایساف د ګډې قومندانۍ مشري د درې ستوري لرونکي برید جنرال کیورتیس . م. سکاپروټي(Curtis M. Scaparotti) له خوا کیږي، چې په ټول افغانستان کې د ورځنیو تکتیکي عملیاتو د بشپړې لړۍ د تر سره کولو مسوولیت لري. دی سیمه بیزه قومانده او د ولایتي بیارغونې د ډلو مسوولیت هم په غاړه لري. سر بیره پردې دی د آیساف او د افغان ملي امنیتي ځواکونو د عملیاتو همغږي تضمینوي ، او د امریکې د ځواکونو، ایساف، د ناټو د روزنیزې برخې د قومندان په توګه د ناټو /آیساف قومندان او د امریکې د امنیت د لیږد د ګډو امنیتي ځواکونو د قومندانۍ دنده پر غاړه لري.

د لیږد د بهیر د برخې په توګه، د آیساف ځواکونه په افغانستان کې امنیتي مسوولیتونه په تدریجي ډول افغان امنیتي ځواکونو ته سپاري. د آیساف د ځرګندونو له مخې د لیږد بهیر د کلیزې پر بنسټ نه بلکې د فرصت پر بنسټ یو بهیر دی، په پام کې دی چې د امنیتي مسوولیتونو د لیږد بهیر به د ۱۳۹۳ کال (۲۰۱۴) په پای کې بشپړ شي. تمه کیږي چې دا بهیر به د پام وړ سر تیرو له راایستلو سره مل وي. د سرتیرو په شمیر کې کمښت د ۱۳۹۰ کال له نیمایي څخه چې د سر تیرو شمیر خپلې اعظمي کچې یعنې ۱۴۰۰۰۰ ته رسیدلی پیل شوی ده، او د ۱۳۹۰ کال د مرغومي تر میاشتې پورې داسې پلان و چې د ۱۳۹۱ کال تر پایه د آیساف د ځواکونو ۴۰۰۰۰ سر تیري به له افغانستان څخه و ایستل شي.

د ۱۳۹۰ کال د مرغومي ترمیاشتې پورې د آیساف د ځواکونو شمیر ۱۳۰۶۳۸ تنه و، ۵۰ ځواک مرسته کوونکي هیوادونه دادي: البانیا، ارمنیا، استرالیا، آسټریا، آذربایجان، بهرین، بلجیم، بوسنیا او هرزه ګوینیا، بلغاریا، کاناډا، کوریشیا، د چک جمهوریت، ډنمارک، ایستونیا، ایسلوادور، فنلنډ، فرانسه، جیورجیا، جرمني، یونان، هنګري، آیسلنډ، آیرلنډ، ایټالیا، اردن، د کوریا جمهوریت، لیتویا، لیتوانیا، لوکزامبورګ، مکدونیا، مالیزیا، منګولیا، مونتی نیګرو، هالنډ، نیو زیلاند، ناروې، پولند، پرتګال، رومانیا، سینګاپور، سلواک، سلووینیا، هسپانیه، سویډن، د پخوانۍ یوګسلاویا د مکدونیا جمهوریت، تانګا، ترکیه، اوکراین، عربي متحده امارات، انګلستان او د امریکې متحده ایالتونه دي.

## ولایتي پراختیایي پلان (PDP) او ولایتي ستراتیژیکه پلان جوړونه(PSP)

موخه یې په افغانستان کې د پراختیایي لومړیتوبونو په اړه د پراخ توافق تضمین، او لکه څرنګه چې د افغانستان دملي پراختیایي ستراتیژۍ له خوا په ډاګه شوې وه په ۳۴ ولایتونو کې د ولایتي پراختیایي پلان جوړول دي. نوموړي پلانونه د سیمه بیزو مشورو پایلې دي چې په هر ولایت کې له ځایي ټولنو سره د پروژو د لومړیتوبونو او وړاندیزونو د پیژندلو لپاره تنظیم شوې دي. وروستی سلا مشورې د ولایتي

ادارو، مدني ټولنې، او بسپنه ورکوونکو سازمانونو له استازو سره په دې موخه تر سره شوې څو دا تضمين کړي چې د غه پلانونه د اړوندو وزارتونو له ستراتيژيو سره سمون لري. په کلنی توګه نوي شوي پلانونه مهم سکټورونه تر پوښښ لاندې نيسي: زيربنا او طبيعي سرچينې؛ اقتصادي اداره او د خصوصي سکټور پراختيا؛ کرهنه او کليوالي پراختيا؛ پوهنه؛ روغتيا؛ ټولنيزخونديتوب؛ حکومت داري؛ امنيت؛ د قانون واکمني او بشري حقونه. د سيمه ييزو ارګانونو د خپلواک رياست له وينا سره سم د ولايتي پراختيايي پلان د هڅو په لړ کې يوه دا ده چې ولايتي بوديجه او پلان جوړونه به وروسته له دې په کابل کې د وزارتونو له خوا نه بلکې په ولايتونو کې ترسره کيږي.

د سيمه ييزو ارګانونو خپلواک رياست په هر ولايت کې د اوږد مهالې ستراتيژيکې پراختيا د موضوعګانو د ارزونې پر بنسټ يې د ولايتي ستراتيژيک پلان جوړونې بهير هم پيل کړی دی. دغه پلانونه د اشتراکي کړنلارې او له اړوندو وزارتونو او نورو ونډه والو سره د سلا مشورو پر بنسټ رامينځ ته شوي دي. دغه اوږد بهير په هر ولايت کې له شپږو ځخه تر اتو مياشتو پورې وخت نيسي. آزماېښتي پلانونه د بلخ، باميان، هرات، ننګرهار او لغمان په ولايتونو کې بشپړ شوي دي. د سيمه ييزو ارګانونو خپلواک رياست په پام کې لري چې په ۱۳۹۱ کال کې په ټولو پاتې ولايتونو کې PSP پلی کړي.

د وجهي صندوق د بيا ګرځيدونکي لګښت په برخه کې د يو هڅوونکي پروګرام په رامينځ ته کيدو موافقه وکړه. د هڅوونکي پروګرام موخه د حکومت د سمون د اجندا ملاتړ او د مالي ثبات پر لور پرمختګ دی. د حکومت له بوديجې سره مالي مرستې د ربښتينو کړنو پر بنسټ ورکول کيږي. د دغه صندوق لوی مرستندويان انګلستان، د امريکې او کاناډا هيوادونه دي. نور مرستندويان د ۱۵ اروپايي هېوادونو په ګډون، داروپا کميسيون، هند، ايران، ترکيې، استراليا او د خليج هېوادونه دي.

# د افغانستان حکومت: منځپانګه

شالید ............ ۱۰۰
په افغانستان کې حکومت ............ ۱۰۰
اجرائیه ځواک ............ ۱۰۰
مقننه ځواک ............ ۱۰۱
قضائیه ځواک ............ ۱۰۵
عامه سکټور ............ ۱۰۸
د افغانستان مرکزي حکومت( د ۱۳۸۹ کال د مرغومي میاشت) ............ ۱۱۲
د افغانستان د حکومت وزارتونه او وزیران( د ۱۳۹۰ کال د کب میاشت) ............ ۱۱۳
په افغانستان کې ټولټاکنې ............ ۱۱۴
په افغاني ټاکنو کې مهم فعالین ............ ۱۱۶
د څوکیو ویش ............ ۱۱۶
شکایتونه او پلټنې ............ ۱۲۰
سیاسي ګوندونه ............ ۱۲۰
د ۱۳۸۸ کال ټاکنې ............ ۱۲۱
د ۱۳۸۹ کال ټاکنې ............ ۱۲۵

# شالید

د ۱۳۸۰ لمریز کال د لړم په میاشت کې د طالبانو د رژیم له را پرځیدو وروسته، د افغان سیاسی ډلو مشران د بن په غونډه کې چې د ملګرو ملتونو په ملاتړ په جرمنی کې چیرې چې د بُن تړون هم ( ۰۵ مخ) لاسلیک شو، سره راغونډ شول. دې تړون لیک د افغانستان لنډمهاله اداره یې وټاکله او افغانستان ته د دوه نیمو کلونو په موده کې د تلپاتې حکومتي ادارو، او یو پراخ بنسټه، د جنسیت په وړاندې حساس، څو ملیتي او په بشپړه توګه د یواستازې حکومت د بیا جوړولو مهال وېش یې ترتیب کړ. د ۱۳۸۱ کال د غبرګولي د میاشتې بیړنۍ لویې جرګې (بیړنۍ لویه جرګه ۲۱. مخ)، د افغانستان د لنډمهالې ادارې پر ځای یې د افغانستان انتقالي حکومت رامینځ ته کړ اوحامد کرزی یې د دولت د رئیس او د افغانستان د انتقالي دولت د مقننه قوې په نه شتون کې د افغانستان د موقت حکومت د مشر په توګه وټاکلو.

د بُن له مهال وېش سره سم، په یوه نوي اساسي قانون باندې (د اساسي قانون بشپړ متن ..۱۱۹.. مخ) خبرې اترې وشوې او د اساسي قانون د لویې جرګې (۲۱. مخ) له خوا چې د ۱۳۸۲ کال د لیندۍ له ۲۳نیټې څخه د مرغومې تر ۱۴مې نیټې پورې یې دوام درلود تصویب شو. اساسي قانون ټاکل شوي ولسمشرته دوه ټاکل شوي مرستیالان او یوه ملي شورا چې له دوو مجلسونو څخه جوړه‌( ولسي جرګه او مشرانو جرګه)په واک کې ورکوي. په سیمه ییزه کچه،اساسي قانون د ولایتي، ولسوالیو، کلیو او د ښاروالیو شوراګانو ټاکنې، همدا شان د ولسمشر له خوا د والیانو او ښاروالانو د ټاکلو وړاندیز کوي.

په هغو ټولټاکنو کې چې د ۱۳۸۳ کال د تلې په ۱۸مه نیټه تر سره شوې، حامد کرزی د ۵۵ سلنې رایو په ترلاسه کولو سره د خلکو د رایو له لارې دافغانستان د لومړني انتخابي جمهور رئیس په توګه وټاکل شو. هغه د ۱۳۸۳ کال د لیندۍ په ۱۷مه نیټه لوړه وکړه چې له هغه سره سم انتقالي دولت په رسمي توګه د افغانستان اسلامي جمهوري دولت ته واوښت. په پام کې وه چې د ملي شورا، د ولایتي او د ولسوالیو د شورا ګانو ټاکنې به د جمهوري ریاست له ټولټاکنو سره سم په لاره واچول شي خو، د امنیتي او تخنیکي ستونزو له کبله وځنډول شوې. په پای کې د ولسي جرګې او ولایتي شورا ګانو ټولټاکنې د ۱۳۸۴ کال د وږي د میاشتې په ۲۷مه نیټه تر سره شوې. دوهمې ولسمشریزې او د ولایتي شوراګانو ټاکنې په ۱۳۸۸ کال کې تر سره شوې چې دغه بحث پارونکی بهیر د ولسمشر کرزي د دوهم ځل ټاکل کیدو سره پای ته ورسید، خو د ولسوالیو، کلیو او ښاروالۍ د شوراګانو ټاکنې تر سره نه شوې.

# په افغانستان کې حکومت

## اجرائیه ځواک

د افغانستان د مرکزي حکومت اجرائیه څانګه د ولسمشر د دفتر، دوو مرستیالانو، لویې څارنوالۍ، ۲۶ وزیرانو درلودونکې کابینې او همدا شان څو خپلواکو ادارو او نورو دولتي سازمانونو څخه جوړه ده( په ۱۱۲.مخ کې د حکومتي جوړښت چارټ وګورئ). ولسمشر په مستقیمه توګه دیوې پنځه کلنې مودې لپاره

ټاکل کيږي او کولای شي په اعظمي توګه د دوو دورو لپاره خدمت وکړي. د ولسمشريزوټاکنو نوماند کولای شي خپل دوه مرستيالان هم په همدې وخت کې ونوموي. ولسمشر د دولت مشر، د کابينې رئيس او د وسله والو ځواکونو اعلی سر قومندان دی.

په ټوليزه توګه د ولسمشر دفتر په خپله د ولسمشر له دفتر، د امنيت شورا، د رسنيو له دفتر، او د چارو د ادارې له دفتر څخه جوړ دی چې د چارو اداري دفتر ولسمشر، د ولسمشر مرستيالانو او د ولسمشر سلاکارانو ته اداري ، لوژستيکي او مالي مرستې برابروي.

ولسمشر وزيران، لوی څارنوال، د افغانستان بانک رئيس( مرکزي بانک)، د سترې محکمې غړي، د ملی امنيت رئيس او د سرې مياشتې د ټولنې رئيس ټاکي. چې تر ټاکلو وروسته نوماندان ملي شورا ته د باور د رايو د تر لاسه کولو لپاره معرفي کيږي او که چيرې د ملی شورا څخه د باور رايې تر لاسه نه کړي نو په دې دنده نه شي ګمارل کيدای. د ۲۰۰۹ کال دليندئ په مياشت کي له ۲۴ وړاندې شوو نوماندو وزيرانو څخه يواځې ۷ د ولسي جرګې له خوا ومنل شول او څو نور يې د ۲۰۱۰ کال د ليندیٔ او چنګاښ په مياشتو کې د نوې پيشنهاد له مخې ومنل شول، خو ۱۰ وزارتونه له سرپرستووزيرانو سره پاتې شول، چې نوماندوزيرانوکي ترډيرو بدلونو وروسته دوې ټول له ولسي جرګې څخه ومنل شول. د اساسي قانون له مخې نورې ټولې اجرائيوي دندې د ولسمشر د مرستيالانو په ګډون، کابل ښاروال، او د بيلابيلو کميسيونونو مشران د ولسمشر له خوا ټاکل کيږي او د ملي شورا تاييد ته اړتيا نه لري.

## مقننه ځواک

### ملی شورا

د ۱۳۸۳ کال د اساسي قانون له مخې، ملي شورا يا پارلمان له دوو مجلسونو( ولسي جرګه او مشرانو جرګه) څخه جوړه ده. نوې ملی شورا د لومړي ځل لپاره د ۱۳۸۴ کال د ليندیٔ په مياشت کې د همدې کال د وږي د مياشتې له پارلماني ټاکنو څخه وروسته غونډه وکړه.

د ولسي جرګې غړي د ولايتي ټاکنيزو حوزو له لارې د يوې پنځه کلنې دورې لپاره ټاکل کيږي. اوس مهال په ولسي جرګه کې ۲۴۹ څوکۍشته؛ په اساسي قانون کې په اعظمي توګه تر ۲۵۰ څوکيو يادونه شوې ده. څوکۍ د ولايتونو د وګړو دشمير له مخې وېشل کيږي. اساسي قانون څرګندوي چې په منځنۍ توګه د هر ولايت دوه څوکۍ چې ټولې ۶۸ څوکۍ کيږي د ښځو لپاره ځانګړې کيږي. که څه هم چې د ۱۳۸۴ کال له ټاکنو راهيسې د کوچيانو موضوع د پارلمان د غړو په مينځ کي په يوه تاوده بحث بدله شوې ده، ۱۰ څوکۍ د کوچيانو لپاره په پام کې نيول شوي چې له دې ډلې نه درې يې بايد ښځو ته ورکړل شي.

د مشرانو جرګه ۱۰۲ غړي لري چې په ګډه د ولسمشر له خوا( يو پردريمه برخه) او د ولسي جرګې، د ولايتونو او ولسواليو د شورا ګانو( دوه پر دريمه برخه) له ټاکنو څخه وروسته د غير مستقيمو ټاکنو له لارې ټاکل شوي دي. اساسي قانون څرګندوي چې د مشرانو جرګې غړي په لاندې ډول ټاکل کيږي اويا هم انتصابيږي.:

- د هرې ولایتي شورا له غړو څخه، اړونده شورا یو کس د څلورو کلونو لپاره ټاکي.
- د هر ولایت د ولسوالیو له شوارګانو څخه، اړونده شوراګانې یو کس د دریوو کلونو لپاره ټاکي.

ولسمشر د پاتې غړو یو پر دریمه برخه چې په کې د معلولینو او کوچیانو دوه دوه استازي دي د یوې پنځه کلنې دورې لپاره ټاکي. چې د ولسمشر د دغو انتصاب شوو غړو ۵۰ سلنه باید ښځې وي.

په داسې حال کې چې اساسي قانون د ولسوالیو د شوراګانو د ټاکنو په هکله صراحت لري خو ترننه پورې دغه ټاکنې نه دي تر سره شوي. یوه لنډمهاله حل لاره په نظر کې نیول شوې ده: هره ولایتي شورا د یوه پرځای خپل دوه غړي مشرانو جرګې ته ټاکي (چې یو د څلورو کلونو او بل د دریو کلونو لپاره تر هغه چې د ولسوالیو ټولټاکنې تر سره کیږي).په دې توګه د ټاکل شوو کسانو ۲:۱ نسبت انتصابي غړي دي. دمشرانو جرګې د جوړښت دغه لنډ مهاله کړنلاره له اووه کلونو راهیسې په همدې توګه لا پر ځای ده او په نږدې راتلوونکي کې د ولسوالۍ د شوراګانو د ټاکنو لپاره روښانه پلانونه، نه شته.

د ملي شورا غړي باید افغانان وي. او ولسي جرګې ته د نوماندۍ پرمهال نوماند باید لږ تر لږه ۲۵ کاله عمر ولري، په داسې حال کې چې د مشرانو جرګې غړي باید د ټاکنې او یا د انتصاب پر مهال لږ تر لږه ۳۵ کاله عمر ولري. په یو وخت کې د دواړو جرګو (ولسي جرګې او مشرانو جرګې) د غړیتوب تر لاسه کول شوني نه دي.

ملي شورا په کال کې دوه ځلې عادي غونډې کوي او د کار موده یې په کال کې ۹ میاشتې ده. غونډې تر هغه وخته چې د ملي شورا د رئیس او یا لږ تر لږه د ۱۰ تنو غړو له خوا یې د پټوالي غوښتنه نه وي شوې او د شورا له خوا تایید شوې نه وي، آزادې او د ولس پرمخ پرانیستې دي.

د اساسي قانون د ۹۰ مادې پر بنسټ، ملي شورا دلاندېنیو صلاحیتونو درلودونکې ده:

- د قوانینو او تقنیني فرمانونو تصویب، تعدیل یا لغو کول؛
- د ټولنیزې، کلتوري، اقتصادي او ټکنالوژیکي پراختیا لپاره د پلانونو تصویب؛
- د دولتي بودیجې تصویب او د پورونو د اخیستنې یا ورکړې اجازه؛
- د اداري واحدونو جوړښت، تعدیل او یا لغو کول؛
- د نړیوالو قوانیونو او تړونونو تایید یا له هغوی سره د افغانستان د غړیتوب لغو کول؛
- نور هغه صلاحیتونه چې په اساسي قانون کې یې یاد ونه شوې ده؛

پالیسي او قانون جوړونه کیدای شي د ولسمشر د دفتر، هر وزارت یا د ملي شورا له خوا ترسره شي، چې بیا د ملي شورا د دواړو مجلسونو له خوا تر تصویب او د ولسمشر له خوا تر توشیح وروسته په یو قانون بدلیږي. د اساسي قانون ۹۴مه ماده څرګندوي چې:

- قانون هغه مصوبه ده چې د ملي شورا د دواړو مجلسونو له خوا تصویب او د جمهور رئیس له خوا توشیح شي، مګر دا چې په اساسي قانون کې بل ډول څرګندونه شوې وي.
- که چیرې جمهور رئیس د ملي شورا له مصوبې سره موافقه ونه لري کولای شي چې دنوموړې مصوبې

له وړاندې کیدو څخه د پنځلسو ورځو په موده کې د مناسبو دلایلو په وړاندې کولو سره مصوبه ملي شورا ته بیا ولیږي.

- ددغه وخت په تیریدو سره اویا که چیرې ولسي جرگه یوه ځانگړې موضوع د دوه پر دریمې برخې د اکثریت رایو پر بنسټ بیاتصویب کړي، نوپه دې صورت کې د قانون نوموړې مسوده توشیح شوې گڼل کیږي او تنفیذیږي.

ځینې ټاکلي تقنیني اسناد لکه ( مقررې، امرونه او لارښووني) د انفرادي وزارتونو له خوا هم صادرېدای شي. یوه لایحه یا توشیح شوی فرمان باید د سپارلو له نیټې څخه د یوې میاشتې په ترڅ کې تصویب شي. په ولسي جرگه کې ۱۸ او د مشرانو په جرگه کې ۱۴ کمیسیونونه موجود دي.

د ۱۳۸۱ کال د بُن تړون څرگنده کړه چې د ۱۳۴۳ کال اساسي قانون او نور شته قوانین( که چیرې د بُن له تړون او یا هم د افغانستان له نړیوالو ژمنو سره په تناقض کې نه وي) به د نوي اساسي قانون ترتصویب پورې یو لنډ مهاله قانوني کاري چوکاټ رامینځ ته کړي. نوی اساسي قانون په ۱۳۸۳ کال کې تنفیذ شو او د خپلو موادو د په پام کې نیولو سره سم یې گڼ شمیر فرمانونه او قوانین تصویب کړي دي. د عدلیې وزارت د تقنین ریاست چې د قوانینو د تسوید دنده پرغاړه لري گڼ شمیر قوانین یې تسوید کړي چې د پخوانیو قوانینو ځای یې نیولی دی. یو شمیر متناقض قوانین چې د پخوانیو بیلا بیلو رژیمونو له خوا تصویب شوي وو که څه هم چې پاتې دي خو د هغو د همغاړي کولو لپاره هڅې روانې دي.

د افغانستان د قوانینو په هکله د لازیاتو معلوماتو لپاره ۱۴.مخ وگورئ.

**ملي شورا ته ملاتړ**

د یو شمیر نړیوالو فعالینو له خوا لکه د ملگرو ملتونو د پراختیایي پروگرام یا UNDP د SEAL پروژه ( د افغانستان د مقننه قوې له جوړیدو سره مرسته) چې د ۱۳۸۳ کال د سلواغې په میاشت کې پیل او د ۱۳۸۶ کال د کب په میاشت کې د څلورو نورو کلونو لپاره وغځول شوه. نوموړې پروژه د حقوقي مرستو په گډون دمعلوماتو او اړیکو ټکنالوژي، د پارلماني انسجام او عامه پوهاوي پروگرامونه، د پروژو مدیریت، او تخصصي روزنې وړاندې کوي. په دې وروستیو کې د سیال پروژه د پارلمان په د ننه کې د سیاسي گوندونو / د موضوع پر بنسټ ډلو په هڅولو کې ښکیل ده.

د افغانستان د پارلمان مرستندویه پروژه(APAP-www.sunyaf.org) یو بل مهم نوښت دی چې د امریکې د متحدو ایالتونو د نړیوال پراختیایي پروگرام (USAID) په مالي ملاتړ د نیویارک د ایالتي پوهنتون (SUNY) د نړیوالې پراختیا د مرکز له خوا پلی کیږي(SUNY/CID). دغه پروژه په ۱۳۸۳ کال کې د داسې یوه پارلمان په رامینځ ته کیدو کې چې " د یوې پیاوړې، خپلواکې او اغیزمنې مشوره ورکوونکې ادارې په توگه د دندې د تر سره کولو وړتیا ولري " د مرستې په موخه رامینځ ته شوه. د دې پروژې د کار موده د ۱۳۹۱ کال د غبرگولي په میاشت کې پای ته رسیږي، خو د ۱۳۹۰ کال د مرغومي تر میاشتې پورې د امریکې نړیوالې پراختیایي ادارې د پروگرام د دوام په اړه کار کاوه چې په دې توگه دغه پروژه به د ۱۳۹۴ کال د غویي تر میاشتې پورې فعالیت وکړي. نوموړې پروژه د قانون جوړونې په چارو کې د پارلمان د غړو د خورا اغیزمن ملاتړ په موخه دافغانستان د پارلماني ټولنې له لارې د ملي

شورا د دارالانشا د سازماني وړتیا د لوړولو لپاره کار کوي. همدا راز د افغانستان د پارلمان مرستندویه پروژه د تقنیني، پارلماني او څارنیزو چارو په تر سره کولو کې په خپله د پارلمان د غړو د وړتیا د پیاوړي کولو په برخه کې هم کار کوي. چې په دې کې له مؤکلینو سره د ملي شورا د ښکیلتیا د زیاتولو او د حکومت د اجرائیه څانګې، مدني ټولنې، نا دولتي سازمانونو او رسنیو سره د اړیکو د رامینځ ته کولو لپاره مرستې شاملې دي. دغه پروژه د قانون جوړونې د خبرپاڼې په ګډون چې په منظم ډول خپریږي او د پارلماني چارو په هکله نوي مطالب لري ګڼ شمیر سرچینې د نړیوالې ټولنې په واک کې ورکوي.

نور سازمانونه چې پخوا او په حاضر وخت کې ملي شورا ته ملاتړ برابروي دا دي: د سولې او ډموکراسۍ لپاره مساوات ،ملي ډموکراتیک انسټیټوټ(NDI)، د ټاکنیز سیسټم لپاره نړیوال بنسټ( IFES)، (Friedrich-Ebert-Stiftung( FES، نړیوال حقوقه(Global Rights) حقوقه او ډموکراسي (Rights and Democracy)، د پرانیستې ټولنې انسټیټوټ او (UN Women).

**ولایتي شوراګانې**

ټولې ۳۴ ولایتي شوراګانې د ولایتونو د وګړو د شمیر له مخې له ۹ څخه تر ۲۹ غړي لري او د رایه ورکونې په یو واحد مرکز کې ټاکل کیږي. نوماندان باید د هغه ولایت اوسیدونکي وي په کوم کې چې هغوی ځان ټاکي، او دوی نه شي کولای چې په یوه وخت کې هم ملي شورا او هم ولایتي شورا ته ځانونه ونوموي. د ټاکنیز قانون له مخې د ولایتي شوراګانو د څوکیو یو پر څلورمه برخه باید ښځو ته ځانګړې شي. له هرې ولایتي شورا څخه دوه تنه به په مشرانو جرګه کې دننده تر سره کوي (چې دغه شمیر به د ولسوالیو د شوراګانو د جوړیدو په صورت کې یوه تن ته را ټیټ شي). د اساسي قانون له غوښتنې سره سم چې د ولایتي شورا ګانو ټاکنې باید په هرو څلورو کلونو کې یو ځل تر سره شي تر اوسه پورې د ولایتي شوراګانو لپاره دوه دورې ټاکنې یوځل په ۱۳۸۴ او یو ځل په ۱۳۸۸ کال کې تر سره شوي دي. او په دې توګه د ولایتي شوراګانو راتلونکې ټاکنې به په ۱۳۹۲ کال کې تر سره شي.

د ۱۳۸۶ کال د ولایتي شورا ګانو قانون د دغو شوراګانو د مسئولیتونوپه هکله ناڅرګنده دی او د دوی د کره ونډې په هکله د پام وړ مغشوشتیا موجوده ده، په داسې حال کې چې یو حکم شته خو دا نا څرګنده دی او دوی ته د پریکړې کولو واک نه ورکوي، اوس مهال ولایتي شوراګانې د سیمه ییزو ارګانونو خپلواک ریاست ته په مستقیمه توګه رپوټ ورکوي. تر دغه دمه د ولایتي شوراګانو فعالیتونه دا دي: مشرانو جرګې ته د دوی له خپلو غړو څخه د ولایتي استازو ټاکل؛ د ولایتونو د پراختیایي او اداري چارو په ښه والي کې ګډون؛ او ولایتي چارواکو ته د پراختیایي پلانونو په ګډون د بیلابیلو موضوعاتو په اړه سلا مشورې ورکول. چې د دوی ونډه په اړوندو ولایتونو کې اکثراً د شورا او والي تر مینځ پر اړیکو ولاړه ده. د ۱۳۸۹ کال د چنګاښ په میاشت کې د ولایتي شورا په اړه د یو نوي قانون مسوده جوړه شوه چې د دوی د په پام کې نیول شوې ونډې په هکله د خورا مشخصوتفصیلاتو درلودونکې ده.

**د ولسوالی شوراګانې**

له اساسي قانون سره سم ، د ولسوالیو شوراګانې د ولسوالیو د وګړو د شمیر له مخې له پنځو څخه تر پنځلسوغړي ولري او په هرو دریوو کلونو کې به یو ځل ټاکل کیږي. نوماندان باید د هم هغې ولسوالۍ اوسیدونکي وي په کومه کې چې هغوی ځان ټاکي. که چیرې د ولسوالیو شوراګانې جوړې شي بیا به د

مشرانو جرګې دغړو له دریوو برخو څخه یوه برخه وټاکي.

که څه هم چې تر ننه د ولسوالیو د شوراګانو ټاکنې تر سره شوي نه دي خو ددې کار لپاره یو لړ لاملونه موجود دي. لومړی، په ځینو سیمو کې دولسوالیو پولې تایید شوې نه دي نو له دې امله د ولسوالیو د وګړو شمیرل او په دې هکله چې دې ولسوالیو ته څو څوکی ځانګړې شي قضاوت شونی نه دی، چې دغه ستونزه د هیواد د یوې نوې سرشمیرنې د نه شتون له کبله نوره هم پیچلې کیږي. دوهم ، د ولسوالیو د پولو نا څرګندوالي ته په پام سره د رایه ورکوونکو نوم لیکنې د ولسوالۍ له لارې نه بلکې د ولایت له لارې تر سره کیږي. نو د ولسوالیو د شوراګانو د ټاکنو لپاره د نوم لیکنې یو بل بهیر ته اړتیا ده.

د اساسي قانون د ۱۱۰ مادې پر بنسټ که چیرې دیوې لویې جرګې جوړیدو ته اړتیا وي ( د بیلګې په توګه، د اساسي قانون د تعدیل او یا "د هیواد پر لوړو ګټو یا مصالحو د بحث لپاره")، نو دغه لویه جرګه باید د ملي شورا او د ولایتي او ولسوالیو د شوراګانو له رئیسانو څخه جوړه وي. د ولسوالیو د شوراګانو د ټاکنو له نه تر سره کیدو سره سره د ۱۳۸۳ کال د اساسي قانون له تصویب وروسته څو لویې جرګې راغوښتل شوي دي. په رسمي توګه د ولسوالیو د ټاکل شوو شورا ګانو په نه شتون کې، یو شمیر نورې قانوني ادارې د ولسوالیو په کچه د یوې اندازې استازیتوب او ښې حکومتدارۍ د تأمین په موخه رامینځ ته شوي دي. د سیمه ییزو ارګانونو د خپلواک ریاست تر مشرۍ لاندې د افغانستان د ټولنیز انسجام پروګرام(ASOP) د ولسوالیو سلګوني ټولنیزې شوراګانې یې د دودیزو شوراګانو له مخې رامینځ ته کړي دي، په داسې حال کې چې ملي سیمه ییز پراختیایي پروګرام (NABDP) د کلیو د بیارغونې اوپراختیا د وزارت تر مشرۍ لاندې د ټولنیزو مرستو شوراګانې (DDAs) جوړې کړې دي، چې دغه دواړه اداري ورته دندې او مسوولیتونه لري، او تر اوسه د بیلابیلو مراجعو په وړاندې ځواب ویونکي دي، بیله بودیجه یې تر لاسه کړې او د همغږۍ لړۍ لارې لري. د پایلې په توګه په ځینو سیمو کې د دې ادارو تر مینځ ترینګلتیاوې رامینځ ته شوې او د خدمتونو لیږد یې سوکه کړی دی.

**د کلیو او د ښاروالیو شورا ګانې**

اساسي قانون د آزادو، عمومي، پټو او مستقیمو ټولټاکنو له لارې د کلیو د شوراګانو، د ښاروالیو د شوراګانو او ښاروالانو د ټاکنو غوښتنه هم کوي. د کلیو شوراګانې به د دریوو کلونو لپاره وټاکل شي. د ښاروالیو د شوراګانو او ښاروالانو د ټاکلو مودې لا تر اوسه څرګندې نه دي، او د کلیو او ښاروالیو د شوراګانو دندې په اساسي قانون یا په ټاکنیز قانون کې په تفصیل سره نه دي څرګندې شوې. داسې نه ښکاري چې ددې ارګانونو ټولټاکنې به په راتلونکو څو کلونو کې تر سره شي. یو ځل بیا، د دې ادارو د جوړیدو نه بریالیتوب د نورو قانوني هڅو لامل شوی څو دغه تشې ډکې کړي. په ځانګړې توګه په زیاترو سیمو کې د ملي پیوستون د پروګرام (NSP) ټولنیزې پراختیایي شوراګانې(CDC) د کلي د پیاوړو رسمي ادارو په توګه په اغیزمن ډول فعالې دي.

## قضاییه ځواک

په افغانستان کې مهم تلپاتې عدلي ارګانونه ستره محکمه، لویه څارنوالي او د عدلیې وزارت دی. د۱۳۸۳ کال اساسي قانون څرګندوي چې: " **قضائیه قوه د افغانستان د اسلامي دولت یوه خپلواکه څانګه ده. قضائیه قوه** له سترې محکمې، عالي محکمې، استیناف او لومړنیو محکمو څخه جوړه ده چې جوړښت او صلاحیتونه یې

د قانون له مخې تاکل کيږي." د ۱۳۸۴ کال د غبرګولي په مياشت کې، يو نوی قانون چې قضا او محکمې تنظيموي د کابينې له خوا تصويب شو. ددغه قانون تر رامنځ ته کيدو پورې، دغه نظام د افغانستان د ۱۳۶۸ کال د محکمو د قضايي صلاحيت او لارښونو له لارې اداره کيدو (د رسمي جريدې ۶۳ مه ګڼه، ۱۳۶۹ لمريز کال). نوی قانون محکمې په دريو برخو ويشي: ستره محکمه، د استيناف محکمې، او لومړنۍ محکمې. د اړتيا په وخت او په ځانګړو حالاتو کې دغه قانون د ګرځنده محکمو د جوړولو يا د سفرحکم هم کوي چې دا بايد د ولسمشر له خوا تأييد شي.

ستره محکمه يو ستر باصلاحيته ځواک دی: په دندو کې يې پرقوانينو، فرمانونو، نړيوالو تړونونو او د نړيوالو لوز نامو بياکتنه شامله ده څوداړ تر لاسه شي چې د نوموړو قوانينو مواد له اساسي قانون سره سمون لري. لويه څارنوالي يوه خپلواکه اداره ده چې د اجرائيه څانګې يوه برخه جوړوي او د څيړنو او پلټنو مسئووليت لري.

د هيواد په کچه رسمي قضايي سيستم ته لاس رسی سره د پام وړ توپير لري. په افغانستان کې د لانجو يوه ستره برخه د رسمي محکمو له نظام څخه بهر په ځانګړې توګه خو، نه په انحصاري ډول په کليوالو سيمو کې حليږي. دټولنې په کچه عدلي ميکانيزمونه (شوراګانې،جرګې او غونډې)اکثرا مدني او جنايي لانجې د اسلامي، او هم د هغې سيمې د دوديزو يا عرفي او قومي قوانينو پر بنسټ څيړي او د حل لاره ورته مومي. نو له همدې امله، عدلي سيستم له دواړو رسمي او غير رسمي ميکانيزمونو څخه جوړ دی چې په کې مدني قانون،اسلامي، او دوديز يا عرفي / قومي قوانين شامل دي. ډيرې بيلګې موندل کيږي چې رسمي او غير رسمي ميکانيزمونه او فعالين يوله بله سره ښکيلوي. د ځمکې او ملکيت موضوع ګانو پورې اړوند د دغو سيستمونو په مينځ کې ګډ عناصر شته خو دغه سيستمونه کيدای شي د جرمي مسألو او د جزا د رول او ماهيت په برخه کې له يو بل څخه په بې سارې توګه جلا شي.

لکه څرنګه چې د بُن په تړون کې څرګنده شوې ده، د عدلي سمون کميسيون د ۱۳۸۱ کال د لړم په مياشت کې په پاشل شوي عدلي سيستم د بيا کتنې په موخه رامينځ ته شو. دا کميسيون د عدلي سيستم د جوړښتي او فزيکي بيا جوړولو د لارښوونې دنده لري، نوي او اسلامي قوانين سره انډولوي، د حقوقي ادارو تراکم په نښه کوي او د عدلي څانګې د بيلا بيلو برخو د ونډو او رپوټ ورکولو جوړښت روښانوي. نوموړی کميسيون يوه موقته اداره وه چې په ۱۳۸۴کال کې يې دندې او مسووليتونه تلپاتې عدلي ادارو ته وسپارل شول. د افغانستان د ملي پراختيايي ستراتيژۍ دبهير د يوې برخې په توګه په ملي کچه د عدلي سکټور د نوښتونو همغږي د عدلي سکټور د سلا کارې ډلې پر غاړه ده. د افغانستان دملی پراختيايي ستراتيژۍ له مخې د ملی عدلي پروګرام د پروژې د څارنې کميټه او د پروګرام د ملاتړ اداره په پام کې لري چې د همغږۍ دغه دندې په غاړه واخلي.

اساسي قانون قاضيانو ته اجازه ورکوي چې د مدني او يا اسلامي قوانينو په برخه کې وروزل شي. برحاله قاضيان د سياسي ګوندونو د غړيتوب د تر لاسه کولوحق نه لري.

**ستره محکمه**

له اساسي قانون سره سم ستره محکمه ۹ غړي لري چې د ولسمشر له خوا او د ولسي جرګې دتاييد سره سم د يوې لس کلنې دورې لپاره ټاکل کيږي. ولسمشر د ۹ غړو له ډلې نه يو غړی د قاضی القضات يا د

سترې محکمې درئیس په توګه ټاکي. ستره محکمه د ټولو ملي، ولایتي او ولسوالیو د محکمو د کارکوونکو، بودیجې او د پالیسی د پریکړو مدیریت په غاړه لري.

ستره محکمه لږ ترلږ په دوو اونیو کې یو ځل منظمې ناستې تر سره کوي او فوق العاده غونډې یې له اړتیا سره سمې تر سره کیږي. د سترې محکمې د نصاب لپاره کم تر کمه د شپږو غړو حضور اړین دی او پریکړې د رایو په اکثریت سره تر سره کیږي. ستره محکمه په څلورو دېوانونو یا څانګو ویشل شوې ده لکه د جزاعمومي دیوان، دعامه/ملي امنیت دیوان، دمدني او عامه حقونو دیوان او سوداګریز دیوان، چې دهر یوه مشري د سترې محکمې د یوقاضي په غاړه ده.

د سترې محکمې ۹ غړو د ۱۳۸۵ کال د زمري په ۱۴مه نیټه لوړه وکړه. نوې محکمه د مخکینۍ محافظه کارې محکمې په پرتله په منځلارو، تکنوکراتانو او د لوړو زدکړو درلودونکوغړو سمباله ده.

**داستیناف محکمې**

د استیناف محکمې د هیواد په ټولو ولایتونو کې فعالې دي( که څه هم چې په ځینو ولایتونوکې د استیناف قضیو ته د پاملرنې لپاره د قاضیانو شمیر بسیا نه دی). نوموړې محکمې د رئیس، نورو قضایي غړو او د دیوانونو له رئیسانوڅخه جوړې دي. د استیناف محکمې په ګڼ میشته ولایتونو کې پنځه دیوانونه لري : دجرمونوعمومي دیوان (چې ترافیکي پیښې هم څیړي)، عامه امنیت، مدني او کورنۍ دیوان، د عامه حقونو او د سوداګرۍ دیوان. او په هغو ولایتونو کې چې د وګړو شمیر یې لږ دی نوموړې محکمې څلور دیوانه لري: لومړنۍ ښاري محکمه، د جرمونو عمومي دیوان، مدني دیوان او د عامه امنیت دیوان. یواځې د کابل د استیناف محکمه د ځوانانو محکمه لري چې د ځوانانو په اړه قضیو ته د پاملرنې په موخه رامنځ ته شوې ده سره له دې په ډېریو ولایتونو کې قاضیان د ځوانانو د قضیو په اړه تجربې لري او یا هم روزل شوې دي. د استیناف محکمې په اړوندو ولایتونو کې د لومړنیو محکمو د مقرراتو او پریکړو څارنه کوي او دا صلاحیت لري چې د هغوی مقررات او پریکړې اصلاح، له مینځه یوسي، تعدیل، او یا دغه مقررات او پریکړې تایید او یا باطلې کړي. دوی په قضایي شخړو د نفوذ او پریکړو صلاحیت هم لري.

**لومړنۍ محکمې**

د ولسوالیو په کچه، لومړنۍ ښاري محکمه( چې د ولایت په مرکزکې لومړنۍ محکمه ده) له پنځو دیوانونو څخه جوړه ده: د جرمونو عمومي دیوان، مدني دیوان، دعامه حقونو دیوان، د عامه امنیت دیوان او د ترافیکو دیوان. لومړنۍ محکمې د ولایت له مرکز څخه بهر په ټولو ولسوالیو کې درې دیوانونه لري: د جرمونو عمومي دیوان، د عامه امنیت دیوان، او مدني او دعامه حقونو دیوان. په ګڼ شمیر ولسوالیو کې د امنیتي ستونزو له کبله اوس مهال فعالې لومړنۍ محکمې شتون نه لري. په زیاترو حالاتو کې قاضیان د لومړنۍ محکمې ناستې د ولایت په مرکز کې تر سره کوي.

د ټولو جنایي قضیو پلټنه د پلټنې د دفتر له خوا پیلیږي او دوسیې یې په لومړنیو محکمو کې ساتل کیږي؛ د مدني حقونو دوسیې د عدلیې وزارت په یوه څانګه کې ساتل کیږي . له هغه سره سم د لومړنۍ محکمې له لورې د یوې پریکړې تر صادرولو پورې یو لړ قضایي غونډې تر سره کیږي. د رسم یا دود په توګه زیاتره قضیې چې په لومړنیو محکمو کې فیصله کیږي د استیناف غوښتنې لپاره د استیناف محکمو ته

استول کیږي. کله چې استیناف  سترې محکمې  ته ورسید نو اکثراً قاضیان قضیه بیرته لومړنۍ محکمې ته د نوو پلټنو  په موخه  استوي.

## عامه سکټور

### جوړښت

د افغانستان عامه سکټور له مرکزي حکومت، ولایتونو، ښاروالیو (د ولایتونو ښاري فرعي واحدونه) او ولسوالیو(د ولایتونو کلیوالي فرعي واحدونه)، همدا شان له دولتي تصدیو (چې ډېری یې په بشپړه توګه دولتي شتمنۍ دي) څخه جوړ دی. دولتي ادارې لکه د مرکزي حکومت وزارتونه او ادارې چې له خپلو ټاکلو بودیجو سره د لومړنیو بودیجوي واحدونو په توګه ګڼل کیږي.

په اصل کې، افغانستان یو یوموټیهیواد دی: ټول سیاسي واک په کابل کې له حکومت سره دی. د ولایتونو او ولسوالیو د ادارو واک او مسؤلیتونه د مرکزي حکومت له خوا ټاکل کیږي ( نو ځکه  ګوښه کولای  یې هم شي). خو بیا هم ولایتونه او ولسوالۍ د سیمه ییز حکومت د قانوني واحدونو په توګه پیژندل کیږي ، هغوی د خپلو پالیسیو په اړه پریکړو کې خپلواکه  نه دي. د ځینو سیمه ییزو ځواکمنو سیاسي او پوځي پیاوړتیاوو ته په پام سره، حقیقت دا دی چې،  ځیني ولایتونه د تصمیم نیوني د پام وړ صلاحیت لري.

اساسي قانون په څرګنده توګه، دمرکزیت د نه ساتلو اصل د دغو څرګندونو له لارې مجاز ګڼلی دی" حکومت د مرکزیت اصل  ته په پام سره، د اقتصادي، ټولنیزو او فرهنګي چارو د ګړندي کولو او ودې او د هیواد په پراختیا کې د خلکو د زیاتې ونډې په موخه له قانون سره سم ښایي ځیني صلاحیتونه سیمه ییزو ادارو ته وسپاري) (۱۳۷ ماده)." دا ماده څرګندوي چې یوه ولایتي شورا به په هر ولایت کې له ټاکل شوو غړو څخه جوړه شي او دا چې د ولسوالیو او کلیو شورا ګانې به  هم ټاکل کیږي.

د هیواد ۳۴ ولایتونه د سیمه ییزې ادارې بنسټیز واحدونه دي. والي چې د جمهور رئیس له خوا ټاکل کیږي، د ولایت په کچه د اجرائیه ځواک استازی دی. ولایتونه جلا سیاسي واحدونه ، نه دي او رسماً، د خپل اداري جوړښت، لوړپوړو کارکوونکوپه  ګمارلو او د کار د ځواک د اندازې او ترکیب په اړوند  پریکړو کې څه نا څه ونډه لري. په پایله کې، د هر ولایت اداره د مرکزي حکومت د وزارتونو د څانګو یوه ټولګه ده. د ولایتي کارکوونکو د ګمارنې ډیری پریکړې په کابل کې د اړوند وزارت له خوا د اداري چارو د دفتر په سلا مشوره او د اداري سمون او ملکي خدمتونو د خپلواک کمیسیون د رئیس تر څارنې لاندې تر سره کیږي (۱۸ مخ.).  د دې کمیسیون د ټاکنو خپلواکه اداره د لومړۍ او دوهمې رتبې د ټاکنې د تأیید او د دریمې او تر هغې لاندې نورو رتبو د څارنې دنده لري.د ۱۳۸۶ لمریز کال له پیل سره سم ځینې ټاکلي پوستونه د اداري سمون او ملکي خدمتونو د ګمارنې د خپلواک پلاوي تایید ته به هم اړتیا ولري. د سیمه ییزو ارګانونو خپلواک ریاست (IDLG ۶۰ مخ) د سیمه ایزې ادارې لپاره د یو حکومتي ارګان په توګه د ۱۳۸۶ کال د زمري په میاشت کې جوړ شو.  دغه ریاست دخپلې دندې د یوې برخې په توګه په سیمه ییزه کچه د اغېزمنې حکومتدارۍ او ثبات د رامنځته کولو په موخه، د والیانو، ولسوالانو، ولایتي شوراګانو او ښاروالیو (د کابل له ښاروالۍ پرته) د څارنې دنده پر غاړه لري.

ولایتونه په ولسوالیو او ښاروالیو وېشل کیږي. د ولایت او د هغه د اړوندو ولسوالیو داداري چارو سمبالول د ولایت او د مرکز ترمینځ اړیکو سره ورته دي. په کابل کې مرکزي وزارت د ولسوالیو لوړ پوړي کارکوونکي ګماري او بودیجه یې ټاکي، خو یوائې په رسمي توګه، ولایتي چارواکو ته په دې برخه کې څه نا څه واک ورکوي. ښاروالۍ د سیمه ییزو ارګانونو د خپلواک ریاست له خوا او په ځینو ولایتونو کې د والي له خوا چې د پام وړ نفوذ لري څارل کیږي. که څه هم چې ښاروالۍ خپله د خپلو مالیو په راټولولو او ساتلو مکلفې دي خو د سیمه ییزو ارګانونو خپلواک ریاست په هره ښاروالۍ کې د کارکوونکو شمیر او بودیجې تصویبوي. په ځینو ولایتونو لکه هرات او کندهار کې، کلیوالي ښاروالۍ له ولایتي ښاروالیو سره د رپوټ ورکولو اړیکه لري که څه هم چې دا کار د حکومت له رامینځ ته شوي جوړښت سره په ټکر کې هم دی.

د مرکزي حکومت وزارتونه او اداري د قانون له مخې د ځانګړې بودیجې په لرلو سره د بودیجې لومړني واحدونه دي؛ په داسې حال کې چې د مرکزي حکومت د وزارتونو ولایتي څانګې او ځیني خپلواک واحدونه د بودیجې د دوهمې درجې واحدونه دي او خپل د بودیجې تخصیصونه دخپلو اړوندو وزارتونو او خپلواکو ادارو په صلاحیت تر لاسه کوي،د بودیجو ځانګړې ولایتي څانګه نه شته. ولسوالۍ د بودیجې دریمه درجه واحدونه دي؛ د دوی د بودیجو تخصیص د کابل په اړوندو وزارتونو کې د ولایتي کچې ریاستونو او نورو خپلواکو واحدونو پورې اړه لري. ټول عواید چې د ولایتونو او ولسوالیو له خوا راټولیږي ملي عواید دي؛او ولایتونه یوائې د مالیو د راټولولو دنده لري. په پایله کې، د ولایتونو او ولسوالیو د کارکوونکو او د بودیجې کچه په پخوانیو اصولو ولاړه ده نه پر یوه منطقي پلان. که څه هم چې والیان او ولسوالان له یوه ټاکلې صلاحیت څخه برخمن دي خو دغه سیستم کابل ته د ولایتونو د لګښت د پالیسی د کنټرول په برخه کې د پام وړ سیاسي واک ورکوي

په ولایتي کچه پراختیا په ظاهري توګه د دوو ادارو له لارې اداره کیږي؛ د ولایتي پراختیایي کمیټې (PDC) او ولایتي اداري شورا(PAA).ولایتي پراختیایي کمیټې له مهمو پراختیایي فعالینو لکه د اړونده وزارتونو، د ولایتي بیارغونې ډلو(PRT)، یوناما، غیردولتي سازمانونو او د ولایتي شورا ګانو له فرعي غړو څخه جوړې دي، د والي په مشرۍ سره غونډه کوي.دوی د ولایتي پراختیا لپاره د همغږي شوو، لومړیتوب ورکول شوو او له بودیجوي اړخه پوره سنجول شوو پلانونو د رامینځ ته کولو مسوولیت لري، چې وروسته بیا د اړوندو وزارتونو په بودیجو او پلانونو کې د یو ځای کیدو او د تصویب په موخه په کابل کې د مالیې او اقتصاد وزارتونو ته سپارل کیږي. په حقیقت کې دغه پلانونه په ندرت سره اړونده وزارتونه اغیزمنوي ځکه چې دوی به خپله بودیجه د اړونده ولایتي ریاستونو د معلوماتو او د مالیې وزارت له خوا د خپل بودیجوي تخصیص پر بنسټ تسوید کړي. دې مرکزي بهیر د ولایتونو په کچه د وزارتونو تر مینځ د پراختیایي پروژو د همغږۍ په برخه کې د پام وړ ستونزې رامینځ ته کړي دي.

د ولایتي اداري شورا(PAA) مشري د والي له خوا کیږي، چې په کې د اړوندو وزارتونو او ادارو مشران ، د ولایتي لویې څارنوالۍ او ولایتي امنیتي چارواکي ګډون لري. نوموړې شورا ګانې د ولایتي پراختیایي پلان له تطبیق څخه د څارنې او اداري چارو دنده په غاړه لري. په داسې حال چې غونډې باید په هره اونۍ کې تر سره شي خو په حقیقت کې دغه غونډې خورا بی نظمې دي او زیاتره پریکړې او بحثونه په ولایتي پراخیتایي کمیټو کې تر سره کیږي.

دولتي تصدۍ په خپل اړونده سکتور کې خپل وزارت یا ریاست ته رپوټ ورکوي. د مثال په توګه، د ډبرو د سکرو د کان رئیس د کانونو ولایتي ریاست او همدا شان په کابل کې د کانونو وزارت ته رپوټ ورکوي. هیڅ داسې تصدي چې په ولایت پورې اړه ولري شتون نه لري.

که څه هم چې سیمه ییزې شوراګانې یا جرګې رسمي ځواک نه لري خو کولای شي چې په سیمه ییزه کچه نفوذ لرونکي فعالین واوسي. شوراګانې د افغان سیاسي ټولنې یوه پخوانۍ ځانګړتیا ده. دغه شورا ګانې تلپاتې ارګانونه نه دي هغوی په ځانګړې توګه د یوې مهمې موضوع په هکله سره راټولیږي. د ولایت په کچه اکثراً د علماوو شوراګانې او د مشرانو او سپین ږیرو شورا ګانې موجودې دي، که څه هم چې کله کله سیمه ییزې او د ولسوالیو سیالې شورا ګانې هم شته چې ځینې یې د ځینو زورورو له خوا چې ټاکل شوي هم نه دي پر مخ وړل کیږي. لکه څرنګه چې د ولسوالیو شوراګانې لا نه دي ټاکل شوې، یو شمیر زیات ولسوالان په خپلو فعالیتونو کې له شوراګانو څخه کار اخلي. ډېرۍ ولسوالۍ په کلیو ویشل شوې دي چې له ګډو سرچینو څخه ګټه اخلي.

د ولایتي او د ولسوالیو د اداري جوړښتونو سر بیره په افغانستان کې له تاریخي اړخه د سیمو یا زونونو [حوزو] یو تعریف په تیره بیا د پوځي موخو لپاره هم شتون لري. دغه حوزې د اداري واحدونو په توګه کوم قانوني پایښت نه لري، او د ولایتونو، ولسوالیو او د ښاروالیو برعکس د ۱۳۴۳ کال په اساسي قانون یا د ۱۳۸۳ کال په نوي اساسي قانون کې ترې یادونه نه ده شوې،که څه هم چې په هم هغه وخت کې کله نا کله د اداري آسانتیاوو په موخه کارول شوي دي. په رسمي توګه، دغه د زونونو جوړښت نور شتون نه لري خو په ولایتونو کې ځینې همغږي او سکټوري فعالیتونه د زونونو پربنسټ دوام لري.

ولسمشر د افغانستان د ملي پوځ اعلی سر قوماندان دی (د افغانستان ملي پوځ ۴ مخ). د افغانستان ملي پوځ د ملي دفاع وزارت او د افغنستان ملي پولیس(۶مخ) د کورنیو چارو وزارت تر مشرۍ لاندې کار کوي.

**معاشونه او رتبې**

هر حکومتي کارکوونکی په کابل، ولایتونو او د ولسوالیو په کچه یوه رتبه لري. دولتي تشکیل په ټول افغانستان کې په دوو برخو ویشل کیږي، یو یې دایمي ملکي مامورین(کارکوونکی یا کارمند) او بل یې قراردادي یا اجیران دي. کارکوونکي عادي او دایمي دولتي کارکوونکي دي، په داسې حال کې چې اجیران په رسمي توګه د قرارداد له مخې د یوې ټاکلې مودې لپاره پر دنده ګمارل کیږي. په عمل کې ډېرۍ اجیر کارکوونکي د ډېرو کلونو لپاره په حکومت کې پاتې کیږي او په یوه څانګه کې یوه مامور ته ورته دنده تر سره کوي. همدارنګه د هغوی معاش هم څه نا څه سره ورته وي.

د یوه اجیر او رسمي کارکوونکي مهم توپیرونه دا دي:

- اجیر کارکوونکي د ټیټې کچې د وړتیاوو او د لاسي کارونو لپاره ګمارل کیږي (لکه موټر چلوونکي، پخوونکي، رنګمالان او داسې نور).
- د زیاترو اجیر بستونو د رتبې او معاشونو ارتقا تر یوه خاصه حده وي (د بیلګې په توګه، موټر چلوونکي له ۱ رتبې څخه پورته ارتقا نه شي کولای) خو، د لوړې وړتیاوو اجیران تر لوړې رتبې

(مافوق رتبه) پورې پرمختګ کولای شي.

- اجیر کارکوونکي له معاشونو سربیره له نورو مسلکي امتیازاتو څخه نه شي برخمن کیدای.

په افغانستان کې ټولو دولتي کارکوونکو ته د معاشونو پالیسي په مرکز کې جوړیږي. د معاشونو د ورکړې سیستم د کارکوونکو پر رتبو ټینګار کوي( که چیرې کارکوونکي په همدې دنده کې پاتې هم شي بیاهم ترفیع کوي) نه د بستونو پر اصل (چې په دې صورت کې ترفیع د نوې دندې د تر لاسه کولو سره تر لاسه کیږي). ځکه ، د کلونو چوپړ او منظمو ترفیعاتو (په دریوو کلونو کې یوه ترفیع) له لارې د ټیټې کچې کارکوونکي یوې لوړې درجې ته رسیږي او تر خپلو مدیرانو لوړې تنخاوې تر لاسه کوي. بیلا بیل مسلکي مامورین شته چې د ترفیع لپاره یو حد لري او له هغې پورته هیڅکله هم ترفیع نه شي کولای.

د معاشونو اوسنۍ درجه بندي د ۱۳۴۹ کال د دولتي کارکوونکو د قانون له مخې جوړه، او د ۱۴۳ شمیرې فرمان له مخې په ۱۳۵۶ کال کې تعدیل شوه، چې د بست پر بنسټ دمعاشونو د ورکړې لپاره یوه معقوله لاره وړاندې کوي. د دولتي کارکوونکو د ریښتیني معاش کچه ټیټه ده، ماکولات (چې ټولو دولتي کارکوونکو ته په مساوي توګه ورکول کیږي) د میاشتني معاش ۹۰ سلنه جوړوي. له ۱۳۸۳ کال راهیسې، د اداري سمون او ملکي خدمتونو خپلواک کمیسیون (۱۸مخ) د حکومت د معاشونو او رتبو پر نوي جوړښت کار کوي، د وړتیا لرونکوکارکوونکو جذب او ساتل او په ملکي خدمتونو کې د فساد لپاره د هڅوونکو(انګیزو) دکچې راټیټول د دولت له مهمو هڅو څخه شمیرل کیږي. په ۱۳۸۴ کال کې د ملکي خدمتونو یو نوی قانون تصویب شو او په ۱۳۸۶ کې یو د اتو رتبو لرونکی جوړښت د تنخاوو دنوي سیستم سره طرح شو (چې ټیټه تنخا یې ۱۰۰ امریکایي ډالره او لوړه یې ۶۵۰ امریکایی ډالره ده). دغه سمون به لومړی له لوړو دولتي پوستونو (رتبه ۱ او ۲) څخه پیل او بیا وزارت په وزارت د ټیټو رتبو کارکوونکو په برخه کې هم پلی شي.

د تنخاوو او بستونو سمون د اداري سمون او ملکی خدمتونو د خپلواک ریاست د عامه اداري سمون د کاري چوکاټ یو عنصر دی (عامه اداري سمون ۱۸ مخ) چې هڅه کوي ملکي خدمتونه او د ادارو جوړښت د وړتیا پر بنسټ بیا جوړ او ګمارنې د وړتیا پربنسټ تر سره شي نه د اړیکو پربنسټ. د ۱۳۹۰ کال د لیندۍ تر میاشتې پورې د رتبو او معاشونو سیستم د څه د پاسه ۶۵٪ سیمه ییزو او مرکزي حکومتي ادارو کې تر سره شوی دی. عملي سمون په ګڼ شمیر حکومتي ریاستونو او سازمانونو کې د سمون د لومړیتوب او تشکیلاتي تعدیل د بهیر(PRR) له لارې تر سره شو، چې د مهمو ریاستونو جوړښت او چارې ګټورې او اغیزمنې کوي اود لګښتونو کچه راټیټوي.

د معاشونو او رتبو د سمون اغیزمنتوب ښایي چې په اصطلاح ( د دوهم ملکي خدمت) په واسطه پیچلی شي چې په دې کې د مرستندویه ټرون کوونکو او نړیوالو سازمانونو چارواکي، سلاکاران او کارکوونکي برخه لري چې ډیری یې لوړمعاشونه تر لاسه کوي.

# د افغانستان مرکزي حکومت (د ۱۳۸۹ کال د مرغومي میاشت)

د ولسمشر دفتر

لومړی مرستیال

دوهم مرستیال

مقننه قوه

- ولسی جرګه
- مشرانو جرګه

قضاییه قوه

- ستره محکمه
- د استیناف محکمه
- لومړنی محکمه

## وزارتونه

- دکرنی، ابولګولو او مالداری
- د سرحدونو او قبایلو د چارو
- د سوداګری او صنایعو
- د مخابراتو او معلوماتی تکنالوجی
- د نشه يي توکو په وړاندی د مبارزې
- د ملی دفاع
- د اقتصاد
- د پوهنی
- د اوبو او انرژۍ
- د ماليي
- د بهرنیو چارو
- د حج او اوقافو
- د لوړو زده کړو
- د اطلاعاتو او کلتور
- د کورنیو چارو
- د عدليي
- د کار، ټولنیزو چارو، شهیدانو او معلولینو
- د کانونو
- د عامي روغتیا
- د فواید عامی
- د کډوالو او راستنیدنکود چارو
- د کلیو د بیارغونی او پراختیا
- د ترانسپورټ او ملکی هوانوردۍ
- د ښاری پراختیا او کور جوړوني
- د ښځو د چارو

## خپلواکی اداری او ریاستونه

- مرکزی احصاییه
- د سپورت او المپیک لوی ریاست
- د جیودیزۍ او کارتو ګرافی عمومی اداره
- پر فساد د څارنی لوی ریاست
- د اداری اصلاحاتو او ملکی خدماتو خپلواک کمیسیون
- د چابیریال ساتنی خپلواک ریاست
- د سیمه ییزو ارګانونو خپلواک ریاست
- د ستندردونو خپلواک کمیسیون
- د ملی امنیت ریاست
- د ملی امنیت شورا
- د چارو د اداري لوی ریاست او د وزیرانو شورا دارالانشاء
- د کشف ریاست
- لویه څارنوالی
- په پارلمانی چارو کی د دولت وزیر
- ستره محکمه
- د مشرانو د جرګی د دارالانشا دفتر
- د ولسی جرګی د چارو اداره
- دافغانستان د علومو اکادمی

## خپلواک کمیسیونونه

- د افغانستان د بشر د حقونو خپلواک کمیسون
- د ناورینونو په وړاندې د تیاري ریاست
- د اساسي قانون پر تطبیق د څارني خپلواک کمیسون
- د سولي د ټینګښت خپلواک کمیسون
- د کوچیانو د چارو د همغږۍ کمیسیون
- د ټاکنو خپلواک کمیسیون

## د افغانستان د حکومت وزارتونه او وزیران د ۱۳۹۰ کال د کب میاشت

| وزیر | وزارت | وضعیت |
|---|---|---|
| د کرهنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت | محمد آصف رحیمي | تایید شوی |
| د سرحدونو او قبایلو چارو وزارت | اسدالله خالد | تایید شوی |
| د سوداګرۍ او صنایعو وزارت | انورالحق احدي | تایید شوی |
| د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجۍ وزارت | امیرزی سنګین | تایید شوی |
| د نشه يي توکو په وړاندې د مبارزې وزارت | ضرار احمد مقبل | تایید شوی |
| دملي دفاع وزارت | عبدالرحیم وردګ | تایید شوی |
| د اقتصاد وزارت | عبدالهادي ارغندیوال | تایید شوی |
| د پوهنې وزارت | غلام فاروق وردګ | تایید شوی |
| د انرژۍ او اوبو وزارت | محمد اسمعیل خان | تایید شوی |
| د مالیې وزارت | عمر زاخیلوال | تایید شوی |
| د بهرنیو چارو وزارت | زلمی رسول | تایید شوی |
| د حج او اوقافو وزارت | آصف نیازي | تایید شوی |
| د لوړو زده کړو وزارت | عبیدالله عبید | تایید شوی |
| د اطلاعاتو او کلتور وزارت | سید مخدوم رهین | تایید شوی |
| د کورنیو چارو وزارت | بسم الله محمدي | تایید شوی |
| د عدلیې وزارت | حبیب الله غالب | تایید شوی |
| د کار،ټولنیزو چارو، شهیدانو او معلولینو وزارت | آمنه افضلي | تایید شوی |
| د کانونو وزارت | وحید الله شهراني | تایید شوی |
| د عامې روغتیا وزارت | ډاکټر ثریا دلیل | تایید شوی |
| د فواید عامې وزارت | نجیب الله اوژنګ | تایید شوی |
| د کډوالو او راستنیدونکو وزارت | جماهیر انوري | تا یید شوی |
| د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت | ویس برمک | تایید شوی |
| د ترانسپورټ او ملکي هوانوردۍ وزارت | داود علي نجفي | تایید شوی |
| د کورجوړونې او ښاري پراختیا وزارت | حسن عبداللهی | تایید شوی |
| د ښځو د چارو وزارت | حسن بانو غضنفر | تایید شوی |
| د پارلماني چارو وزارت | ډاکټر محمد همایون عزیزي | تایید ته اړتیا نه لري |

# په افغانستان کې ټولټاکنې

**ټاکنیزسیسټم**

هر افغان ښځه او نارینه  دواړه چې ۱۸ او یا له هغه څخه پورته عمر ولري، د رایې ورکونې حق لري. اساسي قانون دټاکنو په هکله  څرګندوي:

- یو جمهور رئیس له دوو تنو مرستیاالانو سره؛
- یوه ملي شورا یا پارلمان چې له ولسي جرګې او مشرانو جرګې څخه جوړه ده؛
- ولایتي شوراګانې؛
- د ولسوالیو شوراګانې؛
- د کلیو شوراګانې؛
- د ښاروالیو شوراګانې او ښاروالان.

تر اوسه پورې یواځې د دریوو لومړیو کټګوریو لپاره ټاکنې تر سره شوي دي؛

ولسمشر د اکثریت رایو پربنسټ ټاکل کیږي؛ که چیرې هیڅ یوه نوماند د ټولیزو رایو ۵۰ سلنه  تر لاسه نه کړه نو د ټاکنو بل پړاو د دوو نوماندانو تر مینځ چې تر ټولو لوړې رایې لري تر سره کیږي( که څه هم چې په ۱۳۸۸ کال کې له ټاکنو څخه د یوه نوماند د لاس اخیستلو له کبله  د ټاکنو دوهم  پړاو تر سره نه شو). راتلونکې ولسمشریزې ټاکنې به په ۱۳۹۳ کال کې تر سره شي.

د ۱۳۸۳ کال د ټاکنیز قانون  بیا کتل شوې نسخه د ۱۳۸۵ کال د غویي د میاشتې په نهمه نیټه د ولسمشر له خوا د یوفرمان له لارې  تصویب شوه او هغو اوړدو بحثونو ته یې د پای ټکی کیښود چې د ولسي جرګې د استازو د ټاکلو په هکله  روان وو. غوره شوی سیسټم د واحدې نه لیږدیدونکې رایې(SNTV) یو  غیر معمول  سیسټم و چې له مخې یې یو افغان  رایه ورکوونکی یواځې په یوه حوزه کې د یو نوماند لپاره رایه ورکولای شي. د دغه سیسټم اساسي ګټې دادي چې په اړه یې رایه ورکوونکو ته د معلوماتو ورکول او د رایو شمیرل آسانه دي. همداراز په داسې یوه هیوا کې چې سیاسي ډلو ته د شک په سترګه کتل کیږي  د ارزښت وړ وي او د خپلواکه  نوماندانو استازیتوب تضمینوي.

له بلې خوا، دغه سیسټم فردي سیاستونه هڅوي او د سیاسي ګوندونو ونډه او د ټاکنیزو حوزو دریځ او کړنلارې کمزورې کوي. ځکه چې ټولې رایې انفرادي نوماندانو ته ځي، نو په یوه ولایت کې د یوه ګوند نوماند ښایي چې د رایو اکثریت وګټي خو بیا هم یواځې لږه برخه څوکۍ تر لاسه کوي.همدا راز دغه سیسټم به د ملي اجنډا ګانو د هڅولو پر ځای نوماندان د سیمه ییزو او قومي موضوعاتو لمن وهلو ته وهڅوي او د قومي او سیمه ییزو ډلو تر مینځ د ائتلافونو د رامینځ ته کیدلو او همکارۍ د هڅولو له لارې د پارلماني اغیزمنو سیاستونو پر پراختیا ناوړه اغیزه درلودلای شي.

د ټاکنو کارپوهان په دې موضوع  بحث کوي چې ښایي د افغانستان لپاره به کومه بله ټاکنیزه  بیلګه خورا مناسبه وي. د دې سیسټم ځینې کره کتونکي استدلال کوي چې د نسبتي استازیتوب  آزاد  لیست د څوکیو پر بنسټ د رایو

د رانه تفسیر  او په ملي کچه د څو توکمیزو ګوندونو د هڅوني لپاره به یو غوره سیستم وي.  یو بل وړاندیز چې په ۱۳۸۷ کال کې د افغانستان د ملي شورا ځینو غړو وړاندې کړ د ګوندونو د لیست  او د واحدې نه لیږدونکې رایې د سیستم یو تر کیب و، چې په دې توګه د سیاسي ګوندونو ونده په رسمي توګه تاییدیږي. چې دغه وړاندیز په  لومړي ګام کې  په عمومي غونډه کې رد شو او ښایي چې بیا  هم  مطرح شي.

له اساسي قانون سره سم  ټاکنیز قانون د ټاکنو د یوه کال په موده کې هغه وخت چې پلی کیږي نه شي بدلیدای. په ۱۳۸۷ او ۱۳۸۸ کلونو کې ولسي جرګې د واحدې نه لیږدیدونکې رایې پر سیستم بحث وکړ او نورې لارې یې هم وارزولې. او پریکړه وشوه چې سره له دې دغه سیستم به د ۱۳۸۸ او ۱۳۸۹ کال په ټاکنو کې  بیا وکارول شي.

## د ټولټاکنو مهال وېش

اساسي قانون د ټولټاکنو د لاندیني مهال وېش سپارښتنه کوي:

| ټولټاکنې | وار |
|---|---|
| د جمهوري ریاست | هر پنځه کاله |
| مشرانو جرګه (انتصابي) | هر پنځه کاله |
| مشرانو جرګه (د ولایتي شورا استازې) | هر څلور کاله |
| مشرانو جرګه (د ولسوالیو د شوراستازې) | هر درې کاله |
| ولسي جرګه | هر پنځه کاله |
| ولایتي شوراګانې | هر څلور کاله |
| د ولسوالیو شوراګانې | هر درې کاله |
| د کلیو شوراګانې | هر درې کاله |
| د ښاروالیو شوراګانې | څرګندې نه دي |
| ښاروالان | څرګند نه دي |

نومړی مهال ویش څرګندوي چې ولسمشریزې او د ولایتي شوراګانو ټاکنې به په ۱۳۸۸ کال کې او د ولسي جرګې ټاکنې به په ۱۳۸۹ کال کې تر سره شي. د ۱۳۸۹ کال د ولسي جرګې ټاکنې د غوبي د میاشتې نه د همدې کال د وږي میاشتې ته وځنډیدلې. د ټاکنو د خپلواک کمیسیون (۱۰۳مخ) د ظرفیت  د نیمګړتیاوو، په افغانستان کې د ټاکنو د تر سره کولو په لارکې  ستونزې او لوړ لګښت ، په ځینو سیمو کې نا امني او د ځینو ټاکل شوو ارګانونو ناڅرګندو دندو، او د ۱۳۸۸-۱۳۸۹ کال د بې نظمو ټاکنو سیاسي پایلو  ته په پام سره ښایې په راتلونکي کې  د ټولټاکنوپه  مهال وېش کې نو ربدلونونه هم را مینځ ته شي.

د ۱۳۹۳ کال ولسمشریزې ټاکنې به هغه مهال چې افغانستان خپل بشپړ امنیتي مسوولیت  په غاړه اخلي تر سره شي.  تمه کیږي چې دغه ټاکنې  به د هیواد ټاکنیزې ادارې له سترو ننګونو سره مخامخ کړي ، خو ښایي له سترو مرستو څخه د لږو مرستو  پر لور د افغانستان د  بریالي لیږد نښه هم وي.

## د ځوکيو ويش

اساسي قانون څرګندوي چې د ولسي جرګې څوکۍ بايد د ولايتونو ترمينځ د هغوی د وګړو د شمير پر بنسټ وويشل شي( او په منځنۍ توګه د هر ولايت پر سر دوه څوکۍ دي ښځينه نوماندانو ته ځانګړې شي). خو دغه ماده ستونزمنه ثابته شوې ده ځکه چې د ځينو ولايتونو او ولسواليو ترمنځ د پولو د تثبيت په هکله لانجې رواني دي، او د وګړو د شمير په اړه کره او باوري معلومات هم نشته. په افغانستان کې د وګړو وروستی سرشميرنه په ۱۳۵۷ لمريز کال کې پيل شوه خو هيڅکله هم بشپړه نه شوه. له ډيره ځنډه وروسته د وګړو د يوې نوې سرشميرنې لپاره پلان جوړونه ادامه لري. (په ۷۵ مخ کې د مرکزي احصائيې اداره وګورئ). د نوې سرشميرنې د تيارۍ په لړ کې، د کورنيو سروې په ۱۳۸۳ - ۱۳۸۴ کلونو کې تر سره شوه. په ۱۳۸۴ کال کې به د ولسي جرګې په ټولټاکنو کې د ځوکيو ويش په منځنۍ توګه د کورنيو ددغه وروستۍ سروې او د ۱۳۵۷ کال د سرشميرنې د ارقامو پربنسټ وې چې د۱.۹۲ سلنې د نفوسو له کلنۍ ودې څخه هم ګټه اخلي.

## په افغاني ټاکنو کې مهم فعالين

### د ټاکنو خپلواک کميسيون (IEC-www.iec.org.af)

د ټاکنو خپلواک کميسيون په افغانستان کې د ټاکنو د تيارۍ، تنظيم، تر سره کولو او د ټاکنو او رايه ورکونې د ستر باصلاحيته ارګان په توګه مسووليت لري. د ټاکنو د خپلواک کميسيون غړيتوب، تشکيل، مسوليتونه او دندې د اساسي قانون او ټاکنيز قانون له لارې ټاکل کيږي. نوموړی کميسيون د حکومت له نورو څانګو او ادارو څخه خپلواک دی.

د ټاکنو خپلواک کميسيون له يوې ادارې، يوه رئيس، يوه مرستيال او پنځه غړو ( کميشنرانو) څخه جوړ دی: دغه دندې د ولسمشر له خوا ټاکل کيږي. د ټاکنو د خپلواک کميسيون دارالانشا د دې کميسيون پلی کوونکی مټ دی چې د يوه رئيس او دوه مرستيالانو له خوا يې مشري کيږي، د دارالانشا رئيس د شميرنو آمر او د ټاکنو د خپلواک کميسيون د ورځنيو چارو د اغيزمن مديريت د تضمين مسووليت هم په غاړه لري.

ولسمشر کرزي د ۱۳۸۳ کال د تلې په مياشت کې له خپل ټاکل کيدو وروسته د ټاکنو د خپلواک کميسيون غړي د يوې درې کلنې دورې لپاره وټاکل. د خپل کار په لومړي کال کې د ټاکنو خپلواک کميسيون د ټاکنيزو چارو د تنظيم ګډې ادارې (JEMB)سره په ګډه همکارۍ کې دندې پر مخ بيولې( چې دنده يې د ۱۳۸۴ کال د وږي د مياشتې له پارلماني ټاکنو څخه وروسته پای ته ورسيده). د ټاکنيزو چارو د تنظيم ګډه اداره د۱۳۸۲ کال د چنګابښ په مياشت کې رامنيځ ته شوه چې افغان او نړيوال غړي يې درلودل. نوموړې ادارې د ۱۳۸۳ کال د ولسمشريزو او ۱۳۸۴ کال د پارلماني ټاکنو د تياري، تنظيم، تر سره کولو او څارنې د چارو مسووليت درلوده. له همدې ټاکنو څخه وروسته دغه اداره منحله شوه او ټولې دندې او مسووليتونه يې د ټاکنو خپلواک کميسيون ته وليږديدې.

د ۱۳۸۸ کال د زمري د مياشتې ولسمشريزې او د ولايتي شورا ټاکنې د لومړي ځل لپاره د ټاکنو د خپلواک کميسيون له خوا د نړيوالې ټولنې په تخنيکي مرسته تر سره شوې. تر ټاکنو وړاندې د رايه ورکوونکو نوې نوم ليکنه د ۱۳۸۷ کال د لړم له مياشتې څخه د ۱۳۸۸ کال د غبرګولي تر مياشتې پورې تر سره شوه.

د دې بهير په لړ کې د ټاکنو خپلواک کميسيون خپله مالي او اداري ورتيا لوړه کړه؛ د نوموړي کميسيون ځانګې زياترو ولايتونو ته پراخې شوې؛ د عامه سرچينو مرکز يې پرانيست؛ او د ټاکنو خپلواک کميسيون له اصولو سره سم د پاليسيو او کړنلارو د برابرولو ، د روزنيزو پروګرامونو د طرحې او تر سره کولو، او د قانوني شکايتونو د تفسير لپاره لا ډېره وړتيا تر لاسه کړه. د ټاکنو په بهير کې دې کميسيون د عامه پوهاوي او انسجام يو هر اړخيز کمپاين تر تيب او پلی کړ، د شميرنې يو ملي مرکز يې جوړ، يو عملياتي مرکز يې سمبال کړ، او د ټاکنو د رسنيو کميسيون يې وټاکه، سره له دې چې د ۱۳۸۸ کال بحث پاروونکو درغليو پسې د ټاکنو د خپلواک کميسيون د کميشنرانو په ګډون ددې کميسيون زرګونه کارکوونکي بدل شول خو دغه سيستمونه د ۱۳۸۹ کال د پارلماني ټاکنو لپاره بيا هم وکارول شول.

په ۱۳۹۰ کال کې د ټاکنو خپلواک کميسيون د ۱۳۹۰-۱۳۹۴ کاله پورې يو ستراتيژيک پلان يې د ملګرو ملتونو د پراختيايي پروګرام د سبا لپاره د ټاکنيز او حقوقي وړتيا د لوړولو د پروګرام (ELECT) په مرسته تسويد کړ. د دې پروګرام له لارې څرګندې شوې مهمې موخې دا دي:

- د ټاکنو د خپلواک کميسيون او د ټاکنيز بهير لپاره د ملاتړ تر لاسه کول او د ګټه اخيستونکو په مينځ کې د باور رامينځ ته کول؛
- د مسلکي وړتيا د لوړولو، د زيربناوو د رغونې او د سرچينو د ښه مديريت له لارې د ټاکنيزو لګښتونو راټيټول؛
- د ښيګڼو د مرکز په توګه د ټاکنو د خپلواک کميسيون جوړول؛
- له قانون سره سم د ټاکنو تر سره کول.

د ۱۳۸۸ کال د غويي په مياشت کې د IFES او د UNDP په مالي مرسته د ټاکنو په خپلواک کميسيون کې د جندر يوه اداره جوړه شوه. د دې ادارې دنده د " د ټاکنو په خپلواک کميسيون کې د اوږد مهال بدلون له لارې د ښځو د سياسي ګډون لوړول دي " چې د دې ادارې زياتره چارې، په اداره کې د جندر پر منلو، د ټاکنو د خپلواک کميسيون د ښځينه کارکوونکو د وړتيا پر لوړولومتمرکزې دي او دا تضمينوي چې د نوموړې ادارې پروګرام جوړونه د جندر په وړاندې حساسه ده. سره له دې نوموړې ادارې د ۱۳۸۸ او ۱۳۸۹ کلونو د ټاکنو په درشل کې د جندر د نړيوالو ونډه والو د غونډو په همغږۍ او همدا راز د پاليسۍ په مدافعې او انسجام کې يې هم مهمه ونډه درلودلې ده. سره له دې لا تر اوسه دغه اداره په رسمي توګه د ټاکنو د خپلواک کميسيون په جوړښت کې شامله نه ده او له همدې امله د بسپنه ورکوونکو په مالي مرسته متکي ده او کارکوونکي يې په نيغه له UNDP او IFES سره تړون لري.

### د ټاکنيزو شکايتونو کميسيون (ECC- www.ecc.org.af)

د ټاکنيزو شکايتونو کميسيون يوه خپلواکه اداره ده چې د نوماندانو د ليست په وړاندې له ستونزو نه نيولې د ټاکنيزو مبارزو او رايه ورکونې په ګډون د ټاکنيز بهير اړوندو شکايتونو ته د پاملرنې او دهغو په هکله د قضاوت کولو مسووليت لري. نوموړی کميسيون د ۱۳۸۴ کال د ټاکنيز قانون د ۵۲ مادې له مخې رامينځ ته شو. دغه کميسيون د ټاکنو له خپلواک کميسيون څخه بيل او خپلواک دی.

د ۱۳۸۸ کال په ولسمشریزو ټاکنو کې د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون له دوه کورنیو او درې بهرنیو کمیشنرانو څخه جوړ و، یو افغان کمیشنر د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون او دوهم کمیشنر د افغانستان د سترې محکمې له خوا ټاکل شوی و. او درې تنه نړیوال کمیشنران د ملګرو ملتونو د سرمنشي د ځانګړي استازي له خوا ټاکل شوي وو. که څه هم چې ټاکنیز قانون له مخالفتونو سره سره په ۱۳۸۹ کال کې د ولسمشر له خوا د یوه فرمان له لارې تعدیل شو چې له مخې یې اوس د ټاکنیزو شکایتونو د کمیسیون ټول غړي په مستقیم ډول د ولسمشر له لورې ټاکل کیږي.

که چیرې یو کس یا یو سازمان په ټاکنیز قانون کې د سرغړونې ادعا کوي نو دا حق لري چې د ټاکنیزو شکایتونو له کمیسیون او د هغه په ولایتي څانګو کې خپل شکایت ولیکي. چې په دې کې وړ نوماندي او رایه ورکوونکې هم راځي. د یوې خپلواکې ادارې په توګه دغه کمیسیون معلومات خلکو او یا نورو سازمانونو ته نه خپروي.

نوموړي کمیسیون د ۱۳۸۴ کال د غویي په میاشت کې د ۱۳۸۳ کال د ولسمشریزو ټاکنو په اړه د ستونزو او شکایتونو د بهیرونو له لارې کابو ۷۰۰۰ قضیو ته رسیده ګې وکړه. په ۱۳۸۸ او ۱۳۸۹ کلونو کې نوموړي کمیسیون له ټاکنو وروسته د درغلیو د ادعاوو په پلټنه کې یو مهم رول ولوباوه او کابو یو پر څلورمه برخه رایې یې باطلې کړې.

**د سبا لپاره د حقوقي او ټاکنیز ظرفیت لوړول (ELECT-www.afghanelections.org)**

د سبا لپاره د حقوقي او ټاکنیز ظرفیت د لوړولو پروژه چې د ملګرو ملتونو د پراختیایي ادارې له خوا په ۱۳۸۵ کال کې د ۱۳۸۳ او ۱۳۸۴ کلونو له ټاکنو څخه د لاس ته راغلو وړاندیزونو پربنسټ رامینځ ته شوه. دا د ملګرو ملتونو د امنیت د شورا د ۱۸۰۶ اعلامیې ( د ۱۳۸۶ کال د سلواغې دمیاشتې د ۲۹ نیټې ) پایله وه چې له مخې به یې د یوناما او د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو دسر منشي د ځانګړي استازي له خوا د افغانستان د ټاکنو لپاره نړیوالې مرستې همغږې شي.

په داسې حال کې چې په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوی په دې برخه کې یوه پراخه څارنیزه دنده لري، خو د سبا لپاره د حقوقي او ټاکنیز ظرفیت د لوړولو پروژه د ملګرو ملتونو د پراختیایي ادارې له خوا اداره کیږي. د سبا لپاره د ټاکنیز ظرفیت د لوړولو پروژه په ۱۳۸۵ کال کې د خپل پیل راهیسې د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د ظرفیت پرلوړولو متمرکزه ده. په ۱۳۸۶ کال کې د رایه ورکوونکو او ملکي نوم لیکنې د آزمایښتي پروژې د بشپړولوله لارې چې د هیواد په کچه د رایه ورکوونکو د نوم لیکنې او د ملي ملکي نوم لیکنې پروګرام د یو ځای کولو له امله چې په کابل، بامیانو او ننګرهار کې تر سره شو نوموړې پروژه خپلې اصلي موخې ته ورسیده. وروسته بیا دې پروژې د رایه ورکوونکو د نوې نوم لیکنې په کارکې چې د ۱۳۸۷ کال د تلې په میاشت کې پیل او د ۱۳۸۸ کال د غبرګولي په میاشت کې مهم فعالیتونه بشپړ شول د ټاکنو خپلواک کمیسیون ته یې تخنیکي ملاتړ او مرستې برابرې کړې.

په ۱۳۸۸ او ۱۳۸۹کال کې دې پروژې په پراخه توګه د ولسمشریزو ، ولایتي شوراګانو او پارلماني ټاکنو په ملاتړ تمرکز درلود. چې خپلې دندې یې د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د ظرفیت د لانورې پیاوړتیا، مهمو ټاکنیزوادارو ته د تخنیکي مرستو او د وړتیا د برابرولو ( لکه د ټاکنو د شکایتونو کمیسیون [۱۱۶مخ]) او دټاکنو د ونډه والو پراخو ډلو لکه مدني ټولنې، رسنیو، د ټاکنو کورنیو څارونکو او امنیتي فعالینو له فعالیتونوڅخه د ملاتړله لارې تر سره کولې.

ددې پروژې د دندو یوه مهمه برخه د  ټاکنو څخه د مهموملاتړ کوونکو سازمانونو او بسپنه ورکوونکو لپاره د همغږۍ د یو  اصلي  ټکي برابرول دي. ددې پروژې دندې د ۱۳۸۹ کال د کب په میاشت کې پای ته رسیدلي دي، که څه هم چې بنايي مرستې به ددې پروژې او یا د ورته میکانیزم له لارې دوام ومومي خو بنايي د ۱۳۸۸ او ۱۳۸۹ کال د ټاکنیز بهیر څخه وروسته د افغانستان د ټاکنو د نړیوال ملاتړ په بڼه به بیا وارزول شي، د ۱۳۹۰ کال د مرغومي تر میاشتې پورې د ملګرو ملتونو پراختیايي پروګرام د دې پروژې د دوهم پړاو(ELECT II) د اسنادو د تسوید په بهیر کې و، چې د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د ۱۳۹۰-۱۳۹۴ ستراتیژیک پلان سره به په یوه لیکه کې وي.  تمه کیږي چې ELECT II به د ۱۳۹۱- ۱۳۹۲ کاله پورې دوام ولري او د رایه ورکوونکو نوم لیکنې او د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د وړتیا لوړولو ته په هغه ډول دوام ورکړي چې له ۱۳۹۳ کال وروسته  به د افغانستان لپاره هم پاییدونکې وي.

**د افغانستان د آزادو او عادلانه ټاکنو بنسټ (FEFA- www.fefa.org.af)**

دافغانستان د آزادو او عادلانه ټاکنو بنسټ یوه خپلواکه اداره ده چې د  ۱۳۸۲ کال د کب په میاشت کې د مدني ټولنو دډلو له خوا جوړه شوه چې دنده یې:

- دټاکنو د آزادۍ او بې پریتوب  د تضمین په موخه له ټاکنو څخه  څارنه؛
- په هیواد کې د ولس واکۍ هڅونه؛
- په ټاکنیزو چارو کې د عامه ګډون هڅونه؛
- پر ولسواکۍ او ټاکنو د خلکو د باور او ویسا پیاوړې  کول.

نوموړی بنسټ د افغانستان د پرله پسې ټاکنو یواځینۍ څارونکې اداره ده. ددې بنسټ لومړنی  څارنیز آزمایښت د ۱۳۸۳ کال د تلې د ۱۸ نیټې په  ولسمشریزو ټاکنو کې  د افغانستان او پاکستان په ۱۰۰ سیمو کې د ټاکنوڅخه څارنه وه.   د دې بنسټ دوهم آزمایښت  د ۱۳۸۴ کال د پارلماني او ولایتي شوراګانو له ټاکنو څخه څارنه وه چې د هغې په ترڅ کې  ددې بنسټ له خوا  ۲۱۷ سیمې چې په کې د رایه ورکونې  ۶۵٪ مرکزونه راتلل وڅارل شول.

د ۱۳۸۸ کال دولسمشریزو  او  ولایتي شوراګانو له ټاکنو څخه وړاندې  دې بنسټ و کړای شو چې  د رایه ورکوونکو د نوم لیکنې  له بهیر( د ۱۳۸۷ کال له تلې- تر سلواغې )  څخه هر اړخیزه څارنه وکړي او له دې بهیر سره اړوندو  ګڼ شمیر ستونزو په اړه رپوټ ورکړي. د ټاکنو په ورځ دې بنسټ د هیواد په کچه  څارنه پیل کړه.  دې بنسټ د ۱۳۸۹ کال په پارلماني ټاکنو کې هم فعاله ونډه درلوده او د ټاکنو اړوندوسرغړونو او فساد په اړه  یې په خپله ویب پاڼه کې رپوټونه خپاره کړي دي.

دابنسټ  د هغو لړ شمیر سازمانونو له ډلې څخه یو و چې د ټاکنو د دوو پړاوونو تر  مینځ موده کې (۱۳۸۳-۱۳۸۴ او ۱۳۸۸-۱۳۸۹ ) د ټاکنو په برخه کې فعالیت درلود  او د نوماندانو  د ارزونې او د سیاسي  شتمنۍ د روڼوالي په اړه یې ګڼ شمیر خپرونې خپرې کړي دي.

## شکایتونه او پلټنې

د افغانستان اساسي قانون په ډاګه کوي چې د ملي شورا غړي ( باید د محکمې له خوا پر بشري جرمونو، جنایت او یا هم د خپلو مدني حقونوڅخه په محرومیت محکوم شوي نه وي) که څه هم چې هیڅ یو کس د بشري جرمونو لپاره نه دی پلټل شوی ( او یا هم احتمالاً په نږدې راتلونکي کې به دا کار و نه شي) د اساسي قانون دغه حکم اوس د استفادې وړ نه دی.

همدا راز ټاکنیز قانون څرګندوي چې د ولسي جرګې ، ولایتي شورا ګانو او د ولسوالیو شورا ګانو لپاره نوماندان **نه باید** چې:

- هغه موخې چې د اسلام د سپیڅلي دین له اصولو او د اساسي قانون له موادو او حکمونو سره مخالفت ولري تعقیب کړي؛
- د زور له لارې ګواښونه او یا له زور څخه د استفادې لپاره تبلیغات وکړي؛
- قومي ، ژبني ، سیمه ییز او مذهبي تربنګلتیاوې او توپیرونه وهڅوي؛
- د وګړنیزې آزادۍ او حقونو په وړاندې رښتیني ګواښونه را مینځ ته کړي او په قصدي توګه عامه نظم او امن ګډوډ کړي؛
- غیر رسمي پوځي ځواک و لري؛
- له بهرنیو سرچینو څخه مالي مرستې تر لاسه کړي؛

  د کورنیو غیر قانونی سرچینو څخه مالی مرستې تر لاسه کړي

کله چې نوماندان د نوماندۍ پاڼه ډکوي نو دوی یو ه مقرره هم لاسلیک کوي ، له دې سره سم نوماندان باید لوړه وکړي چې دوی په کوم جرم یا بل کوم فعالیت چې په ټاکنو کې به د دوی د ګډون مخه ونیسي ښکیل نه دي. که چیرې وروسته دوی مجرم وپیژندل شي دا به له نوموړې مقررې څخه سرغړونه وي او دوی به د څوکۍ پریښودلو ته اړ شي.

د ټاکنیزو شکایتونو د کمیسیون دنده د ټاکنیزو سرغړونو او د نوماندانو د وړتیا په وړاندې دننګونو په اړه د شکایتونو څیړل او د هغوي په اړه قضاوت دی. که چیرې د جرمي فعالیتونو نښې نښانې ولیدل شي نو د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون کولای شي چې خبر داری او جریمه صادره او یا یې د عامه پلټنوادارې ته راجع کړي. او که چیرې دوی ته ټاکنیزې سرغړونې څرګندې شوې نو دوی کولای شي چې رایې له سره وشمیري او یا رایه ورکونه بیا تر سره کړي.

## سیاسي ګوندونه

دا په پراخه توګه منل شوې چې په یو ولسواک نظام کې، سیاسي ګوندونه د ولس د ګټو د اغیزمن استازیتوب او د پالیسۍ د را مینځ ته کیدو د پرمختګ او حکومتدارۍ څخه د ملاتړ لپاره اړین دي. که څه هم چې ډېرې افغانان، د سیاسي ګوندونوپه اړه چې له کمونیستو ګوندونو او د شوروي اتحاد له یرغل سره او همدا راز د مجاهدینو له ډلو سره تړلي دي او په۱۹۹۰ لسیزه کې د خپل مینځي جګړو له کبله د بی ثباتی او د وینو د بهیدو لامل وو په خپلو ذهنونو کې یو منفي انځور لري نو ځکه افغانان په ټولیزه توګه پرسیاسي ګوندونو

باور نه لري، آن تر دې چې فکر کوي هغوي يوائې خپلې ځانګړې توکميزې، قومي او سمتي ګټې پالي. د افغانستان د ټاکنيز سيستم د غيرمعمولي انتخاب په اړه يو استدلال دا د ی چې دغه سيستم د ګوندونوپه پرتله پر انفرادي نوماندو زيات ټينګارکوي.

افغانان اکثراًسياسي ګوندونه له پخوانيو غير مسوولو مليشه و سره تړي. په داسې حال کې، چې په افغانستان کې ډېرو لويو سياسي ګوندونو يووخت يې له پوځي ډلو سره نږدې تړاو درلود (چې ځيني يې لا اوس هم لري)، نور نوي ګوندونه ملکي ريښې او ډموکراټيکې موخې لري. اساسي قانون او دسياسي ګوندونو قانون سياسي ګوندونه د پوځي څانګو له درلودلو څخه په کلکه منع کوي. په ۱۳۸۲ کال کې د عدليې وزارت له خوا د سياسي ګوندونو د ثبتولو څانګه په دې موخه رامينځ ته شوه څو ددې پخلې وکړي هغه ګوندونه چې په دې څانګه کې ثبتيږي د اساسي قانون له ټاکلو معيارونو سره برابر دي.

د ۱۳۸۴کال ټولټاکنولپاره نوماندو له تخنيکي پلوه دا اجازه نه درلوده چې په رای پاڼوکې د سياسي ګوندونو سره خپل تړاو څرګند کړي، او (که څه هم چې ځينو په دې اړه بې پروايي هم کړې وه). په داسې حال کې چې دې کار رای پاڼې ساده کړې، خو دا کار ددې لامل شو څو رايه ورکوونکي د خپلې خوښې نوماند د ګوندي تړاو په اړه پوه نه شي. د ۱۳۸۸ کال له ولسمشريزو ټاکنو څخه وړاندې د ټاکنو خپلواک کميسيون يوه مقرره اعلام کړه چې د هغې له مخې په رسمي توګه ثبت شوو نوماندو اجازه درلوده چې په رای پاڼو کې له خپل ګوندي تړاو څخه هم يادونه وکړي. دغه مقرره د ۱۳۸۹ کال د ولسي جرګې د ټاکنو لپاره هم پرځای پاتې شوه. سره له دې د سياسي ګوندونو يو تعديل شوی قانون د ۱۳۸۸ کال په پای کې تصويب شو چې دې قانون له ټولو ګوندونو څخه وغوښتل چې د عدليې وزارت سره له سره ځان راجستر کړي چې دا يو پيچلې او ورو بهير و. يوائې پنځه ګوندونه په دې بريالي شول چې د پارلماني ټاکنو پر مهال له سره راجستر شي، دا په دې مفهوم دی چې ګڼ شمير ګوندونه له ټاکنو څخه بې برخې شول. د ۱۳۹۰ کال د مرغومي تر مياشتې پورې کابو ۴۱ ګوندونه راجستر شوي وو. چې د دې ګوندونو ليست يوائې په دری ژبه په دې ويب پاڼه کې د لاس رسی وړ دی: http;//moj.gov.af/page.1700

## ټاکنې ۱۳۸۸،

### سريزه

ولسمشريزې او د ولايتي شوراګانو ټاکنې د ۱۳۸۸ کال د زمري په ۲۹ نيټه تر سره شوې. په رسمي توګه ۳۱.۴ سلنه د رايې ورکولو وړ کسانو په کې ګډون درلود( چې وروسته بيا درغلې رايې ورڅخه بيلې شوې)، د اټکل له مخې دغه شمير د ۱۳۸۳ کال له ټاکنو څخه ۷۰٪ ښکته و. نا امنۍ او درغلۍ دواړو په ګډه ټاکنې يې له بحثونو او لانجو سره مخامخ کړې څو د ټاکنو د شکايتونو کميسيون دې ته اړ شو چې د رايو يوه بسيا شمير بې اعتباره کړي او په دې توګه د حامد کرزي د رايو ټوليز شمير له ۵۰٪ څخه راټيټ کړي او د دوهم درجه نوماند ډاکټر عبدالله عبدالله او د حامد کرزي په ګډون د ټاکنو دوهم پړاو تر سره کړي . سره له دې کله چې ډاکټر عبدالله عبدالله د ټاکنو په دوهم پړاو کې له ګډون څخه ډډه وکړه نو دټاکنو دوهم پړاو باطل شو او د ټاکنو کميسيون حامد کرزی ګټونکی وباله. او حامد کرزي د دوهمې دورې لپاره د ۱۳۸۸ کال د لړم په ۲۸ مه نيټه لوړه وکړه.

د ولايتي شوراګانو د ټاکنو پايلې دلومړي ځل لپاره د ۱۳۸۸ کال د تلې د مياشتې په ۵ مه نيټه اعلام شوې، خو له هره اړخه بحث پاروونکې وې او د ځينو ولايتونو لپاره د همدې کال د ليندی د مياشتې تر ۱۸ نيټې

پورې بشپړې نه شوې( او له دې نيټې وروسته نا رضايتي په ډېرو سيمو کې پر ځای وه). سره له دې چې د دې ټاکنو ارزښت په نړيواله کچه د ولسمشريزو ټاکنو په پرتله خورا ټيټ و، خو د ځايي موضوعګانو د په نښه کولو له کبله د ولايتي شورا ګانو د ټاکنو لپاره تودې هڅې رواني وې او په زياترو برخو کې د ولس له خوا ځارل کيدې.

**د نوماندانو ټاکنه**

د ولسمشريزو او ولايتي شوراګانو د نوماندانو د ټاکنې بهير د ۱۳۸۸ کال د غويي له ۵ نيټې څخه د غويي تر ۱۸ نيټې پورې تر سره شو. د ټاکنو د خپلواک کميسيون له کتنو څخه وروسته درې نوماندان بی اعتباره اعلام شول او ۴۱ نوماندان چې په کې دوه ميرمنې هم وې پاتې شول، چې دا د ۱۳۸۳ کال په پرتله د نوماندانو په شمير کې د پام وړ زياتوالی ښيي ۱۸ نوماندانو د يوې ميرمنې په ګډون د بريالیتوب لپاره سيالي کوله. د ولايتي شورا ګانو د ۴۲۰ څوکيو لپاره په ټوليزه توګه ۳۱۹۶ کسانو، د ۳۲۸ ښځو په ګډون ځانونه ونومولو. چې د ۱۳۸۴ کال د ټاکنو په پرتله د ټوليزې شميرې او د ښځو نوماندو په برخه کې لږ څه زياتوالی ښيي.

د ټاکنو خپلواک کميسيون او د شکايتونو کميسيون ۴ اونۍ وخت درلود( د غويي له ۱۸ د غبرګولي تر ۲۲ نيټې) څو د ولسمشريزو او د ولايتي شورا ګانو پر ۳۳۶۸ نوماندانو غور وکړي او شکايتونو ته ځواب ووايي او هغه نوماندان چې د وسله والو ډلو سره يي تړاو درلود، هغه حکومتي چارواکي چې له خپلې مخکينۍ دندې څخه يې استعفا نه وه کړې، او هغه نوماندان چې د نوماندۍ په پاڼو کې يې جعلي لاس ليکونه درلودل وارزول شول. د ټاکنو خپلواک کميسيون دغبرګولي په ۵ نيټه د نوماندانو يو لومړنی ليس برابر کړ چې په کې ننګونې، اصلاحات او غوښتنې هم شاملې وې. د غبرګولي له۵ نيټې نه تر ۱۸ نيټې د ټاکنو د شکايتونو کميسيون د شکايتونو ارزونه يې پيل کړه او د نوماندۍ د ننګونو په اړه يې پريکړې وکړې. د غبرګولي د مياشتې په ۲۲ مه نيټه د تاييد شوو نوماندانو يو بشپړ ليست اعلام شو.

د ۱۳۸۴ کا ل په څير په ولايتونو کې د ولايتي شوراګانو لپاره د نوماندانو له پراخې شميرې له امله رای پاڼې د ورځپاڼو په څير د نوماندانو له انځورونو څخه ډکې او له څو پاڼو څخه جوړې وې، چې دې کار د پام وړ نوماند د موندلو بهير يې ستونزمن کړی و. ددې بهير د اسانتيا په موخه د ټاکنو خپلواک کميسيون د نوماندانو انځورونه او انتخاباتي نښانونه يې بيا په رای پاڼه کې شامل کړل. سره له دې د کابل په ولايت کې په وروستۍ رای پاڼو کې د ۵۲۴ نوماندانو ځای پر ځای کول خورا ستونزمن کار و.

**مدني زده کړې**

د افغانستان د نوي ډموکراتيکو بنسټونو، د ټاکنو د بهير، او د رايي ورکولو د حقونو په اړه ځرګندونې په ځانګړي توګه په داسې يو هيواد کې چې محدودې زيربناوې او خورا زياتې ليرې پرتې سيمې او همدا راز د سواد او رسمي زده کړو ټيټه کچه لري يو خورا پيچلی او ستونزمن کار دی.

په داسي حال کې چې د ۱۳۸۳ او ۱۳۸۴ کلونو د ټاکنو په درشل کې د بيلا بيلو سازمانونو لکه د ټاکنيز سيسټم د نړيوال بنسټ(IFES) او د افغانستان د مدني ټولنې د مجتمعي د سازمان (ACSFO) له خوا د مدني پوهې د ودې په موخه هڅې وشوې، خوپه دې اړه د ټاکنو تر مينځ لنډ مهال کې ډير لږ فعاليتونه تر سره شوي دي. که څه هم چې ځينو سازمانونو لکه يوناما او د ملګرو ملتونو د پراختيايي پروګرام دسبا

لپاره د ټاکنیزظرفیت د لوړولو پروژې(ELECT) د مدني پوهې له پروګرامونو څخه چې د ټاکنو د خپلواک کمیسیون له خوا د ۱۳۸۸ کال د ټاکنو په درشل کې روان وو ملاتړ یې کاوه، خو د ۱۳۸۷ کال د تلې له میاشتې څخه وړاندې د دې شان فعالیتونو لپاره خورا لږ نړیوالې مالي مرستې موجودې وې، چې دا تر یوه حده د ټاکنو ناوخته پلان جوړونې او په خپله د ټاکنو د تنظیم ، او همدا راز د بسپنه ورکوونکو له خوا د ټاکنو د مالي لګښت د ناوخته تایید له کبله و.

**د رایه ورکوونکو نوم لیکنه**

د ۱۳۸۴ کال د ولسمشریزوټاکنو په درشل کې د رایه ورکوونکو د یوې لویې شمیرې نوم لیکنه تر سره شوه. د ۱۳۸۲ کال د لیندۍ په ۱۰ نیټه او د ۱۳۸۳ کال د زمرې په ۲۹ نیټه په ټول هیواد کې په ټولیزه توګه ۱۰۵۶۷۸۳۴ د رایه ورکونې کارټونه وویشل شول. د ۱۳۸۸ کال د ټاکنو لپاره د ټولو هغو افغانانو چې د نوم لیکنې له وروستي پړاو څخه وروسته د ۱۸ کلنۍ عمر ته رسیدلي وو،هیواد ته د بیا راستنیدو دهڅو په لړ کې ځیني هغه افغانان چې له پاکستان ،ایران او نورو هیوادونوڅخه هیواد ته بیرته راستانه شوي وو، او یا هغه کسانو چې نوم لیکنه یې کړې وه خو نورو ولایتونو ته کډه شوي وو او یا خپل د ټاکنو کارټونه ورک کړي وو د نوم لیکنې بل دور هم تر سره شو. دغه بهیر د ۱۳۸۷ کال د تلې په میاشت کې پیل او په څلور پرله پسې پړاوونو کې تر سره شو. نوموړي پړاوونه په بیلا بیلو ولایتونو کې د هوا او امنیتي ستونزو ته په پام سره ټاکل شوي وو. نوموړی بهیر د ۱۳۸۷ کال د سلواغې په میاشت کې بشپړ شو خو دغه بهیر دومره روڼ نه و. د هغه رپوټ پر بنسټ چې د آزادو او عادلانه ټاکنو د څارنې د ډلې له خوا وړاندې شوی و د غایب کس په وکالت نوم لیکنه، درغلۍ ، له قانوني عمر څخه ښکته عمر کې د نوم لیکنې په ګډون د سرغړونو زیاتې بیلګې ولیدل شوې. د بیلګې په توګه د ټولټاکنو د خپلواک کمیسیون د رایه ورکوونکو د نوم لیکنې لومړنۍ شمیرې چې په کې د هیواد په دودیزو سیموکې د راجستر شوو ښځو یوه لویه شمیره یې څرګندوله هم د پوښتنې وړ وې.

د ټولټاکنو خپلواک کمیسیون د ۱۳۸۳-۱۳۸۴ کلونو په ټاکنو کې له راجستر شوو کسانو سربیره د ۱۳۸۷-۱۳۸۸ کال په ټاکنو کې د رایه ورکونې لپاره په ټولیزه توګه د ۴۳۶۵۲۹۲ خلکو د نوم لیکنې یادونه وکړه.

**د رایې ورکولو مرکزونه او د کارکوونکو ګمارل**

د ۱۳۸۸ کال له ټاکنو څخه وړاندې په یو شمیر هغو سیمو کې چې په کې بشپړ امن نه و په ځانګړې توګه د هیواد په سویل او ختیځ کې د رایې ورکولو د مرکزونو د پرانیستلو په اړه اندیښنې موجودې وې، له دې امله د خلکو یو د پام وړ شمیر په ټاکنو کې له ګډون څخه بې برخې پاتې شول. سره له دې چې د ټاکنو خپلواک کمیسیون په ټولیزه توګه د هیواد په کابو ۶۸۰۰ مرکزونو کې د را یه ورکونې د ۲۸۰۰۰ د مرکزونو د درلودلو او په دې مرکزونو کې د څه د پاسه ۱۶۰۰۰۰ کارکوونکو د ګمارلو په اړه یې څرګندونې کړې وې(د ۱۳۸۳ کال په پرتله په ۵۰۰۰ مرکزونو کې ۳۰۰۰۰)، د ولسمشریزې او د ولایتي شوراګانو د ټاکنو لپاره ۳۶ میلیونه رای پاڼې چاپ شوې وې، که څه هم چې په ځینو ناامنو سیمو کې د رایې ورکونې مرکزونه ټړل شوي وو، سر بیره پردې د را یه ورکونې په ورځ له مخکې نه د پلان شوو درغلیو له ویرې د ټاکنو دچارواکو له خوا د ۴۴۰ څخه زیاتو مرکزونو د نه پرانیستلو دستور ورکړل شوی و.

د رایې ورکونې په ورځ د رایې ورکونکو له خوا د نورو لوژیستکي ستونزو یادونه هم وشوه: لکه د

بلواګرو ډلو له خوا دګواښ( او په ځینو حالاتو کې د یرغل)، د رای پاڼو دکمښت، د کارتونو د سوري کوونکو ماشینونو په کار کې کمزوري( چې درایه ورکړل شوو کارتونو د په نښه کولو په موخه ترې کار اخیستل کیده)، د نه پاکیدونکي رنګ پر ځای د وینځلو وړ رنګ کارونه.

په ۱۳۸۸ کال کې د لومړي ځل لپاره رایې د رایې شمیرلو په مرکزونوکې وشمیرل شوې(ددې پر ځای چې د ولایتونو په مرکزونو کې وشمیرل شي) او لومړنی پایلې له همدې لارې خپرې شوې

## د ټاکنو څارنه

د مخ په زیاتیدونکې نا امنۍ له کبله، د ټاکنو د نړیوالو څارونکو شمیر د ۱۳۸۳ کال په پرتله خورا کم شوی و. د څارونکو یوه لویه ډله د اروپا د ټولنې له خوا استول شوې وه چې د دې پلاوې په ترکیب کې ۶۷ شنوونکو کارپوهانو او ۵۰ لنډ مهاله څارونکو په ټول هیواد کې د رایه ورکونې په مرکزونو کې برخه درلوده. په ۱۳۸۸ کال کې د اروپا د امنیت او همکارۍ سازمان د ټاکنو یوه مرستندویه ډله چې ۲۰ کار پوهان په کې شامل او په کابل کې میشت وو، استولې وه چې موخه یې له ټاکنو څخه وروسته د سپارښتنو په اړه د یو رپوټ د برابرولو په برخه کې د حکومت او نړیوالو هڅو سره ملاتړ و. په داسې حال کې چې همدې سازمان په ۱۳۸۳ کال کې ۴۲ څارونکي سیمې ته استولي وو. د عادلانه ټاکنو لپاره د آسیا شبکې (ANFREL) چې د آسیا فونډیشن له خوا یې ملاتړ کیده یو پلاوی چې په ترکیب کې یې ۲۰ اوږد مهالو او ۳۰ لنډ مهالو څارونکواو د کارپوهانو یوې پنځه کسیزې ډلې برخه درلودله واستوه. سر بیره پردې په افغانستان کې د میشتو ډیپلوماټیکو پلاوو او نورو نړیوالو سازمانونو له ډلې څخه یو لږ شمیر څارونکي د رایه ورکونې په مرکزونو کې ځای پر ځای شوي وو.

د نړیوالو څارونکو د محدودې شمیرې تر څنګ بله ستونزه د دوی پر ګرځیدو راګرځیدو محدودیتونه هم وو. ددوی ګڼ شمیر په پراخه کچه د ولایتونو له مرکزونو څخه لیرې او ځینو یې آن له کابل څخه بهر سفر نه شو کولای. په بدل کې یې د افغانستان د ټاکنو د څارنې سازمان یعنې د افغانستان د آزادو او عادلانه ټاکنو بنسټ(FEFA)، د ټاکنو اړوندو سازمانونو په څیر د ۱۳۸۴ او ۱۳۸۸ کلونو د ټاکنو تر مینځ مهال کې فعال پاتې شو او په ټولو ولایتونو کې یې د رایه ورکونې د څارنې په موخه استازي درلودل او په دې بریالی شو چې د ټاکنو په ورځ او په مخکینیو میاشتو کې د رایه ورکوونکو د نوم لیکنې په بهیر کې خپله دنده په هر اړخیزه توګه تر سره کړي.

## امنیت

سره له دې چې د نا امنۍ د اغیزو د کمولو په موخه د پام وړ ګامونه اخیستل شوي وو خو بیا هم نا امنۍ د ۱۳۸۸ کال ټاکنې یې زیانمنې کړې. د ټاکنیزو هڅو څخه د ملاتړ په موخه یو ۲۶۰۰۰ کسیز ځواک چمتو شوی و،خو د نړیوال کړکیچ ډلې د ۱۳۸۸ کال د تلې دمیاشتې یو رپوټ وښودله چې په ۱۳۸۰ کال کې د امریکې په مشرۍ د ماموریت راهیسې د زمري د میاشتې د ټولټاکنو څخه وړاندې اونیوکې د تاوتریخوالي کچه تر ټولو لوړه وه او همدا راز په همدې ترڅ کې د ولایتي شوراګانو لږ تر لږه څلور نوماندان وژل شوي وو، په ټولیزه توګه د څه د پاسه ۳۰۰ پیښنو رپوټ ورکړل شوی او ۳۱کسان له ټاکنو څخه وړاندې او د ټاکنو په ورځ وژل شوي دي. تر یوه حده دا کار ددې لامل شو څو د ۱۳۸۳ کال په پرتله د رایه ورکوونکو شمیر له ۷۰٪ څخه ۳۱٪ ته راټیټ شي.

د ټاکنو د لومړني پړاو راهيسې د افغانستان په ناامنو سيموکې د ټاکنو د بالقوه رايه ورکوونکو ګوښې پاتې کيدل د امنيت د خرابيدو يوه بله اغيزه وه، چې اکثراً يې د بلواګرو ډلو په شتون پورې اړه درلوده. چې دې کار د ۱۳۸۹ کال ټاکنې هم اغيزمنې کړې. همدا راز په ناکرارو سيمو کې د رايه ورکونې د مرکزونو نه پرانيستلو او په رښتينې توګه نه فعاليت هم د ټاکنو په ورځ زياتودرغليو ته لاره هواره کړه.

**درغلی**

د پراخو درغليو له امله د ۱۳۸۸ کال ټاکنې نوم بدې شوې. د ټاکنو د شکايتونو کميسيون د ۱۳۸۸ کال د تلې په مياشت کې د ۲۸۰۰ شکايتونو له تر لاسه کولو وروسته چې له هغې ډلې څخه ۷۲۶ يې له دې کبله چې د ټاکنو پايلې به اغيزمنې کړي په بشپړه توګه جدي وانګيرل او دې کميسيون د ۱۰سلنې رايو د بيا شميرنې دستور ورکړ چې نومورې رايې به په تصادفي توګه غوره کيدلې. په عمومي توګه د ټولو رايو څخه ۱۸.۸ سلنه يې د ټاکنو د شکايتونو د کميسيون له خوا باطلې اعلام شوې او په دې توګه يې دټاکنو د خپلواک کميسيون له لومړنيو شميرو څخه د اعتبار وړ رايو شميرله ۵۶۶۲۷۵۸(۳۸.۷٪) څخه ۴۵۹۷۷۲۷(۳۱.۴٪) ته را ټيټ کړ. که څه هم چې دغه سلنه د رايه ورکوونکو د وروستۍ نوم ليکنې څخه د لاس ته راغلو شميرو پر بنسټ و چې د افغانستان د آزادو او عادلانه ټاکنو د بنسټ د وينا له مخې کره نه وه او د پام وړ درغلۍ په کې تر سترګو کيدې. په پای کې د ټاکنو د شکايتونو کميسيون د رايو يوه کافي شميره باطلې اعلام کړې چې دغه کار ددې لامل شو چې ولسمشريزې ټولټاکنې دوهم پړاو ته وغځوي. د ولايتي شوراګانو په ټاکنو کې هم درغلۍ موجودې وې خو د ټاکنو د شکايتونو د کميسيون له خوا لږه پاملرنه ورته وشوه.

د يادونې وړ ده چې د ۱۳۸۳ کال په ټاکنو کې هم د درغليو د پام وړ بيلګې موجودې وې خو د نړيوالې ټولنې او رسنيو له خوا دومره پاملرنه ورته ونه شوه.

## د ۱۳۸۹ کال ټاکنې

د ۱۳۸۸ کال د مرغومي په مياشت کې د ټاکنو خپلواک کميسيون د ولسي جرګې ټاکنې د ۱۳۸۹ کال د غبرګولي له لومړۍ نيټې څخه د وږي د مياشتې ۲۷ نيټې ته وځنډولې. په همدې نيټه د ولسي جرګې د ۲۴۹ څوکيو لپاره رايه ورکونه تر سره شوه. د ټاکنو وروستۍ پايلې د ټاکنو د خپلواک کميسيون له خوا د ليندۍ د مياشتې په ۳ نيټه اعلام شوې چې په دې کې د غزني ولايت پايلې شاملې نه وې چې دغه پايلې کابو يوه اوونۍ وروسته اعلام شوې. د ۱۴۹ وړونکو استازو له ډلې څخه ۸۸ د پخواني پارلمان غړي وو.

که څه هم چې د افغانستان د پارلماني ډلو جوړيدنه اکثراً ناڅرګنده وه او د حکومت پلوه او مخالفو ډلو ويش په کې څرګند نه دی، خو په عمومي توګه داسې انګيرل کيږي چې دې ټاکنو د هغو استازو په شمير کې چې کيدای شي په بالقوه ډول د کرزي د مخالفې ډلې په ليکه کې ودريږي خورا زياتوالی راوستی.

**د نوماندانو ټاکنه او ارزونه**

نوماندانو د ۱۳۸۹ کال د غويي تر ۱۵ نيټې پورې د نوم ليکنې لپاره وخت درلود چې دا کار د ټاکنو د خپلواک کميسيون په دفتر کې په انفرادي ډول تر سره کيده. د نوماندانو لومړنی ليست د غويي په ۲۵ نيټه د ټاکنو خپلواک کميسيون له خوا خپور شو، چې وروسته تر هغې بيا د شکايتونو، کنټرولولو او ارزولو پړاو پيل

شو. په دې موده کې ۴۸ نوماندان په خپله خوښه په ټاکنو کې د نوماند په توګه له ګډون څخه په شا شول، ۲۱ تنه د ټاکنیزو شکایتونو د کمیسیون له خوا او ۳۱ نور د ټاکنو د خپلواک کمیسیون له خوا بې اعتباره شول. او د څه د پاسه ۲۰۰ نوماندانو په اصلي غوښتنلیکونو کې اصلاحات راغلل. د ۱۳۸۹ کال د چنګاښ په لومړۍ نیټه د۲۵۷۷ هغو نوماندانو وروستی لیست چې په ټاکنو کې به سیالي وکړي ( چې په کې ۴۰۶ میرمنې هم شاملې وې) خپور شو.

**د رایه ورکوونکو نوم لیکنه**

د ۱۳۸۸ کال له ولسمشریزو ټاکنو څخه وړاندې د نوماندانو د نوم لیکنې یو مهم نوښت تر سره شو. د ولسي جرګې د ټاکنو لپاره د نوم لیکنې بهیر دوه میاشتې وړاندې پیل شو چې د زمري د میاشتې په ۲۱ نیټه پای ته ورسید.

**د ټاکنو څارنه**

د آزادو او عادلانه ټاکنو بنسټ(FEFA) د ټاکنیزې مبارزې په بهیر په ټول هیواد کې ۴۰۰ اوږد مهاله څارونکي یې ګمارلي وو او د ټاکنو په ورځ یې د رایه ورکولو او شمیرنې د څارنې په موخه ۶۶۰۰ نور څارونکي وګمارل.

د ۱۳۸۸ کال د ولسمشریزو ټاکنو په څیر ناامني د دې لامل شوه څو د ټاکنو د نړیوالو څارونکو شمیر د ۱۳۸۴ کال د پارلماني ټاکنو په پرتله خورا لږ وي، چې ستره برخه یې د نړیوالې ډموکراسی د بنسټ له خوا ګمارل شوي وو.

**امنیت او درغلۍ**

بلواګرو په ټاکنیز بهیر کې د ښکیلو کسانو په وړاندې ګواښونه وکارول او افغانانو ته یې د رایه ورکونې په وړاندې خبرداری ورکړ. د FEFA له خوا د تر لاسه شوو شمیرو له مخې د نوماندانو او د ټاکنیزې مبارزې د ۱۲ تنو کارکوونکو په ګډون له ۲۰ تنو څخه زیات کسان د ټاکنو اړوند تاوتریخوالو په لړ کې وژل شوي دي. او له ټاکنو څخه وړاندې او د ټاکنو په ورځ د تاوتریخوالي او د ګواښونې ګڼ شمیرپیښې تر سترګو شوې. د رایه ورکونې په ورځ پراخې درغلۍ تر سترګو شوې او د ټاکنیز بهیر په نورو پړاوونو کې هم د پراخې درغلۍ د پیښیدو په هکله انګیرنې پیاوړې وې. کابو ۴۲۰۰ جدي شکایتونه د ټاکنیزو شکایتونو د کمیسیون له لورې پلټنې ته وړاندې شول. ددې په پای کې د رایه ورکونې د ۵۸۷ مرکزونو پایلې رد او د ټولیزو رایو له جملې نه نږدې ۲۵ سلنه رایې باطلې شوې. چې ددې کار په پایله کې کابو ۴.۳ میلیونه رایې قانوني وبلل شوې.

د ټاکنو خپلواک کمیسیون په لومړي سر کې پلان درلود څو د ټاکنو په ورځ ۶۸۳۵ د رایې ورکولو مرکزونه ولري. سره له دې د ټاکنو په ورځ دوی د هیواد په ناامنو سیمو کې د ۱۰۱۹ مرکزونو د نه خلاصولو خبر ورکړ، له دې سره سره، په هغو سیمو کې چې خلکو نه غوښتل چې رایې ورکړي او یاهم په رایه ورکولو بریالي نه شول ، هم ګڼ شمیر د رایې ورکولو مرکزونه خلاص وو. چې دا کار ددې لامل شو څو پایلې بدلون ومومي او دې کار په وروستي پارلمان کې د استازیتوب په اړه یې اندیښنې راوپارولې.

د ټاکنو خپلواك کمیسیون د لړم په لومړۍ نیټه لومړنۍ پایلې یې اعلام کړې خو ۲۴ بریالي نوماندان یې بې اعتباره کړل او په وروستي لیست کې چې د لیندۍ په ۴ نیټه خپور شو، دغه کسان په کې موجود نه وو.

**ځانګړې محکمه**

لویې څارنوالۍ د لړم د میاشتې د ټاکنو د پایلو اعلام یې مخکې له وخته او غیر قانوني عمل وباله ، چې لا تراوسه د هغو ۴۱۳ قضیو په اړه څېړنه کوي چې د ټاکنو د خپلواک کمیسیون له خوا دوی ته وړاندې شوې وې. په پای کې لویې څارنوالۍ له دې ډلې نه ۲۳۲ قضیې سترې محکمې ته وړاندې کړې، چې په خپل وار سره یې ولسمشر کرزي ته د دې موضوع د لازیاتې پلټنې په موخه د یو غیر رسمي پلاوي د رامینځ ته کېدو وړاندیز وکړ. چې دا کار د مرغومي په ۸ نیټه د یو ولسمشریز فرمان له لارې د یوې پنځه کسیزې محکمې د رامینځ ته کیدو لامل شو.

دا کار د پارلمان د نویو ټاکل شوو استازو او د هیواد د ټاکنیزو سازمانو له خوا د ستونزو د پیدا کیدو لامل شو. د ټاکنو خپلواک کمیسیون په بیړه اعلام وکړ چې نوموړې محکمه کوم قانوني بنسټ نه لري او دا یې څرګنده کړه چې د ټاکنو خپلواک کمیسیون او د ټاکنو د شکایتونو کمیسیون د هیواد د ټاکنو یواځیني قانوني بنستونه دي. همدا راز دا ادعا هم وشوه چې د اساسي قانون پر تطبیق د څارنې خپلواک کمیسیون د ځانګړې محکمې د نه مشروعیت په هکله ولسمشر کرزي ته معلومات ورکړي خو دغه خبره د عامه خبرتیا په موخه خپره شوې نه ده. سره له دې چې د ۱۳۸۹ کال د سلواغې په ۲ نیټه د پارلمان نوي استازي له وړاندې نه د کابل په انترکانتیننټال هوټل کې د لارښوونې د یو کورس لپاره راغونډ شوي وو، ولسمشر کرزي اعلام وکړ چې د پارلمان پرانیستل به یوه میاشت وځنډول شي څو ځانګړې محکمه د خپل کار د بشپړولو لپاره زیات وخت تر لاسه کړي. په پای کې له څو ورځو خبرو اترو او د ځانګړې محکمې وروستیو موندنو ته د درناوي په اړه د استازو له موافقې وروسته ولسمشر کرزي په دې موافقه وکړه چې د ۱۳۸۹ کال د سلواغې په ۷نیټه پارلمان پرانیزي.

د سلواغې د میاشتې په ۲۵ نیټه دې محکمې د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د دفتر د پلټنې غوښتنه وکړه او لږ وروسته د بدخشان، کندز او کونړ په ولایتونو کې یې د رایو بیا شمیرل پیل کړل. وروسته له څو میاشتو نسبي آرامۍ څخه د چنګاښ په ۳ نیټه محکمې اعلام وکړ چې ۶۲ استازي د ټاکنیزو درغلیو په تور باید تبدیل شي. د ټاکنو خپلواک کمیسیون د دې پریکړې پلي کول رد کړل او د چنګاښ په میاشت کې د شخړو د پای ته رسیدو په موخه خپل پلان اعلام کړ. ولسمشر کرزي د زمري په ۱۹ نیټه یو مبهم ولسمشریز فرمان صادر کړ چې داسې بریښیده چې د ټاکنیزو موضوعګانو سره د ښکیلتیا مسوولیت بیرته د ټاکنو خپلواک کمیسیون ته ورکړی و، او غوښتنه یې کړې وه چې هر څومره ژر چې ممکنه وي موضوع ته دې یو حل لاره ومومي. دوه اوونۍ وروسته د ټاکنو خپلواک کمیسیون اعلام وکړ چې یواځې ۹ پارلماني استازي به لیرې شي، او د دوی ځای نیوونکي به د وږي د میاشتې په ۱۴ نیټه د اختر له رخصتیو وروسته کله چې پارلمان بیا په کار پیل کوي په پارلمان کې شامل شي او په دې توګه د کړکیچ هغه بهیر ته چې له ټاکنو وروسته یې پوره یو کال دوام درلود د پای ټکی کیښود.

# اسناد: منځپانګه


د افغانستان اساسي قانون،۱۳۸۲ کال ........ ۱۳۰
سریزه ........ ۱۳۰
لومړی فصل: دولت ........ ۱۳۱
دو هم فصل: د اتباعو اساسي حقوق او وجایب ........ ۱۳۴
دریم فصل: جمهور رئیس ........ ۱۴۱
څلورم فصل: حکومت ........ ۱۴۵
پنځم فصل: ملي شورا ........ ۱۴۷
شپږم فصل: لویه جرګه ........ ۱۵۴
اووم فصل: قضاء ........ ۱۵۴
اتم فصل: اداره ........ ۱۵۸
نهم فصل: اضطراري حالت ........ ۱۵۹
لسم فصل: تعدیل ........ ۱۶۰
یوولسم فصل: متفرقه حکمونه ........ ۱۶۱
دوولسم فصل: انتقالي حکمونه ........ ۱۶۱
په افغانستان کې په بشردوستانه، بیارغوني او پراختیایي فعالیتونو کې د بوختو نادولتي مؤسسو کړنلاره ........ ۱۶۴

# د افغانستان اساسي قانون،۱۳۸۲ کال

منځپانګه

سریزه

| | | |
|---|---|---|
| لومړی فصل: | دولت | (۲۱ مادې) |
| دوهم فصل: | د اتباعو اساسي حقوق او وجایت | (۳۸ مادې) |
| دريم فصل: | جمهور رئيس | (۱۱ مادې) |
| څلورم فصل: | حکومت | (۱۰ مادې) |
| پنځم فصل: | ملي شورا | (۲۹ مادې) |
| شپږم فصل: | لويه جرګه | (۶ مادې) |
| اووم فصل: | قضاء | (۲۰ مادې) |
| اتم فصل: | اداري ويش | (۷ مادې) |
| نهم فصل: | اضطراري حالت | (۶مادې) |
| لسم فصل: | تعديل | (۲مادې) |
| يوولسم فصل: | متفرقه حکمونه | (۷مادې) |
| دوولسم فصل: | انتقالی حکمونه | (۵مادې) |


**بسم الله الرحمن الرحيم**

**الحمد الله رب العالمين والصلوه والسلام على سيدالانبياء والمرسلين**

**محمد(ص) وعلى آله واصحابه اجمعين**

# سریزه

موږ د افغانستان خلکو:

- د لوی خدای (ج) پرسپیڅلي ذات په ټینګ ایمان، اود حق تعالی په مشیت پر توکل او د اسلام په سپیڅلی دین پراعتقاد،
- د تیرو بې عدالتیو او ناخوالو په درک او زموږ پرهیواد راغلیو بې شمیره مصیبتونو ته په پاملرنه،
- د افغانستان د ټولو خلکو د سر ښندنو، تاریخی مبارزو، برحق جهاد اومقاومت دستایلو او د وطن د آزادی د لارې شهیدانو لوړ مقام ته په ارزښت ورکولو،
- په دې درک سره چې واحد او یو موټی افغانستان ددې خاورې په ټولو قومونو او خلکوپورې اړه لري،
- د ملګرو ملتو د منشورپه رعایت او د بشر د حقونو نړیوالې اعلامیې ته په درناوي،
- د ملي وحدت د ټینګښت او د هیواد د استقلال او ملي حاکمیت اوځمکنۍ بشپړتیا د ساتنی په منظور،
- د خلکو پر اراده او د ډموکراسۍ پر بنسټ ولاړ نظام د تاسیس لپاره،
- له ظلم، استبداد، تبعیض او تاوتریخوالې څخه پاک؛ پر قانونیت، اجتماعي عدالت، د انساني حقوقو او کرامت پر خوندي تابه ولاړې مدني ټولني د جوړولو او د خلکو د اساسي حقوقو او آزادیو د تأمین په منظور،
- د هیواد د سیاسي، اجتماعي، اقتصادي او دفاعي بنسټونو د پیاوړي کولو لپاره،
- د دې خاورې ټولو اوسېدونکو ته د یو هوسا ژوندانه او د ژوند د سالم چاپیریال د تأمین لپاره؛
- او په پای کې  په نړیواله ټولنه کې د افغانستان لپاره د وړځای د تثبیت په منظور؛ د هیواد تاریخی، فرهنګې او ټولنیزو واقعیتونو او د زمان له غوښتنو سره سم د ۱۳۸۲ لمریز کال د مرغومي د میاشتې په ۱۴ نیټه دغه اساسي قانون مو په لویه جرګه کې د خپلو استازو له لارې د کابل په ښار کې تصویب کړ.

# لومړی فصل: دولت

لومړۍ ماده
افغانستان یو خپلواك، واحد، او نه بېلېدونکی اسلامي جمهوري دولت دی.

۲ مه ماده
د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت دین، د اسلام سپیڅلی دین دی.

د نورو ادیانو پیروان د خپل دین په پیروۍ او د خپلو دیني مراسمو په تر سره کولوکې د قانون د حکمونو په حدودو کې آزاد دي.

۳ مه ماده
په افغانستان کې هیڅ قانون نه شي کولای چې د اسلام د سپیڅلي دین د معتقداتو او احکامو مخالف وي.

۴ مه ماده
په افغانستان کې ملي حاکمیت په ملت پورې اړه لري چې په مستقیم ډول یې په خپله

اويا د خپلو استازو له لارې عملي کوي.

د افغانستان ملت عبارت دی له ټولو هغو افرادو څخه چې د افغانستان تابعيت ولري.

د افغانستان ملت له پښتون، تاجك، هزاره، ازبك، ترکمن، بلوچ، پشه يي، نورستاني، ايماق، عرب، قرغيز، قزلباش، ګوجر، براهوي او نورو قومونو څخه جوړدی.

د افغان کلمه د افغانستان د ملت پر هر فرد اطلاق کيږي.

د ملت هيڅ يو فرد د افغانستان له تابعيت څخه نه محروميږي.

په تابعيت او پناه ورکولو پورې مربوطې چارې د قانون له لارې تنظيميږي.

۵ مه ماده ددې اساسي قانون او نورو قوانينو د حکمونو تطبيق، له استقلال، ملي واکمنۍ اوځمکنۍ بشپړتيا څخه دفاع او د هېواد د امنيت او دفاعي قابليت تأمين، د دولت له اساسي وظايفو څخه دي.

۶ مه ماده دولت، د انساني کرامت په ساتلو، بشري حقوقو د ملاتړ، د ډموکراسۍ د تحقق، ملي وحدت د تأمين او د ټولو قومونواو قبايلو ترمنځ د برابرۍ او دهېواد په ټولو سيمو کې د متوازنې پراختيا او ټولنيز عدالت، پربنسټ د يوې هوسا او پرمختللې ټولنې په جوړولو مکلف دی.

۷ مه ماده دولت د ملګروملتونو د منشور، د بين الدول معاهدو، د نړيوالو ميثاقونو چې افغانستان له هغو سره تړاو لري او د بشري حقوقو د نړيوالې اعلاميې رعايت کوي.

دولت د هر راز تروريستي اعمالو،د مخدره موادو د کرلو او قاچاق او مسکراتو دتوليد او استعمال مخنيوی کوي.

۸ مه ماده دولت د هېواد خارجي سياست د خپلواکۍ، ملي ګټو او ځمکنۍ بشپړتيا په ساتلو، نه مداخلې ، ښه ګاونډيتوب، متقابل احترام اود حقوقو د برابرۍ پربنسټ تنظيموي.

۹مه ماده کانونه او نوري ترځمکې لاندې زيرمې او لرغوني آثارد دولت ملکيت دي.

د ولت د ملکيتونو ساتنه او اداره او له طبيعي زيرمو او نورو عامه ملکيتونو څخه د سمې استفادې ډول د قانون له لارې تنظيموي.

۱۰ مه ماده دولت خصوصي پانګې اچونې او خصوصي تشبثات د بازارد اقتصاد د نظام پربنسټ د قانون له حکمونو سره سم هڅوي، ملاتړ يې کوي او مصونيت يې تضمينوي.

۱۱مه ماده په کورنۍ او بهرنۍ سودا ګرۍ پورې تړلې چارې، د هېواد له اقتصادي غوښتنو او د خلکو له ګټو سره سمې د قانون له لارې تنظيميږي.

۱۲ مه ماده
د افغانستان بانك. د دولت مركزي او مستقل بانك دی.

د پېسو نشرول، د هېواد د پولي سياست طرح او تطبيق، د قانون له حكمونو سره سم د مركزي بانك صلاحيت دی.

مركزي بانك د پېسو د چاپ په برخه كې د ولسي جرگې له اقتصادي كميسيون سره مشوره كوي.

د دې بانك تشكيل او د كار ډول د قانون له لارې تنظيمېږي.

۱۳ مه ماده
دولت د صنايعو د پراختيا، د توليد د ودې او د خلكو د ژوند د سطحې د لوړتيا او د كسبگرو د فعاليتونو د ملاتړ لپاره اغېزمن پروگرامونه طرح او تطبيقوي.

۱۴ مه ماده
دولت د كرنې او مالدارۍ د پراختيا، د بزگرانو او مالدارانو د اقتصادي، ټولنيزو او د ژوند د شرايطو د ښه كولو او د كوچيانو د ميشتولو او د دوی د ژوند د سمون لپاره د دولت د مالي توان په حدودو كې اغېزمن پروگرامونه طرح او تطبيقوي.

دولت مستحقو اتباعوته د استوگنځای د برابرولو په منظوراو د عامه ملكيتونو د وېش لپاره، دقانون له حكمونو سره سم او د مالي امكاناتو په حدودوكې لازم تدبيرونه نيسي.

۱۵مه ماده
دولت مكلف دی چې د ځنگلونو اود چاپېريال د ساتنې او ښه والي لپاره لازم تدبيرونه ونيسي.

۱۶مه ماده
د پښتو، دري، ازبكي، تركمني، بلوڅي، پشه يي، نورستاني، پاميري او په هيواد كې د نورو مروجو ژبو له جملې څخه پښتو او دري د دولت رسمي ژبې دي.

په هغوسيمو كې چې د خلكو اكثريت له ازبكي، تركمني، بلوڅي، پشه يي، نورستاني او پاميري ژبو څخه پريوې خبرې كوي له پښتو او دري سربيره هغه ژبه درېيمه رسمي ژبه ده، د تطبيق ډول يې د قانون له لارې تنظيمېږي.

دولت د افغانستان د ټولو ژبو د پياوړتيا او پراختيا لپاره اغېزمن پروگرامونه طرح او تطبيقوي.

په هېواد كې د مطبوعاتو، راډيو او تلويزيون خپرونې د هېواد پرټولو مروجو ژبو آزادې دي.

په هېواد كې موجود ملي، علمي او اداري اصطلاحات ساتل كيږي.

۱۷ مه ماده
دولت په بيلابيلو سطحو كې د معارف د ودې او د ديني زده كړو د پراختيا، د جوماتونو، مدرسو او ديني مركزونو د وضعې د ښه والي او تنظيم لپاره لازم تدبيرونه نيسي.

۱۸ مه ماده دهېواد تقویم مبدأ د پیغمبر اکرم(صلی الله علیه و سلم) پرهجرت ولاړه ده.

د دولتي ادارو دکار بنسټ هجري لمریزکال دی.

د جمعې ورځې، د اسد ۲۸ او د ثور۸ عمومي رخصتۍ دي.نورې رخصتۍ د قانون له لارې تنظیمیږي.

۱۹مه ماده د افغانستان بیرغ له: درېو تور، سور او زرغون رنګه ټوټو څخه جوړ دی درې واړه ټوټې په مساوي ډول له کیڼ نه ښي لور ته په عمودي ډول سره پرتې وي.او د هر رنګ سور د هغه د اوږدو نیمایي دی چې په منځ کې یې د افغانستان ملي نښان ځای پر ځای شوی دی.

د افغانستان د دولت ملي نښان له سپین رنګې محراب او منبر څخه جوړ دی چې په دوو څنډو کې یې دوه بیرغونه او د نښان د منځ په پورتنۍ برخه کې د لا اله الا الله محمد رسول الله مبارکه کلمه اوالله اکبراو د راختونکي لمر وړانګې او په لاندینۍ برخه کې یې د ۱۲۹۸هجري شمسي تاریخ او د افغانستان کلمه راغلې چې له دوو خوا وو څخه د غنمو وږي پرې راګرځول شوي دي.

له بیرغ او ملي نښان څخه د استفادې څرنګوالی د قانون له لارې تنظیمیږي.

۲۰ مه ماده د افغانستان ملي سرود په پښتو ژبه دی، الله اکبر او د افغانستان د قومونو نومونه به پکې راځي.

۲۱ مه ماده د افغانستان پایتخت د کابل ښار دی.

# دویم فصل: د اتباعو اساسي حقوق او وجایب

۲۲مه ماده د افغانستان د اتباعو ترمنځ هر راز تبعیِض او امتیاز منع دی.

د افغانستان اتباع ښځې او نارینه د قانون په وړاندې مساوي حقوق او وجایب لري.

۲۳ مه ماده ژوند د خدای(ج) بخښنه او د انسان طبیعي حق دی، هیڅوك له قانوني مجوزه پرته له دې حقه بې برخې کېدای نشي.

۲۴ مه ماده آزادي د انسان طبیعي حق دی، دا حق د نورو له آزادۍ او له عامه مصالحو پرته چې د قانون له لارې تنظیمیږي حدود نه لري.

د انسان آزادي او کرامت له تیري خوندي دی.

دولت د انسان د آزادۍ او کرامت په ساتنه او درناوي مکلف دی.

۲۵ مه ماده د ذمې برائت اصلي حالت دی ترهغې چې د باصلاحيته محکمې په قطعي حکم متهم محکوم عليه ثابت نه شي، بې ګناه ګڼل کيږي.

۲۶مه ماده جرم يو شخصي عمل دی.

د متهم تعقيبول، نيول يا توقيفول او پر هغه باندې د جزا تطبيق بل هيچا ته سرايت نه کوي.

۲۷مه ماده هيڅ يوعمل جرم نه ګڼل کيږي خو دهغه قانون له مخې چې د جرم د ارتکاب له مخه نافذ شوی وي.

هيڅوك د قانون له حکمونو پرته تعقيبېدای، نيول کېدای او يا توقيفېدای نه شي.

هيڅاته سزا نه شي ورکول کېدای مګر، د يوې با صلاحيته محکمې په حکم او د هغه قانون له احکامو سره سم چې د اتهام وړ فعل تر ارتکابه مخکې نافذ شوی وي.

۲۸مه ماده د افغانستان هيڅ يو تبعه په جرم باندې د متهم کېدو له امله، بهرني دولت ته نه سپارل کيږي، مګر د ورته معاملې او د هغو بين الدول تړونونو له مخې چې افغانستان ور سره تړاو لري.

هيڅ افغان د تابعيت په سلبېدواو په افغانستان کې دننه يا بهرپه شړل کېدو نه محکوميږي.

۲۹مه ماده د انسان تعذيب منع دی.

هيڅوك نه شي کولای چې له بل شخص څخه حتی د حقايقو د تر لاسه کولو لپاره که څه هم تر تعقيب، نيونې يا توقيف او يا په جزا محکوم وي، دهغه د تعذيب لپاره اقدام وکړي، يايې د تعذيب امر ورکړي.

د انساني کرامت مخالف دجزا ټاکل منع دي.

۳۰ مه ماده له متهم يا بل شخص څخه په زور تر لاسه شوي څرګندونې، اقرار يا شهادت اعتبار نه لري.

په جرم اقرار د متهم هغه اعتراف ته وايي چې په بشپړه خوښه او د عقلي روغتيا په حالت کې يې د با صلاحيته محکمې په وړاندې کړی وي.

هرڅوك کولای شي چې له نيول کېدو سره سم له ځانه د اتهام د ليرې کولو لپاره او يا د حق د ثابتولو لپاره له قانون سره سم مدافع وکيل وټاکي.

۳۱ مه ماده متهم حق لري چې له نيولو سره سم له منسوب اتهامه ځان خبرکړي اود هغې مودې

دننه چې قانون یې ټاکي، محکمه کې حاضر شي.

دولت په جنایي پېښو کې د بېوزلي متهم لپاره مدافع وکیل ټاکي.

د متهم او د هغه د وکیل ترمنځ مکالمات، مراسلات او مخابرات له هر ډول تعرض څخه خوندي دي.

دمدافع وکیلانو وظایف او واکونه د قانون له لارې تنظیمیږي.

۳۲ مه ماده

پور دپوروړي د آزادۍ د سلبیدو یا محدودیدو سبب کیدای نه شي.

د پور د بېرته اخیستلو لارې چارې او وسایل د قانون له لارې تنظیمیږي.

۳۳ مه ماده

د افغانستان اتباع د انتخابولو او د انتخابېدلو حق لري.

له دې حق څخه د ګټې اخیستو شرایط او لارې د قانون له لارې تنظیمیږي.

۳۴ مه ماده

د بیان آزادي له تیري څخه خوندي ده.

هر افغان حق لري چې خپل فکر د وینا، لیکنې، انځور او یا نورو وسیلو له لارې، په دې اساسي قانون کې د راغلو حکمونو د په رعایت څرګند کړي.

هر افغان حق لري د قانون له حکمونو سره سم مطالب، بې له دې چې هغه مخکې له مخکې دولتي مقامونو ته وښیي خپاره او نشر کړي.

د مطبعو، راډیو او ټلویزیون، د مطبوعاتو د خپرولو او د جمعي ارتباط په نورو وسایلو پورې مربوط حکمونه د قانون له لارې تنظیمیږي.

۳۵ مه ماده

د افغانستان اتباع حق لري چې د خپلو مادي او یا معنوي غوښتنو د تأمین لپاره، د قانون له حکمونو سره سم ټولنې جوړې کړي.

د افغانستان اتباع حق لري د قانون له حکمونو سره سم، سیاسي ګوندونه جوړ کړي، په دې شرط چې:

١. د ګوند مرامنامه او اساسنامه د اسلام د سپیڅلي دین د احکامو او په دې اساسي قانون کې د راغلو نصوصو او ارزښتونو سره مخالف نه وي.

٢. د ګوند تشکیلات او مالي منابع څرګندې وي.

٣. نظامي او نظامي ډوله تشکیلات او هدفونه ونه لري.

۴. له بهرنیو سیاسي ګوندونو یا نورو بهرنیو منابعو سره تړلې نه وي.

د قوم، سیمې، ژبې او فقهي مذهب پر بنسټ د ګوند جوړول او فعالیت کول، جواز نه لري.

هغه جمعیت او ګوند چې د قانون له حکمونو سره سم جوړیږي د قانوني موجباتو او با صلاحیتهپمحکمې له حکمه پرته نه منحل کیږي.

۳۶ مه ماده د افغانستان اتباع حق لري چې د روا او سوله ییزو غوښتنو د تأمین لپاره له قانون سره سم بې وسلې غونډې او مظاهرې وکړي.

۳۷ مه ماده د اشخاصو د مخابرې او لیکونو آزادي او محرمیت که په لیکلي ډول وي یا د ټیلیفون او تلګراف یا نورو وسیلو له لارې، له تیري څخه خوندي دي.

دولت د اشخاصو د مخابرواو لیکونو د پلټنې حق نه لري مګرد قانون له حکمونو سره سم.

۳۸ مه ماده د شخص استوګنځی له تیري څخه خوندي دی.هېڅوك د دولت په ګډون د استوګن له اجازې یا واکمنې محکمې له قرار پرته او بې له هغو حالاتو او لارو چې په قانون کې ښودل شوي، د چا کور ته ورننوځي یا یې وپلټي.

د څرګند جرم په مورد کې مسؤل مامور کولای شي د محکمې له مخکینۍ اجازې پرته د شخص کورته ورننوځي یا هغه وپلټي.نوموړی مامور مکلف دی کورته له ننوتو یا پلټنې وروسته، په هغه موده کې چې قانون یې ټاکي د محکمې قرارتر لاسه کړي.

۳۹ مه ماده هر افغان حق لري د هېواد هر ګوټ ته سفروکړي او استوګن شي خو له هغو سیمو پرته چې قانون منع کړې وي.

هر افغان حق لري د قانون له حکمونو سره سم له افغانستان څخه بهر سفر وکړي او بېرته راستون شي.

دولت له هېواد څخه بهرد افغانستان د اتباعو د حقونوساتنه کوي.

۴۰ مه ماده ملکیت له تیري څخه خوندي دی.

هېڅوك د ملکیت د ترلاسه کولو او په هغه کې له تصرف کولو څخه نه منع کیږي، مګر د قانون د احکامو په حدودو کې.

د هېچا ملکیت د قانون د حکم او د باصلاحیته محکمې له پرېکړې پرته نه مصادره کیږي.

د شخص د ملکیت استملاك یوازې دعامه ګټو د تأمین په مقصد، د مخکیني او عادلانه

بدل په ورکولو، د قانون له مخې مجاز دی.

د شخص د شتمنۍ پلټنه او اعلان یوازې د قانون په حکم کېدای شي.

۴۱ مه ماده بهرني اشخاص په افغانستان کې د عقارې د ملکیت حق نه لري.

د عقار اجاره د پانګې اچونې په منظور د قانون له حکمونو سره سم جواز لري.د بهرنیو ملکونو پر سیاسي نمایندګیو او پر هغو بین المللي مؤسسو چې افغانستان په کې غړیتوب لري د عقارې مالونو پلورل د قانون له حکمونو سره سم جواز لري.

۴۲ مه ماده هر افغان مکلف دی د قانون له حکمونو سره سم دولت ته مالیه او محصول ورکړي.

هیڅ راز مالیه او محصول، د قانون له حکمه پرته نه وضع کیږي.

د مالیې او محصول اندازه اود ورکړې ډول یې دټولنیز عدالت په رعایت او د قانون په وسیله ښودل کیږي.

دا حکم د بهرنیو کسانواو مؤسسو په برخه کې هم تطبیقیږي.

هر ډول ورکړ شو مالیه، محصول اوعایدات دولتي واحد حساب ته تحویلیږي.

۴۳ مه ماده زده کړه د افغانستان د ټولو اتباعو حق دی چې د لیسانس تر درجې پورې وړیا د دولت له خواتأمینږي.

دولت مکلف دی چې په ټول افغانستان کې د متوازن معارف د عامولو او دمنځنیو اجباري زده کړود تأمین لپاره اغېزمن پروګرام طرح او تطبیق کړي او د مورنیو ژبو د تدریس لپاره په هغو سیمو کې چې پرې خبرې کیږي لاره هواره کړي.

۴۴ مه ماده دولت مکلف دی د ښځود زده کړو د پراختیا او توازن د ایجاد په منظور، د کوچیانو د زده کړو د ښه والې او په هېواد کې د بې سوادۍ د له منځه وړلو لپاره اغېزمن پروګرامونه طرح او تطبیق کړي.

۴۵ مه ماده دولت د اسلام د سپیڅلي دین د حکمونو او ملي فرهنګ پر بنسټ او له علمي اصولو سره سم، واحد تعلیمي نصاب طرح او تطبیقوي او د ښوونځیو د دیني مضمونونو نصاب په افغانستان کې د شتو اسلامي مذهبونو پر بنسټ تدوینوي.

۴۶ مه ماده د لوړو، عمومي او اختصاصي زده کړو دمؤسسو جوړول او اداره کول، د دولت وظیفه ده.

د افغانستان اتباع کولای شي د دولت په اجازه د لوړو، عمومي، اختصاصي اود سواد د زده کړې موسسې جوړې کړي.

دولت کولای شي بهرنیو کسانو ته هم د قانون له حکمونو سره سم د لوړو، عمومي او اختصاصي زده کړو د مؤسسو د جوړولو اجازه ورکړي.

د لوړو زده کړو په دولتي مؤسسو کې د شاملېدو شرطونه او له هغو سره نورې مربوطې چارې، د قانون له لارې تنظیمیږي.

۴۷ مه ماده دولت د علم، فرهنګ، ادب او هنر د پرمختګ لپاره اغېزمن پروګرامونه طرح کوي.

دولت د مؤلف، مخترع او کاشف حقوق تضمینوي او په ټولوبرخو کې علمي څېړنې هڅوي او ملاتړ یې کوي او د هغو له نتیجو څخه اغېزمنه ګټه اخیستنه د قانون له حکمونو سره سم عاموي.

۴۸ مه ماده کار، دهرافغان حق دی.

دکار د ساعتونو ټاکل، او با معاشه رخصتي، د کار او کارګر حقوق او له هغو سره نورې مربوطې چارې د قانون له لارې تنظیمیږي.

د قانون د حکمونو په حدودو کې د کار او کسب انتخاب آزاد دی.

۴۹ مه ماده د جبري کارتحمیل منع دیٰ.

دجګړې، آفتونو او نورو داسې حالاتو کې چې عامه ژوند او هوساینه تهدید کړي فعاله برخه اخیستنه د هرافغان ملي وجیبه ده.

پر ماشومانو د کار تحمیل جواز نه لري.

۵۰ مه ماده دولت مکلف دی چې د یوې سالمې ادارې او د هېواد په اداري سیستم کې د سمون د رامنځ ته کېدو لپاره، لازم تدبیرونه ونیسي.

اداره خپل اجراآت په بشپړه بې طرفۍاو د قانون له حکمونو سره سم عملي کوي.

د افغانستان اتباع حق لري د قانون د حکمونو په حدودو کې له دولتي ادارو څخه اطلاعات ترلاسه کړي، دا حق د نورو حقونو اوعامه امنیت ته له زیان رسولو پرته، حدود نه لري.

د افغانستان اتباع د اهلیت له مخې او له هر ډول توپیر څخه پرته د قانون له حکمونو سره سم د دولت خدمت ته منل کیږي.

۵۱ مه ماده هر څوک چې له ادارې څخه بې موجبه زیانمن شي د تاوان اخیستلو مستحق دی او کولای شي د تاوان د تر لاسه کولو لپاره په محکمه کې دعوا اقامه کړي.

له هغو حالاتو پرته چې قانون ښوولي، دولت نه شي کولای د باصلاحیته محکمې له

حکمه پرته د خپلو حقونو د تر لاسه کولو لپاره اقدام وکړي.

۵۲ مه ماده دولت د افغانستان د ټولو اتباعو لپاره د ناروغیو د مخنیوي اود وړیا درملنې وسیلې او روغتیايي اسانتیاوې د قانون له حکمونو سره سم تأمینوي.

دولت له قانون سره سم د خصوصي طبي خدمتونو او روغتیايي مرکزونو جوړول او پراختیا هڅوي او ملاتړ یې کوي.

دولت د سالمې بدني روزنې د پیاوړتیا او د ملي او سیمه ییزو ورزشونو د پراختیا لپاره لازم تدبیرونه نیسي.

۵۳ مه ماده دولت د شهیدانو او مفقودینو له پاتې کسانو، د معلولینو او معیوبینو د بیا ځواکمنی او په ټولنه کې د هغوی د فعالې ونډې اخیستنې په خاطر د مالي مرستو او روغتیايي خدمتونو د تنظیم لپاره د قانون له حکمونو سره سم لازم تدبیرونه نیسي.

دولت د متقاعدینو حقوق تضمینوي او له زړو کسانو، بې سرپرسته ښځو، معیوبینو او معلولینو او بې وسه یتیمانو سره د قانون له حکمونو سره سم لازمې مرستې کوي.

۵۴ مه ماده کورنۍ د ټولنې اساسي رکن دی او د دولت تر پاملرنې لاندې ده.

دولت د کورنۍ او په ځانګړي توګه د مور او ماشوم د جسمي او روحي روغتیا د تأمین، د ماشومانو د روزنې او د اسلام د سپیڅلي دین له احکامو سره دمغایرو رسمونو د له منځه وړلو لپاره لازم تدبیرونه نیسي.

۵۵ مه ماده له هېواد څخه دفاع د افغانستان د ټولو اتباعو دنده ده.

د عسکري مکلفیت د دورې د تېرولوشرطونه د قانون له لارې تنظیمیږي.

۵۶ مه ماده د اساسي قانون د حکمونو پیروي، د قوانینو اطاعت او د عامه نظم او امنیت رعایت د افغانستان د ټولو خلکوجیبه ده.

د قانون له حکمونو څخه بې خبري عذر نه ګڼل کیږي.

۵۷ مه ماده دولت په افغانستان کې د خارجي اتباعو حقوق او آزادي له قانون سره سم تضمینوي. دا کسان د بین المللي حقوقو د قواعدو په حدودو کې د افغانستان د دولت د قوانینو په رعایت مکلف دي.

۵۸ مه ماده دولت په افغانستان کې د بشر د حقوقو د رعایت د څارنې، ښه والي او ملاتړلپاره، دافغانستان د بشر د حقوقو خپلواک کمیسیون جوړوي.

هر څوک کولای شي د خپلو بشري حقوقو د نقض په صورت کې دې کمیسیون ته

شکايت وکړي.

کميسيون کولای شي د افرادو د بشري حقوقود نقض موارد مربوطو قانوني ځانګو ته راجع کړي او د هغوی له حقوقو څخه په دفاع کې مرسته وکړي.

ددې کميسيون جوړښت او د کار ډول د قانون له لارې تنظيميږي.

۵۹ مه ماده هيڅوك نه شي کولای په دې اساسي قانون کې له راغلو آزاديو او حقوقو څخه ناوړه استفادې د هېواد د خپلواکۍ، ځمکنۍ بشپړتيا، ملي واکمنۍ او ملي يووالې پر ضد عمل وکړي.

# دريم فصل: جمهور رئيس

۶۰ مه ماده جمهور رئيس د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت په سر کې دی چې خپل واکونه په اجرائيه، مقننه او قضائيه برخو کې ددې اساسي قانون له حکمونو سره سم عملي کوي.

جمهوررئيس دوه، لومړی او دوهم مرستيالان لري.

د جمهوري رياست کانديد د خپلو مرستيالانو نومونه د ځان له کانديدولو سره يو ځای ملت ته اعلاموي.

د جمهور رئيس لومړی مرستيال د جمهور رئيس د غياب، استعفاء او يا مړينې په حالاتو کې ددې اساسي قانون له مندرجو حکمونو سره سم کارکوي.

د جمهور رئيس دلومړي مرستيال په غياب کې، دوهم مرستيال د اساسي قانون له مندرجو احکامو سره سم عمل کوي.

۶۱ مه ماده جمهور رئيس د رای ورکوونکو د آزادو، عمومي، پټو او مستقيمو رايو له لارې په سلو کې تر ۵۰ څخه د زياتو رايو په تر لاسه کولو انتخابيږي.

د جمهور رئيس وظيفه تر انتخاباتو نه وروسته د پنځم کال د غبرګولي په لومړۍ نېټه پای ته رسيږي.

د جمهور رئيس د کار تر پای ته رسېدو دمخه د نوي جمهور رئيس د ټاکلو لپاره انتخابات ، له دېرشو تر شپېتو ورځو په موده کې تر سره کيږی.

که چيرې په لومړي پړاو کې له کانديدانو څخه يو هم ونه کړای شي چې په سلو کې تر ۵۰ څخه زياتې رايې تر لاسه کړي، انتخابات د دوهم ځل لپاره د انتخاباتو د نتايجو د نېټې تر اعلان وروسته د دوو اونيو په اوږدو کې ترسره کيږي.

دا ځل یوازې هغه دوه تنه کاندیدان په انتخاباتو کې برخه اخلي چې په لومړي پړاو کې يې تر ټولو زياتې رايې ترلاسه کړې وي.

دانتخاباتو په دوهم پړاو کې هغه څوک چې د رایو اکثریت تر لاسه کړي، جمهور رئيس ګڼل کیږي.

که چیرې د جمهوري رياست يو کانديد د رای ګیری د لومړي يا دوهم پړاو په جريان او يا تر انتخاب وروسته او يا د انتخاباتو د نتيجو له اعلان څخه وړاندې مړ شي، نوي انتخابات د قانون له حکمونو سره سم کیږي.

۶۲ مه ماده

څوک چې جمهوري رياست ته کانديديږي باید د لاندينيو شرطونو درلودونکی وي:

۱. د افغانستان تبعه، مسلمان، له افغان مور او پلار څخه زيږيدلی وي او د بل هېواد تابعيت ونه لري.

۲. د کانديدېدو په ورځ يې عمر تر څلوېښتو کلونو لږ نه وي.

۳. د محکمې له خوا د بشري ضد جرمونو، او جنايت په ارتکاب او يا له مدني حقوقو څخه په محرومۍ محکوم شوی نه وي.

هيڅ شخص نه شي کولای له دوو دورو زيات د جمهور رئيس په توګه وټاکل شي.

په دې ماده کې راغلی حکم د جمهور رئيس د مرستيالانو په برخه کې هم پلي کیږي.

۶۳ مه ماده

جمهور رئيس د کار تر پیل دمخه، د ځانګړې کړنلارې سره سم، چې د قانون له لارې تنظیمیږي دا لاندې لوړه يادوي:

بسم الله ارحمن الرحيم

"د لوی خدای(ج) په نامه لوړه کوم چې د اسلام د سپيڅلي دين پيروي او ساتنه وکړم. د اساسي قانون او نورو قوانينو رعايت او د تطبيق څارنه وکړم، د افغانستان د خپلواکۍ، ملي واکمنۍ، ځمکنۍ بشپړتيا ساتنه او د افغانستان د خلکو حقوق او ګټې خوندي کړم او د لوی خدای(ج) له دربارڅخه د مرستې په غوښتلو او د ملت په ملاتړ د افغانستان د خلکو د پرمختګ او هوسايني په لاره کې خپلې هڅې جاري وساتم."

۶۴ مه ماده

جمهور رئيس لاندې واکونه او وظيفې لري:

۱. د اساسي قانون داجرا څارل

۲. د ملي شورا په تصويب د هېواد د سياست د اساسي کرښو ټاکل،

۳. د افغانستان د وسله والو ځواکونو اعلی سرقومندان،

۴. د ملي شورا په تاييد د جګړې او متارکې اعلانول،

۵. دځمکنۍ بشپړتيا او د خپلواکۍ د ساتنې د دفاع په حالت کې د لازم تصميم نيول،

۶. د ملي شورا په تاييد له افغانستان څخه بهر ته د وسله والو ځواکونو د ټولګيو لېږل،

۷. ددې اساسي قانون په (۶۹) ماده کې له راغلي حالت پرته، د لويې جرګې راغوښتل،

۸. د ملي شورا په تائيد د اضطراري حالت اعلان او د هغه پای ته رسول،

۹. د ملي شورا او لويې جرګې د غونډو پرانيستل،

۱۰. د جمهوري رياست د مرستيالانو د استعفا منل،

۱۱. د ولسي جرګې په تاييد د وزيرانو، لوی څارنوال، د مرکزي بانك، د ملي امنيت او سرې مياشتې د رئيسانو ټاکل او د هغوی عزلول او د استعفا منل،

۱۲. د ولسي جرګې په تائيد د سترې محکمې د رئيس او غړيو ټاکل،

۱۳. د قانون له حکمونو سره سم د قاضيانو، د وسله والو ځواکونو، پوليسو، د ملي امنيت د منصبدارانو او دلوړ رتبه مامورينو ټاکل، تقاعد ورکول، د استعفا منل او عزلول،

۱۴. په بهرنيوهېوادونو او نړيوالو مؤسسو کې د افغانستان د سياسي نماينده ګيو د مشرانو ټاکل،

۱۵. په افغانستان کې د بهرنيو سياسي نماينده ګانو د باور ليکونو منل،

۱۶. د قوانينو او تقنيني فرمانونو توشيح کول،

۱۷. دقانون له حکمونو سره سم د دولتونو ترمينځ د معاهدو دلاسليکولو لپاره د باور ليکونو ورکول،

۱۸. د قانون له حکمونو سره سم د جزاګانو تخفيف او بخښل،

۱۹. د قانون له حکمونو سره سم د مډالونو، نښانونو او افتخاري لقبونو ورکول،

۱. د هېواد د اداري سمون په منظور، د قانون له مخې، دکمیسیونونو جوړول،

۲. په دې اساسي قانون کې نورراغلي واکونه او وظایف،

۶۵ مه ماده جمهور رئیس کولای شي په مهمولي، سیاسي، ټولنیزو او یا اقتصادي چارو کې د افغانستان د خلکو ټولپښتنو ته مراجعه وکړي.

ټول پوښتنې باید ددې اساسي قانون د حکمونو سره مخالفه یاد هغه د تعدیل مستلزمې نه وي.

۶۶ مه ماده جمهور رئیس په دې اساسي قانون کې راغلي واکونو د عملي کولو په برخه کې د افغانستان د خلکو لوړمصلحتونه په پام کې نیسي.

جمهور رئیس نه شي کولای چې د قانون له حکمه پرته دولتي ملکیتونه او شتمنۍ وپلوري او یا یې و بخښي.

جمهور رئیس نه شي کولای د خپل کار په دوران کې له خپل مقام څخه په ژبنیو، سیمه ییزو، قومي،مذهبي او ګوندي ملحوظاتو ګټه واخلي.

۶۷ مه ماده د جمهور رئیس د استعفی، عزل، مړینې او یا په صعب العلاجه ناروغۍ د اخته کېدلو په صورت کې چې د وظیفې د اجراء مخه نیسي دجمهوررئیس لومړی مرستیال د جمهور رئیس واکونه او وظایف په غاړه اخلي.

جمهور رئیس خپله استعفاپه خپله ملي شورا ته اعلاموي.

د صعب العلاجه ناروغۍ تثبیت د هغه طبي هیئت له خوا کیږي چې ستره محکه یې ټاکي.

په داسي حالاتو کې د نوي جمهور رئیس د ټاکلو لپاره په درې میاشتو کې دننه ددې اساسي قانون د۶۱ مادې له حکم سره سم انتخابات کیږي.

د جمهور رئیس لومړی مرستیال د لنډ مهاله جمهور رئیس په توګه، د وظیفې د تر سره کولو په موده کې لاندې چارې نه شي تر سره کولای:

۱. د اساسي قانون تعدیل

۲. د وزیرانو عزل

۳. ټول پوښتنه

د جمهور رئیس مرستیالان ددې اساسي قانون له حکمونو سره سم کولای شي ځان جمهوري ریاست ته کاندید کړي.

د جمهور رئیس په غیاب کې د لومړي مرستیال دندې د جمهور رئیس په واسطه ټاکل کیږي.

۶۸ مه ماده که چیرې د جمهور رئیس یو مرستیال استعفا وکړي او یا مړ شي د هغه پر ځای بل شخص د جمهور رئیس له خوا او د ولسي جرګې په تایید ټاکل کیږي.

د جمهور رئیس او د هغه د لومړي مرستیال د یو ځایي مړینې په صورت کې په ترتیب سره دوهم مرستیال، د مشرانو جرګې رئیس او د هغه د غیابت په صورت کې د ولسي جرګې رئیس او د هغه د غیابت په صورت کې د بهرنیو چارو وزیر یو په بل پسې ددې اساسي قانون د (۶۷) مادې له حکم سره سم د جمهوررئیس وظیفه په غاړه اخلي.

۶۹ مه ماده جمهور رئیس دملت او ولسي جرګې په وړاندې ددې مادې د احکامو مطابق مسؤل دی.

پر جمهور رئیس د بشري ضد جرمونو، ملي خیانت یا جنایت د ارتکاب تور لګول د ولسي جرګې د ټولو غړیو د دریمې برخې له خوا غوښتل کېدای شي.

که چیرې دا غوښتنه د ولسي جرګې د ټولو غړیو له دریو څخه د دوو برخو د رایو له خوا تایید شي، ولسي جرګه د یوې میاشتې په دننه کې لویه جرګه جوړوي.که لویه جرګه منسوب شوی اتهام د ټولو غړیو له دریو څخه د دوو برخو د رایو په اکثریت تصویب کړي، جمهور رئیس له وظیفې څخه ګوښه او موضوع ځانګړې محکمې ته سپارل کیږي. ځانګړې محکمه د ولسي جرګې له دریو غړیو، دسترې محکمې له دریو غړیو چې لویه جرګه یې ټاکي او د مشرانو جرګې له رئیس څخه جوړیږي.

دعوی د هغه شخص له خوا چې دلویې جرګې له خوا ټاکل کیږي، اقامه کیږي.

په دې حالت کې ددې اساسي قانون په (۶۷) ماده کې راغلي حکمونه تطبیقیږي.

۷۰ مه ماده د جمهوررئیس تنخوا او لګښتونه د قانون له لارې تنظیمیږي.

جمهور رئیس دخدمت د دورې تر ختمېدو وروسته دعزل له حالته پرته د خپل ژوند په پاتې موده کې د جمهوري ریاست د دورې له مالي حقوقو څخه د قانون له حکمونو سره سم، ګټه اخلي.

## څلورم فصل: حکومت

۷۱ مه ماده حکومت له وزیرانو څخه جوړ دی چې د جمهور رئیس تر مشرۍ لاندې کارکوي.

د وزیرانو شمېر اودندې دقانون له لارې تنظیمیږي.

۷۲ مه ماده

څوك چې دوزیر په توګه ټاکل کیږي باید لاندیني شرطونه ولري:

۱. یوازې د افغانستان د تابعیت لرونکی وي.که چیرې د کوم وزارت کاندید د بل هېواد تابعیت هم ولري ولسي جرګه د هغه د تایید یا رد صلاحیت لري.

۲. لوړ تحصیلات، کاري تجربه او ښه شهرت ولري.

۳. عمر یې تر پنځه دېرش کلونو لږ نه وي.

۴. دمحکمې له خوا د بشري ضد جرمونو او جنایت په ارتکاب او یا له مدني حقوقو څخه په محرومۍمحکوم شوی نه وي.

۷۳ مه ماده

کېدای شي وزیران د ملي شورا له غړیو او یا له هغو د باندې وټاکل شي.

کله چې دملي شورای غړی د وزیر په توګه وټاکل شي، په شورا کې خپل غړیتوب له لاسه ورکوي او دهغه پر ځای بل شخص د قانون له حکم سره سم ټاکل کیږي.

۷۴ مه ماده

وزیران د وظیفې له پیله مخکې د جمهوررئیس په وړاندې، لاندینۍ لوړه کوي:

بسم الله الرحمن الرحیم

"د لوی خدای(ج) په نامه لوړه کوم چې د اسلام د سپیڅلي دین د حکمونوملاتړ، د اساسي قانون او دافغانستان د نورو قوانینو رعایت، د اتباعود حقوقوحفاظت، دافغانستان د خپلواکۍ، ځمکنۍ بشپړتیا او د خلکو د ملي وحدت ساتنه وکړم او په خپلو ټولو اعمالو کې خدای(ج) حاضر وګڼم او خپلې راسپال شوې دندې په ریښتینولۍ سرته ورسوم."

۷۵ مه ماده

حکومت لاندینۍ دندې لري:

۱. ددې اساسي قانون او نورو قوانینو د احکامو او د محکمو د قطعي پرېکړو عملي کول

۲. د خپلواکۍ ساتل، له ځمکنۍ بشپړتیا څخه دفاع او په نړیواله ټولنه کې د افغانستان د حیثیت او ګټو ساتل

۳. د عامه نظم او امن ټینګول او د هر راز اداري فساد له منځه وړل

۴. د بودیجې ترتیبول، د دولت د مالي چارو تنظیمول او د عامه شتنمۍ ساتل

۵. د ټولنیزو، فرهنګي، اقتصادي او ټکنالوژیکي پرمختیایي پروګرامونو طرح او تطبیق

۶. ملي شورا ته د مالي کال په پای کې د سر ته رسېدلو چارو او د نوي مالي کال

د مهمو پروګرامونوپه باب رپوټ ورکول

۷. د هغو نورو دندو تر سره کول چې ددې اساسي قانون او نورو قوانینو له مخې د حکومت له دندو څخه ګڼل شوي دي.

۷۶ مه ماده

حکومت د هېواد د سیاست د اساسي کرښو د تطبیق او دخپلو دندو د تنظیمولو لپاره مقررات وضع او تصویبوي. دا مقررات باید د هیڅ قانون له نص او روحیې سره متناقص نه وي.

۷۷ مه ماده

وزیران خپلې دندې د اداري واحدونو د آمرینو په توګه په هغو حدودو کې چې اساسي قانون او نور قوانین یې ټاکي، سرته رسوي.

وزیران له خپلو ټاکلو دندو لپاره د جمهور رئیس او ولسي جرګې په وړاندې مسؤولیت لري.

۷۸ مه ماده

که چیرې وزیر په بشري ضد جرمونو، ملي خیانت او یا په نورو جرمونو متهم شي، موضوع ددې اساسي قانون د (۱۳۴) مادې په رعایت ځانګړي محکمې ته سپارل کیږي.

۷۹ مه ماده

حکومت کولای شي د ولسي جرګې دتعطیل په حالت کې له بودیجې او مالي چارو پرته، د بیړنی اړتیا پر اساس تقنیني فرمانونه ترتیب کړي.

تقنیني فرمانونه د جمهور رئیس تر توشېح وروسته د قانون حکم پیدا کوي. تقنیني فرمانونه باید د ملي شورا د لومړۍ غونډې تر جوړېدو وروسته د دېرشو ورځو په اوږدو کې هغې ته وړاندې شي.او که د ملي شورا له خوا رد شي، اعتبار نه لري.

۸۰ مه ماده

وزیران نه شي کولای د خپل کار په دوران کې له خپل مقام څخه په ژبنیو، سیمه ییزو، قومي، مذهبي او ګوندي ملحوظاتو ګټه واخلي.

# پنځم فصل: ملي شورا

۸۱ مه ماده

د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت ملي شورا، د ستر تقنیني ارګان په توګه د افغانستان د خلکو د ارادې ښکارندویه ده او د ټول ملت نمایندګی کوي.

د شورا هرغړی د رایې د څرګندونې په وخت کې، د افغانستان د خلکوعمومي مصلحتونه اوسترې ګټې د خپل قضاوت محور ټاکي.

۸۲ مه ماده

ملي شورا له دوو مجلسونو: ولسي جرګې او مشرانو جرګې څخه جوړه ده.

هیڅوك نه شي كولای په یوه وخت كې د دواړو مجلسونو غړی‌وي.

۸۳ مه ماده

د ولسي جرگې غړي د خلكو د آزادو، عمومي، پټو او مستقیمو انتخاباتو له لارې انتخابیږي.

د ولسي جرگې د كار دوره د پنځم كال د چنگاښ په لومړۍ نېټه د انتخاباتو د نتیجو د اعلان څخه وروسته پای ته رسیږي او نوي شورا په كار پیل كوي.

د ولسي جرگې د دورې تر ختمېدو دمخه له دېرشو څخه تر شپېتو ورځو په موده كې د ولسي جرگې د غړیو انتخابات تر سره كېږي.

د ولسي جرگې د غړیو شمېر د هرې حوزې د نفوسو د شمېر په تناسب تر(۲۵۰) كسانو پورې دی.

انتخاباتي حوزې ، او ورسره نور مربوط مسایل د انتخاباتو په قانون كې ټاكل كیږي.

د انتخاباتو په قانون كې باید داسې تدبیرونه ونیول شي چې انتخاباتي نظام د افغانستان د ټولوخلكو لپاره عمومي او عادلانه استازیتوب تأمین كړي د نفوسو په تناسب دې له هر ولایت څخه په اوسط ډول لږ تر لږه دوه ښځینه وكیلې په ولسي جرگه كې غړیتوب ترلا سه كړي.

۸۴ مه ماده

د مشرانو جرگې غړي په لاندې ډول انتخاب او ټاكل كیږي:

۱. د هرې ولایتي شورا له غړیو څخه یو تن د همدې شورا له خوا د څلورو كلونو لپاره.

۲. د هر ولایت د ولسوالیو د شورا له غړیو څخه یو تن د نوموړي شورا له خوا د دریو كلونو لپاره.

۳. پاتې دریمه برخه غړي د معلولینو او معیوبینو د دوو تنو او كوچیانو د دوو تنو استازو په گډون د هېواد له خبیرو او تجربه لرونكو كسانو څخه د پنځو كلونو لپاره دجمهور رئیس له خوا ټاكل كیږي.

جمهور رئیس له دې اشخاصو څخه په سلو كې پنځوس ښځې ټاكي.

هغه شخص چې د مشرانو جرگې د غړي په توگه ټاكل كیږي په اړونده شورا كې خپل غړیتوب له لاسه وركوي او دده پر ځای د قانون له حكمونو سره سم بل كس ټاكل كیږي.

۸۵ مه ماده

هغه څوك چې د ملي شورا غړیتوب ته كاندید یا ټاكل كېږي، د ټاكونكو پر شرطونو

سربېره، دا لاندې صفتونه هم باید ولري:

۱. د افغانستان تبعه وي یا لږ تر لږه د کاندیدو یا تعیین تر نېټې لس کاله پخوا یې د افغانستان د دولت تابعیت تر لاسه کړی وي.

۲. دمحکمې له خوا د بشر ضد جرمونو، او جنایت په ارتکاب او یا له مدني حقوقو څخه په محرومۍ محکوم شوی نه وي.

۳. د ولسي جرګې غړي د کاندیدیدو په ورځ پنځه ویشت کلن او د مشرانو جرګې غړي د کاندیدیدو او یا ټاکنې په ورځ پنځه دېرش کلنی عمر بشپړ کړی وي.

۸۶ مه ماده
د ملي شورا د غړیو انتخاباتي وثیقې د انتخاباتو د څارنې د خپلواک کمیسیون له خوا د قانون له حکمونو سره سم تر سره کیږي.

۸۷ مه ماده
د ملي شورا له دواړو جرګو څخه هره یوه د کار د دورې په پیل کې له خپلو غړو څخه یو تن د رئیس په توګه د یوې تقنیني دورې لپاره، دوه تنه د لومړي نایب او دویم نایب او دوه تنه د منشي او د منشي د نایب په توګه، د یو کال لپاره انتخابوي.

دا اشخاص د ولسي جرګې او مشرانو جرګې اداري هیأت جوړوي.

د اداري هیأت وظیفې د هرې جرګې د داخلي وظایفو په اصولو کې ټاکل کیږي.

۸۸ مه ماده
د ملي شورا له دواړو جرګو څخه هره یوه د بحث وړ موضوعاتو د کتنې لپاره د داخلي وظایفو داصولو له مخې کمیسیونونه جوړوي.

۸۹ مه ماده
ولسي جرګه واك لري د غړیو د دریمې برخې په پیشنهاد، د حکومت د اعمالو د څېړنې او کتنې لپاره، یو ځانګړی کمیسیون وټاکي.

ددې کمیسیون جوړښت او کړنلاره د ولسي جرګې د داخلي وظایفو په اصولو کې تنظیمیږي.

۹۰ مه ماده
ملي شورا دا لاندې واکونه لري:

۱. د قوانینو او تقنیني فرمانونو تصویب، تعدیل یا لغو کول؛

۲. د ټولنیزو، فرهنګي، اقتصادي او ټکنالوژیکي پرمختیایي پروګرامونو تصویب؛

۳. د دولتي بودیجې تصویب او د پور اخیستو یا ورکولو اجازه؛

۴. د اداري واحدونو منځ ته راوړل، تعدیل او یا لغو کول؛

۵. د دولتونوترمنځ د تړونونواو بین المللي میثاقونو تایید اویا له هغو څخه د

۱. افغانستان بېلول؛

۲. په دې اساسي قانون کې نور مندرج واکونه.

۹۱ مه ماده ولسي جرګه لاندې ځانګړي واکونه لري:

۱. له هر یوه وزیر څخه د استیضاح په برخه کې ددې اساسي قانون د ۹۲ مادې له حکم سره سم تصمیم نیول؛

۲. د پرمختیایي پروګرامونو او دولتي بودجې په باب تصمیم نیول؛

۳. ددې اساسي قانون له حکمونو سره سم د مقرریو تایید یا ردول

۹۲ مه ماده ولسي جرګه د ټولوغړیو د شلو فیصدو په وړاندیز کولای شي، له هر یوه وزیر څخه استیضاح وکړي.

که وړاندې شوي توضیح د قناعت وړ نه وي، ولسي جرګه دنه باورد رایې موضوع څېړي.

په وزیر باندې د نه باور رایه باید څرګنده، مستقیمه او پر پخو دلایلو ولاړه وي، دغه رایه د ولسي جرګې د ټولو غړو د رایو په اکثریت صادرېږي.

۹۳ مه ماده د ملي شورا د دواړو جرګو هر یو کمیسیون کولای شي له هر یوه وزیر څخه په ټاکلو موضوعاتو کې پوښتنې وکړي.

هغه څوك چې پوښتنه ترې شوي وي کولای شي شفاهي یا لیکلی ځواب ورکړي.

۹۴ مه ماده قانون هغه مصوبه ده چې د ملي شورا د دواړو جرګوله خوا تصویب او د جمهور رئیس له خوا توشېح شوي وي، مګردا چې په دې اساسي قانون کې بل ډول څرګنده شوي وي.

که جمهور رئیس د ملي شورا له مصوبې سره موافقه ونه لري کولای شي چې د وړاندې کېدو تر نېټې وروسته یې په پنځلسو ورځو کې د دلایلو له ښوولو سره ملي شورای ته مسترده کړي، ددې وخت په تېرېدو او یا دا چې ولسي جرګه یو ځل بیا هغه د ټولو غړیوله دریو برخو څخه په دوو برخو رایو تصویب کړي، مصوبه توشېح شوې ګڼله کېږي او نافذېږي.

۹۵ مه ماده د قانون د طرحې پیشنهاد د حکومت یا د شورا د غړو او د قضایي چارو د تنظیم په برخه کې د سترې محکمې له خوا د حکومت له لارې وړاندې کېدای شي.

د بودیجې او مالي چارو په برخه کې د قانون د طرحې پیشنهاد یواځې د حکومت له خوا کېږي

۹۶ مه ماده
که د قانون د طرحې پیشنهاد پر دولت د نوي تکلیف یا دعایداتو د کمولو لرونکی وي، په دې شرط د کار په فهرست کې نیول کیږي چې د پیشنهاد په متن کې د جبرانولو مدرك هم پیشبیني شوی وي.

۹۷ مه ماده
د حکومت له خوا د قانون د طرحې پیشنهاد لومړی ولسي جرګې ته وړاندې کیږي.

ولسي جرګه د بودیجې او مالي چارو په ګډون د قانون د طرحې پیشنهاد او د پور اخیستو یا ورکولو پیشنهاد له بحث وروسته د یو کل په توګه تصویب یا ردوي.

ولسي جرګه نه شي کولای وړاندې شوې طرح تر یوې میاشتې زیات وځنډوي.

ولسي جرګه د پیشنهاد شوي قانون طرح تر تصویب وروسته مشرانو جرګې ته سپاري.

مشرانو جرګه د پنځلسو ورځو په اوږدو کې د هغه په باره کې تصمیم نیسي.

ملي شورا د دولت د هغو قوانینو، معاهدواو پرمختیایي پروګرامونو په باره کې تصمیم نیولو ته لومړیتوب ورکوي چې د حکومت وړاندیز په بنسټ د عاجل غور غوښتنه کوي.

که چیرې د قانون د طرحې پیشنهاد له دواړو جرګو څخه د یوې د لسو غړو له خوا وشي، پیشنهاد د نوموړې جرګې د یو پر پنځمې برخې غړو تر تایید وروسته د هماغې جرګې د کار په فهرست کې نیول کیږي.

۹۸ مه ماده
د دولت بودیجه او د حکومت پرمختیایي پروګرام د مشرانو جرګې له لارې د دې جرګې له مشورتي نظریو سره یو ځای ولسي جرګې ته سپارل کیږي.

د ولسي جرګې تصمیم د جمهوررئیس تر توشیح وورسته، مشرانو جرګې ته تر وړاندې کېدو پرته، نافذ ګڼل کیږي.

که چیرې د ځینو عواملو له مخې د مالي کال تر پیل مخکې بودیجه تصویب نه شي، د نوې بودیجې تر تصویب پورې، د تېر کال بودیجه تطبیقیږي.

حکومت د مالي کال د څلورمې ربعې په اوږدو کې د راتلونکي کال بودیجه د روان کال د بودیجې له اجمالي حساب سره ملي شورا ته وړاندې کوي.د تېر مالي کال د بودیجې قطعي حساب د راتلونکي کال د شپږو میاشتو په موده کې د قانون له حکمونو سره سم ملي شورا ته وړاندې کیږي.

ولسي جرګه نه شي کولای د بودیجې تصویب له یوې میاشتې څخه زیات او د هغه پور د اخیستو او ورکولو اجازه چې په بودیجه کې شامل نه وي، تر پنځلسو ورځو زیات وځنډوي.

که چيرې ولسي جرګه په دغه موده کې د پور د اخيستو او ورکولو د پيشنهاد په اړه تصميم ونه نيسي، پيشنهاد تصويب شوی ګڼل کيږي.

۹۹مه ماده که چيرې د ملي شورا په اجلاس کې کلنۍ بوديجه يا پرمختيايي پروګرام يا له عامه امنيت، د هېواد له خپلواکۍ اوځمکنۍ بشپړتيا سره مربوطه موضوع ترخبرولاندې وي، د شورا داجلاس موده د هغې تر تصويب مخکې پای ته نه شي رسېدلای.

۱۰۰مه ماده که چيرې د يوې جرګې پريکړه د بلې جرګې له خوا رد شي، داختلاف د له منځه وړو لپاره د دواړو جرګو د غړو له خوا په برابر شمير ګډ هيات تاکل کيږي

د هيأت پريکړه دجمهور رئيس ترتوشيح وروسته نافذه ګڼل کېږي.

که ګډ پلاوی ونه کړای شي د نظراختلاف له منځه يوسي، نوتصويب رد شوی ګڼل کيږي.

په دې حالت کې ولسي جرګه کولای شي په خپله بله غونډه کې هغه د خپلو ټولو غړو له دريو څخه د دوو برخو د رايو په اکثريت تصويب کړي.

دا تصويب بې له دې چې مشرانو جرګې ته وړاندې شي، د جمهور رئيس تر توشيح وروسته نافذ ګڼل کيږي.

۱۰۱ مه ماده د ملي شورا هيڅ غړی د هغې رايې يا نظريې له امله چې د دندې د اجرا په وخت کې يې څرګندوي، تر عدلي تعقيب لاندې نه نيول کيږي.

۱۰۲مه ماده که د ملي شورا غړی په يوه جرم متهم شي، مسؤل مامور له موضوع څخه هغې جرګې ته چې متهم يې غړی دی ، خبر ورکوي او متهم ترعدلي تعقيب لاندې راتلای شي.

د مشهود جرم په مورد کې، مسؤول مامور کولای شي متهم د هغې جرګې له اجازې پرته چې دی يې غړی دی تر عدلي تعقيب لاندې راولي او ويې نيسي.

په دواړو حالاتو کې که عدلي تعقيب د قانون له مخې د توقيف ايجاب وکړي، مسؤول مامور مکلف دی چې له موضوع څخه بې له ځنډه نوموړې جرګې ته خبر ورکړي او تصويب يې تر لاسه کړي

که اتهام د شورا د رخصتۍ په وخت کې رامنځ ته شي، د نيولو او توقيف اجازه د مربوطې جرګې له اداري هيأت څخه تر لاسه کيږي او موضوع د نوموړې جرګې لومړنۍ غونډې ته د تصميم نيولو لپاره وړاندې کيږي.

۱۰۳مه ماده وزيران کولای شي د ملي شورا له دوو جرګو څخه د هرې يوې په غونډو کې ګډون وکړي.

د ملي شورا هره جرگه کولای شي خپلې غونډې ته د وزیرانو د حاضرېدو غوښتنه وکړي.

۱۰۴مه ماده د ملي شورا دواړې جرگې په عین وخت کې، بېل بېل مجلسونه کوي.

د دواړو جرگو گډې غونډې په لاندې حالاتو کې جوړېدلای شي:

۱. کله چې تقنینیه دوره یا کلنۍ غونډه د جمهور رئیس له خوا پرانیستل کیږي،

۲. کله چې جمهور رئیس یې ضروري تشخیص کړي.

د ولسي جرگې رئیس د ملي شورا د گډو غونډو مشري کوي.

۱۰۵مه ماده د ملي شورا غونډې علني دي، مگر دا چې د مجلس رئیس یا لږ تر لږه د ملي شورا لس تنه غړي یې د سري توب پیشنهاد وکړي او جرگه دا پیشنهاد ومني.

هېڅوك نه شي کولای چې په زور د ملي شورا ودانۍ ته ننوځي.

۱۰۶مه ماده د ملي شورا د هر مجلس نصاب د رایو د اخیستو په وخت کې د هرې جرگې د غړو د اکثریت په حضور بشپړیږي او تصمیمونه یې د حاضرو غړو د رایو په اکثریت تر سره کیږي، مگر په هغو مواردو کې چې دې اساسي قانون بل ډول تصریح کړې وي.

۱۰۷مه ماده ملي شورا په کال کې دوې عادي غونډې جوړوي.

د ملي شورا د دواړو جرگو د غونډو د کار موده په کال کې نهه میاشتې ده، د اړتیا په وخت کې شورا کولای شي دا موده اوږده کړي.

د رخصتیو په ورځو کې د ملي شورا فوق العاده غونډې د جمهور رئیس په امر دایرېدای شي.

۱۰۸مه ماده د ملي شورا د غړي د مړینې، استعفی، عزل او یا د داسې معلولېدو او معیوبېدو په صورت کې چې په دایمي توگه د دندې د تر سره کیدو په وړاندې خنډ شي، د پاتې تقنینیه دورې لپاره د نوي استازي ټاکل د قانون له حکمونو سره سم تر سره کیږي.

د ملي شورا د غړو د حاضرېدو یا نه حاضریدو سره مربوطې چارې د داخلي وظایفود اصولو سره سم تنظیمیږي.

۱۰۹مه ماده د تقنینیه دورې په وروستنې یو کال کې د انتخاباتو د قانون د بدلیدو پیشنهاد د ملي شورا د کار په فهرست کې نه شي نیول کېدلای.

# شپږم فصل: لویه جرګه

۱۱۰مه ماده لویه جرګه د افغانستان د خلکو د ارادې تر ټولو ستر مظهر دی.

لویه جرګه:

۱. د ملي شورا له غړو؛

۲. د ولایتونو او ولسوالیو د شوراګانو له رئیسانو جوړیږي.

وزیران، د سترې محکمې رئیس او غړي او لوی څارنوال کولای شي د لویې جرګې په غونډو کې پرته له دې چې د رایې ورکولو حق ولري، ګډون وکړي.

۱۱۱مه ماده لویه جرګه په لاندنیو حالاتو کې دایریږي:

۱. د هېواد د خپلواکۍ، ملي حاکمیت، ځمکنۍ بشپړتیا او سترو مصلحتونو پورې د مربوطوچارو په باب تصمیم نیول؛

۲. ددې اساسي قانون د حکمونو تعدیل؛

۳. ددې اساسي قانون د (۶۹) مادې له مخې د جمهور رئیس محاکمه کول.

۱۱۲مه ماده لویه جرګه په لومړۍ غونډه کې، د غړو له منځه یو تن د رئیس، یو تن د مرستیال او دوه تنه د منشي او نایب منشي په توګه ټاکي.

۱۱۳مه ماده د لویې جرګې نصاب د رایې اخیستو په وخت کې د غړو په اکثریت سره بشپړیږي.

د لویې جرګې پریکړې، له هغو مواردو پرته چې په دې اساسي قانون کې صریحاً ذکر شوي، د ټولو غړو د رایو په اکثریت، نیول کیږي.

۱۱۴مه ماده د لویې جرګې بحثونه علني دي، مګر دا چې د غړیو څلورمه برخه یې د سریتوب غوښتنه وکړي او لویه جرګه دا غوښتنه ومني.

۱۱۵مه ماده د لویې جرګې په جریان کې د دې اساسي قانون د (۱۰۱) او (۱۰۲) مادې مندرج احکام د هغې د غړو په باب تطبیقیږي.

# اووم فصل: قضاء

۱۱۶مه ماده قضائیه قوه د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت خپلواک رکن دی.

قضائیه قوه له یوې سترې محکمې، د استیناف له محکمو او ابتدائیه محکمو څخه جوړه ده چې تشکیلات او واکونه یې د قانون له لارې تنظیمیږي. ستره محکمه د ستر قضایي

اړکان په توګه د افغانستان د اسلامي جمهوریت د قضائیه قوې په سر کې ځای لري.

۱۱۷مه ماده
ستره محکمه نهه تنه غړي لري چې د جمهور رئیس له خوا د ولسي جرګې په تایید او ددې اساسي قانون د (۵۰) مادې د وروستي فقرې او د (۱۱۸) مادې د حکمونو په رعایت په پیل کې په دې ترتیب ټاکل کیږي:

درې تنه د څلورو کلونو لپاره، درې تنه د اووکلونو لپاره او درې تنه د لسو کلونو لپاره.

وروستنۍ ټاکنې د لسو کلونو لپاره دي.

د غړو ټاکل د دوهم ځل لپاره جواز نه لري.

جمهور رئیس د سترې محکمې یوغړی د سترې محکمې د رئیس په توګه ټاکي.

د سترې محکمې غړي ددې اساسي قانون په (۱۲۷) ماده کې له راغلې حالت پرته، د خدمت د دورې تر پایه له خپلو وظیفو څخه نه عزل کیږي.

۱۱۸مه ماده
د سترې محکمې غړي باید لاندیني شرایط ولري:

۱. د ټاکلو په وخت کې د رئیس او غړوعمر تر څلوېښتو کلو لږ نه وي

۲. د افغانستان تبعه وي،

۳. په حقوقي یا فقهي علومو کې لوړې زده کړې او د افغانستان په قضایي نظام کې تخصص او کافي تجربه ولري،

۴. د ښه سیرت او نېك شهرت لرونکی وي،

۵. د محکمې له خوا د بشري ضد جرمونو او جنایت په ارتکاب او یا له مدني حقوقو څخه په محرومۍ محکوم شوی نه وي،

۶. د وظیفې د تصدي په وخت کې د هېڅ سیاسي ګوند غړیتوب ونه لري.

۱۱۹مه ماده
د سترې محکمې غړي د دندې تر پیل مخکې، د جمهور رئیس په وړاندې دا لوړه کوي:

بسم الله الرحمن الرحیم

"د لوی خدای (ج) په نامه لوړه کوم چې د اسلام د سپیڅلي دین له احکامو، په دې اساسي قانون او نورو قوانینو کې له راغلونصوصو سره سم حق او عدالت تأمین او د قضاء وظیفه په بشپړ امانت، صداقت او بې طرفۍاجرا کړم."

۱۲۰مه ماده
د قضائیه قوې په صلاحیت کې په ټولوهغو دعوو غور شامل دی، چې د دولت په شمول د حقیقي یا حکمي اشخاصو له خوا دمدعي یا مدعي علیه په توګه د قانون له حکمونو

سره سم د محکمې په وړاندې اقامه شي.

۱۲۱مه ماده له اساسي قانون سره د قوانینو، تقنیني فرمانونو، بین الدول معاهدو او بین المللي میثاقونو د مطابقت څېړل، د حکومت یا محاکمو په غوښتنه او د هغو تفسیر د قانون له حکمونو سره سم د سترې محکمې صلاحیت دی.

۱۲۲مه ماده هیڅ قانون نه شي کولای په هیڅ حال کې، کومه قضیه یا ساحه په څه ډول چې په دې فصل کې تحدید شوې د قضائیه قوې له صلاحیت څخه وباسي او بل مقام ته یې وسپاري.

دا حکم د هغو خاصو محکمو چې ددې اساسي قانون په (۶۹، ۷۸ او ۱۲۷) مادو کې راغلي او په مربوطو قضیو کې د نظامي محکمو د تشکیل مانع نه ګرځي.

ددې ډول محکموتشکیل او صلاحیت د قانون له لارې تنظیمیږي.

۱۲۳مه ماده ددې اساسي قانون د حکمونو په رعایت د محکمو په تشکیل، صلاحیت او اجراآتو پورې مربوط قواعد او قاضیانو پورې مربوطې چارې د قانون له لارې تنظیمیږي.

۱۲۴مه ماده د قضائیه قوې د مامورینو او نورو اداري کار کوونکو په برخه کې، د دولت د مامورینو او نورو اداري کار کوونکو د مربوطو قوانینو حکمونه نافذ دي خو تقرر، انفکاك، ترفیع، تقاعد، مجازات او مکافات یې د سترې محکمې له خوا له قانون سره سم ترسره کیږي.

۱۲۵مه ماده د قضائیه قوې بودیجه د حکومت په مشوره د سترې محکمې له خوا ترتیبیږي او د دولت د بودیجې د یوې برخې په توګه دحکوت له خوا ملي شورا ته وړاندې کیږي.

د قضائیه قوې د بودیجې تطبیق د سترې محکمې صلاحیت دی.

۱۲۶مه ماده د سترې محکمې غړي، دخدمت د دورې تر پای ته رسېدو وروسته، د پاتې ژوند په موده کې د خدمت د دورې له مالي حقوقو څخه برخمن کیږي، په دې شرط چې په دولتي او سیاسي چارو بوخت نه شي.

۱۲۷مه ماده که چیرې د ولسي جرګې تر دریمې برخې زیات غړي، د سترې محکمې د رئیس یا غړو محاکمه د وظیفوي جرم یا د جنایت د ارتکاب د اتهام پر اساس وغواړي او ولسي جرګه دا غوښتنه د ټولو غړو له دریوبرخو څخه د دوو برخو په اکثریت تصویب کړي، متهم له وظیفې څخه عزل او موضوع خاصې محکمې ته سپارل کیږي.

د محکمې تشکیل او د محکمې طرزالعمل د قانون په وسیله تنظیمیږي.

۱۲۸مه ماده د افغانستان په محکمو کې محاکمه په علني ډول دایریږي اوهر څوك حق لري د قانون له حکمونو سره سم په هغې کې ګډون وکړي.

محکمه کولای شي، په داسې حالاتو کې چې په قانون کې څرګند شوي یا د محاکمې سري توب ضروري وګڼل شي، سري غونډې دایرې کړي خو د حکم اعلان باید علني وي.

۱۲۹مه ماده محکمه مکلفه ده د خپل صادر کړې حکم اسباب په فیصله کې ذکر کړي.

د محکمو د ټولو قطعي فیصلو عملي کول واجب دي خو د شخص د مرګ د حکم په حالت کې د جمهور رئیس منظوري شرط ده.

۱۳۰مه ماده محکمې ترغورلاندې قضایاوو کې ددې اساسي قانون او نورو قوانینو حکمونه تطبیقوي.

که دغورلاندې قضایاوو له جملې څخه د کومې قضیې لپاره په اساسي قانون او نورو قوانینو کې حکم موجود نه وي، محکمه د حنفي فقهي د احکامو له مخې او په هغو حدودو کې دننه چې دې اساسي قانون ټاکلي، قضیه په داسې ډول حل او فصل کوي چې عدالت په ډېره ښه توګه تأمین کړي.

۱۳۱مه ماده محکمې د اهل تشیع لپاره په شخصیه احوالو پورې مربوطو قضایاوو کې د تشیع د مذهب حکمونه د قانون له احکامو سره سم تطبیقوي.

په نورو دعوو کې هم که په دې اساسي قانون یا نورو قوانینو کې حکم موجود نه وي، محکمې قضیه ددې مذهب له حکمونو سره سم حل او فصل کوي.

۱۳۲مه ماده قاضیان د سترې محکمې په پیشنهاد او د جمهور رئیس په منظورۍ ټاکل کیږي.

د قاضیانو مقرري، تبدیلي، ترفیع، مواخذه او د تقاعد پیشنهاد د قانون له حکمونو سره سم د سترې محکمې صلاحیت دی.

ستره محکمه داجرائي او قضایي چارو د ښه تنظیم او د لازمو اصلاحاتو د تأمین لپاره، د قضائیه قوې، عمومي اداري آمریت تأسیسوي.

۱۳۳مه ماده که قاضي دجنایت په ارتکاب متهم شي ستره محکمه د قانون له حکمونو سره سم د قاضي په حالت غور کوي.

که ستره محکمه دده د دفاع تراورېدو وروسته اتهام وارد وبولي جمهور رئیس ته یې د عزل پیشنهاد کوي،

د جمهور رئیس له منظورۍ وروسته متهم قاضي له وظیفې څخه عزل او د قانون له حکمونو سره سم جزا ورکول کیږي.

۱۳۴مه ماده د جرمونو کشف د پولیس په وسیله او د جرمونو تحقیق او په محکمه کې پر متهم باندې د دعوا اقامه د څارنوالۍ له خوا، د قانون له احکامو سره سم کیږي.

څارنوالي د اجرائيه قوې برخه ده او په خپلو اجراآتو کې استقلال لري.

د څارنوالۍ تشکيل، صلاحيت او د اجراآتو څرنګوالی د قانون له لارې تنظيمېږي.

د وسله والو ځواکونو، پوليسو او د ملي امنيت کار کوونکو د وظيفوي جرمونو کشف او تخفيق د خاص قانون له لارې تنظيميږي.

۱۳۵مه ماده که د دعوا لوری په هغه ژبه چې محاکمه پرې کېږي ونه پوهيږي، د قضيې پر موادو او اسنادو د اطلاع او په محکمه کې په خپله مورنۍ ژبه د خبرو کولو حق د ترجمان په وسيله ورته تأمينيږي.

## اتم فصل: اداره

۱۳۶مه ماده د افغانستان د اسلامي جمهوريت اداره د مرکزي ادارې او محلي ادارو د واحدونو پر اساس  له قانون سره سم تنظيميږي.

مرکزي اداره پر ځينو اداري واحدونو وېشل کيږي چې د هرې يوې په سر کې يو وزير وي.

د محلي ادارې واحد ولايت دی.د ولايتونواومربوطه ادارو شمېر، ساحه، برخې او تشکيلات د نفوسود شمېر، ټولنيزې او اقتصادي وضعې او جغرافيايي موقعيت پر اساس د قانون له لارې تنظيميږي.

۱۳۷مه ماده حکومت د مرکزيت د اصل په ساتلو سره د اقتصادي، ټولنيزو او فرهنګي چارو د ګړندي کولو او ښه والي او د ملي ژوند په پرمختګ کې د خلکو د لازياتې ونډې اخيستو په منظور، لازم صلاحيتونه د قانون له حکمونو سره سم محلي ادارې ته سپاري.

۱۳۸مه ماده په هر ولايت کې يوه ولايتي جرګه جوړيږي.

د ولايتي جرګې غړي له قانون سره سم د نفوسو په تناسب، دآزادو ،عمومي، پټو او مستقيمو ټاکنو له مخې د ولايت داوسېدونکو له خوا دڅلورو کلونو لپاره ټاکل کيږي.

ولايتي جرګه له خپلوغړو څخه يو تن د رئيس په توګه ټاکي.

۱۳۹مه ماده ولايتي جرګه د دولت د پرمختيايي هدفونو په تأمين او د ولايت دچارو په ښه کولو کې لکه څنګه چې په قوانينو کې څرګنده شوي، برخه اخلي او په ولايت پورې د مربوطو چارو په باب مشوره ورکوي.

ولايتي جرګه خپلې وظيفې د محلي ادارې په مرسته سرته رسوي.

۱۴۰مه ماده د محلي اداري د چارو د سمون او په هغې کې د خلکو د فعالې ونډې اخیستو دتأمین په مقصد، په ولسوالیو او کلیو کې د قانون له حکمونو سره سم جرګې جوړېږي.

ددې جرګو غړي د آزادو، عمومي، پټو او مستقیمو ټاکنو له مخې د سیمې د اوسېدونکو له خوا د دریو کلونو لپاره ټاکل کیږي.

په محلي جرګو کې د کوچیانو ګډون د قانون له حکمونو سره سم تنظیمیږي.

۱۴۱مه ماده د ښاري چارو د ادارې لپاره ښاروالی تشکیلیږي.

ښاروال او د ښاري مجلسونو غړي د آزادو، عمومي، پټو او مستقیمو انتخاباتو له لارې ټاکل کیږي.

په ښاروالیو پورې مربوطې چارې د قانون له لارې تنظیمیږي.

۱۴۲مه ماده دولت ددې اساسي قانون د حکمونو د تعمیل او د مندرجو ارزښتونو د تأمین لپاره لازمې اداري جوړوي.

# نهم فصل: اضطراري حالت

۱۴۳مه ماده که دجګړې، دجګړې دخطر، وخیم اغتشاش او طبیعي آفاتو او یا ورته حالت له امله د خپلواکۍ او ملي ژوند ساتنه په هغه طریقه چې په اساسي قانون کې ټاکل شوې، ناشوني وګرځي دجمهور رئیس له خوا د ملي شورا په تایید د هېواد په ټولو او یا ځینې برخو کې اضطراري حالت اعلانیږي.

که اضطراري حالت تر دوو میاشتو زیات دوام ومومي، د اوږدولو لپاره یې د ملي شورا موافقه شرط ده.

۱۴۴مه ماده په اضطراري حالت کې جمهور رئیس کولای شي د ملي شورا او د سترې محکمې له رئیسانو سره په مشوره، د ملي شورا ځینې صلاحیتونه حکومت ته انتقال کړي.

۱۴۵مه ماده په اضطراري حالت کې جمهور رئیس کولای شي چې د ملي شورا او د سترې محکمې د رئیسانو تر تائید وروسته د اساسي قانون لاندیني حکمونه وځنډوي او یا قیود پرې ولګوي:

۱. د اووه وېشتمې مادې دوهمه فقره،

۲. شپږ دېرشمه ماده،

۳. د اووه دېرشمې مادې دوهمه فقره،

۱. د اته دېرشمي مادې دوهمه فقره

۱۴۶مه ماده د اضطرار په حالت کې اساسي قانون نه تعديليږي.

۱۴۷مه ماده که چيرې دجمهوري رياست دوره او يا دملي شورا تقنيني دوره د اضطرار په حالت کې پای ته ورسيږي، د نويو انتخاباتو تر سره کېدل ځنډيږي او د جمهور رئيس او ملي شورا د غړو د خدمت موده تر څلورو مياشتو پورې تمديديږي.

که اضطراري حالت تر څلورو مياشتو زيات اوږد شي، لويه جرګه دجمهور رئيس له خوا راغوښتله کيږي.

د اضطراري حالت تر پای ته رسېدو وروسته، د دوو مياشتو دننه انتخابات کيږي.

۱۴۸مه ماده د اضطراري حالت په پای ته رسېدو سره هغه اقدامات چې ددې اساسي قانون د (۱۴۴ او ۱۴۵) مادې له مخې شوي، بې له ځنډه له اعتباره لويږي.

# لسم فصل: تعديل

۱۴۹مه ماده د اسلام د سپيڅلي دين له حکمونو څخه د پيروۍ اصل او اسلامي جمهوري نظام نه تعديليږي.

د اتباعو د اساسي حقوقو تعديل يواځې د هغوی د حقوقو د ښېګڼې په منظور جواز لري.

ددې اساسي قانون د نورو موادو تعديل د زمان د غوښتنو او تجربو له مخې، ددې اساسي قانون د ۶۷ او ۱۴۶ مادو د احکامو په رعايت سره، د جمهور رئيس يا د ملي شورا د اکثريت په پيشنهاد کيږي.

۱۵۰مه ماده د تعديل د پيشنهاد لپاره د جمهور رئيس په فرمان دحکومت، ملي شورا او سترې محکمې د غړو له منځه، يو هيأت جوړيږي او د تعديل طرحه تياروي.

د تعديل د تصويب لپاره، د جمهور رئيس په فرمان او د لويې جرګې د فصل له حکمونو سره سم لويه جرګه دايريږي.

که لويه جرګه د ټولو غړو له دريو برخو څخه د دوو برخو په اکثريت د تعديل طرح تصويب کړي، د جمهور رئيس تر توشېح وروسته نافذيږي.

## يوولسم فصل: متفرقه حکمونه

۱۵۱مه ماده جمهور رئيس، د جمهور رئيس مرستيالان، وزيران او د ستري محکمې رئيس او غړي، لوی څارنوال، د مرکزي بانك او ملي امنيت رئيسان، واليان اوښاروالان د خپلې دندې په وخت کې نه شي کولای له دولت سره هېڅ ډول انتفاعي معامله تر سره کړي.

۱۵۲مه ماده جمهور رئيس، د جمهور رئيس مرستيالان، وزيران، د ملي شورا او ستري محکمې رئيسان او غړي، لوی څارنوال او قاضيان نه شي کولای د وظيفې د تصدي په موده کې نور مشاغل ولري.

۱۵۳مه ماده قاضيان، څارنوالان، د وسله والو ځواکونو او پوليسو منصبداران او د ملي امنيت کار کوونکې نه شي کولای د وظيفې د تصدي په موده کې په سياسي ګوندونو کې غړيتوب ولري.

۱۵۴مه ماده د جمهور رئيس، د جمهور رئيس د مرستيالانو، وزيرانو او ستري محکمې د غړو اولوی څارنوال شتمني، د خدمت تر دورې وړاندې او وروسته، د هغه ارګان له لارې چې قانون يې ټاکي ثبت، او څېړل کيږي او خپريږي.

۱۵۵مه ماده د جمهوررئيس مرستيالانو، وزيرانو، د ملي شورا رئيسانو او غړو، د ستري محکمې غړو قاضيانو او لوی څارنوال ته د قانون له حکمونو سره سم، مناسب معاش ټاکل کيږي.

۱۵۶مه ماده د هر ډول انتخاباتو د څارنې او ادارې او په هېواد کې د خلکو عمومي رايو ته د مراجعې لپاره د انتخاباتو مستقل کميسيون د قانون له حکمونو سره سم جوړيږي.

۱۵۷مه ماده د اساسي قانون پر تطبيق د څارنې خپلواك کميسيون د قانون له حکم سره سم تشکيليږي.

ددې کميسيون غړي دجمهور رئيس له خوا د ولسي جرګې په تاييد ټاکل کيږي.

## دوولسم فصل: انتقالي حکمونه

۱۵۸مه ماده د ملت د بابا لقب او هغه امتيازونه چې د ۱۳۸۱ هجري شمسي کال د اضطراري لويې جرګې له خوا د افغانستان پخواني پاچا اعليحضرت محمد ظاهرشاه ته ورکړل شوي دي، ددې اساسي قانون د حکمونو له رعايت سره سم د ژوند تر پايه د دوی لپاره محفوظ دي.

۱۵۹مه ماده ددغه اساسي قانون له نافذېدو څخه د ملي شورا د افتتاح تر نېټې پورې موده د انتقال دوره ګڼل کيږي.

د افغانستان انتقالي اسلامي دولت دانتقال په دوره کې لاندينۍ وظيفې سرته رسوي:

١. د شپږو مياشتو دننه دجمهوري رياست، ملي شورا او محلي جرګو د انتخاباتو په اړه د تقنيني فرمانونو صادرول

٢. له يوه کال ځخه په کمه موده کې د محکمو د صلاحيتونو او تشکيلاتو او د اساسي تشکيلاتو پر قانون باندې د کارد پيل په اړه د فرمانونو صادرول

٣. دانتخاباتو د خپلواك کميسيون جوړول

۴. د اجرايې اوقضايې چارو د غوره تنظيم په منظور د لازمو اصلاحاتو سرته رسول

۵. ددې اساسي قانون دحکمونو د تطبيق په برخه کې د زمينې د برابرولو لپاره د لازمو تدبيرونو نيول.

١۶٠مه ماده لومړنۍ منتخب جمهور رئيس د انتخاباتو د نتايجو تر اعلان دېرش ورځې وروسته ددغه اساسي قانون له حکمونو سره سم په کار پيل کوي.

هر اړخيزې هڅې کيږي څو دجمهور رئيس او ملي شورا انتخابات په يوه وخت کې تر سره شي.

د ملي شورا واکونه د هغې د تأسيس تر مودې پورې په دې اساسي قانون کې حکومت ته سپارل کيږي او مؤقته ستره محکمه د جمهور رئيس په فرمان جوړيږي.

١۶١مه ماده ملي شورا له تأسيس سره سم خپل واکونه او وظيفې ددې اساسي قانون د حکمونو مطابق عملي کوي.

دملي شورا له لومړۍ غونډې وروسته د دېرشو ورځو په موده کې حکومت او ستره محکمه ددې اساسي قانون له حکمونو سره سم جوړيږي.

د افغانستان د انتقالي اسلامي دولت رئيس تر هغه وخته پورې وظيفه سرته رسوي چې منتخب جمهور رئيس په کار پيل نه وي کړی.

ددې اساسي قانون د ١۵٩ مادې د څلورمې فقرې د حکم په رعايت، د دولت اجرايې او قضايې ارګانونه د حکومت او سترې محکمې تر تشکيل پورې خپلو وظايفو ته ادامه ورکوي.

هغه تقنيني فرمانونه چې د مؤقتې دورې له پيل ځخه وروسته نافذ شوي دي د ملي شورا لومړنۍ غونډې ته راجع کيږي.

۱۶۲مه ماده

دا فرامین تر هغه وخته پورې چې د ملي شورا له خوا لغو شوي نه وي نافذ ګڼل کیږي.

دا اساسي قانون د لویې جرګې له تصویب څخه وروسته نافذ او د افغانستان د انتقالي اسلامي دولت د رئیس له خوا توشېح او اعلامیږي.

په نافذېدو سره یې ددې اساسي قانون له حکمونو مغایر قوانین او تقنیني فرمانونه لغوه کیږي.

# په افغانستان کې په بشردوستانه، بيارغونې او پراختيايي فعاليتونو کې د بوختو نادولتي مؤسسو کړنلاره

په دې اړه د لا زياتو معلوماتو لپاره مخ وګورئ

**سريزه**

ددې لپاره چې افغانستان په خپل تاريخ کې په يو بې سارې حالت کې واقع دی او دا يې وخت دی چې داوږدې مودې ثبات، اقتصادي برياليتوب او دبشر دحقونوددرناوي په لوري وخوځيږي؛

ددې لپاره چې نادولتي مؤسسې د مدني ټولنې فعا لين دي او ديو افغان پايښدونکي دولت او ملت دجوړېدو لپاره قوي مدني ټولنه ضروري ده؛

ددې لپاره چې نادولتي مؤسسې د افغانستان دپرمختيا اود افغانانو دظرفيتونو داوچتولو لپاره ژمنې دي؛

ددې لپاره چې دنوي اساسي قانون انفاذ او د افغانستان د پارلمان جوړښت د ذمه وارۍ (حساب ورکونې) اومسئووليت لرلو سلوک د ودې لپاره يې لاره هواره کړې ده؛

ددې لپاره چې نادولتي مؤسسې د مدني ټولنې دبيړنيومرستو او پرمختيايي پروګرامونو د پلي کوونکو په توګه خپلوبا ارزښته مرستوته دافغانانوپه ګټون ددوی لپاره ادامه ورکوي؛

ددې لپاره چې دنادولتي مؤسسو ځانګړتيا او ونډه په ښه توګه نه ده پيژندل شوې او په پای کې نادولتي مؤسسې له پيسوڅخه په ناوړه ګټه اخيستنې تورنې دي، فکر کيږي چې اسراف کوونکې دي اود ځان لپاره کارکوي؛

ددې لپاره چې راز راز انتفاعي او سياسي کړۍ دخپلو تجارتي اوسياسي ګټود ودې په موخه دنادولتي مؤسسود چترڅخه نا وړه ګټه اخلي؛

ددې لپاره چې نادولتي موسسې له پرله پسې غوښتنو سره مخامخ دي چې په نتيجه کې ددوی لورې راز راز خواوو ته اړوي او دمدني ټولنې د فعالينو په توګه ددوی ظرفيت او خپلواکۍ ته ګواښ دی؛ او

ددې لپاره چې کړنلاره يو داسې ميکانيزم دی په کوم سره چې نادولتي مؤسسې کولای شي خپل لوړ معيارونه د روښوالي او ذمه وارۍ په ګډون يقيني کړي .

مونږ په افغانستان کې دنادولتي مؤسسو واکمن استازي په خپله خوښه دا کړنلاره لاسليك کوو او خپلې مؤسسې د کړنلارې د اصولو په پلي کولو کې ژمنې بولو.

**تعریفونه**

کړنلاره د هغو ګډو معیارونو. اصولو او ارزښتونو ټولګه ده چې موخه یې د نا حکومتي مؤسسو داعتبار او شهرت لوړول دی.

ناحکومتي مؤسسې غیر انتفاعي، رضاکار، بې طرفه او خپلواکه سازمانونه یا ټولنې دي چې دعامه خیر ښیګڼې لپاره هڅې (فعالیت) کوي. نا حکومتي مؤسسې کیدای شي چې داخلي ، نړیوالې، په یومذهبي اعتقاد باندې ولاړې وي یا نه وي، خو مذهبي فعالیتونه نه کوي، غړي لري اویا یې نه لري.

رضا کار دنادولتي مؤسسو د آزادې ارادې او دټولنېزو همکارانو په مانا ده.

غیرانتفاعي په دې مانا چې نادولتي مؤسسې نه شي کولای خپله شتمني او ګټې هیڅ یو کس ته ورکړي. البته نا دولتي مؤسسې کولای شي خپلو کارکوونکو ته معاش ورکړي او یا له خپلو ځینو فعا لیتونو څخه ګټې لاس ته راوړي چې دا ګټې یوازې دمؤسسې دموخو د پلي کولو لپاره استعمالیدای شي.

غیر حزبي او خپلواک په دې مانا چې نادولتي مؤسسه د خپل د رهبرۍ پلاوي له خوا د یوې کړنلارې په اساس اداره کېږي نه د کومې ډلې ټپلې او ځواک په واسطه.

لاسلیک کوونکي دنا حکومتي مؤسسو صلاحیت لرونکي استازي دي چې دا کړنلاره یې لاسلیک کړې او منلې وي.

موږ، د کړنلارې ټو لولاسلیك کوونکو ته ویل کیږي.

مدني ټولنه ټولې رسمي او غیر رسمي ډلې او ټولنې چې په دولتي او خصوصي سکتورونو پورې اړه ونه لري. نا حکومتي مؤسسې دمدني ټولنې یوه برخه ده.

دجنسیت (جندر) برابري یعنې دا چې د ښځې او نارینه راز راز حقوق لکه کړه وړه( رویه) هیلې او غوښتنې په مساوي توګه په نظر کې نیول کېږي. د نر او ښځې برابري دا مانا نه لري چې ګواکې ښځې او نر دې یو شانته شي. خو دا مانا ورکوي چه ددوی حقوق ، ذمه واري (مسؤولیتونه) او فرصتونه په نارینتوب او ښځینتوب پورې هیڅ اړه نه لري.

د جنسیت برابري د اړتیاوو پر بنسټ له ښځو او نارینه وو سره منصفانه چال چلند، چې کیدای شي دا چال چلند یوشان یا راز راز وي خو کله چې حقوق، ګټې، مسؤولیتونه او فرصتونه مطرح وي، نو بیا ښایي چې یوشان وي.

دظرفیتونو لوړول داسې یوبهیر دی چې په هغه کې وګړي ، ډلې ،مؤسسې، انستیتیوتونه او ټولنې خپل ظرفیتونه لوړوي تر څو:

۱. خپلې اصلي دندې په ښه توګه تر سره کړي ،ستونزې حل او خپلې موخې وټاکي او عملي یې کړي.

۱. په ټولیزه توګه سره خپلې پرمختیایي غوښتنې په ګوته او په دایمي توګه يې سره حل کړي.

بشردوستانه فعالیتونه: په بشردوستانه فعالیتونو کې ټول هغه فعالیتونه شامل دي چې دانساني کړاوونو د ډیرېدلو لکه نښتې ، کړکیچ او بدمرغیو څخه سر چینه اخلي مخنیوی وکړي اویا يې کم کړي. دا رنګ کړاوونه دا دي:

۱. دهغوکسانوژوند ته زيان رسول او دژوند له لاسه ورکول چې په شخړو کې ښکیل نه وي.

۲. د ملکي خلکو په وړاندې دبشري قوانینو یا د بشر له حقونو څخه جدي سرغړونه، په خاصه توګه په سیاسي کړکیچونو او شخړوکې.

**د نادولتي مؤسسو رسالت**

په افغانستان کې دنادولتي مؤسسوپه توګه زمونږرسالت په کلي توګه دادی چې په ځانګړې توګه دهغو خلکو دحقونو په پام کې نیولو سره چې زیانمن شوي دي اوپه ناوړه حالت کې قرارلري، په افغانستان کې دبشردوستانه، بیا رغونې اودوامداره پرمختیایي اړتیاوو په نښه کول دي. موږ د حکومت، بسپنه ورکوونکو او ټولنو سره په ګډه کارکوو.

**دکړنلارې موخه**

کړنلاره دلاندینیوموخو لپاره منځ ته راغلې ده:

- دنادولتي مؤسسو اوددوی دفعالیتونو، موخو او لاس ته راوړنو په اړه د دولت، بسپنه ورکوونکو، رسنیواو عامو خلکو سم پوهاوی.
- دمؤسسوغوره اداره، روڼوالی او ذمه واري دهغو اصولو له لارې چې دوی په خپله خوښه سره طرح او منځ ته راوړي دي.
- دکړنلارې دمعیارونو په واسطه سره د نادولتي مؤسسو دفعالیتونو دکیفیت لوړول.

**د کړنلارې اصول**

**۱ زمونږمؤسسې د خلکو پر محور راڅرخي**

۱,۱ پر هغه چا تمرکز کوي چه مونږ يې په چوپړکې یو: زمونږ بنیادي وفا داري، حساب ورکونه او مسئوولیتونه د هغو خلکو په وړاندې دي چې مونږيې په چوپړ کې یو. زمونږ پروګرامونه دخلکو اړتیاوو ته دځواب ورکولو په بنسټ پلان او ترتیب شوي دي.

۲,۱ په خپل ځان ویساوو د ځښتنتوب احساس: موږ هڅه کوو چې له ولس اوخلکو سره داسې مرسته وکړو چې

دوی خپلې ستونزې په خپله حل کړي. مونږ خلک په ځان ویساته هڅوو او هغه ته پراختیا ورکوو اومونږ په هغو چارو کې دخلکودتصمیم نیولو دګډون حق چې ددوی په ژوند اغیز لري سپارښتنه کوو.

۳،۱ د بشر حقونه: مونږهڅه کوو چې دبشرحقونوته درناوی وکړو، خوندي یې کړو اوهغوي دافغانانو دحقونو اومسؤولیتونو د په پام کی نیولو او له نړیوالو قوانینو سره سم مراعات او پیاوړي یې کړو.

۴،۱ ویسا: مونږزیارباسو ترڅو دهغو ولسونو ویسا لاس ته راوړو له کومو سره چې کارکوو.

۵،۱ ګډون او له توپیر څخه ډډه کول: مونږترممکنه اوچتې کچې پورې هڅه کوو چې د اړوندو ټولنو نارینه، ښځې او ماشومان دخپلو پروګرامونو او پروژوپه طرح، تطبیق او ارزونه کې ګډون وکړي. موږ په هغو ځایونو کې چې کارکوو په دې هڅه کې یو چې د هیرو شوو ډلو ونډه ډاډ منه کړو.

۶،۱ سیمه ییزو ارزښتونوته درناوی: مونږد وګړو او ټولنو حیثیت، هویت، فطري زیرکي، دود او دستور، مذهبي عقایدو اوارزښتونو ته درناوی کوو. خو داپه هیڅ وجه په دې مانا نه ده چې هر هغه څوک چې دیو وګړي یا د یوې ډلې بشري حقونه تر پښو لاندې کوي، مونږ یې ملاتړ کوو.

**۲. زمونږ مؤسسې مثبتو او پایډونکو اغیزو ته ژمنې دي**

۲،۱ اغیزمنتوب: مونږترلوړې کچې پورې د خپلو پروګرامونو اغیزمنتوب او مثبتو اغیزو په منځ ته راوړلو باندې هوډمن یو او په یوفعالیت باندې د څو مؤسسو له بوختېدلوڅخه مخنیوی کوو.

۲،۲ پایداري: موږ تر هغه پورې چې امکان ولري خپل پروګرامونه په داسې ډول سره طرح اوعملي کوو چې د خلکودستونزو د پایداره حل لامل او لګښت یې اغیزمن وي ، په افغانانو کې دملکیت احساس جوړ ترڅو دوی خپله کاري وړتیا دټولنې داوږدمهالو پرمختیایي موخو په خاطرلوړه کړي.

۳،۲ چاپیریالي اغیزې: مونږخپل فعالیتونه په مسئوولانه توګه طرح او سرته رسوو ترڅو دفزیکي، طبیعي چاپیریال ساتندوی او دافغانستان ایکوسیستم په سمه توګه سره تنظیم کړو.

۴،۲ څارنه او ارزونه: موږ دخپلو پروګرامونو څارنه او داغیزو ارزونه کوو او خپلې لاس ته راوړنې له اړوندو خواووسره لکه حکومت، بسپنه ورکوونکو، عاموخلکو او ټولنو په ګډون چې مونږیې په چوپړ کې یو شریکوو.

**۳ زمونږ مؤسسې ذمه وارۍ (حساب ورکونه) او روڼوالي ته ژمنې دي:**

۳،۱ موږ په خپلو معاملوکې دحکومت، ځایي همکارانو، بسپنه ورکوونکو، او نورو ښکیلو اړخونوپه وړاندې ذمه واراورانه یو.

۲،۳ ذمه واري: موږ دحسابونو دښه تنظیم په موخه سالمې مالي پالیسۍ، پلټنې او سیستمونه جوړوو اوساتویې. دافغانستان داساسي قانون اوټولو قوانینواومقرراتو د په پام کې نیولو سره فعالیت کوو او داړتیا په

وخت کې د پالیسیود بدلون په خاطرکار کوو. موږ په ټولو مالي اړخونوکې لکه دپیسو په لاس ته راوړنه، په کارولو او محاسبه کې صادق او ربښتیني یو. مونږ سالم مالي، محاسبوي، داستخدامولو، ترانسپورټ او اداري سیستمونه ساتو تر څو هغه سرچینې چې په لاس کې یې لرو مونږخپلوموخوته ورسوي.

۳,۳ روڼوالی: مونږدخپلوموخو اوفعالیتونو په اړه معلومات هغوښکیلو خواوو ته چې زمونږله کارسره مینه لري په اختیارکې ورکوو اوددوی له غوښتنې سره سم دخپلو فعالیتونو مالي اوکاري رپوټونه دوی ته ورکوو. موږ خپل ټول هغه فرصتونه کاروو تر څو خلك زمونږ د شتمنیو د سرچینواودهغو د مصرف په اړه وپوهوو.

**۴. زمونږمؤسسې ښې اومناسبې داخلي ادارې ته ژمنې دي**

۱,۴ د اداره کولو د سندونوساتنه: مونږلیکلي قوانین اواساسنامې لرو چې زمونږ رسالت، موخې او تشکیلاتي جوړښت په څرګنده توګه تعریفوي.

۲,۴ اندول فرصتونه: مونږدخپلوکارکوونکود مقررۍ اوددوی دپرمختګ په اړه لیکلې کړنلارې، پالیسۍ او مقررات جوړوو تر څو زمونږ ژمنې داندولو کاري فرصتونو په اړه سرته ورسیږي.

۳,۴ دګومارنې چارې: مونږخپل کارکوونکي دوګړو دټاکلو دحق، دآ زادۍ په درناوي اودنورو ښکیلو اړخونو د بشري سرچینوداړتیاوو دپه پام کې نیولو سره ګومارو اوګوښه کوو. مونږوګړې ددوی دوړتیا پر بنسټ ګومارو، مناسب معاشونه ورکوو، ددوی دوړتیا اوظرفیت له مخې متناسب مسئوولیتونه ورسپارو، د استعفی په حالت کی له خپلوکارکوونکو څخه مناسب کافي وخت غواړواوددوی د بې سببه انفکاک په صورت کې کافي مخکینۍ خبرتیا ورکوو.

۴,۴ دشخصي ګټوپه پام کې نه نیول: زمونږدمؤسسوټولې اړوندې معاملې به له شخصي او مسلکي ګټوڅخه خالي وي. مدیره پلاوی به په خپله خوښه وړیا کار کوي، خوددوی هغه اړین لګښتونه به چې د دندې د تر سره کولو په وخت کې منځ ته راځي جبران کیږي

**۵. زمونږمؤسسې ربښتینولۍ، ایمانداری اودپروګرامونو اغیزمنتوب ته ژمنې دي.**

۱,۵ ربښتیونولي: مونږ په خپلو ټولو مسلکي فعالیتونو کې ربښتیني او صادق یو.

۲,۵ ایمانداري: مونږ له ټولو هغو کورنیو اوباندنیو چارو څخه چې زمونږ دمؤسسو اخلاقي ایمانداری ته زیان رسوي، ډډه کوو. موږ په غلا، اداري فساد، واسطې، بډو او دغیرقانوني موادو راکړه ورکړه کې نه بوخت کیږو. مونږمرستي او سرچینې یواځې له هغو بسپنه ورکوونکو څخه منوچې زمونږ د رسالت، موخو، دندو، اوکاري وړتیا سره سمون ولري اوزمونږ خپلواکۍ او هویت ته زیان ونه رسوي.

۳,۵ اغیزمنتوب: مونږ له هغوسرچینوڅخه چې په واک کې یې لرو په داسې توګه کاراخلو چې زمونږ رسالت اوستراتژیکې موخې سرته ورسیږي او اغیزمنتوب ولري. موږ زیارباسو ترڅو ضایعات اوغیرضروري

لګښتونه کم کړو اوټولې هغه سرچینې چې په لاس کې یې لرو دهغو خلکود ژوند د هوساینې لپاره وقف کړو چې مونږ یې په چوپړ کې یو.

**۶. زمونږ مؤسسې انصاف، تنوع اود هغودلوپه وړاندې چې ګوښې دي له توپیر څخه د مخنیوي سالمو او موجه کړنوته ژمنې دي.**

۶،۱ تنوع: موږ دداسې کارکوونکوپه لټه کې یو چې په افغانستان او هغوځایونو کې چې کار کوو په مناسبه توګه سره دجنس، توکم ، جغرافیایي موقعیت اومذهب دتنوع ښکارندوی وي.

۶،۲ برابري: موږ په دې هڅه کې یوچې په خپلومؤسسوکې په ښه توګه اندول ټینګ او په داخلي اړیکو کې عدالت ته وده ورکړو او همدارنګه زمونږ د مؤسسو تر منځ فرصتونوته په عادلانه توګه لاس رسی ولرو. مونږ هڅه کوو هغه خلک چې لږخدمت ورته شوی‌دی، ناخوندي خلك، معیوبین او نورې هغه ډلې چې ګوښې دي په خپلوټولونوښتونوکې په پام کې ونیسو.

۶،۳ دجنسیت (جندر) برابري: موږ دنراوښځې راز راز چال چلند، هیلو، اړتیاوو او حقونو ته په مساوي توګه ارزښت ورکوو. کیدای شي چې په دې کې برابر او یا راز رازچال چلند شامل وي خوکله چې په حقونو، ګټو ، مکلفیتونواو فرصتونوپورې اړه ولري نو باید دعدالت او انصاف پر بنسټ وي. حقونو، مسئوولیتونو اوفرصتونوته لاس رسی په نارینتوب اوښځینه توب پورې اړه نه لري.

۶،۴ د ګوښې پاتو ډلو په وړاندې له توپیر څخه مخنیوی: زمونږ د بشري سرچینو پالیسي اوکړه وړه د ګومارنې، روزنې اوکاري شرایطو بهیرله هرډول توپیر او دخپلوی له اړیکوڅخه خوندي دی.

۶،۵ مناسب اومؤثرفعالیتونه: مونږزیارباسو چې دهغو ډلو استازیتوب اوچت کړو کوم چې د مرکزي دفتر ، سیمه ییزو دفترونو،د مدیره پلاوي، او مشورتي ډلو د لوړې کچې په پریکړو کې پوره ونډه اوحضورنه لري.مونږهڅه کوو هغه خلک چې لږ خدمت ورته شوی دی، ناخوندي کسان، معیوبین اوهغه خلک چې ګوښې پاتې دي په خپلو ټولو نوښتونوکې شامل کړو.مونږ هڅه کوو چې دافغانو ښځو دریځ د خپلومؤسسو په د ننه اوبهرکې پیاوړی کړو.

**۷. زمونږمؤسسې دافغانانو دوړتیاوو لوړولو ته ژمنې دي.**

۷،۱ دوړتیاوو لوړول: مونږ له هرمناسب فرصت څخه ګټه اخلو تر څو له افغانانوسره مرسته وکړوچې خپلې وړتیاوې داسې لوړې کړي چې په اړتیاووا‌و لومړیتوبونو باندې ځان پوه کړي او په پایله کې دوی خپلې بشري، دبیا رغونې او پرمختیایي اړتیاوې په خپله پوره اوبرابرې کړي.

۷،۲ مشوره: مونږ له ځایي ټولنواوحکومت سره په مشوره خپلې پروژې اوپروګرامونه طرح او پلي کوو ځکه چې مونږ د افغانستان دپایښت‌ونکي او اوږدې مودې پرمختګ ته ژمن یو.

۳،۷ پاینښت: مونږ پروژې په داسې ډول سره طرح کوو اوآسانتیاوې په کې راولو ترڅو اړونده ټولنې او یا حکومتي اداري وکولای شي دهغه پاینښت زیات اوهغوي ته ادامه ورکړي.

۴،۷ بشري سرچینې: له هغو پالیسیو سره سم چې ژمنه مو کړې تر څو ظرفیتونه اوچت کړو، موږ د ګومارنې، او روزنې په وخت کې افغانانو ته لومړیتوب ورکوو.

۵،۷ فزیکي او تخنیکي سرچینې: موږ په کومو ځایونو کې چې مناسب وي دځایي موجوده تخنیکي او فزیکي سرچینو څخه په لوړه کچه کاراخلو.

۶،۷ مناسبه ټکنالوژي: مونږد هغې ټکنالوژۍ په کارول هڅوو چې ټولنه یې خاونده کیدای شي او ساتلای یې شي.

## ۸. زمونږ مؤسسي خپلواکۍ ته ژمنې دي.

۱،۸ خپلواکي: مونږ خپلې پالیسۍ ، پروګرامونه او ستراتیژۍ په خپله جوړوو او پلي کوو یې. خپلو ځانونوته اجازه نه ورکوو چې داسې پروګرامونه پلي او یا حساس سیاسي، پوځي، او اقتصادي معلومات راټول او ددولتي یا نورو ارګانونو په لاس کې یې ورکړو چې موخه یې زمونږ دانساني او پرمختیایي رسالتونو پرضد کار اخیستل وي.

۲،۸ خود مختاري: مونږ زیار باسو چې دافغانستان اونړیوالو قوانینو په چوکاټ کې خپله آزادي وساتو او دهغو شرایطو دتحمیل په وړاندې ودرېږو چې زمونږ رسالت او اصول له ګواښ سره مخامخ کوي.

## ۹. دبشردوستانه بیړنیومرستوپه حالت کې مونږ په لاند ینیو اضافي اصولوباندې پابند یو:

۱،۹ بې تعصبي: موږ یوازې داړتیاوو پر بنسټ مرستې برابروو. مونږ له اړو کسانو سره پرته له توکمیز، مذهبي، نژادي، جنسي، ملي، اوسیاسي اړیکوڅخه مرسته کوو. مونږدانساني مرستو ویشل هیڅکله د چا د سیاسي اومذهبي عقایدو دمنلو په خاطر نه منو.

۲،۹ ناپیېلتوب: موږ ګوندي اوسیاسي اجنداګانو ته که ملي وي یا نړیوالې وده نه ورکوو. موږ هیڅکله دمخالفو ډلوترمنځ طرف نه نیسو اوپلوي یې نه کوو.

۳،۹ د SPHERE عملي کول: موږ د SPHERE په بشري منشوراو د ناورینونو د غبرګون په حالت کی د حد اقل معیارونو په اړه پوهیږو او په دې هڅه کې یو چه دخپلوپروګرامونو اوبشر دوستانه پروژو د پلي کولو، ارزونې اوڅارنې په وخت کې دغه معیارونه او د SPHERE شاخصونه په پام کې ونیسو.

### د کړنلارې رعایت

### د کړنلارې درعایت کمیټه:

- د کړنلارې درعایت کمیټه چې وروسته له دې به د کمیټې په نامه یادیږي، په پای کې د کړنلارې د

رعایت او ساتنې مسئوولیت په غاړه لري.

**دکمیټې جوړښت**

- کمیټه اووه غړي لري.
- دافغانانو لپاره دمرستو دهمغږۍ اداره (ACBAR)، دافغاني نا حکومتي مؤسسو د همغږۍ اداره (ANCB)، د سهیل لوېدیځ افغانستان او بلوچستان د همغږۍ اداره (SWABAC) به هریو دوه دوه غړي کمیټې ته ور پېژني.
- دافغان ښځوټولنه (AWN) به یوغړی کمیټې ته ورپېژني.
- یو څوک د یوه کال لپاره دکمیټې دغړیتوب لپاره ټاکل کېږي.
- دکمیټې یوغړی یواځې ددریوو پړله پسې دورو لپاره دنده سرته رسولای شي.
- کمیټه له خپلو غړو څخه مشراو منشي ټاکي.

**د کمیټې دندې:**

- کمیټه د کړنلارې د څارونکې په توګه عمل کوي.
- کمیټې لره ښایي ترڅو د خلکو، دولت، بسپنه ورکوونکو اوپه خپله دنادولتي مؤسسو دسکټور ترمنځ تفاهم، ویسا اودوه اړخیزه همکاري تامین کړي.
- کمیټه دلاندینیو ټکو دغور په اړه په کال کې دوه ځله غونډه کوي.
- دکړنلارې دلاسلیک لپاره د نا حکومتي مؤسسو غوښتنلیکونه ترغورلاندې نیسي. کمیټه به یواځې هغو نا حکومتي مؤسسو ته د کړنلارې دلاسلیک اجازه ورکړي چې ټول هغه مناسب اسناد تهیه کړي کوم چې په ۱۴ مه ماده کې په ګوته شوي دي.
- له نادولتي مؤسې څخه، دکړنلارې د په پام کی نه نیولو اویانه رعایت کولو په اړه عریضې اوشکایتونه. چې کیدای شي دا عریضې ددولت، بسپنه ورکوونکو، دټولنوله همکارانو، عاموخلکواویا بلې نادولتې مؤسسې له خوا رارسېدلي وي.
- کمیټه به یو منشي ټاکي چې دکمیټې اداري مسئوولیتونه به په غاړه اخلي اوهغه به د نورو مسایلو ترڅنګ لاندینیوټکو ته هم پام کوي:
- دکړنلارې دلاسلیک کولو په اړه دنادولتي مؤسسود غوښتنلیکونو اخیستل.
- دلاسلیک کوونکو نادولتي مؤسسو داسنادو ددوسیو ساتل اومهمو ښکیلو اړخونوته دهغوي دغوښتنې په صورت کې په واک کې ورکول.

- له هغې نادولتي مؤسسې څخه د لیکلي رپوټ دبرابرولو غوښتنه چې دکړنلارې له اصولو څخه په سرغړونه تورنه شوي وي.
- لاسلیك کوونکي ته دهغې شکایت سپارل چې دکس یا دکسانو له یوې ډلې څخه هغې ته نسبت ورکول کیږي.
- کمیټه هڅه کوي چې دکړنلارې په اړه دلاسلیک کوونکو دپوهاوي کچه لوړه کړي.

**دکړنلارې دلاس لیک کولوشرطونه**

هغه نادولتي مؤسسه چې غواړي کړنلاره لاسلیک کړي بښایي چې لاندیني اسناد په لیکلې توګه منشي ته وروسپاري.

- **د ثبت قانوني سند:** دافغانستان له دولت سره د نادولتي مؤسسې دثبت دقانونی سند یو نقل؛
- **دکارتجربه:** یولاسلیک شوی رسمي سند چې په رسمي کاغذ لیکل شوی وي او د مؤسسې څه نا څه دیوکال فعالیت په ګوته کړي؛
- **دهمغږۍ په سازمانونوکې غړیتوب:** دهمغږۍ په یوې یازیاتو مؤسسو لکه اکبر، سوابک او اې ان سي بي کې د نادولتي مؤسسې د غړیتوب د تصدیق سند؛
- **د اداره کولواسناد:** دنادولتي مؤسسې د لیکل شوې اساسنامې کاپي چې دهغې دندې، رسالت، موخې او تشکیلاتي جوړښت په روښانه توګه تعریف کړي.
- **مالي اسناد:** د تر ټولو وروستي مالي کال د کلني رپوټ نقل چې په حسابي لحاظ کتل شوی وي؛
- **د فعالیت اسناد:** دتر ټولووروستنیو کلنیو فعالیتونود رپوټ نقل، د نړیوالو نادولتي مؤسسو په اړه دکلني عمومي رپوټ یونقل بسنه کوي.
- **دلاس ته راوړنو مکمله سروې:** دلاس ته راوړنو بشپړه سروې به دارالانشأ ته موقع ورکړي چې له نادولتي مؤسسو سره دګډو لاس ته راوړنو ارزونه وکړي اوابلاغ یې کړي.
- **حکومت ته اړین رپوټونه:** دشپږ میاشتنیو رپوټونو کاپي کوم چې د اقتصاد وزارت یې غواړي.

**شکایتونه:**

هرڅوك یا دوګرویوه ډله کولای شي چې دکمیټې منشي ته د ربښتینو شواهدو پر بنسټ شکایت پاڼه یا عریضه وړاندې کړي. لیکلی شکایت باید دا لاندې برخې ولري:

- دشکایت کوونکي نوم اوپته،
- دهغې مؤسسې یاکارکوونکي نوم اوپته په کومو چې تور لګول شوی دی،

- دهغو شرایطو بیان چې ګومان کېږي له کړنلارې څخه سرغړونه شوي ده،
- دشونتیا په صورت کې دکړنلارې د هغو معیارونویادونه چې سرغړونه ور څخه شوې ده.

منشي دیولیکلي اوپوره مستند شکایت دلاس ته راوړلوڅخه وروسته ښایي چې هغه ژرترژره ثبت او کاپي یې دکمیټې ټولو غړوته واستوي.

**دکمیټې واکونه**

ښایي چې کمیټه له کړنلارې څخه د هرې سر غړونې په اړه څه واوري اوپریکړه وکړي چې کیدای شي دا به د کړنلارې د لاسلیك کوونکي له خوا وي یا د بل کس چې د لاسلیک کوونکي استازیتوب کوي.

که چېرې شکایت د شپاړسمې مادې په اساس وي نو کمیټه ګوري که له کړنلارې څخه سرغړونه، نه وي شوي هغه نه مني اویا لاسلیك کوونکي یا هغه کارکوونکي ته چې شکایت ورڅخه شوی دی خبر ور کوي. په هغه صورت کې چې له کړنلارې څخه جدي سرغړونه شوي وي کمیټه لاندینی پریکړې عملي کوي.

- دمؤ سسې یا کس چې دهغه په اړه شکایت شوی دی او د ډلې یا کس چې شکایت یې کړی دی (عارض) تر منځ دلیدلو کتلو لپاره غونډه رابلل ترڅوموضوع ترغورلاندې ونیول شي چې دا به دکمیټې د شپږ میاشتینی عادي غونډې په ترڅ کې سرته رسیږي او که چېرې سرغړونه جدي وي نو فوق العاده غونډه را بلل کیږي.
- له اړونده لاسلیك کوونکي یا کارکوونکي  څخه غوښتنه کیږي ترڅو دقضیې په اړه پوره شواهد وړاندې کړي.

هرکله چې کمیټه په دې پوه شي چې لاسلیك کوونکي اویادهغه کارکوونکي له کړنلارې څخه جدي سرغړونه کړې ده په دې حالت کې یوه یاڅو لاندینی لازمې پریکړې عملي کوي.

- سرغړوونکي ته لازمه لار ښوونه کیږي.
- له یو بل لاسلیك کوونکي څخه غوښتنه کیږي ترڅو د لارښوونې په  بهیر کې همکاري وکړي.
- تورن لاسلیك کوونکي ته سپارښتنه کیږي ترڅود خپل کارکوونکي په اړه چې مستقیماً یې سرغړونه کړې ده لازم اصلاحي اقدامات سرته ورسوي.
- مؤسسه سرغړوونکي خپلې سرغرونې ته متوجه کوي.
- د مؤسسې غړیتوب ځنډوي او یا یې فسخه کوي.

**د کمیټې دیو غړي د غړیتوب ځنډول**

دکمیټې د یو غړي دارزونې او پریکړې په بهیرکې چې په هغې کې دغړي خپله ګټه وي باید برخه وانه خلي.

### د پلي کولو حدود

ددې کړنلارې اصول په ټولو لاسليك كوونكو نادولتي مؤسسوباندې چې په افغانستان كې په فعاليت بوختې دي د تطبيق وړدي.

ددې کړنلارې اصول دهغو نادولتي مؤسسو په ټولو چاروا‌كو او كاركوونكو باندې د تطبيق وړدي چې دکړنلارې په رعايت كولو يې موافقه كړې ده.

### دکړنلارې رعايت

ټول لاسليك كوونكي او ټول هغه وګړي اوياټولنې چې دلاسليك كوونكو په استازيتوب كاركوي بايد چې کړنلاره رعايت كړي، احترام ورته ولري اودهغې معيارونه پلي كړي.

نوله دې كبله هرلاسليك كوونكى مكلف دى ترڅوخپل كاركوونكي اومستخدمين ددې کړنلارې په معيارونو باندې وپوهوي او وربانديې تطبيق يې كړي.

### د کړنلارې بيا كتنه

په کړنلارې باندې هغه وخت بيا كتنه كيږي چې د لاسليك كوونكو دوه په دريمه برخه استازي دهغه په پلوۍ رايه وركړي.

كميټه كولاى شي په کړنلاره باندې كله كله بيا كتنه و كړي اود بدلونونو په اړه دهمغږۍ اداروته وړانديز وكړي.

## ضميمه: تاريخي شرايط

په ۱۹۷۹ (۵۸/۱۳۵۷) كال كې په افغانستان باندې دشوروي اتحاد له پوځي يرغل ځخه وروسته، كورنيو او بهرنيو نادولتي مؤسسوافغانانوته چې دهېواد په كليو، ښارونو او يايې په پاكستان كې دكډوالوپه پنډغالوكې ژوند كاوه، دمرستې په برابرولوكې فعاله ونډه درلوده.

د ۱۹۷۹-۱۹۸۸: په افغانستان باندې د شوروي اتحاد له پوځي تيري ځخه وروسته نادولتي مؤسسو په پاكستان كې ميشتو افغان كډوالوته داسې پروګرامونه پيل كړل چې ددوى اړتياوې د اوسيدنې دمامن، روغتيا اوخوراكي موادو له پلوه تأمين كړي. د ۱۹۸۰ لسيزې په پيل كې نا حكومتي مؤسسو د پولې له هاخوا ځخه دافغانستان په دننه كې داسې پروګرامونه پلي كړل چې ترڅو دهغو افغانانواړتياوې چې دشوروي اتحاد له واک ځخه دباندې سيمو كې اوسېدل دروغتيا اودمعيشت دتامين په اړه پوره كړي. د پولې په ها خوا پروګرامونو كې په ۱۹۸۴ (۶۳/۱۳۶۲) كال كې ښوونه اوروزنه شامله شوه او په ۱۹۸۶ (۶۵/۱۳۶۴) كال كې دكرنې او دبنسټونو پروژې پيل شوې. ددې دورې په اوږدوكې له (د خوراك لپاره نغدې پيسې) پروژو ځخه استفاده كېدله ترڅوهغه افغانان چې په افغانستان كې دننه په هغو سيمو كې چې په مقاومت بوخت وو په

خپل ځای پاتي شي. د ۱۹۸۰ لسيزی په اوږدوکي ډېرې نادولتي مؤسسې د لويديځوهېوادونو په مرکزونوکي ديرغل د قربانيانو اودکډوالی له ناورين څخه دخلکو دخبرولو په هکله په ملاتړ بوختې وې.

د ۱۹۸۸ - ۱۹۹۵: د ۸۰ لسيزې په وروستيوکي نا حکومتي مؤسسو، د نا امنی اوسياسي بی ثباتی سره سره پربېړنيو مرستو سربېره د پرمختيايي اصولو په نظرکي نيولو سره پرمختيايي پروګرامونه پيل کړل. د۱۹۸۰ لسيزې په وروستيو کي په سياسي ډګر کې بدلونونه اودافغانستان لپاره د سرچينو زياتوالی، دنادولتي مؤسسو په سکتورکي دپرمختيا لامل شول. دافغاني نادولتي مؤسسو په شمېرکي چټک زياتوالی راغئ، دافغانانو دوړتيا د لوړولولپاره دمرستو زياتوالی، اود نادولتي مؤسسوپه منځ کي د همغږی اداري جوړې شوي چې دذمه وارۍ (حساب ورکونې) په پياوړتيا، معيارونواودنادولتي مؤسسو دټولنې پرمسلکي توب او همغږۍ يې تمرکز درلود ترڅو ددوی دکارونو اغيزه لوړه کړي اوپه ورته فعاليتونو کي ددوی له ښکيلتيا څخه مخنيوی وشي. په زرګونو افغانانو اوزيات شمېر کورنيو نادولتي مؤسسوخپلې مسلکي وړتياوې د نادولتي مؤسسو تر مشرۍ لاندې د روزنيزو پروګرامونو له لارې دنړيوالو نادولتي مؤسسو په مرسته لوړې کړې.

په ځانګړې توګه دروغتيا اوکرنې په سکتورونوکې دهمغږۍ معيارونه جوړ شول.

د ۱۹۹۶- ۲۰۰۱ : له ۱۹۹۶ څخه بيا تر ۲۰۰۱ پورې دطالبانو په دوران کي له سياسي محدوديتونو سره سره دهېواد په ډېروسيموکي د امن دشتون له کبله نادولتي مؤسسودافرصت وموند ترڅو له ټولنو سره يوځای په ليرې پرتوکليوالوسيموکي مستقيماً کاروکړي. د پروګرامونو دلومړيتوبونو د تثبيت او د افغانانو لپاره د متمرکزو او څرګندو مرستو د ودې لپاره او دمنل شوو اصولو دوضع کولو لپاره نادولتي مؤسسو هڅه وکړه ترڅو د ملګرو ملتونواو تمويلوونکوسره کارونه له نږدې څخه همغږي کړي. په دې دوران کي د کوچنيانو دغوره زده کړې دمعيارونو دوضع کولو لپاره د ۲۰ مؤسسو په شا و خواکې چې ډېرې يې نادولتي مؤسسې وې يوځای کاروکړ.

له ۱۹۹۷ څخه تر۲۰۰۱ کلونو پورې سختو وچکاليو د ليرې پرتوسيمو بشري اړتياوې لا هم زياتې کړې. او خلک دهېواد په دننه کې ښاري سيمو ته ولاړل اويا په ايران او پاکستان کې پنډغالوته اړشول. په داسې حال کي له يوې خوا نادولتي مؤسسو خپلو بيړنيو مرستو ته پراختيا ورکړه ترڅو له دغو خلکو سره مرسته وشي اوله بلې خوا يې پرمختيايي پروګرامونوته ادامه ورکړله.

د۲۰۰۱ کال له وروستيو څخه تراوسه پورې:

په افغانستان کې دنادولتي مؤسسو په کاري چاپېريال کې د ۱۳۸۰ کال د وږي د۲۰مې نيټی (۲۰۰۱ کال دسپتمبر۱۱) پېښو څخه وروسته نا څاپه بدلون راغئ. په ۲۰۰۲ کال کې له ګاونډيو هېوادونو څخه افغانستان ته دزيات شمېرکډوالو راتګ ددې لامل شو ترڅو د هستوګنې د بيړنۍ خونې او خوراکي توکو دبرابرولو پروګرامونه پلې شي . دطالبانو له ماتې څخه وروسته ناد ولتي مؤسسو دافغانستان د انتقالي دولتي مقامونو په همغږۍ سره د بيړنيو مرستو، او اوږدې مودې دبيارغونې پرمختيايي پروګرامونه سره اندول کړل. دانتقالي حکومت منځ ته راتګ چې هغه نړيواله ټولنه په رسميت پېژني نادولتي موسسوته فرصت ورکړ ترڅو د بشري فعالينوونډه د رسالتمنو مدني ټولنو د بنسټونو په څير بيا تنظيم کړي، نه د خدمتونو د قرارداديانو په توګه.

# د ولایتونو په هکله لنډ معلومات: منځپانګه

ددې برخې په هکله ........ ۱۷۷
د ولایتي پراختیا د شاخصونو اړونده لغتنامه ........ ۱۷۸
ارزګان ........ ۱۸۲
بادغیس ........ ۱۸۳
بامیان ........ ۱۸۴
بدخشان ........ ۱۸۵
بغلان ........ ۱۸۶
بلخ ........ ۱۸۷
پروان ........ ۱۸۸
پکتیا ........ ۱۸۹
پکتیکا ........ ۱۹۰
پنجشیر ........ ۱۹۱
تخار ........ ۱۹۲
جوزجان ........ ۱۹۳
خوست ........ ۱۹۴
دایکندي ........ ۱۹۵
زابل ........ ۱۹۶
سرپل ........ ۱۹۷
سمنګان ........ ۱۹۸
غزني ........ ۱۹۹
غور ........ ۲۰۰
فاریاب ........ ۲۰۱
فراه ........ ۲۰۲
کابل ........ ۲۰۳
کاپیسا ........ ۲۰۴
کندز ........ ۲۰۵
کندهار ........ ۲۰۶
کنر ........ ۲۰۷
لغمان ........ ۲۰۸
لوګر ........ ۲۰۹
ننګرهار ........ ۲۱۰
نورستان ........ ۲۱۱
نیمروز ........ ۲۱۲
هرات ........ ۲۱۳
هلمند ........ ۲۱۴
وردک ........ ۲۱۵

# د دې برخې په هکله

د پراختیایي شاخصونو اړوند د احصائیو شتون د افغانستان د ملی پراختیایي ستراتیژۍ (ANDS) د پلي کیدو په لار کې د پراختیایي اقداماتو او پرمختګ د اغیزو څارنې ته خورا مهم دی. دغه لاندیني معلومات د افغانستان د هر ولایت د وګړو او کورنیو د سوکالۍ لپاره د ټاکل شوو ټولنیزو او اقتصادي مقیاسونو لنډیز چې د ګواښ او زیانمننې د ملي ارزونې له خوا د کورنیو د معلوماتو د وروستي ملي راپور پر بنسټ برابر شوی، وړاندې کوي (NRVA) ۱۳۸۷/۱۳۸۶.

دغه ولایتي معلومات چې د اقتصاد وزارت او د نړیوال بانک د ګډو هڅو پایله ده او "په افغانستان کې د بیوزلی د وضعیت: د ګواښ او زیانمننې د ملي ارزونې پر بنسټ یو پروفایل (NRVA) ۱۳۸۷/۱۳۸۶" په هکله د پخوانیو همکاریو پر بنسټ برابر شوي دي. شاخصونه: د بیوزلۍ د وضعیت پر راپور د شننې ، د اقتصاد وزارت د څارنې د اړتیا، او په ولایتي کچه د سوکالۍ تر مینځ د توپیرد سرچینو د ښه درک لپاره د رواني شننې پر بنسټ دي. نړیوال بانک تمه لري چې دغه شاخصونه به یو ولایتي بنسټ برابر کړي چې د NRVA د راتلونکو پړاوونو په واسطه به نوی شي.

دغه معلومات د ۳۰ ټولنیزو- اقتصادي شاخصونو په هکله چې د سوکالۍ څو اړخونه لکه بیوزلي او نابرابري، جندر یا جنسیت، ښوونه او روزنه، روغتیا، زیربنا او خدمتونو ته لاس رسي په کې شامل دي احصائیې برابروي. د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداره هیله منه ده چې په صفحه په صفحه ښه د دې لنډیز برابرول به وکړای شي هغو کسانو ته چې په ولایتي کچه معلوماتو ته اړتیا لري یو ساده خو خورا اغیزمن مأخذ وړاندې کړي. دا لومړی په هر ولایت کې د پراختیایی کړنو یو چټک انځور وړاندې کوي او بیا یې له نورو ولایتونو او په پای کې یې له ټول هیواد سره پرتله کوي. دغه پرتلیز نظر د اقداماتو د ښه په نښه کولو او هغوی ته د لومړیتوب ټاکلو په برخه کې شواهد وړاندې کوي.

په ولایتي لنډیز کې وړاندې شوې احصائیې دا په ډاګه کوي چې په افغانستان کې پراختیایي پایلې له یوه ولایت نه تر بل ولایته د پام وړ توپیر لري. دا موضوع د بیوزلۍ په پراختیا کې په بشپړه توګه په ترتیب سره سپړل شوې ده، چې په هلمند کې له ۹ سلنې څخه په پکتیکا کې تر ۷۶ سلنې سره توپیر لري. په نورو ټولنیز اقتصادي برخو لکه روغتیا، جندر، خوراکي خوندیتوب او ګمارنې کې هم د ولایتونو په کچه د پام وړ توپیرونه موندل کیږي.

بله مهمه موضوع چې له ولایتي احصائیې څخه څرګنده شوه دا ده چې د بیلا بیلو شاخصونو په اړه اجراآت د ولایتونو تر مینځ د پام وړ توپیر لري. هغه ولایتونه چې د پراختیا په یوه اړخ کې ښه اجراآت لري خو په نورو اړخونو کې په لازم ډول ښه اجراآت نه لري.

د بیلګې په توګه د بیوزلۍ په شاخصونو کې څرګنده شوه چې هلمند په ښوونځي کې د ماشومانو د شمولیت له مخې تر ټولو ناوړه وضعیت لري. لوګر چې په هیواد کې دوهم بیوزله ولایت دی د ماشومانو د بشپړ معافیت تر ټولو لوړه کچه لري.

ولایتي لنډیز د ولایتونو د نوم له مخې د الفبا د تورو پر بنسټ وړاندې کیږي.

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره د ځای د نشتوالي له کبله د نړیوال بانک په راپور کې د ټولو ۳۹ احصائیو له ډلې نه یواځې ۳۰ یې وړاندې کوي چې دا لاندیني شاخصونه په کې شامل نه دي:

**بیوزلي او نابرابري:** د بیوزلۍ د کرښې د سلنې په توګه د بیوزلو منځنی لګښت (٪)؛ د وګړو پر سر د لګښت د Gini Coefficient ضریب.

